# اسلامی سیاست

لیکوال : گوهر رحمن

# نيو ليك

......................


| سرليك | مخ |
|---|---|
| سريزه | 1 |
| لومړی باب | **5** |
| د سياست د کليمې لغوی معنی | 5 |
| د سياست تعريف د مسلمانوسياسی پوهانو په نظر | 7 |
| سياست د فقهی پوهانو له نظره | 8 |
| د سياست تعريف د نوی عصر د پوهانوله نظره | 14 |
| عملی سياست | 16 |
| عقلی سياست او شرعی سياست | 19 |
| غوره سياست او جاهلی حکومت | 20 |
| شرعی سياست د اسلام د سپيڅلی دين يو فصل دی | 23 |
| د شرعی سياست انواع | 27 |
| د اخوان الصفاء بيان کړی اقسام | 28 |
| سياست د انسانی فطرت غوښتنه ده | 30 |
| د انسان د کلمی لغوی څیړنه | 32 |
| سياست ته غيرفطری ويل جهالت او ناپوهی ده | 36 |
| دوهم باب | 40 |
| غير اسلامی سياسی نظريي | 40 |
| ملوکيت يا ظالمه پادشاهی | 40 |
| د ملوکيت تعريف | 42 |
| ميکاولی د اخلاقو څخه د آزادی غوښتوونکې وه | 45 |
| د جان بودان نظر | 46 |
| د لومړی جيمز اوهابس نظريات | 46 |
| د ملوکيت خطرناکه څيره د مصر فرعون وه | 47 |
| د موسی عليه السلام د فرعون تاکل | 48 |
| سرليك | مخ |

نیو لیك


| | |
|---|---|
| د موسی علیه السلام او د فرعون | 48 |
| په هکله د قرآن کریم د آیتونو فهرست | 49 |
| د ملکویت [ پادشاهی ] اصول | **50** |
| د ربوبیت او الوهیت دعوی کول | **50** |
| خلک د خپل ځان غلامان ګڼل | 51 |
| سرمایه او دولت د شرافت معیار ګڼل | 52 |
| سیاسی قتل کول او یا بیکارول | 53 |
| د سیاسی رشوت په ورکولو سره خلکو د ضمیر اخیستل | 55 |
| د دلیل ځوابول په زور سره | **56** |
| چنګیزیت | 57 |
| د چنګیز د جوړو شوو قوانینومجموعه | 59 |
| پاپائیت [تیاکراسی ] | 60 |
| سیکولر [بې‌دینه ] جهوریت یا دیموکراسی | 65 |
| د دیموکراسی شالید | 67 |
| د جان لاک او روسو نظریات | 70 |
| د دیموکراسی بنسټونه | 72 |
| د خلکو حاکمیت | 72 |
| سیکولرازم [د دین او سیاست ترمنځ بیلوالی] | 72 |
| لبرالیزم [ بې‌قیده او بی واګو خپلواکي ] | 73 |
| کپیټل ایزم [ سرمایه داری اوماده پرستی ] | 74 |
| نشنلیزم [ د نورو قومونو استحصال] | 75 |
| پارټی سیستم یا ګوندی‌سیستم | 76 |
| اشتراکیت [ سوسیالیزم ] | 76 |
| سوسیالیزم او د هغه بنسټیزاصول | 78 |
| د ژوندانه مادی نظریه | 78 |
| سرلیك | مخ |
| د پاک ذات الله جل جلاله د وجود څخه انکار یا دهریت | 78 |

نيو ليك


دين څخه انکار 78
د کورنی نظام څخه انکار 78
د شخصی ملکیت څخه انکارکول 79
جدلي فلسفه او طبقاتی کشمکش 78
دیکتاتوری پرولتاریا یا د کارگرانو آمریت 80
ډله ایزه دیکتاتوری 81
د مشرانو د یکتاتوری 82
اشتمالیت [کمونیزم ] 82
د بی دینه سیاست زیبنبه 84
.دریم باب 87
لومړی فصل 87
د خلافت تعریف او هغی ثبوت قران او احادیثو له نظره 87
د خلافت لغوی مقهوم 90
دخلافت اصطلاحی تعریف 93
د خلافت ځرنګوالی د قرآن له نظره 94
د استخلاف آیت 94
د تمکین فی‌الارض په هکله آیتونه 99
اولی‌الامر آیت 101
سلطان په معنی د حکومت 105
د حکم بالعدل په هکله آیتونه 107
د خلافت یا اسلامی حکومت په هکله نبوی احادیث 110
خلافت د الله جل جلاله رحمت دی 111
د عادل حکمران فضیلت 114
اسلامی حکومت دمسلمانانو د تحفظ ذریعه ده **117**
سر لیك مخ
اسلامی‌حکومت د الله جل جلاله د رحمت سیوری دی 120
د اسلامی حکومت پرته ژوند کول ناپوهی ده 121

نیو لیك


د دری کسیزه ډلی له پاره هم د امیر ټاکل لازم دی 123
د عادل حکمران خیرغوښتنه د دین یو فرض دی 124
د امیرد احترام حکم 126
د امت اصلاح د صالح حکمران پرته نه کیږی 129
د اسلامیحکومت په هکله د اسلام پوهانو ویناوی 132
دوم فصل 136
د پیغمبرانو علیهم السلام او صالحینو حکومتونه 136
د آدم علیه السلام خلافت 137
د ابلیسی حکومت اصول 142
د حضرت یوسف علیه السلام د خلافت دوره 144
د خزائن الارض تفسیر 147
په غیر اسلامی حکومتونوکې د ماموریت یا د امارت
غوښتنی مسئله 151
د طالوت حکومت 154
د داود علیه السلام خلافت 156
د سلیمان علیه السلام خلافت 158
د سلیمان علیه السلام لیک د سبا د ملکې په نوم 160
د ذوالقرنین حکومت 161
د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلافت او سیاست 163
د توحید د کلیمی غوښتنه د توحید په بنسټ د .... 164
د حبشی د هجرت سیاسی اثرات 167
د عقبی تړون د اسلامی حکومت پیل 170
د ولس نمایدګانو ټاکل 173
سر لیك مخ
په مدینه کې د جمعی لومړی خطبه
د اسلامی حکومت اساسی اصول 174
ا- توحید 174

نيو ليك

••••••••••••••••••••••


| | |
|---|---|
| ب- تقوى | 175 |
| ج- د قرآن او سنتو پورته والى | 175 |
| ها- جهاد فى سبيل الله | 175 |
| و- اسلامى امت | 175 |
| د جوماتونو جوړول | 176 |
| مواخات عقد [ د ورورولى تړون ] | 176 |
| لومړى ليكل شوى قانون | 178 |
| يهودو پورى تړلى مادى | 180 |
| ددى ليكل شوى دستورڅخه ثابت شوى سياسى اصول | 181 |
| د قتال فى سبيل الله څخه مقصد د اسلامى حكومت جوړول او ټينګول دى | 182 |
| د الله جل جلاله په لاركې د قتال د آيتونوڅرنګوالى | 185 |
| دغزاګانو او د سرايا ټول شمير | 186 |
| په اتويشت غزواتو كې د فوج قيادت | 187 |
| په نبوى دوره كې عسكرى قوماندانان | 190 |
| په نبوى دوركې منطقوى اميران | 192 |
| په نبوى دوركې د زكات ټولولو مسئولين | 194 |
| په نبوى دور كې د مركزى حكومت موٌقت مسئولين | 195 |
| د رسول الله صلى الله عليه وسلم وزيران او د شورى غړى | 196 |
| په نبوى دوركې ليكوالان | 197 |
| په نبوى دورى كې ژباړونكې | 203 |
| د مملكت مهر | 204 |
| سر ليك | مخ |
| په نبوى دوركې سزا وركونكې | 206 |
| په نبوى دور كې د بازارونوڅارونكې | 207 |
| په نبوى دوركې د اسلامى حكومت سفيران | 207 |
| د محمد صلى الله عليه وسلم په دربار كې د حكومتونو او قبيلو هيئتون | 209 |

## نيو ليك


| | |
|---|---|
| حجه الوداع | 212 |
| د حجه الوداع خطبه | 214 |
| وفات | 215 |
| دريم فصل | 217 |
| د اسلامی حکومت بنستیونه | 217 |
| لومړی اصل : د الله جل جلاله حا کمیت | 217 |
| د حکم لغوی مفهوم | 217 |
| د شرعی حکم فقهی‌مفهوم | 218 |
| د الهی حاکمیت په هکله قرآنی آیاتونه | 218 |
| د معاملاتو او شخړو پریکړه دطاغوت په واسطه | 222 |
| د طاغوت مفهوم د لغت د پوهانوله نظره | 225 |
| د طاغوت مفهوم د صالحینو له نظره | 226 |
| شریعت او شارع | 228 |
| اله د تشریعی‌حاکم پرمعنی | 213 |
| رب د تشریعی حاکم په معنی | 233 |
| قضا د تشریعی حکم په معنی | 236 |
| عبادت د حکم منته په معنی | 236 |
| مطلق اطاعت | 239 |
| د الهی حا کمیت په هکله نبوی احادیث | 241 |
| د الهی حاکمیت په هکله د راشدینو خلفاو تگ لاره | 246 |

| سرليك | مخ |
|---|---|
| د الهی حا کمیت په هکله د اسلام سپیڅلی دین د پوهانو ویناوی | 246 |
| په حکم کې شرک | 253 |
| الهی حاکمیت د سلیم عقل په رڼا کې | 258 |
| د انسانی عقل حقیقت | 258 |
| د عقل اقسام د امام غزالی او مولانا روم رحمه الله علیهم له نظره | 260 |

نيو ليك

د انسانی عقل اصلی ځای 262
د عقلی دلائلو تفصیل 265
د عقل د حاکمیت اولین مخترع ابلیس دی 273
دوهم اصل شوری 273
د شوری په هکله قرآنی آیتونه 274
په نبوی دورکې د شوری تاریخی غونډی 276
د اذان شوری[ لومړی هجری قمری کال ] 277
د بدرکبری شوری[ دوهم هجری قمری کال ] 278
د بدرد بندیانوپه هکله شوری[ دریم هجری قمری کال ] 279
د احد شوری [ دریم هجری قمری کال ] 280
د خندق شوری[ پنځم هجری قمری کال ] 280
د خندق شوری د مصالحت په خاطر[ پنځم هجری قمری کال ] 280
د افک په هکله شوری[ شپږم هجری قمری کال ] 281
د حدیبیی شوری [ شپږم هجری قمری کال ] 282
د هوازن د بندیانو په هکله شوری [ اتم هجری قمری کال ] 282
د معاذ رضی الله عنه په هکله شوری[ لسم هجری قمری کال ] 283
د شوری په هکله د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم احادیث 285
د شوری په هکله د راشدینوخلفاء تګ لاره 289
د ریاست مشرته د شوری د رائی د رد کولو حق نشته 291

سرلیك مخ
العرفاء[ د ملت نمایندګان ] 296
نقباء 297
ملاء القوم 298
اولو الامر 298
اهل الحل والعقد 299
د مجلس شوری [ پارلمان] د غړو مواصفات 300

## نیو لیك


| | |
|---|---|
| ایمان : | 301 |
| فقاهت : | 301 |
| .عدالت او دیانت : | 302 |
| .عاقل اوبالغ وی : | 303 |
| د عامو رواجو نو څخه باخبر وی : | 303 |
| د اسلامی امت معتمد وی : | 303 |
| په موجوده زمانه کې د مجلس شوریٰد جړولو کړنلاره | 305 |
| د انتخاباتو د مروج نظام اصلاح کولو ته اړتیا ده | 309 |
| د ښځو د نمایندګی مسئله | 310 |
| په اسلامی پارلمان کې د غیرو مسلمانود نمایندګ | 326 |
| سیاسی ګوندونه | 327 |
| مرکزی موحد طرز حکومت | 328 |
| د مجلس شوریٰله پاره د مودی ټاکل329 | 329 |
| دریم اصل د امام سره بیعت کول | 331 |
| د بیعت او انتخاب د لازمیدو دلایل | 333 |
| د بیعت او د خلیفه د ټاکلو په هکله د فقهاو ویناوی | 336 |
| د راشدینو خلفاو رضی الله عنهم سره بیعت | 340 |
| د ابو بکر صدیق رضی الله عنه سره بیعت | 340 |
| د حضرت ابوبکر رضی الله عنه لومړی وینا | 343 |
| سر لیك | مخ |
| د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه سره بیعت | 344 |
| د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه لومړی وینا | 345 |
| د حضرت عثمان رضی الله عنه سره بیعت | 346 |
| د حضرت عثمان رضیالله عنه لومړی وینا | 347 |
| د علی بن ابی طالب رضی الله عنه سره بیعت | 348 |
| د علی بن ابی طالب رضی الله عنه لومړی وینا | 349 |
| د ولی عهد ټاکل | 350 |

نیو لیك


.....................
تغلب یا په زور حکومت نیول 351
ځلورم اصل:د خلیفه صفات 355
دخلافت له پاره د قریشی توب شرط 361
د ظالم او فاسق حکمران په هکله د امام ابو حنیفه مسلک 362
د خلیفه منصبی فرائض 364
د خلیفه حقوق 365
د خلیفه د وحدت او تعدد مسئله 366
متحده اسلامی خلافت 370
پینځم اصل : وزارت 375
وزیر د قرآن او سنتو له نظره 375
د محمد صلی الله علیه وسلم وزیران 376
د حکومت په جوړښت کې د وزیرانو اهمیت 376
د تفویض وزارت او د تنفیذ وزارت
380
صدر اعظم ټاکل: 382
د صدر اعظم صفات: 383
د تنفیذ وزارت : 385
د تنفیذ د وزیرصفتونه 386
ولاتیی وزارتونه 386
سرلیك مخ
شپږم اصل :د قضاء نظام 387
. د عدل او قسط معنا: 389
قضاء مفهوم : 389
د قاضی د اهلیت شرطونه **390**
په اجتهادی امورو کې د قاضی ..... **392**
قضاء د قاضی په علم **404**
د قرائنو په اساس ګواهی پریکړه کول 407

نيو ليك


د بينی معنی او مفهوم : 408
په غائب فيصله ( يو طرفه پريکړه ) 410
د قاضی آداب 413
د قاضی د ادآبو په هکله د عمر فاروق .... 414
د تحفواو رشوت د اخستو څخه لری والی : 418
د عادل او پوه ليکونکې ټاکل 421
د عادل او پوه ژباړونکې ټاکل 422
د عدالت د روازی خلاصی پری ښوول 423
دروازه چی ټاکل 424
ټول وخت د قضاء دکار ورکول 426
د محکمی آزادی او د قانون پورته والی 427
ديهوديانو کړنلاره 427
د نپوي او راشدينو خلافاو دتګ.... 430
دهارون الرشيد په نوم دسفيان ثوري... 442
د کتاب لنډيز .444
کتابونه 445

نیو لیك

....................

یادښګت

نړیوال سیاست د پخوا څخه د څو زبر ځواکونو ترمنځ ویشل شوی و، او نړۍ دوه قطبه ګڼل کیده د هغوی په نزد پخوا هم او اوس هم د سیاست تعریف د کمزورو ملتونو استثمار او د هغوی په شتمنیو باندي پوره تسلط پیدا کول و.

سیاست لکه د پخوا په څیر د هغوی له پاره د چل او غولوني هغه لاره وه چي دوی د هغې په واسطه پرې په نورو د غلبي واک ترلاسه کاوه د سیاست، استقلال او ازآدۍ تعریف د هغوی په وړاندی څه ځانګړي تعریف نه لره او څنګه به یي چې خوښه وه تعریفول به یي؟

دوه قطبه نړۍ په دې معني چې یو اړخ ته د کمونیزم سور سیلاو و چې د امریکایي امپریالیزم ټغر یي ورټولولو ته ورنږدې کړی و او د بله اړخه

امریکایي امپریالیزم و چی هڅه یې کوله ترڅو نړۍ د دیموکراسۍ د شعار لاندي په غرب کی د پالل شوو وګړو په واسطه د خپلو جاسوسي ادارو په زور په ملتونو ورووتپي .....

د افغانستان مسلمان ولس د اسلام او اسلامي سیاست د پتنګانو په څير د خپلو مجاهدانه سرښندنو په واسطه د کمونیزم سیلاو نه یوازي دا چي بند کړ بلکه هغه چینه یې هم وروچه کړه او د شوروی امپراطوري یې لکه د انګلیس په څير دړی وړی کړه او تر روستی روسی یې ورونغښتله ، غربی سیا ستمداران خو د افغانستان د ولس دغه ستر بریالیتوب د خپل ځان او خپل تکناتوژۍ افتخار ګڼي.

خو اوس چی نړۍ یو قطبي حیثیت لري او امریکایي زبر ځواک غواړي د پخواني کمونیستي ښکیلاک میراث هم ترلاسه کړي دا دي نړۍ یې د خپل شیطاني او درواغژن سیاست په واسطه تر تسلط لاندي راوړي او لا لګیا دي راوړي یې.

نن د اسلامي هیوادونو ټوله شتمني چی د همدوی د شیطاني سیاست په واسطه یې امران او دیکتاتوران د دیمو کراسي تر عنوان لاندي ټاکل کیږی په مکمله توګه د دوي په تسلط کي پرته ده او د امریکا نفوس چي د نړۍ په سلو کي څلورتشکیلوي د نړۍ د په سلو کي د دیرش نه زیات طبیعي زیرمو مصرفوي او د دي زیرمو زیاته برخه د اسلامي هیوادونو د طبیعي زیمو څخه د دیموکراسي تر عنوان لاندي د برچي په زور اخستل کیږي. نن د ازآدي، استقلال او دیموکراسي معني په مکمله توګه تغیر کړي ، پخوا به چي د کمونیزم سرو لښکرو کوم هیواد د خپل تسلط لاندي راوست نو هغه به یې مستقل او ازاد هیواد ګاڼه خو نن هر هغه هیواد چي د امریکایي او انګلیسي عسکري قواو په سلطه کي راځي دوی یې ازاد او مستقل ګڼي. پرون به د کمونیزم پلویانو د کمونستي لښکرو تسلط ته ازادي ویله خو نن غرب پرسته، بي مفکوري عناصر چي د امریکایي او انګلیسي فوځونو په اوږو سپاره په ولسونو حاکمیت پیدا کوي خپلي

## نیو لیك

دغي واكمني ته ازادي او استقلال وايي ، دلته د اسلام او افغانستان د ستر دینی عالم، او پوه سیاستوال نابغه سید جمال الدین افغان خبره چي: "ازادی اختسل کیږی ورکول کیږي نه، او د پاتی اسلامیزم بنسټ اېښېودونکی هغوی چي پرون د انګلیس او روس نه د ازادي په خاطر فدا كاري كړي او خپل ولس يي د هغوي د عسكري ځواكونو د بيرحمانه او غاصبانه تسلط نه ازاد كړي او پخپلو وينو يي ازاد ساتلي مجاهد او قهرمان و خو نن چي خپل ولس د څو میلیونو ډالرو او روبلو په مقابل کي پلوري او يا يي پلورلي او د پردو د غلامانو په څير د هغوي هر امر ته په لوړ غږ هو صيب وايي د مجاهد او قهرمان په لقب ملبس كيږي او دا ټول د همدغه شيطاني سياست يوه برخه ده.

غواړم خبره لنډه كړم او لوستونكو ته عرض كړم چي د اسلامي سياست تر عنوان لاندي دغه كتاب چي څه موده پخوا د اسلامي تحريک د غړو د فكري تربيي په خاطر ترجمه كړي و چي په لږ وخت كي د هجرت په ځينو پوهنتونونو كي يي د تعليمي نصاب ځاي ونيو په لنډ او عالمانه توګه يي نه يواځي د اسلامي سياست تشريح كړي بلكه اسلامي سياست يي د شيطاني سياست سره په پوره مقايسوي توګه تشريح كړی.
ما هڅه كړې چي ژباړه يي ساده او روانه وي ترڅو د اسلامي سياست مينه وال او زمونږ د ټولني ټول وګړي تري پوره ګټه واخلی.

زه د پيغام نشراتی مركز څخه چي د دي كتاب د بيا خپرولو له پاره ئې اقدام كړي يو عالم ممنون يم او د لوي خداي جل جلاله نه د دوي له پاره د خير او بركت دعا كوم او لوستونكو ته پري د پوهي توفيق غواړم.

په درناوی

قريب الرحمن " سعيد "

ناروی

.....................

## سریزه

لوی قادر الله جل جلاله د عرش نه تر فرشه پوری ټولی نړی پیدا کونکې او خالق دی چې د دی حقیقت څرنګوالی نه یوازی په قرآن کریم او آسمانی صحیفو کې لیدل کیږی، بلکه بشری فطرت، سلیم عقل ،انسانی تاریخ د پخوانیو آثارو پیژندونکو پوهانو څرګندونی او نوی ساینسی اختراعات ټول ، د مخلوقاتو د پیدا کوونکې او پالونکې ذات الله جل جلاله شته والی ثابتوی .

پاک خدای جل جلاله د خپل مخلوق څښتن او واکمن دی هغه د خپل مخلوق د نظم د چلولو له پاره نه خو کوم پیری، انسان او ملک ته داسی اختیار ورکړیدی چې څه ډول چې وغواړی د واکمن او ټولواک بادشاه په څیر د کائیناتو نظم او نسق وچلوی او تصرف په کې وکړی او نه ئی طبعیت [ نیچر ] ته حواله کړی چې څنګه وغواړی په هغه لور ئی روان کړی بلکه د کائناتو ټول نظام یوازی د همدی یوه الله جل جلاله په قبضه او قدرت کښی دی ،الله رب العالمین پخپله تشریعی حاکم دی لکه څنګه ئی چې د انسان د جسمانی ژوند د جوړښت او پاینښت له پاره د خپلو نعمت

نو خزانی پیدا کړیدی په همدی توګه ئی د انسان د روحانی، اخلاقی او تمدنی ژوند د پرمخ تګ له پاره د عدل او انصاف په بنسټ ولاړ د ژوندانه نظام هم جوړ کړیدی چې په هغه کې د ژوندانه د هر اړخ له پاره ځانګړی لارښوونی او قوانین شته دی .

نیو لیك

د الله تعالی ذات د کمال په ټولو صفاتومتصف او د هر عیب او نقص څخه پاک دی.

ماضی، حال او مستقبل ټول د هغه په علم کښی دی- څرنګه چې د هغه ذاتی اغراض او غوښتنی نشته نو لدی امله د هغه له لوری رالیږلی شوی قانون یعنی د اسلام مبارک دین هم د هر ډول عیب او نقص څخه پاک او د هر دور او وخت له پاره وړ او مناسب دی .

د دی حکمونه او قوانین دکوم خاص فرد او یا ځانګړی ډلی او قوم د غوښتنو او خواهشاتو تابع نه بلکه د ټول بشریت د انسان د مصلحت او ښیګڼو په بنسټ ولاړ دی د دنیوی او اخروی ژوندانه ښیګڼو دواړه د الهی نظام په پیروی پوری تړلی‌دی ځکه چې دا د ژوندیو نړیواله او هراړخیزه تګ لاره ده .

د دی بشپړ او پاک نظام د اصولو سرچینه الهی وحی او رسالت دی رسول او نبی د حقیقی حاکم ، باوری نماینده او سفیر دی ، د نبوت د پای ته رسیدو نه وروسته ، اوس د اسلامی نظام د تشریعی قوانینو ماخذ قرآن او سنت دی او په دی دواړو ماخذونو کې د ژوندانه د هراړخ له پاره اصول، احکام او لاُرښوونی شته دی .

هیڅکله داسی تصور او خیال هم نه پیدا کیږی چې الله جل جلاله د خپلو معصومو او سپیڅلو انبیاؤ او رسولانو په واسطه یوازی د عقیدی او عباداتو احکام خپل مخلوق ته رالیږلی او اجتماعی، اقتصادی، سیاسی او تمدنی احکام او قوانین ئی نه وی رالیږلی .

هغه خلک چې دا ډول فکر او تصور ولری نو هغوی یا په اسلام پوره باور نه لری او یا ئی په دی هکله د پوهی کمی ده .

انسان مدنی الطبع یعنی اجتماعیت خوښوونکې دی د انس او یو د بل سره د مینی او محبت د ژوند تیرول د هغه فطری غوښتنه ده، مدنی او ټولنیز ژوند له پاره د سیاسی نظام شته والی یو ضرورت دی، نو اسلامی نظام هم یو سیاسی نظام لری چې د همدی سیاسی نظام د

.........................
تشریح او توضیح له پاره دا کتاب لیکل شویدی .
په اصل کښی دا کتاب په پینځو بابونو مشتمل وه چې لومړنی مسوده یې 1401هجری قمری کال د محرم الحرام په 12نیټه چې1980عیسوی کال د نومبر د میاشتی د21 نیټی سره سمون خوری پای ته رسیدلی وه چې د هغوی عنوانونه ئی په دی ډول وه : خالقیت ، مالکیت ، حاکمیت ، رسالت ، سیاست چې د ورقو شمیر ئی په منځنی کچې تر800 صفحات پوری ورسید چې یو ځای چاپول یی مناسب هم نه و او د مالی وسائلو د کمښت له امله مشکل هم وه، نو دوهم ځلی کتنی پر مهال مناسب وګنل شوه چې کتاب په دوه برخو وویشل شی چې لومړی برخه ئی د خالقیت ، مالکیت او رسالت د دری فصلونو څخه جوړه شی او په دویمه برخه کې سیاست پوری اړ موضوعاتو را ټول کړای شی ، څرنګه چې حاکمیت هم د سیاست پوری تړلی اړخ دی نو له دی ا مله مو هغه دکتاب په همدی دویمی برخه کښی شامل کړ او مونږکوښښ وکړ چې دا دویمه برخه چې د سیاست پوری د مربوطو موضوعاتو څیړنه کوی لومړی چاپ او نشر شی ځکه چې نن ورځ په نړۍ کښی همدا موضوعات ډیر زیات تر بحث لاندی دی، او د اسلام د سیاسی نظام په اړه ډول ډول خبری روانی دی او که الله جل جلاله توفیق راکړ لومړی برخه به هم نشر کړو. مونږ دا دویمه برخه په دریو لویو بابونو ویشلی ده :

لومړی باب : د سیاست تعریف او اقسام

دویم باب : غیر اسلامی سیاسی  نظرئی

دریم باب : اسلامی سیاست یا اسلامی خلافت

مونږکوښښ کړی چې د ټولو څیړنو د ثبوت او تشریح لپاره د قرآن کریم آیاتونه د رسول کریم صلی‌الله علیه وسلم احادیث د خلفاء راشدینو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم او تابعینو رحمه الله علیهم ویناوی او فقهی پوهانو حوالی ورکړو- په لیکنه کې د احادیثو

## نیو لیك

او تفاسیرو د مستندو او باوري کتابونو څخه استفاده شوی ده ځکه چې د تاریخ او د مغازی په کتابونوکښې کمزوری روایات هم راغلی دی ، په همدی توګه د فقهاؤ اقوال هم د فقهی د مستندو او مروجو کتابونو څخه رانقل شوی دی .

د کتاب لومړی او دوهم باب چې په لومړنیو څېړونو مشتمل دی خو د کتاب دریم باب یعنی اسلامی سیاست او یا اسلامی خلافت د کتاب اساس تشکیلوی، نو ددی کتاب اصل موضوع د اسلامی نظام د اصولو او بنسټونو څېړنه ده.

اللهم ارنا الحق حقا و ارزقنا اتباعه و ارنا الباطل باطلاً و ارزقنا اجتنابه و صلی الله علی قائد المهاجرین و المجاهدین و علی اله و اصحابه اجمعین

ګوهررحمن
دارالعلوم تفهیم القرآن مردان
1401 هجری قمری کال د محرم الحرام میاشتی 16 نیټه
چې د 1980عیسوی کال نومبر میاشتی 25 نیټې سره سمون خوری

.......................

## لومړی باب

### د سیاست د کلیمې لغوی معنی :

سیاست د امارت په وزن د سَاسَ یَسُوْسُ څخه د قَال یَقُوْلُ په وزن د مصدرصیغه ده، د دی فعل مصدر سوس قولُ په وزن هم راتلای شی، نو د سیاست او سوس اصلی معنی دا ده " اصلاح کول او ښائسته کول" د همدی لغوی معنی په اساس دا دواړه کلیمی د ریاست، حکومت او د هیواد د چارو د سنبالولو په ځای استعمالیږی ځکه چې د ریاست هدف او مرام هم د خلکود حالت اصلاح او بهتر والی دی .

ابن منظور افریقی رحمه الله علیه چې په 711 هجری کال کې وفات شوی په دی هکله لیکې :

والسیاسه القیام علیٰالشئ بمایصلحه والسیاسه فعل السائس ... ورجل ساس من قوم ساسه و سِواس . انشد ثعلب .

ساده قاده لکل جمیع ساسه للرجال یوم القتال

والسوس الریاسه یقال ساسوهم سوسا و اذا راسوه قیل سوسوه واساسوه

سست الرعیه سیاسه وسوس فلان امربنی فلان ای کلف سیاستهم وسوس الرجل امورالناس علیٰما لم یسم فاعله اذا ملک امرهم ویروی قول الخطیئه

لقد سوست امر بنیک حتی - ترکتهم ادق من الطحین[1] .

د یوه شی د اصلاح له پاره د ملاتړلو او کلکو ودریدلو ته سیاست وایی چې د یو مدبر او لارښود کار دی، نو هغه څوک چې د قوم د

---

[1] - لسان العرب دار صادر بیروت چاپ 6 ټوک 108مخ د سوس ماده - النهایه د ابن الاثیر2 ټوک 192 مخ د سوس ماده - تاج لعروس شرح قاموس 4 ټوک 169 مخ د سوس ماده

سردارانو او لارښوونکو له ډلي څخه وی هغه ته سائس ويل کيږی .
ثعلب په خپل شعرکې ويلی دی :
[ هغه د هرلښکر لارښود او قوماندان دی او د جنګ په وخت کې د عسکرو رهبر او لارښود ]
سوس په منظمه توګه د حکومت او رياست پرمخ بوتللو ته وايی ، د ساسوهم سوسوهم سوساً معنی ده هغه په خلکو حکومت کړی ، کله چې خلک کوم شخص خپل سردار او قائد وټاکې نو هغه ته ويلی کيږی تسوسوه و اساسوه [ هغوی هغه خپل مشر وټاکه ] ، سست الرعيه سياسه معنی ده : زه د خپل رعيت نظم و نسق چلوم او په هغو حکمرانی کوم ، سوس فلان امر بنی فلان معنی ده : هغه شخص د هغی قبيلی د معاملاتو مسئول وګرځول شو[هغه ته د سياست او حکمرانی دروند پيټی وروسپارل شو] .
کله چې څوک د خلکو حاکم او پادشاه وټاکل شی نو ويل کيږی چې : سوس الرجل امورالناس
حطيئه په خپل يو شعر کې ويلی دی :
زه يې ستاسی د اولاد پالونکې او مسئول ټاکلی يم
نو ما هغوی د دلول شوی غنمو د اوړو څخه زيات ميده کړل
په صراح اللغات کې يی په فارسی ژبه د سياست ژباړه " رعيت داری کردن " کړی ده
امام غزالی رحمه الله عليه چې په 505 هجری کال کې وفات شوی د سياست په هکله داسی وايی :
استصلاح الخلق وارشادهم الی الطريق المستقيم المنجی فی الدنيا والاخره [ د خلکو اصلاح او هغی لاری ته لارښوونه چې د دنيا او آخرت د خلاصون يوازنی ذريعه ده سياست ويل کيږی ] .
په بل ځای کې ليکلی چې :
وهی التاليف والتعاون و الاجتماع علی اسباب المعيشه وضبطها [

سياست هغه تدبير دی چې د ژوندانه د وسائلو د تنظيم او د هغی په محور دوګرو د را ټوليدو د هغو ترمنځ د محبت او تعاون سبب ګرځی[2] .

د سياست معنی مکر، فريب ، غولول او جنګول نه، بلکه سياست د هغی پوهی او حکمت نوم دی چې د خلکو تر منځ وروروليی، محبت، يووالی او اتفاق را پيدا کوی، څوک چې د طبقاتی کشمکشونو او جګړی جوړولو باعث ګرځی سياست پوه نه دی بلکه حقيقی سياست پوه هغه دی چې د ښه مدبر او منتظم تر څنګ نامتو مصلح او د اخلاقو معلم هم وی .

## د سياست تعريف

### د مسلمانوسياسی پوهانو په نظر:

علامه ابن خلدون رحمه الله عليه چې په 808 هجری کال کې وفات شوی د سياست په هکله داسی ليکلی :

فالسياسه و الملک هی کفاله للخلق و خلافه لله فی العباد لتنفيذ احکامه فيهم [ سياست او حکومت د بندګانو د ساتنی او د هغوی د ګټو د ساتنی او کفالت او په بشری ټولنه کې د الله جل جلاله د احکامو د تطبيق له پاره د الله جل و علی شانه نيابت او استازيتوب دی ][3] .

امام راغب اصفهانی رحمه الله عليه چې په 502 هجری کال کې وفات شوی د سياست په تعريف کې دری څيزونه په ګوته کوی :

عماره الارض [ د ځمکې آبادول اود هغی ترقی اوجوړول] ، تنفيذ احکام الله [ د الله جل جلاله د حکمونو نافذول ]، مکارم الشريعه [ د

---

[2] - احياء علوم الدين کتاب العلم لومړی باب ا ټوک 9 مخ - المنجد364 مخ سوس ماده - کليات ابوالبقاء الحنفی د 1095هجری کال 374 مخ

[3]- مقدمه ابن خلدون بيروت چا پ 113 مخ

ښو اخلاقو اختيارول [4] .

ابوالوفا ابن عقيل بغدادى رحمه الله عليه چې په 513 هجرى كال كې وفات شوى د سياست په هكله ليكلى چې :

السياسهما كان من الافعال بحيث يكون الناس معه اقرب الى الصلاح و ابعد من الفساد [ سياست د هغه تدبيرونو نوم دى چې د هغه په واسطه خلک د صلاح او ښيرازى او ښولنيزو گټو په لور نږدى او د فساد او ورانى څخه ليرى كيږى [5] .

شاه ولى الله محدث دهلوى رحمه الله عليه دا ډول فرمايلى دى چې :

وهى الحكمه الباحثه عن كيفيه ربط الواقع بين اهل المدينه [ سياست او حكمت د هغه فن نوم دى چې د يو هيواد د وگړو تر منځ د اجتماعى اړيكو د كيفيت څخه بحث كوى ] .

د پورتنيو ټولو تعريفونو څخه داسى نتيجه په لاس راځى چې : سياست يو فن او حكمت دى چې موضوع ئى د حكومتى چارو سنبالول او تنظيمول ، او مرام ئى د عامه گټو ساتنه او د خلكو ترمنځ اړيكې او ارتباط د يوى قاعدى او قانون په واسطه كنترولول دى .

## سياست د فقهى پوهانو له نظره :

فقهى پوهانو د سياست عام مفهوم په دى ډول بيان كړى دى د اصلاحى تدبيرونواختيارول او د حكومت نظم ونسق پرمخ بوتللوته سياست ويلى كيږى لكه څنگه چې ابن عابدين شامى رحمه الله عليه او ابن نجيم رحمه الله عليه د دى جامع مفهوم يادونه كړى ده[6].

---

4 - الذريعه الى مكارم الشريعه 8 باب 18مخ

5 - الطريق الحكميه فى السيا سه الشرعيه د ابن قيم رحمه الله عليه د 1961 كال مصر چاپ 15مخ - اعلام الموقعين 4 ټوک 460 مخ

6 - مجموعه شامى 3 ټوک 203 مخ كتاب الحدود - البحرالرائق لابن نجيم رحمه الله عليه بيروت چاپ 5 ټوک 76مخ په آخرد كتاب سرقه كى .

خو د فقهي په كتابونوكې د سياست كلمه په عمومي توګه د[ تعزيري سزاګانو] له پاره استعمال شوي ده، هغه چې د قرآن او سنت د ښكاره نصوصو څخه ثابته نه وي، خو د شرعي قواعدو مطابق وي او مقصد ئې د ټولنيز مصلحت مراعت او فساد د منځه وړل وي .

سياست هغه تدبيرونو ته ويل كيږي چې د هغې په واسطه د ټولنيزو ګټو او مصالحو ساتنه وشي، او د جرائيمو د سزا نه مقصد هم د مجرمينو اصلاح او د خلكو د مال ، ځان ، ابرو، او عزت ساتنه ده، همدا علت دی چې د سياست د لغوي معنی مفهوم په دی سزاګانو باندی تحقق پيدا كوی .

حدود هغه سزاګانو ته ويل كيږي چې د قرآنكريم د ښكاره نصوصو او يا د صحابه رضی الله عنهم د اجماع نه ثابت او ټاكل شوی وی لكه د زنا، غلا، قطع طريق [ لاری شكونكې ]، شرابوڅښل ، قذف حد....

د قصدی قتل او ټپی كولو سزا ګانو ته په شرعی اصطلاح كې قصاص ويل كيږي او د بعضی جرمونو سزاګانو ته كفارات ويل كيږي‌لكه د قسم كفاره، د ظهار كفاره د روژې كفاره، د سهوی قتل كفاره، خو په اصولي توګه په حدودو، قصاص اوكفاراتو ټولو باندی د سياست اطلاق كيږي ځكه چې د دی شيانو مقصد هم د ټولنيزو ګټو او مصالحو ساتنه او د ټولنې اصلاح ده .

ابن عابدين رحمه الله عليه فرمايي : وهذا تعريف للسياسه العامه الصيادقه علی جميع ما شرعه الله تعالی لعباده من الاحكام الشرعيه [دا [ د بندګانو د ګټو او اصلاح تدبيرونه ] د هغه عام سياست تعريف دی چې د الله جل جلاله په ټولو احكامو صدق كوی ، هغه احكام چې الله جل وعلا شانه د خپلو بندګانو د ګټو له پاره مقرر كړی دی[7] ] .

خوپه فقهي ژبه كې سياست هغه جزاګانوته ويل كيږي چې د هغی ثبوت او تعين د قرآن ، نبوی سنتواو د صحابه كرامو رضیالله عنهم د

[7]- مجموعه شامی 3 ټوک 203 مخ كتاب الحدود

اجماع څخه نه وی شوی ، دی ډول سزاګانو ته تعزیرته هم ویل کیږی چې په دری ډوله دی :

لومړی : په سلګونو هغه ګناهونه اوجرمونه دی چې د هغی سزاګانی منصوص نه دی د دی ډول جرائیمو له پاره د اسلامی شریعت د پرهیزګارو پوهانو یوه اداره یا مقنن مجلس [ د شوری مجلس ] چې د سزا تر ټولو کمه او لوړه کچې او څرنګوالی، تعینولای شی او قاضی ته دا اختیار ورکوی چې د هغه تعزیری قانون په چوکاټ کې کومه سزا چې مناسبه وګڼی ورکړی،که چیری په دی ډول قانون د شوری مجلس لخوا یا بلی کومی مجازی اداری لخوا نوی نافذ شوی، نو بیا هم محکمی ته دا حق ورکړل شوی چې د شرعی اصولو په رڼا کې چې هره سزا لازمه وګڼی مجرم ته ورکړی .

دوهم : هغه قاطع ثبوت چې د منصوصه حدودو او د قصاص د نفاذ له پاره ضروری وی خود قانونی شرائطو په بنسټ موجود نه وی، مګر عدلیی ته د ښکاره شواهدو په رڼا کې ډاډګیرنه پیدا شوی وی چې په یوه رنګ نه یوه رنګ د جرم ارتکاب صورت نیولی وی، نو په دی حالت کې د حدودو نفاذ نشی کیدای، خو محکمه چې د عدل په رڼا کې هره تعزیری جزا خوښه کړی مجرم ته یې ورکولای شی ځکه چې حدود په شبه ساقط کیږی او تعزیزی سزا د ظنی ثبوت په اساس هم ورکول کیدای شی .

دریم : شکل ئی دا دی چې د حدودو د تطبیق له پاره خو قطعی ثبوت موجود وی لیکن د جرم مرتکب هغه دولتی کارمند وی چې په خپله د جرمونو د مخنوی مسئول وی او یا جرم کوونکې په مکرر ډول د جرم ارتکاب کوی یا د جرم ارتکاب په ډیره دردناکه او وحشت ناکه طریقه شوی وی ، نو په دی حالت کې قاضی ته دا اجازه ده چې د ټاکلی جزا نه پرته نوره جزا هم د تعزیر په ډول ورکړی خو په دی شرط

چې په دی کې ئیکوم مصلحت په نظرکې نیولی وی[8] .

د عبدالرزاق رحمه الله علیه په کتاب مصنف کې دی چې : حضرت علی رضیالله عنه د روژی په مبارکه میاشت کې شراب څښونکو ته د مقررو اتیا دورو نه علاوه شل دوری‌سزا نوره همه ورکوله[9] .

ابن شهاب زهری رحمه الله علیه فرمایی : څوک چې د روژی په میاشت کې د شرابو د څښلو مرتکب شی نو اتیا دوری سزا به ورکول کیږی او په کوڅو کې به وګرځولی شی چې خلک یی د جرم څخه ترڅو چې د رسوائی څخه یی عام خلک عبرت واخلی خبر شی .

همدا راز د لمانځه نه کونکوته هم ابن شهاب زهری رحمه الله علیه همدا د رسوا کولو تعزیر تجویز کړی دی[10].

پورته ذکر شوو دری واړه سزاګانو ته د فقهی پوهانو تعزیرهم ویلی دی او د سیاست اطلاق ئی هم په همدی سزاګانوکړی دی .

مشهورحنفی فقیه شیخ علاوالدین طرابلسی رحمه الله علیه د خپل کتاب معین الحکام دریمه برخه د تعزیری سیاست د بیانولو له پاره خاص کړی ده، ځینی خلکو اعتراض کړی وه چې د غیر منصوصو سزاګانو ورکول ظلم دی ، او دا څرګنده ده چې منصوص سزاګانی یوازی یو څو دی او د جرائمو اقسام سلګونو ته رسیږی ، نوکه چیری د هری سزا له پاره د نص وجود شرط وګرځول شی ، نوی د خاصو مجرمانو پرته به ټول مجرمین بی له کومی ویری او خطری ، په کاملی آزادی سره د خلکو د مال ، ځان او آبرو په لوټولو شروع وکړی دا

---

[8] - شامی 3 ټوک 247 مخ

[9] - مصنف لعبدالرزاق رحمه الله علیه 9ټوک 231 مخ باب الشراب فی رمضان 1972بیروت چاپ

10- مصنف لعبدالرزاق رحمه الله علیه 9ټوک 231 مخ باب الشراب فی رمضان 1972بیروت چاپ

اعتراض کونکې په یوې انتها کې خوا وه خو په بل طرف ځینی خپل غرضی سیاسی مشران او حکمرانان د خپلو ذاتی مصالحو په خاطر بې له کوم ثبوت څخه خلکو ته سزاګانی ورکوی او هغوی تعذیبوی او ربړوی ئی ، خو بهانه یې دا وی چې دا د سیاست او مصلحت غوښتنه او تقاضا ده، دغه درنده صفته خلک کله د مصلحت او سیاست په نوم حتی د منصوصی احکامو په بدلیدو هم صرفه نه کوی .

په دغه دواړه افراط ډلو د تنقید په خاطر علامه طرابلسی لیکلی دی چې : سیاست تعزیری او تغلیظی قانون دی چې په دوه برخوویشل شوی :

ظالمانه سیاست چې اسلامی شریعت یې حرام ګڼی او عادلانه سیاست چې د هغی په واسطه د مظلوم حق هغه ته سپارل کیږی او د مفسدینو مخه پری نیول کیږی او د اسلامی شریعت اصلی مقصد پری تر لاسه کیږی ، نو د داسی ډول شرعی سیاست اختیارول واجب دی .

د عادل سیاست نه سترګی پټول روا نه دی ځکه د هغه په پریښودلو د خلکوحقوق تر پښو لاندی کیږی، جرم کونکو ته دجرم لاری پرانیستل کیږی ، د وینی تویولو،آبرو او عزت لوټولو، او د خلکو په مالونو د غاصبانه قبضی له پاره لاره آواریږی ، نود داسی شرعی سیاست نه منکریدل د شرعی نصوصو او راشدینوخلفاؤ رضی الله عنهم د اعمالو د تردید سره مترادف او برابر دی

اما ځینی خلکو په دی هکله د افراط بل مخ غوره کړی دی هغوی د شرعی حدودو نه د تیری په کولو سره د ظلم مختلف ډولونه او سیاسی بدعتونه ایجاد کړی دی ، دا خلک پدی باور لری چې شرعی سیاست د امت د مصلحت او عامه ګټو د ساتنی څخه قاصراو عاجز دی [ نعوذبالله] .

دا ناپوهی او غټه غلطی ده ، ځکه چې الله جل جلاله فرمایلی دی " مونږ تاسی له پاره دین پوره کړی دی ، پدی دین کې د انسانانو دینی

او دنیوی ګټی په پوره توګه موجود دی ، رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی دی " ترڅو چې تاسی د الله جل جلاله په کتاب او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په سنتو عمل کوی بی لاری به نشی [11].

د حافظ ابن قیم رحمه الله علیه ویناهم د لړڅه مخکې وروستوالی سره په همداسی ده بلکه داسی معلومیږی چې علامه طرابلسی رحمه الله علیه دا ټول عبارت د ابن قیم رحمه الله علیه دکتاب نه رانقل کړی خوحواله ئی نه ده ورکړی [12].

شیخ الاسلام مرغنیائی رحمه الله علیه چې په 593 هجری کال کې وفات شوی په هدایه کې ئی د زنا د حد تشریح د حنفی مسلک سره سم په دی ډول کړی ده : د بې واده مسلمان د زنا په حدکې دوری او د وطن نه شړل دی یو ځای نه کړای شی خوکه چیری امام ته [امیرالمؤمنین یا قاضی ] په دی کې کوم مصلحت په نظر راځی نو د خپلی رای په اساس د ئی د څه وخت له پاره د وطن څخه شړلای شی چې دا زیاته کړل شوی سزا [ وطن څخه شړل ] تعزیر او سیاست دی .

ځکه چې کله دا تعزیری او سیاسی سزاء ګڼوره ثابتیږی ، خو فیصله د وخت د امام د نظر پوری تړلی ده د ځینی صحابه کرامو رضی‌الله عنهم نه د زانی د وطن څخه د شړلو روایت په همدی سیاسی او تعزیری سزا باندی بناء دی[13] .

ابن عابدین شامی رحمه الله علیه چې په 1352هجری کې وفات شوی لیکې: د سیاست لفظ د هغه سزاګانو له پاره هم استعمالیږی چې د هغه په ذریعه دمجرمینو ټکونه او اصلاح کیږی لکه فقهاء وایی چې

---

[11]- معین الحکام فیما یتردد بین الخصمین من الاحکام 207 مخ مصر چاپ 1310 هجری قمری کال

[12]- الطرق الحکمیه 16،15مخونه - اعلام الموقعین 4 ټوک 462مخ

[13]- هدایه د فتح القدیر شرح کتاب الحدود 5 ټوک 241 نه تر 144 مخونو پوری 1970 کال د مصر چاپ

که چیری یو سړی په لواطت او غلا عادی شوی وی نو سیاسه هغه قتل کیدای هم شی لکه څنګه چې د یو بدعتی په اړه دا خبره مخکې بیان شوی ده . ځینی فقهاؤ د سیاست تعریف داسی کړی دی چې سیاست هغه تعزیری او تغلیظی سزا ده چې د اسلامی شریعت دقواعدو او اصولو سره برابر وی که څه هم په ښکاره ډول د هغه بیان په نصوصوکې نه وی .

ځکه چې د اسلامی شریعت اساس د ایمان څخه وروسته د ټولنی څخه د فساد په ورکولو و لاړ دی .

ولذا قال فی البحر و ظاهرکلامهم ان السیاسه هی فعل شیئ من الحاکم لمصلحه یراها و ان لم یرد بذالک الفعل دلیل جزئی[14].

په بحرالرائق کې یی ویلی دی چې : د فقهاء د ویناؤڅخه په ښکاره همدا څرګندیږی چې سیاست د یوه حکمران هغه فعل [کړنه] او تدبیر دی چې د خلکو ګټی او مصلحت ورته په کې ښکاری که څه هم ددی فعل له پاره د هغه سره کوم خاص دلیل موجود نه وی خود شرعی اصولو په بنسټ وی او د منصوصو او اجماعی احکامو خلاف نه وی .

دا ډول عبارتونه د فقهی په کتابونوکې بی شمیره راغلی چې ورڅخه ثابتیږی چې تعزیراتو ته سیاست ویل کیږی او د فقهی په کتابونوکې دا لفظ د همدی مقصد لپاره استعمال شوی .

## د سیاست تعریف

## د نوی عصر د پوهانوله نظره :

د عربی ژبی د سیاست کلیمه د انګلیسی ژبی د[Politics] د کلیمی سره هم معنی نه ده د عربی ژبی د سیاست کلیمه هراړخیزه مفهوم لری لکه د نفس اصلاح کول،کورنی سیاست، تعزیری سیاست،او ټول اصلاحی‌کارونه د همدی‌کلیمی په مفهوم کې شامل

---

[14]- مجموعه شامی 3 ټوک 204 مخ – بحر الرایق 5 ټوک 11مخ

دی خـود انګلیســی ژبــی[Politics]کلیمــه یــوازی د ملکــې، ملــی اوحکـومتی سیاست لـه پـاره اسـتعمالیږی چې پـه عربـی ژبـه کـې ئـی مرادف کلیمه السیاسه المدنیه ده .

Politics] ]پولیټکس یوه یونانیکلمه ده چې د پـولس نـه اخیسـتل شوی او معنی ئی ښاری حکومت دی چې دا لفظ پـه یونـانی معناګـانو سره د دیارلسمی پیړی پـه پیـل کې پـه فرانسـوی ژبـه کې هـم اسـتعمال شوی وه او په هغی وخت کې د سیاست تعریف داسی کیده

د سیاست معنی ده د ښـاری حکومت پوهـه او فـن حاصـلول ، خـو د عمومی مفهوم په لحاظ سیاست ټولو هغه فنون ته وایی چې د انسـانی ټولنی له پاره د اهمیت وړ دی .

د دیارلســمی پیــړی وروســته دی کلیمــی ترقــی وکــړه چــې اوس د پولیټکس[Politics] لفظ یوازی د حکومت داری په فن پوری وتړل شـوه .

پـه انسـائیکلو پیډیـا الکبیـره کـې د سیاست اصطلاحی تعریف پـه ډول شوی دی چې :

فـن حکـم الدولـه اودراسـه المبـادی التـی تقـوم علیهاالحکومـات والتی تحدد علاقاتها بـالمواطنین وبالـدول الاخری [ د حکومت کـولـو پوهی ته سیاست ویل کیږی یا په بل عبارت دا د هغـه بنسـټیزو اصـولو علـم دی چې د هغـی پـه واسطه حکومتونـه جوړیـږی او د حکومـت او خلکـو تـرمنځ پـری اړیکـې قایمیـږی او د نـورو هیوانـو سـره د اړیکـو د ټینګولو حدود پری ټاکل کیږی ] [15].

په 1870کال کې ویل شوی وه چې :

السیاسه علم حکم الدول [سیاست پـه خلکـو د حکومت کولـو علـم دی ] .

---

[15]- علم السیاسه د ډاکټرحسن صعب د لبنان د پوهنتون استاد لومړی فصل 20 مخ 1970کال د بیروت چاپ

خوپه 1962کال کې ئی دارنګه تعریف وشو:
السیاسه فن حکم المجتمعات الانسانیه [ سیاست په انسانی ټولنو د حکومت کولو فن دی ][16]
په المنجدکې ئی دا ډول تعریف شوی دی :
فن الحکم و اداره اعمال الدوله الداخلیۍ والخارجیه و منها السیاسه الداخلیه والخارجیه [سیاست د حکومت کولو فن ته او د حکومت د داخلی او خارجی چارو اداره کولو ته وایی چې داخلی او خارجی سیاست د هغی یو برخه ده ][17] .
د اوسنی عصر سیاست پوه بلنچلی لیکلی دی چې :
سیاست هغه پوهه ده چې د بحث اومذاکری موضوع ئی سلطنت وی
.
ایډورډجیمز د سیاست تعریف په دی ډول کوی :
د حکومت د فرائضواجراکول او هغه خلک په نظم وضبط کې ساتل چې د یوی ټولنی په شکل کې را ټول شوی وی .
د ادیانو او اخلاقو انسائیکلوپیډیا د سیاست د تعریف په باب داسی لیکې :
د سیاست نه مقصد د حکومت نظم و نسق دی [18].
د نوی عصر د علماء تعریفونه سیاست په برخه کې هماغه دی کوم چې د اسلامی سپیڅلی دین پوهانو څو پیړی ترمخه په خپلوکتابونوکې درج کړی دی خلک د اروپا غټو غټو نومونو څخه ویریږی او که نه نو په تیرو شوو پاڼوکې د مسلمانو لغت پوهانو ، سیاست پوهانو، او د فقهی د پوهانو څخه چې کوم تعریفونه د

16- مدخل الی علم السیاسه د ډاکټرجمال الاتاسی 7مخ د مشق چاپ
17- المنجد 362 مخ د سوس ماده
18 د اسلامی حکومت نظام 200مخ د مولانا حامدالانصاری لیکنه 1956 عیسوی کال د هندوستان ډهلی چاپ

سیاست په هکله رانقل شوی ښکاره ، روښانه او هراړخیزدی .

**عملی سیاست :**

پورتنی تعریفونه د نظری سیاست او علمی سیاست پوری اړه لری خو د عملی سیاست بنسټ په سیاسی تجربو باندی ایښوول شوی دی ،د سیاسی مفکر اوسیاسی قائد ترمنځ فرق همدومره دی لکه د علم او عمل ترمنځ او یا د فکر او تجربی ترمنځ ځکه چې یوازی د سیاست د فلسفی په زده کړې یو شخص سیاسی مشر نه ګرځی .

د مثال په توګه یو شخص د طب پوهنځی په پای ته رسولو او یا د طبی کتابونو په مطالعی د ډاډ وړ ډاکټرنه جوړیږی ترڅو چې د مرضونو د تشخیص او دارو ورکولو اوږده تجربه ونه کړی .

ځینی دین پوهان داسی دی چې په کتاب الله ، نبوی سنتو او فقهی باندی ښه پوهیږی خو نه وینا کولای شی او نه د دوه کسو ترمنځ تصفیه، په همدی ډول د انسانی ټولنی د پرمخ بیولو د فلسفه او د حکومت داری په اصولو او قواعدو پوهیدلو سړی سیاست پوه [PoliticalScience] او پروفیسور خو جوړیږی، لیکن سیاسی لارښود اود نظم او نسق قائد نه شی کیدای ترڅو پوری‌چې په عملی توګه سیاسی تجربه په لاس نه وی ورغلی .

ابن خلدون رحمه الله علیه د علمی او نظرئی سیاست توپیر په ښه ډول واضح کړی دی :

علماء او مفکرین چې په فکری نظرعادی شوی دی د معنی په دریابونوکې غوټې وهی د محسوساتو څخه معقولات اخلی، او په ذهن کې قواعد اوکلیات په مجرده توګه ساتی، ترڅوئی په عمومی شکل سره نافذکړی. د خاصو خلکو او قومونو لحاظ ساتل د هغوی عادت نه وی، دا مفکرین د ذهنی قواعدو او فکری نظریاتو پرته هیڅ عملی تجربه نه لری .

خو سیاسی قائدین بیرونی واقعی حقایق او حالات هم په نظرکې

لرې ځکه کیدای شی چې په حالاتو او واقعاتوکې کوم داسې حقیقی خنډ وی چې د هغې له امله په هغه حالاتو نه شی قیاس کیدای چې په ښکاره هغه ته ورته برېښي او دا خنډونه د هغې سیاسی نظرې چې د هغی نفاذ مطلوب وی، په خلاف وی. یو ټولنه په بلې ټولنې نه شی قیاس کیدای ځکه چې که دواړه ټولنې په یو شی کې سره ورته وی نو په ډیرو شیانوکې به توپیر ولری . څرنګه چې مفکرین د عمومی احکامو په صادرولو په یو بل باندی په قیاس کولو عادی وی نو کله چې دوی د عملی سیاست په هکله تفکر کوی نو هغه د خپل فکربه قالب کې ځای په ځای کوی او د خپل خاص استدلال په اساس عملی سیاست تلی، خو په نتیجه کې په عملی میدان کې د سختو غلطیو سره مخامخ کیږی، نو همدا علت دی چې په عملی سیاست کې په هغوی اعتماد نه شی کیدای .

افلاطون ډیرلوی سیاست پوه او فیلسوف وه، خو د واقعاتواوحالاتو تجربه دهغیموضوع نه وه، بلکه ویل به ئی چې حالات د نظریاتو په واسطه پیداکیږی، ارسطو د افلاطون د شاګردانوله ډلیځخه وه،خوهغه په تجرباتیاو عملی سیاست اعتقاد درلوده. هغه د مختلفو قومونو او حکومتونو د تجربو وروسته خپله سیاسی نظریه څرګنده کړه. همدا علت دی چې ارسطو ته د سیاست امام او لومړی ښوونکې ویل کیږی او د هغه کتاب [السیاسیات] ئی ډیر ستایلی دی ، د نظریاتی پوهی سره عملی پوهه ضروری ده ځکه چې یوازې په نظرئی باندی یوخیالیحکومت جوړیدای شی. خویوځمکنی واقعیحکومت نه شی جوړیدلای.

د یو شان سیاسی فکرسره سره د هغې عملی تطبیق او هغه ته عملی بڼه ورکول او د یو نظم په چوکاټ کې راوستل د خلکو په عادتونو او غوښتونوکې د توپیر په اساس په پوره اندازه لرې والی کیدای شی موجود وی ، خو دا توپیر همداسی بڼه لرې لکه دیوی ماڼی

د ظاهری ډیزائن او نقشی ترمنځ توپیر دی لکه د امریکا ، انګلستان، فرانسی ، جرمنی او نورو جمهوری ریاستونه یو ډول دی یعنی لادین جمهوریت ، خو د دی جمهوریت عملی نقشه او د نظم چوکاټ په دی ملکونوکې یو له بل سره پوره توپیرلری .

لکه د روس او چین چې د یوی نظرئی خاوندان دی [ کمونیزم اومارکسیزم ] ، خو په حکومتی چوکاټ او اداره کې ئی ډیر زیات بیلوالی موجود دی - په همدی توګه د پادشاهی فکریو دی چې د ټولو اختیاراتو منبع باید په خپله شاه وی، خو په عملی توګه ئی په کړنه کې ډیر توپیر لیدل کیږی .

**عقلی سیاست او شرعی سیاست :**

علامه ابن خلدون رحمه الله غلیه سیاست د قانون په اعتبارتقسیم کړی دی، هغه لیکې چې:

۱ } پادشاهی د قانون په ځای دمطلق العنان پادشاه په زور او قوت باندی ولاړه وی، چې په هغه کې د غضب او حیوانیت نښې او آثار لیدل کیږی داسی حکمرانان په خپل رعیت باندی د یو دروند بار حیثیت لری چې د هغوی د تباه کولوپه هڅه کې وی ، نو د داسی حالاتو د اصلاح له پاره د سیاسی قوانینود وضع کولو د ضرورت احساس پیدا کیږی، چې د هغی وفاداری په حکامو او رعیت دواړو باندی لازمی ده .

2 } که چیری دا قوانین د قوم د عاقلانو، د حکومت د مسئولینو او نورو پوهانو په واسطه وضع شوی وی ، نو بیا پدی قوانینو ولاړ سیاست ته عقلی سیاست ویل کیږی .

3 } اوکله چې دا قوانین د الله جل جلاله مقررکړی قوانین وی چې د رسول صلی الله علیه وسلم په واسطه نافذشوی وی نو دی ته دینی سیاست ویل کیږی چې د دنیا او آخرت دواړو له پاره ګټه ور دی .

نو ظالمانه پادشاهی هغه حکومت ته ویل کیږی چې خلک د

پادشاه د ذاتي غوښتنو پوره کولو ته اړباسي .

سیاسي حکومت [ عقلي سیاست ] هغه ته ویل کیږي چې خلک د عقلي نظریاتواو قوانینو پابندي‌کوي او مقصد ئې دنیوی ګټې او آرام ژوند، او د دنیوي تاوانونو او ستونزو څخه نجات اوخلاصون وي .

خلافت [ دیني سیاست ] له هغه حکومت څخه عبارت دی چې خلک د اسلامي تصور او شرعي قوانینو پابند اوسي او هدف یې د دنیا او آخرت د ژوند ګټې او مصالح لاس ته راوړل وي، ځکه چې اسلام کې د دنیا د ټولو حالاتو قدر او قیمت د آخرت د ګټو په اعتبار سره دی .

د ابن خلدون رحمه الله علیه د تقسیم، تجزیه په دې ډول هم کیدای شي چې سیاست په اصولي توګه په درې ډوله دی : حیواني سیاست ، عقلي سیاست ، دیني سیاست .

حیواني سیاست نه د عقلي قانون تابع دی او نه د شرعي قانون ، بلکه د بادشاه اود هغه د درباریانو د نفس خواهشات ئې قانون دی او یا د حاکم شخصي یا حاکمي طبقې د حیواني خواهشاتو تکمیل د هغه مقصد وي د دې قسم د سیاسي نظام مثالونه بادشاهت ، آمریت ، عسکري حکومت او اشتراکیت دی چې ډیر لوی لعنت دی ، چې دې سیاست ته دحیواني سیاست نوم ورکول بالکل په ځای دی .

عقلي سیاست د هغې قانون پابندوي چې د عاقلانو، پوهانواو د قوم د شریفو خلکو په واسطه جوړشوی وي، او مقصد ئې د خلکو د دنیوي ګټو او مصالحو ساتل وي چې مثالونه ئې په قانوني پادشاهي ، او غیر مذهبي جمهوریتونوکې لیدل کیږي، خو په عقلي سیاست کېهم د اخروي او ابدي ژوند د فلاح او ښیګڼې طرف ته کومه پاملرنه نه ده شوې .

دیني سیاست یوازې هغه حقیقي هراړخیز او ګټور سیاست دی چې په هغه کې د انسان حقیقي او همیشنی نیک بختی هم په نظرکې نیول

شوی او د دنیوی فلاح او ښیګڼې ضمانت هم ورکوی ، او همدی نظام ته اسلامی خلافت ویل کیږی .

## غوره سیاست او جاهلی حکومت :

ابونصر فارابی رحمه الله علیه چې په 349 یا 343 هجری قمری کال کې وفات شوی سیاست او ریاست په دوه برخوویشلی:

الریاسه الفاضله [غوره ریاست] اوالریاسه الجاهلیه [جاهل ریاست] ، هغه په خپل کتاب آحصا ء ا لعلوم په پنځه فصل کې د العلم المدنی ترموضوع لاندی داسی لیکلی :

- ❖ د مدنی علم یا ټولنیزاوتمدنی علم اصلی موضوع دا ده چې د انسان د اختیاری افعالو د اقسامو تعریف دی وشی .
- ❖ د هغه فطری ، رغبتونو او اخلاقی بنسټونو پلټنه دی وکړل شی چې د اختیاری افعالوسرچینه تشکیلوی .
- ❖ هغه غوښتنی او مقصدونه په ګوته کړی شی چې د هغی د لاس ته راوړو د پاره دا اختیاری افعال تر سره کیږی .
- ❖ د حقیقی نیکبختی او خیالی او وهمی نیکبختی ترمنځ یې توپیر ښکاره کړی .
- ❖ د حقیقی او واقعی نیک بختی او خوشحالی لاس ته راوړل په دی دنیا کې ممکن نه دی او دا یوازی د دنیوی ژوند ځخه ورسته ، د آخرت په ابدی ژوندکې تر لاسه کیدای شی.
- ❖ خیالی او فرضی نیک بختی او سعادت په دی دنیاکې،د دولت، ثروت ، عزت او شهرت او نورو عارضی خوښیو او خوشحالیو نوم دی
- ❖ د حقیقی سعادت د لاس ته راوړوله پاره چې کومو اخلاقو او افعالو [ سنن فاضله] بهترینو رواجونو او قوانینوته ضرورت دی هغه د ریاست نه پرته نه شی نافذکیدای اوکه چیری دمخه نافذ شوی وی نود هغی تحفظ اوساتنه د ریاست نه پرته

..........................

نشی ترسره کیدای .

والریاسه ضربان : ریاسه تمکن الافعال والسنن والملکات الارادیه التی شانها ان ینال بها ما هو فی الحقیقه سعاده و هی الریاسه الفاضله ، و المدن و الامم المنقاده لهذه الریاسه هی المدن والامم الفاضله ، و ریاسه تمکن فی المدن هی الافعال والشیم التی تنال بها ماهی مظنونه انها سعادات من غیر ان تکون کذالک و هی الریاسه الجاهلیه

[ حکومت په دوه ډوله دی : لومړی هغه حکومت دی چې په هغه کې عادات او استعدادنو ته پیاوړتیا ورکول کیږي د کومو په واسطه چې حقیقی سعادت ترلاسه کیږي همدی ته غوره حکومت یا فاضله ریاست ویل کیږي ،یعنی بهترین حکومت، او هغه ټولنه او قومونه چې د داسی حکومت مطیع اوتابعدار وی د غوره ټولنو او غوره قومونه په نوم یادیږي ، دوهم ریاست هغه دی چې په ټولنه کې د هغه افعالو او عاداتو د کلکوالی او رواجوالوکوښښ کوی چې دخیالی اووهمی نیک بختی اوخوښی ذریعه ګرځی خو په حقیقت کې داسی نه وی دی ته جاهلی حکومت یا [ریاست جاهلیه] ویل کیږي [19]] .

د فارابی د تحقیق مطابق د حکومت او سیاست اصل مقصد او هدف باید د خلکو حقیقی خوښی او همیشنی نیکبختی وی چې یوازی په دنیوی خوښی اوخوشحالی پوری نه وی تړلی بلکه د روحانی او اخلاقی معیارونو لوړوالی ئی لازمی او ضروری شرط وی، نوپه دی اساس د فاضله ریاست د ویلوهغه حکومت مستحق دی چې د خلکو د ټولنیزی خوشحالی سره سره د هغوی د روحانی او اخلاقی معیار د لوړولو فکر ئی هم کړی وی او د دنیوی کامیابی په څنګ کې ئی د اخروی کامیابی له پاره هم څه اهتمام کړی وی .

انسان په فطری لحاظه ښه اخلاق خوښوی، خو شر او بد اخلاق د هغی د حیوانی خواهشاتو او غوښتنو څخه را پیداکیږي اوکه نه نو هغه

---

[19]- احصاء العلوم پنځم فصل 1949 عیسوی کال د قاهره چاپ د فارابی لیکنه

د انسانیت په اساس د غوره او ښو اخلاقو خوښونکې دی ، نو لدی کبله دا ضروری ده چې یو سیاسی رهبر سیاسی د پوهی ترڅنګ د ښو لوړ اخلاقو او کره کړنې په درلودو سره په ټولنه کې د تقلید وړ نمونه وی – هغه شخص چې سیاسی واک هم ولری او د ښو اخلاقو څښتن هم وی او په ټولنه کې د نیکې او ښه اخلاقو د خپرولو کار هم کوی تر څویوه صالحه او ښه ټولنه جوړه شی نو داسی شخص ددی مستحق دی چې د الله جل جلاله خلیفه شی او حکومت ته ئی اسلامی خلافت ویلی شی

مګرکوم حکومت چې د خیالی او عارضی خوشحالی په لورمتوجه وی او د حقیقی خوشحالی او ابدی ژوند په رابطه هیڅ فکر نه کوی او د بدو اخلاقو او قبیحو افعالو د ترویج له پاره کوښښ کوی او د ښو اخلاقو او د الله جل جلاله او د هغۍد رسول اکرم صلیﷲ علیه وسلم د اطاعت په لارکې خنډونه پیداکوی نو دا د بی عقلوحکومت او جاهلی ریاست [ ریاست جاهلیه] دی .

فارابی رحمه الله علیه چې کوم سیاست ته [ ریاست فاضله] نوم ورکړی نو ابن خلدون رحمه الله علیه ، ابن تیمیه رحمه الله علیه اونورو دینی پوهانو هغه ته د [ سیاست دینیه] یا [ سیاست شرعیه] اصطلاح استعمال کړی ده .

## شرعی سیاست

## د اسلام د سپیڅلی دین یو فصل دی :

حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ فُرَاتٍ الْقَزَّازِ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا حَازِمٍ قَالَ قَاعَدْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ خَمْسَ سِنِينَ فَسَمِعْتُهُ يُحَدِّثُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمْ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ

.......................
اللّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُم .

[ ابوحازم سلمان الاشجعی رحمه الله علیه ویلیچې زه پنځه کاله دحضرت ابوهریره رضیالله تعالیعنه په مجلسونوکې شریک وم ما د هغه نه اوریدلی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی د بنیاسرائیلو سیاست د هغو د پیغمبرانو علیهم السلام په لاسونوکې وه کله به چې یو پیغمبر وفات کیده نوپه ځای به ئی بل پیغمبر راته، زما څخه وروسته بل پیغمبرنه راځي- خو زما خلفاء استاذی به موجود وی دا خلفاء به کله دیوه نه زیات هم وی. صحابه کرامو رضیالله عنهما تری پوښتنه وکړه چې د داسیحالاتوپه هکله به مونږ ته ستاسو حکم څه وی؟ هغه وفرمایل : د هغه بیعت پوره کړی چې لومړی ځل ورسره بیعت شوی وی [ ترمخه مقررشوی وی] ، دخپلو خلفاو د اطاعت او فرمان وړنیحقوق اداکوی ځکه الله جل جلاله به د هغوی نه د هغوی د رعیت په هکله پوښتنه کوی[20] ] .

د نبی اکرم صلیالله علیه وسلم د دی حدیث څخه دا را په ډاګه کیږی چې سیاست د انبیاء علیهم السلام او پیغمبرانو علیهم السلام وظیفه او مسئولیت وه خو د نبوت د پای ته رسیدونه وروسته دا مسئولیت د هغوی د خلفاو په اوږوکیښودل شو- نوښکاره ده چې هرهغه کار چې د انبیاو په فرایضوکې شامل وی نو هغه د اسلام یوه برخه وی د نبی او د هغه د خلفا و اصلی وظیفه ددین قائمول دی نو هغه کار چې دین پوری نوی تړلیهغه په انبیا ئو علیهم السلام پوری هم نه تړل کیږی .

ځینی خلک چې د اوسنی زمانه د سیاست لوبغاړی او د اخلاقو او تهذیب نه لری سیاست ګوری نو د سیاست د کلیمی نه هم نفرت کوی

---

[20]- صحیح بخاریکتاب الانبیاء باب ماذکر عن بنیاسرائیل 2 ټوک 491 مخ - صحیح مسلم کتاب الاماره باب وجوب الوفا ببیعه الخلیفه .

خو د سیاستمدار خپل غرضی او ورانکاری په اساس د سیاست د کلیمی‌څخه نفرت کول د عقل او پوهی نه لری خبر ده لکه څنګه چې علم په دوه برخوویشل کیږی، نافع علم [ګټه وره پوهه] اوغیرنافع علم [بې‌ګټې یا مضره پوهه]، همدا راز علماء اوپوهان هم په دوه برخو ویشل کیږی ، ربابین علماواو سوء علماء، نو همدا راز سیاست هم په دوه برخو ویشل کیږی، لومړی هغه سیاست دی چې د شریعت د اصولو او احکامو پابند وی، ددینی سیاست په نوم یادیږی اوبل هغه سیاست دی چې د دین او اخلاقو د قید نه آزاد وی نوهغه ته جاهلی سیاست ویل کیږی چې دغه دوهم ډول سیاست په حقیقت کې د واک او قدرت په سر جنګ دی – نو د دی ډول سیاسی‌ګډونکو او سیاسی تجارانو چې ځومره بدی بیان شی بیا هم کمه ده، او په ځای دی چې یومسلمان ددی ډول سیاسی دلالانو څخه لری او تری متنفر وی او دا د ایمان غوښتنه هم ده ،خو د شرعی اصولو په بنسټ ولاړ سیاست پخپله دین او د انبیاو فریضه ده، نو ددی ډول سیاست نه نفرت کول اویا تری لریوالی اختیارول په حقیقت کې ددین دیوی څانګی څخه لریوالی دی .

په پورتنی مبارک حدیث کې " د تسوسهم الانبیاء " دکلمو تشریح حدیث پوهانو په دی ډول کړی ده :

ای تتولی امورهم کما تفعل الامراء والولاه باالرعیه و السیاسه القیام علی الشیء بما یصلحه و ذالک لانهم کانوا اذا اظهروا الفساد بعث الله نبیاً یزیل الفساد عنهم و یقیم لهم امرهم و یزیل ما غیروا من حکم التوراه[د بنی اسرائیلو پیغمبرانو علیهم السلام د هغوی د امورو نظم ونسق په داسی ډول جوړاوه لکه څنګه چې حکام د خپل رعیت د امورو نظم او نسق جوړوی ، نو سیاست د یو شی د اصلاح له پاره د عزم او استقامت څخه عبارت دی ،دا سیاست پدی ډول وه چې کله به چې خلکو په فساد لاس پوری کاوه نو الله جل وعلی جلاله به هغوی ته

خپل نبی علیه السلام رالیږه ترڅو فساد مخه ونیسی او د هغوی د حالت د ښه کولو کوښښ یی کاوه او هغه تحریفات او تغیرات چې په تورات کې ئی راوړی وه هم تصحیح کول ] .

امام ابن جوزی رحمه الله چې په 597 هجری قمری کال کې وفات شوی دارنګه فرمایی :

شیطان د وخت حاکمان غولوی او دی ته ئی هڅه وی چې په سیاسی امورو کې د خپل نظر مطابق عمل وکړی ،هغوی هم د همدی شیطانی وسوسی په اساس د شریعت په ځای د خپل نظر او شخصی فکر عمل کوی او دا غټه تیروتنه ده ځکه چې شریعت الهی سیاست دی او دا د امکان نه لری چې په الهی سیاست کې دی کومه نیمګړتیا موجوده وی اود هغی نیمګړتیا په اساس دی د مخلوق جوړ کړی سیاست ته ضرورت وی ، الله جل جلاله فرمایی:

مافرطنافیالکتاب من شیء

[ مونږ په کتاب کې د هیڅ شیکمی او نیمګړتیا نه ده پری ایښی ] [21]

هر هغه څوک چې د دی بی دینه سیاست دعوه کونکې وی نوهغه په اصل کې په شریعت کې د نیمګړتیا دعوه کونکې دی او دا د کفرخبره ده

حافظ ابن قیم رحمه الله علیه چې په 751 هجری قمری کال کې وفات شوی لیکلی : ولا نقول ان السیاسه العادله مخالفه للشرعیه الکامله بل هیجزء من اجزائهاو باب من ابوابها و تسمیتها سیاسه امراصطلاحی والا فاذا کانت عدلا فهیمن الشرع [ مونږدا نه وایوچې دا عادلانه سیاست دکامل شریعت په خلاف دی بلکه دا د شریعت د اجزاؤ څخه یوجز دی او ابوابو څخه یو باب نو دی ته سیاست ویل یوازی یوه اصطلاح ده اوکه نه کله چې د عدل او انصاف خبره شی نودا

[21]- تلبیس ابلیس اوم فصل.

د شريعت يوه برخه ده[22]].

د معين الحكام اقتباس ترمخه نقل شوی چې ويلی وه : د شرعی سياست خپلول واجب دی او د هغه مخالفت كول د شرعی نصوصو او د راشدينوخلفاﺋوڅخه د انكار كولو سره برابر دی .

ابن نجيم مصری حنفی رحمه الله د مقريزی د كتاب الخطط په حواله ليكلی چې : والسياسه نوعان سياسه عادله تخرج الحق من الظالم الفاجر فهی من الشرعيه علمها من علمها وجهلها من جهلها و قد صنف الناس فی السياسه الشرعيه كتبا متعدده و النوع الاخر سياسيه ظالمی فالشريعه تحرمها [ سياست دوه ډوله دی،عادل سياست چې ددی سياست په واسطه د ظالم او فاجرڅخه د مظلوم حق واخستل شی او دا د شريعت يوه برخه ده - هغه ځوک چې پوهيږی او هغه ځوک چې نه پوهيږی پيژنی ئی او نه ئی پيژنی، او ليكوالانو ددی شرعی سياست په هكله ډيری ليكنیكړی بل ډول ئیظالمانه سياست دی چې د شريعت لخوا حرام ګرځول شوی[23].

## د شرعی سياست انواع :

اوس نودا خبره پوره واضح شوه چې[Poltics] پوليتكس يوازی د حكومت په چلولو پوری تړلی دی خو د عربی ژبی سياست په كليمیكې ټول ښيګنيږ، اصلاحی او تادبی تدبيرونه شامل دی په دی اساس د دی دا په ډولونو ويشل كيدای شی لكه مونږئی ويش په دی ډول هم كولای شو.

سياسه النفس : د نفس د اصلاح تدبيرونه، ترڅو خپله كړنه اصلاح كړی

سياسه البيت : په ښه توګه دخپل كورد امورو د پرمخ وړلو

---

[22]- الطريق الحكميه لابن القيم رحمه الله عليه 17 مخ - اعلام الموقعين 4 ټوك

[23]- البحرالرائق كتاب الحدود حد السرقه 5 ټوك 776مخ

.....................

تدبيرونه

سياسه المنزل : دكورنۍ د نظام چلولو تدبيرونه په ښې طريقې سره

سياسه الوعاظ: د ښوونې او روزنې او وعظ اونصيحت په واسطه د ټولنې د اصلاح كارپه غاړه اخستل

سياسه مدينه : په ښه توګه د حكومت د نظم ونسق چلول .

سياسه الدواب : د حيواناتو تابع كول اود هغونه په ښه طريقې سره دكاراخستو تدبيرونه .

امام غزالي رحمه الله چې په 505 كې وفات شوی د سياست د اهميت او اقسامو په رابطه ليكلي :

د انسان د اصولي اعمالو څخه تر ټولو لوړ او مهم عمل د سياست هنر او فن دی ، د همدی عمل په واسطه په خلكو كې محبت ، مينه او يووالي را پيدا كيږي او اصلاح ئې صورت نيسي او همدی په واسطه خلكوته هغه لارښوول كيږي چې په هغې باندې د تللو په اساس هغوی د دنيا او آخرت كاميابي لاس ته راوړی شي .

د سياست څلور مرتبې دی :

**السياسه العليا** [ لوړاو اعلى سياست ] : دا د انبياؤ سياست دی چې د هغه په اساس د خلكو ظاهر او باطن اصلاح كيږي ، دا سياست په هرخاص او عام پوری تړلی دی، د دی سياست په واسطه په ښكاره توګه د احكامو او قوانينو نفاذ او انتظام صورت نيسي ا ود هغې د تعليم او تربيې په اساس د خلكو په زړونوكې نيک صفات او غوره اخلاق ځای پيدا كوی .

**سياسه الخلفاء والملوک** [ د حكامو سياست ] : كه څه هم د هغوی سياست د هرخاص او عام وګړی له پاره وی خو د هغوی حكم ئې يوائې په ظاهری ژوندكې چليږي ، خو په باطن او زړونوحكومت كول د هغوی په اختياركې نه دی [مګردا چې حاكم عادل ، متقی ، زاهد او د نرم زړه خاوندوی ] .

سیاسه العلماء والفقهاء [ علما ؤاو فقهاؤ سیاست ] : د هغوی سیاست د مادی قوت نه پرته د ښوونی اوروزنۍپه اساس صورت نیسی ځکه چې هغوی حاکمیت نه لری مګر ذهن خلک اود علم مینه وال ورڅخه ګټه اخلی او د هغوی فقیری خپل ځانته پادشاهی ګڼی، د اسلام په تاریخ کې داسی علماء ډیر تیر شوی دی او اوس هم شته چې خلک ئی د پاشاهانو څخه زیات احترام کوی او حکم ته ئی د حکمرانانو د حکم نه ورته ډیر اهمیت ورکوی .

سیاسه الوعاظ [ د خطیبانواو واعظانو سیاست ] : دوی د وعظ ، نصیحت او خطابت په واسطه د خلکو اصلاح کوی او د خلکو زړونو د تسخیروی او حکومت پری کوی[24] .

## د اخوان الصفاء بیان کړی اقسام :

په څلورمه پیړیکې د اخوان الصفاء ټولنی، سیاست د یو ځانګړی فن په شکل معرفیکړی وه اګرچې د هغوی ځینی افکار ګمراه کوونکې هم وه خو دی ټولنی د سیاست علم د اخلاقو د علم یوه څانګه ګرځولی ده ددی علت دا دی چې دا خلک تر زیاتی اندازی پوری د افلاطون 347 قبل میلاد شپی ورځی تیرولی تر تاثیرلاندی وو .

افلاطون په خپل کتاب الجمهوریه او په بل کتاب النوامیس کې د سیاسی بحثونو او څیړونو په ترڅ کې د اخلاقو یادونه هم کړی ده ، د هغی په نظر، یوه نمونه سیاست پوه او مثالی حکمران هغه دی چې د علم ا وفلسفی په اعتبار هم په ټولو برتری ولری اود اخلاقواو اعمالوپه اساس هم د ټولوترمخه وی .

د اخوان الصفا د رسالو په اومه ګڼه کې سیاست په پنځو برخو ویشل شوی :

1 ] السیاسه النبویه [ دانبیا ؤ سیاست ] : دا سیاست په پاکو او

---

[24]- احیاء العلوم کتاب العلم لومړی باب لومړی ټوک 9 مخ

مقدسو اصولو بناء شوی چې د فاسدو افکارو او تصوراتو څخه د انسانی نفسونو د ساتنی لاره او علاج ښئ.

2 ] السیاسه الملوکیه [ دحاکمانو سیاست ] : دا سیاست د شریعت ساتنه کوی په نیکېحکم کوی او د بدیوڅخه مخنیوی کوی، شرعی سزاګانی او حدود نافذوی د ظلم مخه نیسی ،د دښمنانو جرړی پری کوی او د نیکو خلکوکومک اوبسپنه کوی ، دا د پیغمبرانو ، خلفاؤ او نیک خویه عادلوحاکمانو سیاست دی کوم چې د هری معاملی فیصله د حق او انصاف په بنیاد سره کوی .

3 ] السیاسه العامیه [ د پرګنو سیاست ] : داهغه سیاست او واک دی چې کوم سردار ته د خپلی قبیلی په خلکو،یا د ښار په اوسیدونکو باندی د ښار واکدارانو ته او یا په عسکرو باندی د هغوی قوماندان ته حاصل وی .

4] السیاسه الخاصیه [ دکورنی د چارو سیاست ] : دا هغه واک دی چې هر انسان ته په خپل کورکې حاصل او هرهغه تدبیر اختیاروی چې د هغی په واسطه ئی د کورنی نظم په ښی طریقی سره سرته رسی او اقتصادی ضروریات ئی تری پوره شی دا په اصل کې شخصی او کورنی سیاست دی .

5 ] السیاسه الذاتیه [ د خپل نفس داصلاح سیاست ]: دا سیاست د نفس او اخلاقو سره اړه لری دا په اصل کې د خپل نفس محاسبه ده چې د هغی په اساس انسان هروخت د خپلوکړو او ویناؤ ، پټو او ښکاره اعمالوحساب کوی[25] .

امام فخرالدین رازی رحمه الله چې په 606 هجری کال کې مړ شوی سیاست ئی په څوبرخوویشلی‌دی :

ا > سیاسه الملاک [ دمالکانوسیاست ] : دا هغه سیاست دی چې مالکانوته په خپلو ملکیتونوکې حاصل وی یعنی د خپل ملکیت او

25- رسائل اخوان الصفاوخلان الوفا 7 رساله 1957عیسوی کال د بیروت چاپ

جائیداد نظم اونسق پرمخ وړل .

2 > سیاسه الملوک [ د حاکمانو سیاست ] : د مادی ځواک او حاکمانه واک سره د هیواد چاری او د رعیت د معاملاتو نظم او نسق پر مخ بوتلل .

3> سیاسه الملائکه [ د پرینښتو سیاست ] : د الله جل وعلی شانه د حکم اود هغه دورکړشوی قوت په واسطه په مخلوقاتوکې د ډول ډول فرائضو سرته رسول .

4 > سیاسه ملک الملاک [ دپادشاهانود پادشاه سیاست ] : دکائناتو د پیداکوونکی تکوینی نظام چې هغه ئی په خپل قدرت سره پرمخ وړی .

## سیاست د انسانی فطرت غوښتنه ده:

هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا

[د الاعراف سورت **187**آیت]

[ همدغه [ الله جل جلاله ] هغه ذات دی چې پیداکړ یی تاسی له یوه نفس څخه اوپیدا کړی ئیده لدی نفس څخه ښځه ددی له پاره ترڅو د هغی سره آرام پیداکړی ] .

د لیسکن کلمه په هغه نفسیاتی‌حقیقت دلالت کوی چې ټولنیز ژوند د انسان د فطرت غوښتنه ده، آدم علیه السلام ئی جنت ته لیږلی وو چیرته چې آرام او سکون او هر قسم سامان موجود وو خو الله جل جلاله د انسان پدی فطری غوښتنی پوه وو چې دا [انسان] یوازی والی نه شی زغملائی، نوپه همدی خاطرئی د هغی جوړه ،د هغه د جنس نه پیدا کړه ترڅو دواړه د تولنیز ژوند څخه آرام لاس ته راوړی .

آدم اوحوا علیهما السلام دواړو د سیاست البیت [ د کور نظام ] برابرکړ چې د هغی بنسټ نه د ودانۍ ترون وو، نه میراثی پادشاهی وه،اونه د ظلم حکومت وه، بلکه دا د انسانی فطرت غوښتنه وه. د هغوی دواړو ترمنځ د میړه او ښځی نه پرته د آمر او مامور ترون هم وو-

نو ځمکې ته د راليږلو سره سم ئې ور تـه د سياسـت او رياسـت [کـورنى رياست ] اصول هـم وروښوول- او د ځمکې پـه سرئى د موجـوده شيانو نومونـه هـم ور پـه ګوتـه کړى وه- او د ځمکې پـه سـر د انسـانى ټـولنى لومړى فطرى او ساده حکومت وه- خوکله چې د انسـانانو شـمير زيات شـو نـو " سياسـت البيـت " پـه " سياسـت المنـزل " [ دکـورنى سياسـت ] اوبيا په " سياسه مدينه" [ ديوملى‌حکومت شکل ونيو] .

ترلسو پيړيو پورى همدا نظم د يوڅو وړو خرابيونه پرتـه پـه ډيـره ښـه توګـه پـرمخ روان وه خو د هغـى نـه وروسـته د شـرک او دنيـا پـالنى وبـا راګده شوه چې د اصلاح له پاره ئى نوح عليه السلام راواستول شو.

ابـن الائيـر رحمـه الله عليـه چې پـه630 هجـرى کـال کې مـړ شـوى دارنګه فرمايى : وکان آدم عليه السلام مع مـا اعطاه الله مـن الملـک نبياً رسولاً الى ولده و انزل الله عليـه احدى وعشـرين صـحيفه کتبهـا آدم بيده علمه اياها جبريـل عليـه السـلام [آدم عليـه السـلام تـه الله جـل جلالـه د ځمکې پـه سـرحکومت ورکـړى وه، خـوددى سـره هغـه د خپـل اولاد له پاره نبى او رسول هم وه پـه ده بانـدى الله جـل جلالـه يوويشـت صحيفى نازل کړى دى چې هغـه د جبرائيـل عليـه السـلام د ښـوونى پـه اساس په خپـل لاس ليکلى وى ] [26] .

وصارت الرياسه من بعد وفاه آدم لشـيث فـانزل الله عليـه فيمـا روى عـن رسـول الله خمسـين صـحيفه [ د آدم عليـه السـلام د مـړينى څخـه وروسـته د رياست چارى د هغـه زوى شيث عليـه السـلام تـه وسـپارلى شوى چې الله تعالى جل جلاله پـه هغـه پنځوس صـحيفى را نـازلى‌کړى وى لکه څنګه چې د رسـول الله صلى‌الله عليـه وسلم څخـه روايـت دى ] [27].

وقـام انـوش بعـد مضـى ابيـه شـيث عليـه السـلام لسـبيله بسياسـه

[26] الکامل لومړى ټوک 48 مخ 1965 عيسوى کال بيروت چاپ
[27] تاريخ طبرى لومړى ټوک 74 مخ

الملک و تدبیرمن تحت یدیه من رعیته مقام ابیه ولم یزل علی ما ذکرعلی منهاج ابیه لا یوقف منه علی تغییر و لاتبدیل وکان جمیع عمرانوش فیما ذکراهل التوراه تسع مائه سنه وخمس سنین [ د شیث علیه السلام د تلو نه وروسته د هغه زوی انوش د ملکې سیاست او د رعیت د نظم ونسق دبرابرولو له پاره د خپل پلار په ځای کښیناست ، انوش د خپل پلار په لاره اوطریقه صحیح روان وه او د هغه په سیاست کښ هیڅ رنګ بدلون نښه پیدا نشوه ،د تورات د پیروانو وینا ده چې د انوش عمر د950 کاله وه ] .

د تاریخ په کتابونو کې د ملک ، ریاست، او سیاست کلمات راغلي چې د هغی نه دا معلومیږی چې انسان په ځمکه د قدم ایښودو سره سم یو ساده حکومت جوړکړی وه .

**د انسان د کلمی لغوی څیړنه :**

د انسان دکلمی په هکله د لغت پوهانو دوه ډوله نظرئی موجودی دی : لومړی وینا دا ده چې ددی کلمی اصلی‌حروف "ن ،س ،ی " دی او دا د نسیان څخه اخستل شوی چې معنی یی هیریدل دی یعنی د انسان معنی د هیرویدو خاوند دی ، ابن عباس رضی الله عنه نه هم یوروایت په دی ډول راغلی چې انسان خپله وعده او خبره هیره وی نو په همدی خاطر ورته انسان ویل کیږی او په دی اساس ددی کلیمی اصل انسیان د افعلان په وزن دی اود نسی ینسی د باب څخه دی لکه څنګه چې د ضحی یضحی څخه اضحیان لاس ته راځی یعنی د سپوږمی شپه .

خو د تهذیب اللغه لیکوال الازهری ، ابوالهیثم رحمه الله علیه او نورو لغت پوهانو او نحوی پوهانو وینا ده چې دا کلمه د " ا ، ن ، س " څخه ده چې د انس یا آنس څخه اخستل شوی ، معنی ئی، مینه ، محبت او تړون [ ربط اوتعلق ] دی او ضد ئی وحشت [ نفرت] دی، د دی اصل خو انسیان دی لیکن وزن ئی فعلیان دی چې افعلان څخه نه دی . همزه د فعل د فاء په ځای راغلی زائده نه ده چې د وزن مثال ئی

حرصيان دى [ د ځرمنى پورتنۍحصه ] ، د صحاح اللغات د ليكوال جوهرى په نظر د دى وزن فعلان دى د دى وينا د ثابتيد وپه خاطر ابن منظورافريقى رحمه الله عليه ډير شواهد وړاندى‌کړى اوهمدا خبره صيحح هم معلوميږى [28].

د پورتنى لغوى او صرفى تحقيق نه دا معلوميږى چې د انسان تسميه هم آنس اومحبت دى چې د وحشت او انفراديت ضد دى ، د انسان فطرت ټولنيز دى، منافرت اوتنهائى نه ده، او سياسى ژوند د همدى نظم، آنس ، محبت او يو ځاى ژوند تيرولو نوم دى .

په يو بل آيت شريف کې د انسانى پرګنو په مختلفو ډولو دويشلوڅخه مقصديو د بل سره پيژندګلوى ښوول شوى ده :

يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا [ د الحجرات سورت 13 آيت]

[ اى خلکو! مونږ تاسى د يوه نراو ښځۍڅخه پيداکړى ياست او بيا مو په قومونو او قبيلو وويشلى ترڅو يو د بل سره وپيژنى ] .

تعارف يو د بل پيژندلو او د بل په خوى پوهيدلو څخه عبارت دى او همدا تعارف د آنس ، محبت او تعاون بنسټ دى نو د دى نه معلوميږى چې انسانى خصلت، تنفر نه دى بلکه اُنس او پيژندنه ده او همدى ته مدنى او ټولنيز ژوند ويل کيږى ]

ارسطو ته چې خلک د سياست پلار وائى چې322 کاله وړاندى له ميلاد څخه مړ شوى او د هغه دا کلمات د يوه مشهور متل په ډول پاته شوى چې [ انسان مدنى الطبع دى ] يعنى انسان يو سياسى او اجتماعى حيوان دى هغه وايى چې که انسان سياسى او تمدنى ژوند و نه لرى نو هغه يا ديوتا [ الله جل جلاله] دى يا يو ځيرونکې حيوان ، هغه ته بيا انسان نه ويل کيږى .

---

[28]- لسان العرب باب السين فصل الهمزه ځلورم ټوک 10 مخ

ارسطو د کتاب الاخلاق په لسم فصل کې لیکلی : ان الفلسفه التی تتناول الشئون الانسانیه تجدکما لها فیالسیاسه [ هغه فلسفه چې د انسانی چارو سره تړلی وی د هغه کامله درجه تاسی د سیاست په شکل کې موندلائی شی ][29] .

د افلاطون او ارسطو په څیر ټول یونانی فیلسوفان سیاست یو فطری شی ګڼی .

ابونصر فارابی رحمه الله علیه چې په 329 هجری کال کې مړ شوی چې د اسلامی سیاست یو ځانګړی پوه ګڼل کیږی هغه په خپل کتاب چې د " السیاسته المدینه " په نوم دی لیکلی د حیواناتو ځینی ډولونه همیشه یو د بل نه لیری اوسیږی لکه ډیر بحری حیوانات او ځینی حیوانات یوازی د پیدا کیدو په وخت کې جدا وی لیکن پاتی ژوند ئی ټول یو ځای او اجتماعی وی ، ځینی نور حیوانات د عمراکثره وخت سره یوځای تیروی لکه میږیان د شهدو مچې او هغه مرغان چې د ټولیو په څیرګرځی.

والانسان من الانواع التی لایمکن ان یتم لها الضروری من امورها و لاتنال ال افضل من احوالها الا اباجتماع جماعات [ خوانسان د هغی ډلیځخه دی چې ټولنیز ژوند پرته نه خپل اصلیضروریات پوره کولای شیاو نه د ژوند لوړو مرتبوته رسی ] [30].

امام غزالی رحمه الله علیه د نظر دی چې : څلور ډوله فنون د انسان فطری ضرورت ګڼلی کیږی چې لاقوام للعالم دونها [ د هغه نه پرته ددی دنیا نظام نه چلیږی ] : زراعت د خوراک له پاره - بناء دکورله پاره - حیاکت دکالیوله پاره - سیاست د نظم اونسق له پاره[31] .

د امام غزالی رحمه الله علیه د نظر مقصد دا دی چې لکه څنګه

---

[29]- علم السیاسه دډاکټرحسن لیکنه 94مخ .

[30] - السیاسیه المدینه د ابونصر فارابی لیکنه **69** مخ د بیروت چاپ

[31] - احیاء العلوم لومړی ټوک **9**مخ کتاب العلم لومړی باب

چې د انسـان اصـلي ضـرورت کور،کـالي او خـوراک دی نـو پـه همـدی ترتیب سیاست اوحکومت هم د هغې د فطري ضرورتونو له جملې څخه دی چې د هغه سره جوخت پیدا کیږي .

د پروفیسور هارون خان شرواني نظر دی چې : په تاریخ کې شاید د داسې انساني ټولنې ذکرنه وی شوی چې هلتـه سیاسـی فکر لـه اساسـه موجوده نه وی [32].

لنډه دا چې د حکومت او سیاست پـه هکله د تخلیق نظریـه صحیح نظریه ده په ټولو موجوداتوکې یوازې انسـان د سیاسـی نظم خاوند دی چې دا سیاسی نظم د انسان د پیدا کیدو سره سم منځ ته راغلی په پیـل کې د نفوسـو شـمیر کم وه او خلک شـریف او نیـک وه نـو د حکومـت شـکل هـم سـاده وه ، نـه لـوئې لـوئې اداری وی او نـه وسـیع اداری چوکاټونـه ، نـه د وزیرانـو او مشـاورینو دومـره لـوی تعـداد وه او نـه د وسلې دومره ډیری ذخیری، وروسـته ئـې پـر مختـگ وکـړ او و سیع سیاسـی اداری، او انتظـامی چوکاټونـه رامـنځ تـه شـول چـې پـه کـې کورنی، عمراني تړونونو او زور و قوت خپلې خپلې نښې راښودی خو دا بـه بالکـل غلطـه خبـره او د انسـاني تـاریخ سـره نابلـدتیا وی چـې سیاسی فکر انسان ته وروسته ورکړل شوی اوکـه نـه نـود دی خـو پیـل د وحشي حیواناتو په څیر غیر مترقي ژوند سره وه هیڅکله داسې نـه وی ، بلکه سیاسی فکر د انسان د پیدا کیدو سره سم پیدا شوی ځکه چې الله جـل جلالـه لومړی انسـان پـه ځمکـه بانـدی د خلیفـه او حکمـران پـه صفت رالیږی وه .

**سیاسـت تـه غیرفطري ویـل جهـالت او ناپوهـی ده:**

ځینې‌خـام فکـره تـش پـه نامـه مفکـرین وایـی چـې د پیـل پـه وخـت انسـانان د تمـدنی او سیاسـی شـعورنه خـالي وو او د ریاسـت او تنظـیم

[32]- مبادیات سیاسیات دریم باب **30** مخ د شرواني لیکنه

سره بالکل آشنانه وو، دا فکرد ډیری مودی وروسته د حالاتود بدلیدو په اساس په دوی کې را پیدا شوی .

خو دی مفکرینو د خپلی دعوی د ثبوت له پاره نه مستند تاریخی شواهد وړاندی کړی او نه د قدیمه آثارو څخه نبنه راوړی شی، او نه د سیکالوجی د اصولو څخه کوم اصل وړاندی کولای شی ، بلکه دا د هغوی یوه پوچې خیالی فلسفه ده دا د لویو لویو نومونو فیلسوفان نه یوازی د انسانی تاریخ سره نابلده وو، بلکه خپل نفس ئی هم نه وه پیژندلی ، ځکه چې د هغوی خپل نفس هم د انفرادی اوځانګړی ژوند په ځای اجتماعی او ټولنیز ژوند خوښوی ، د ځینو فیلسوفانو نظرخو دا دی چې انسان په پیل کې د امن وامان او خوښی او خوشحالی ژوندتیر اوه، وروسته بیا جنګونه اوطبقاتی کشمش شروع شوی ، نو کله چې خلک ددی وضعی‌څخه تنګ شول نو په خپلومنځوکې ئی یو تړون وکړ اود حکومت بنسټ ئی کیښود ، خو ځینی ددی پر خلاف وایی په د انسان لومړنی وخت د وحشت ، بربریت اوظلم وخت وه چې خلک د هغی څخه په تنګ شول د حکومت بنسټ ئی کیښود. د اول نظر خاوندانو څخه څه په لاندی ډول دی .

ماتماګوتم بدهٔ چې په 567 مخکې له میلاد څخه مړ شوی چې دا د نیپال یو شهزاده وه خو وروسته یی د راهبی او د رویشی ژوند غوره او شروع کړ، هغه فکرکاوه چې د انسان اولین ژوند د غم اودرد نه پاک وه ، خو وروسته بیا کورنی پیدا شوی اوشخصی ملکیتونه منځ ته راغلل ، قوم په پرګنواو طبقو وویشل شواو دداره ماریو بازار تود شو، هماغه وه چې خلک دد ی ګډوډیوڅخه په تنګ شوه او د حکومت بنسټ ئی‌کیښښود اوکه نه نو انسان د شروع څخه د حکومت د فکر سره آشنا نه وه .

جان لاک چې په 1704هجری کال کې مړ شوی وایی :دا د تړونونو او غیر فطری سیاسی ادارو زیبښه ده ځکه چې پخوانیو خلکو په امن ،

محبت او یو د بل سره د بسپنی او تعاون ژوند تیراوه ، فطری انصاف او انسانی شعور د هغوی قانون وه او خلکو په خپله خوښه ددی فطری قانون پیروی کوله خو بیا هم په هر وخت کې د امن او امان د خرابیدو خطره موجوده وه،نو ددی خطرد مخنیوی اود ګډوډی د له منځه وړلو په خاطرخلکو یو د بل سره تړون وکړ او د حکومت بنسټ ئی کیښود ، ترڅو د خلکو د غوښتنی او فطری انصاف مطابق فیصلی وکړی .

رسو چې په 1778عیسوی کال مړشوی دی : د د ه فکرهم هماغه دی چې د انسان لومړنی وختونه د خوښی، خوشحالی او بی غمی وختونه وه یعنی د ځانګړی توب اود[ کسی را با کسی کار نه باشد] وختونه وه ، د جنګ اوبربریت نښی نښانی نه وی د ژوند ټول ضرورتو نه په آسانی ترلاسه کیده،دوګړیز ملکیت [ فردی ملکیت ] نوم نه وه، خو دغه د خوښی نه ډکه فضاء دی دوو عواملو پای ته ورسوله : لومړی د آبادی زیاتوالی او دوهم وګړیز ملکیت:

زما او ستا د فکر پیدا کیدل د خلکو په منځ کې د جنکونو سبب وګرځید ، نو خلک ددی وضع نه په تنګ شول او د حکومت د جوړولو له پاره ئی قدم پورته کړ.

کارل مارکس چې په 1883میلادی کال کې مړشوی ، دی یهودی نژادی فیلسوف به ویل چې ریاست او سیاسی اداری د[ متنازع للبقاء ] اوطبقاتی [پوړیز] جنګ زیږنده ده د هغی په واسطه د پانګی لرونکوساتنه کیږی اود زیارویستونکو زبیښنه،اوکه نه په پیل کې نه حکومت وه، نه وګړیزی پانګی اوملکیت، نه طبقات [پوړیز] وه او نه کورنی.

دده په نظرګډ ژوند [ اشتراکي ژوند] یوه نمونه ئی ټولنه ده چې په هغه کې شخصی ملکیت او حکومتی اداری نه وی، بلکه پوره مساوات او آزادی په کې وی، خو نوموړی د طبقاتو د پای ته رسولو له پاره دکارګرانو د آمریت په بنسټ د مؤ قت حکومت د جوړولو طرفدار

.....................

وه .

د دوهمی نظریی لروونکو یعنی د هغه خلکوڅخه چې وایی چې د انسان لومړی دوره د ظلم او بربریت دوره وه، دوه کسه ډیرمشهوردی :

کوتلیا چې په 300 قبل میلادکې مړشوی دی دا د هندوستان یو پخوانی فیلسوف وه نوموړی حکومت او سیاست غیرفطری او د حالاتو زیږنده ګڼی ، چې د فکر لنډیز یې په دی ډول دی : د انسانی تاریخ لومړی دوره د طموطمیت یعنی دکب د منطق دوره وه، د بحر د کبانو په څیر به هر قوی کمزوری خوړ، د کبانو طبیعی قانون هم دا دی چې قوی کب کمزوری او ضعیف کب خوری د طموطمیت دوره د وحشت ظلم ،او بربریت دوره وه همدی د کب منطق انسان دی ته اړویست چې سیاسی اداری جوړی کړی او د خپل منځ څخه یو کس د حکمران په حیث وټاکې .

هابس چې په 1679میلادی کې مړ شوی دی دا یو غربی مفکر دی وایی چې سیاسی اداری د عمرانی تړونونو د احسان تابع دی دا د فطرت غوښتنه نه ده بلکه دا د انسان د لومړنی دوری عکاسی داسی کوی چې د لومړنی دوری انسان،وحشی،غریب او بدترین انسان وه ، غولونه چالاکې اوځورونه د هغی وخت د انسانانوطبیعی خاصیت وه .

همدی تیاره او د وحشت نه ډکوحالاتوغوښتنه وه چې انسان ئی‌مجبورکړ، ترڅو د خپل منځ څخه یو خپل حکمران وټاکې‌او د هغی په واسطه د خلکو ترمنځ امن اوامان تینګ کړی اوخلک باید د دغه حکمران تابع او فرمان وړونکې اوسی . یعنی سیاسی تنظیم او حکومت د ضرورت زیږنده ده چې د فطرت د غوښتنی پوری هیڅ اړه نلری دا دواړه محترمین د انسانانو لومړی دوره ،په انسانی تاریخ کې بدترینه دوره بلی، خو د اسلام او انسان د تاریخ څخه دا معلومیږی چې د انسان لومړی دوره د توحید ، عدل ، ورورولی قربانی او د نیکو او غوره اخلاقو دوره وه ،خو د انسانی ژوندانه دچاپیریال د خرابیدو

...................

وروسته خرابی را پیدا شوه، چې د اصلاح له پاره ئی په هروخت کې انبیاء علیهم السلام ، مصلحین او مجددین پیدا شوی دی .

## دوهم باب

## غیر اسلامی سیاسی نظریې

یو مشهوره وینا ده : وبضدها تتبین الاشیاء [ د شیانوڅرنګوالی د هغوی د ضد د پیژندلو په اساس کیږی ] د رڼا اهمیت هغه وخت ډیر ښه احساس کیږی چې د تیارو تباهی او خرابیځادر غوړیدلی وی، د حق او باطل د عدل اوظلم او د رښتیا او درواغو د مخ په مخ مطالعی

........................
په واسطه په پوهه کې زياتوالی راځی او د حق په حق والی باندی د ايمان او باور په په قوت کې ټينګښت پيداکيږی، نو په دی اساس لازمه ده چې د اسلامی سياست يا اسلامی خلافت د اصولود ځرګندولو ترمخه د سياست او حکومت په هکله د غيراسلامی نظريواود هغوی د حکومتی چوکاټونو پيژندنه وکړو،ترڅو د هغوظالمانه او مشرکانه نظامونو د پيژندلوڅخه وروسته داسلام د عدل او انصاف د نظام چې بنسټ ئی په وحدانيت ايښوول شوی په ريښتينوالی زمونږ په باور او ايمان کې نورهم ټينګښت را شی .

په دی فصل کې د نړی د ټولو سياسی نظرياتو تفصيلی پيژندنه زمونږ هدف نه بلکه د هغه نظرياتو لنډه پيژنده او تعارف مو هدف دی چې په نړی کې خورا زيات شهرت او رواج لری .

## ملوکيت يا ظالمه پادشاهي

په غير اسلامی حکومتونو او سياسی نظامونوکې د ټولوڅخه زيات ، او پخوانی رائج شوی حکومت ، ملوکيت يا پادشاهی ده په عربی ژبه کې ملک اوملک د لغوی معنی په اعتبارڅه بدکلمات نه دی ځکه د ملک لغوی معنی حکومت ، او د ملک لغوی معنا حکمران ده او ځرګنده ده چې حکومت اوحکمرانی په خپل ځای ښه - بد ندی په قرآن کريم کې د انبياؤ عليهم السلام حکومتونو ته هم ملک ويل شوی، په داسی حال کې چې د هغوی حکومت د اسلامی خلافت او د شرعی سياست په بنسټ ولاړ وه .

وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ عَلَى مُلْكِ سُلَيْمَانَ [د البقره سورت 102 آيت ]

[ او دوی د هغه جادو تابع شوی وه چې شيطان به د سليمان عليه السلام د حکومت [ ملک] په وخت کې لوسته]

وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ [د البقره سورت 251 آيت]

[ الله [جل جلاله] داود عليه السلام ته حکومت ورکړی وه]

وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ [د ص سورت 20 آيت ]

[ او مونږ د داود علیه السلام حکومت ټینګ کړی وه ] .
وَهَبْ لِي مُلْكًا [د ص سورت 35 آیت]
[ او سلیمان علیه السلام وویل: ای الله ! ماته حکومت راکړی ] .
رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنْ الْمُلْكِ [د یوسف سورت 101 آیت]
[ یوسف علیه السلام وویل : ای الله تا ما ته حکومت راکړی ]
امام راغب اصفهانی رحمه الله علیه د ملک مفهوم په دی ډول څرګند کړی :
الملک هو المتصرف بالامر و النهی فی الجمهور و ذالک مختص بسیاسه الناطقین.... وقال بعضهم الملک اسم لکل من یملک السیاسه اما فی نفسه و ذالک بالتمکین من زمام قواه و صرفهاعن هواها واما فی غیره سواء تولی ذلک او لم یتول [ ملک [ پادشاه ] هغه څوک دی چې په خلکو کې د امر او نهی واک لری او دا د عقلمندو سیاست دی ... ځینی لغت پوهان وائی چې هرهغه چا ته ملک ویل کیږی چې په خپل ځان واک ولری او د خپل نفس واګی په لاس کې واخلی او قوتونه یی د نفس د تابعداری څخه وژغوری پدی حالت کې دا سړی پادشاه دی که د حکومت واګی یی په لاس کې وی او که نه ؟[33] ] .
دلته چې مونږ د کوم ډول ملوکیت او پادشاهی یادونه کوو د هغه لغوی معنا ملک [ پادشاهی ] نه ده بلکه هغه اصطلاحی ملوکیت او پادشاهی تری مقصد دی چې الله جل وعلی شانه ورته د فساد ، ظلم او بربریت خپرولو پادشاهی ویلی او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هغه د ملک عضوض [ غوڅونکېاوخوړونکې پادشاهی په نوم یاده کړی ده ] .

[33]- مفردات القران باب میم سره د لامه 489 مخ د 1961 عیسوی کال د کراچی پاکستان چاپ

## د ملوکیت تعریف

قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً وَكَذَلِكَ يَفْعَلُونَ [د النمل سورت 34 آیت ]

[ اوکله چې پادشاهان کوم کلی ته ننوځی نو پرهغه ځای‌کې فساد اچوی او د هغه ځای عزتمند خلک بی عزته کوی او همداسی‌کړنی ته دوام ورکوی ].

تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ [د القصص سورت 83 آیت ]

[ او دا د آخرت کور دی چې مونږ یی هغه چا ته ورکوو چې په ځمکه کې لویې نه غواړی اونه پری فساد خپروی، یقیناً چې ښه انجام د متقیانو دی ]

په پورتنی آیتونوکې چې د پادشاهۍ‌کومی‌خاصی نښی بیان شوی دی د هغی په رڼا کې د ملوکیت او پادشاهی تعریف داسی کیدای شی، هغه حکومتی نظام چې پرځمکه د فساد د خپرولواو د خلکود ذلیلولو له پاره جوړ شوی وی او مقصد تری د حکمران خپله لوئی او اوچتوالی وی د" وکذالک یفعلون " له جملی معلومیږی چې د ملوکیت ، پادشاهی او آمریت طبعیت او اساسی اصول همدا دی چې د ظلم او فساد بازار تود شی، خلک خوار او ذلیل کړی . او د شاه غلامان یې وګرځوی او د پادشاه لویی او خدائی تینګښت ومومی ،

علامه ابن خلدون رحمه الله د ملوکیت فنی او اصطلاحی تعریف دارنګه کړی دی : هو حمل الکافه علی مقتضی الغرض و الشهوه [ ظالمانه پادشاهی هغه حکومت دی چې په هغه کې خلک دپادشاه دشخصی غوښتنود پوره کول له پاره مجبوریږی[34]].

د ملوکیت په شهنشاهی نظام کې د پادشاه غوښتنه اوخواهش د

---

[34]- د ابن خلدون کتاب مقدمه 151فصل

قانون ماخذ او مصدر وی ، ټول قوم اود قوم خزانی د هغه ځانګړی ملکيت ګرځی، هغه د تنقيد نه پورته وی او د هيچا وړاندی په ځواب ورکولو مجبور نه وی، يو شخص د پادشاه په حيث مقرريدل ددی خبری څرګندوی وی چې هغه ګواکې دالله جل جلاله نماينده دی او د هغه هر حکم منل د الله جل و علی شانه منشاء او اراده ده، بلکه پادشاه د انسان په شکل کې خدای دی دا د پادشاهی پخوانی او موجوده سياسی نظريه ده او ددی نظر ئی په تائيد کې ځينی شاه پالونکو لوی لوی کتابونه ليکلی او غټی غټی فلسفی ئی راويستلی دی [اعاذنالله منها ] .

يومشهور مصری محقق عبدالوهاب نجارد پخوانيو شاهانو په هکله ليکې چې د پخوانی زمانی شاهانو پخپل شاوخوا کې د تقدس او پاکې يوه دائره ويستلی وه او خپلو ځانونو ته ئی د خدائی مرتبه ورکړی وه د هغه علت دا نه وه چې هغوی خپل ځان واقعاً د انسانيت نه پورته ګاڼه ، او نه په دی غولونه کې واقع وو. خو د هغوی مقصد دا وه چې د خلکو د بغاوت څخه په امن کې وی ځکه د هغوی دا خيال وه چې زمونږ تقدس او پاکې، د شورش او انقلاب پرمخ کې غټ خنډونه تشکيلوی، د ابراهيم عليه السلام په زمانه کې د نمرود همدغه حال وه ، همدا راز د موسی عليه السلام نه وروسته ديونانی او رومی پادشاهانو اود مصری فرعونيانو هم همدغه حال وه [35].

سيد سليمان ندوی رحمه الله عليه د پروفيسور ولسن په حواله ليکې چې : په مصرکې د لومړی ساميه د حکومت په زمانه کې د ستورو عبادت کيده چې د ټولو نه لوی خدای ئی لمر وه چې په خپله ژبه ئی ورته " رع " وايه د هغوی د پلازمينی نوم مدينه الشمس وه ،چې مصريانو به " آن " ورته ويلی همدغه لمر د [ خدای ] عبادت ځای وه ،

---

[35]- قصص الانبياء دعبدالوهاب نجارليکنه182 پر حاشيه 1968عيسوی کال د مصر قاهره چاپ

پادشاه به د لمر خدای زوی ګڼل کېده، په همدی خاطر ئی د " رعمسیس " خطاب ورکړی وه [ د لمر زوی ] ، همدا سبب وه چې د مصر شاهانو د خدایی دعوی کولی[36].

مولاناحفیظ الرحمن سیوهاروی رحمه الله علیه د دائره المعارف للبستانی په حواله هم همدارنګه لیکلی دی [37].

مولانا ابوالکلام آزاد رحمه الله علیه لیکې چې : په مصریانوکې د الوهیت نه ډک شاهی فکر پوره وده کړی وه ا ود مصر د تاج او تخت خاوندانو د نیمګړی خدای حیثیت درلوده هغوی ته ئی د فاراع لقب په همدی خاطر ورکړی وه چې دوی د راع [ د لمر خدای ] امتداد ګڼل کېدل .

د هندوستان د برهمنی تمدن یو مستند کتاب [ منوشاستر ] د بادشاه په اړه لیکلی دی که بادشاه نابالغ ماشوم هم وی هغه ته د یو حقیر انسان په نظر کتل ندی پکار ځکه چې بادشاه د انسان خدای وی [ العیاذ بالله ] .

ځینی لیکوالان د منوشاستر کتاب اته سوکاله او ځینی پنځه سوه کاله د عیسی علیه السلام د پیدایښت څخه پخوانی ګڼی لیکن معاصرو محققینو دا ثابته کړی چې دا کتاب دوه یا دری سوه کاله قبل المیلاد پوری اړه لری .

## میکاولی
## د اخلاقو څخه د آزادی پادشاهی غوښتوونکې وه

میکاولی چې په 1527عیسوی کال کې مړ شوی د شپاړسمی پیړی سیاست ئی په نوی ډول سره منظم کړ،هغه د خپلی زمانی د حکومتونو او رومی جمهوریتونو حال په خپل کتاب المطارحات کې

---

[36]- ارض القرآن د سلیمان ندوی رحمه الله علیه لیکنه دوهم ټوک 365 مخ د 1975 عیسوی کال د کراچی پاکستان چاپ پحواله سواء السبیل فیمکان وادیالنیل د ولسن لیکنه .

[37]-قصص القرآن دمولاناحفیظ الرحمن رحمه الله علیه لیکنه لومړی ټوک 412 مخ

څرګندکړې او د پادشاهی د نظریې په هکلـه ئی پـه خپـل کتـاب دی پـرنس [ بادشـاه یـا شـهزاده ] څرګندونـه کـړی ، هغـه د دیـن او اخلاقـو څخه آزاده پادشاهی، غوره حکومت ګڼی او په خپله زمانه کې د همدی بی دینه سیاست لوی داعی وه .

په خپل کتاب دی پرنس کې لیکې چې : یو مطلق العنان پادشاه یا شهزاده چې د شر د لری کولو له پاره د شرڅخه کار اخلیاو د اخلاقو او دین پابند نه وی، هر ډول مکر، فریب او غولونی څخه کاراخلی او په هری ممکنی طریقی د خپل اقتدار د پاینښت له پاره کار وکړی هماغه بهتر حکمران دی ، هغه ته د کوم قانون او اصولو د جوړولو ضرورت نشته ، بلکه هر کار چې د هغه د اقتدارد پاینښت له پاره ګټه وره وی همغه غوره قانون دی [38].

په بل ځای کې په پوره وضاحت سره لیکې چې: د پادشاه له پاره دګیدړی سیاست ډیر ضروری دی ترڅو د هغی په واسطه د چل او فریب جال وغوړوی، خو ددی په څنګ کې د زمری خوی هم ورته په کاردی ترڅو د هغی په واسطه ګډی وویروی ... نیکې او ښیګڼه د وهم پرته نور څه نه دی ، اصل شی خو بدی ده ، نو کوم پادشاه چې غواړی خپلی پښۍکلکې کړی نو دا ضروری ده چې د بدی په کولو کې مهارت او پوهه ولری او هم ئی د کولو مناسب وخت وپیژنی، هغه ته د ښیګڼو او ښه والی لرل په کار نه دی خو په ښکاره توګه [ په نمایشی ډول ] باید د ښیګڼو ښکارندوی واوسی[39] .

دا د هغه شخص فکر دی چې د سیاست د نوی علومو د امام په نامه ئی شهرت حاصل کړی هغه پادشاهی، مکرو فریب ، منافقت او د ګیدړی سیاست او نور ظالمانه لادین سیاستونه د بشریت له پاره غوره

---

[38]- دی پرنس عربی ژباړه د خیری حماد لیکنه 144 مخ 1960 عیسوی کال د بیروت چاپ

39 دی پرنس عربی ژباړه د خیری حماد لیکنه 18باب

نظام ګڼي، دا په حقیقت کې امام وه خو د شیطاني سیاست د هغه سیاست امام چې الله جل جلاله د هغه څخه د انکار حکم کړی دی [ وقد امروا ان یکفروا به ] .

## د جان بودان نظر:

جان بودان چې په 1556عیسوی کال کې مړ شوی د16پیړۍ دوهم فیلسوف دی چې شاهي حکومت د غوره نظام په حیث پیژني . هغه په 1576 عیسوی کال کې د پاپائیت [ د عیسائي ملایانو حکومت ] څخه د آزادۍ د لاسته راوړو په خاطرد مطلق العنان پادشاهي د حمایت په خاطر د " عن الجمهور" په نوم یوکتاب لیکلی دی د هغه نظریه دا وه چې بادشاه ددی له پاره چې د قانون نافذونکې وی ښایي هغه د هر ډول تنقید نه پورته او لوړوی ، خو د میکیاولي د اخلاقو څخه د آزادي پادشاهي سخت مخالف وه هغه وایي چې نه ښائي سیاست د انساني اخلاقوڅخه جلاکړل شي [40].

## د لومړي جیمز اوهابس نظریات

د انګلستان بادشاه جیمزاول د شاهي په حمایت کې یوکتاب لیکلی چې په هغه کې ئېخپل نظردا ډول څرګندکړی دی : پادشاه د هیچا په وړاندې ځواب ورکونکې نه وی او د هغه هره خبره په خپله قانون وی .

هابس چې په 1679عیسوی کال کې مړشوی په 1651 عیسوی‌کال کې د ستوارټ د کورني د بادشاهۍد تائید له پاره ئې یو کتاب خپور کړی چې په هغه کې یې لیکلي دی :" کله چې خلک د ټولنیز تړون په خاطر د حکمرانۍاختیار یوه پادشاه ته ورسپاری نو بیا ضروری ده چې هغه دې مطلق العنان او د هرقانون څخه پورته او لوړ اوسي " .

که څه هم دی فیلسوف د میراثي پادشاهي په ځای د ټولنیز تړون په

40- علم السیاسیه دډاکترحسن لیکنه 97 مخ 1970 عیسوی کال بیروت چاپ

واسطه د منځ ته راغلی پادشاهی تصور وړاندی کړی دی خو په نورو ټولو چاروکې د مصری ، عراقی، یونانی‌او رومی د اولسمی پیړی د نظریو سره موافق وه چې پادشاه یوه مقدسه هستی [ پاک موجود] ده او د هر قسم تنقیدنه پورته وی چې دیوقسم خدای شکل ولری او د هغه رعیت د هغه د عبادت کوونکو حیثیت ولری ،کله چې انسان د خپل پیداکونکې د غلامی او د خالق د رسولانو د اطاعت ا و فرمان وړنی څخه مخ واړوی نو بیا هغه د خپل ځان په شان د انسانانود غلامی‌څخه هیڅ شی‌نه شی‌منع کولای اوهغه بیا د خپل ځان له پاره د نوی نوی خدایانوپه لټه کې وی .

## د ملوکیت خطرناکه څیره د مصر فرعون وه

د ملوکیت اوظالمانه پادشاهی‌خطرناکه څیره د مصرفرعون وه چې حضرت موسی علیه السلام ورته د وحدانیت دعوت ورکړی وه- فرعون د مصر د پخوانیوپادشاهانو لقب وه او په عربی‌کې هرسرغړونکې متکبراو باغی ویل کیږی .

ابن منظور رحمه الله علیه لیکي چې : الفرعنه الکبرو التجبر و فرعون کل نبی ملک دهره وکل عات فرعون والعتاه الفراعنه وقد تفرعن وهوذو فرعنه ای دهاء وتکبر[ د فرعنه دکلیمی معنی غرور او تکبر ده چې هر سرغړونکي ته فرعون او ټولو سرغړونکوته فراعنه ویل کیږی چې د تفرعن معنی ده هغه چې د سرغړونی، غرور او تکبر لاریې اختیارکړی ده [41]] .

## د موسی علیه السلام د فرعون تاکل :

دا چې د موسی علیه السلام د زمانی فرعون څوک وه ؟ نو پدی هکله د عامو مفسرینو او مؤرخینو نظر دا دی چې دا د عمالقه یعنی عملیق بن او د بن ارم بن سام بن نوح د نسل څخه یو پادشاه وه چې نوم

[41]- لسان العرب باب النون مع الفاء ماده فرعون 3 ټوک **334**مخ

ئی ولید بن مصعب بن ریان یا مصب بن ریان وه [42].

خو د اوسنی مصری تحقیقاتوڅخه دا معلومیږی چې موسی علیه السلام د دوهم رعمسیس په وخت کې زیږیدلی وه او د هغه په کورکې را لوی شوی وه خو د موسی علیه السلام دنبوت په وخت کې فرعون د همدی رعمسیس زوی منفتاح وه چې د 1295 څخه ئی تر1225قبل المیلاد پوری حکومت کړی دی او د مصر د نوی دور د شاهی کورنیوڅخه دوهمی کورنی پوری ئی اړه لرله د دی نوی مصری تحقیق په هکله دمصرد دار الاثار مصور، د اثری او حجری څیړنی ډیر نامتو عالم احمدیوسف افندی په دی هکله یوخاص کتاب لیکلی او په ډیر وضاحت سره ئی دا نوی نظرثابت کړی دی

د موسی د وخت د فرعون او د هغه د حکومت پیژندل دومره ضرورنه دی خو هغه څه چې دپیژندلو وړدی هغه د هغی وخت بدترین او ظالمانه نظام دی چې د [ فرعون ازم ] نوم یې وراغوستی وه، د حضرت موسی علیه السلام او د فرعون ترمنځ مبارزه [کشمکش] په اصل کې د اسلامی نظام او فرعونی نظام یا د توحیداو شرک ترمنځ دکشمکش یوه عبرتناکه کیسه ده چې د هغی د ژوری مطالعی په واسطه د ملوکیت [ بادشاهی ] طبیعت او د هغه د اصولو په هکله ډیر څه زده کیدای شی . په قرآن کریم کې د فرعون نوم په 37 سورتونو او47 آیتونو کې شوی دی خو د موسی علیه السلام نوم په 107 آیتونوکې یاد شوی او د حضرت هارون علیه السلام د نوم یادونه په 14ځایوکې شوی ده .

## د موسی علیه السلام او د فرعون
## په هکله د قرآن کریم د آیتونو فهرست :

---

[42]- تفسیرابن کثیرلومړی ټوک 157 البقره سورت 49 آیت - لسان العرب 13 ټوک 323 مخ

## نیو لیك

په هغه ځایونو کې چې د فرعون نوم راغلی نو د هغی د مطالعی په اساس د شاهی ذهنیت او د ملوکیت او شاهی اصولو او اساساتو څخه پوره آشنائی تر لاسه کیږی نو په دی خاطر د هغی ځایونو لست د لوستونکو ترمخ ږدو ترڅو د مطالعی په وخت کې ورته آسانی او سهولت وی ، په دی لست کې هغه آیتونو ته اشاره شوی چې په هغه کې د فرعون لفظ په وضاحت سره موجود دی خو د هغو ځایونو حواله نه ده ورکړل شوی چې په هغه کې ئی نوم په اشاراتو یا ضمائرو سره یاد شوی وی :

د البقره سورت 49-50 آیاتونه
د ال عمران سورت 11 ،
د اعراف د سورت 103 - 109-123- 127 -130- 137 آیاتونه
د انفال سورت 52 -53 –54 ایاتونه
د یونس سورت - 79 -83 - 88 - 90 آیاتونه
د هود سورت 97 آیت
د ابراهیم سورت 6 آیت
د بنی اسرائیل سورت 101-102 آیاتونه
د طه سورت 24-43-60- 78- 79 آیاتونه
د المؤمنون سورت 46 آیت
د الشعراء سورت 11-16-23-41-44-53 آیاتونه
د النمل سورت 12 آیت
د القصص سورت 3 -4 -6- 8- 9- 32- 38 آیاتونه
د العنکبوت سورت 39 آیت
د ص سورت 12 آیت
دمؤمن سورت 23-24 -26 - 28 - 36 -37- 45 آیاتونه
د الزخرف سورت 46- 51 آیاتونه
د الدخان سورت 17- 31 آیاتونه

.......................
د ق سورت 13 آيت
د الذاريات سورت 38 آيت
د القمر سورت 41 آيت
د التحريم سورت 11 آيت
د الحاقه سورت 9 آيت
د المزمل سورت 15- 16 آياتونه
د النازعات سورت 17 آيت
د البروج سورت 18 آيت
د الفجر سورت 10 آيت
ټول په 27 سورتونو او په 74 ځايونو کې

## د ملکويت [ پادشاهي ] فرعوني اصول :

د حضرت موسی عليه السلام او د فرعون د قصی د پورتنيو قرآنی آيتونو د ژوری څيړنی څخه چې د ملوکيت او ظالمانه شاهی نظام کوم سياسی اصول اوکړنلاره څرګنديږی هغه په هره زمانه کې د ملوکيت او شاهی نظام اصول اوکړنلاره پاتی شوی نو د دی له پاره د دی فرعونی اصولو يادول د ګټی څخه خالی نه دی .

## د ربوبيت او الوهيت دعوی کول:

فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمْ الْأَعْلَى [ د النازعات سورت24]
[ نو فرعون وويل چې زه ستاسی لوی رب يم ]
قَالَ فَمَنْ رَبُّكُمَا يَامُوسَى [ د طه سورت **49** آيت]
[ نو ستاسو د دواړو رب څوک دی ای موسی؟ ]
قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعَالَمِينَ [د الشعراء سورت **23** آيت]
[ فرعون وويل رب العالمين څوک دی ؟ ] .
قَالَ لَئِنْ اتَّخَذْتَ إِلَهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنْ الْمَسْجُونِينَ
[ الشعراء سوره **29** آيت]

[ فرعون وويلې که چیری تا زمانه پرته بل څوک د حاکم په څیر و پیژاند نو تا به هم د بندیانوبه ډله کې شامل کړم ] .

شیخ الهندمحمود الحسن رحمه الله علیه دلته د اله ژباړه په حاکم کړی ده .

يَاأَيُّهَا الْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرِي [د القصص سورت 38 آیت]

[ فرعون خپلو د درباریانوته وویلې چې ای درباریانو: زه تاسی ته د خپل ځان پرته بل څوک دحاکم په څیرنه پیژنم ] .

په عربی ژبه کې ژبه کې رب او اله د حاکم په معنی هم استعمالیږی دحاکمیت په بحث کېښغه آیاتونه وړاندی کیږی چې هلته دغه دواړه کلیمی‌دحاکم اوپادشاه په معنی استعمالیږی د الوهیت او ربوبیت ددعوی څخه د فرعون مقصد دا وه چې اعلی‌حاکم ، د قدرت خاوند او مرجع زه په خپله یم او زما په حکم او قانون هیڅوک د اعتراض حق نلری ، په همدی ډول زه د لمرد خدای اوتار [جزء] په اساس د خپل رعیت مالک اوپالونکې هم یم او د عبادت او بندګی مستحق هم.

## خلک د خپل ځان غلامان ګڼل :

فَقَالُوا أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ [د المؤمنون سورت 47 آیت]

[ آیا مونږ د هغه دواړو خبره ومنو چې مونږ غوندی انسانان دی او د هغوی قوم زمونږ غلامی‌کوی ].

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَائِيلَ[ د الشعراء سورت 22 آیت ]

ابن جریر رحمه الله علیه فرمایی : فرعونیانو مقصد دا وه چې د موسی علیه السلام قوم زمونږ غلامان ، تابعدار ذلیل او خوار قوم دی ، عرب د بادشاه تابعدار انسانان د هغه غلامان ګڼی .

په دی آیاتونوکې د ملوکیت او فرعونیت بل اصل دا بیان شوی چې په هغه کې د خلکوحیثیت د غلامانو په څیروی او د بادشاه حیثیت د مالک او آقا ، اوهغه ته د خپلو غلامانو[رعیت] په مال ، ځان،

اولاد ،او آبروکې پوره او غيرمحدود اختيارات ورکول شوی[43] .

**سرمايه او دولت د شرافت معيارګڼل :**

وَنَادَى فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَاقَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِنْ تَحْتِي أَفَلَا تُبْصِرُونَ[] أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِنْ هَذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ[] فَلَوْلَا أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِنْ ذَهَبٍ أَوْ جَاءَ مَعَهُ الْمَلَائِكَةُ مُقْتَرِنِينَ

[د الزخرف سورت 51 ، 52 ، 53 آياتونه ]

[ او فرعون خپل قوم ته آواز وکړ ای زما قومه : آيا زما په لاس کې د مصرحکومت نه دی؟ او دا چې دا سيندونه زما د محل لاندی بهيږی، آيا تاسوئی نه وينی؟ نو زه ډيرښه يم د هغه چا څخه چې هغه ته څه عزت نه شته ، اوښی خبری هم نشی کولای نو ولی په هغی باندی د سر زرو خزانی نه راتوييږی اويا ملائکې د هغه ترمخ قطار نه دريږی] .

په دی آياتونوکې د فرعونيزم دريمه نښه دا ښودل شوی ده چې په هغی کې د شرافت او عزت معيار، پانګه ، دولت او حکومت دی او غريبی ، مزدوری او تنګ لاسی د ملوکيت په نظام کې د بی عزتی او ذلت نښی‌ګڼل کيږی ، قدرت او نور اساسی انسانی حقوق په دی نظام کې يوازی پانګه لرونکو او مترفينو ته مخصوص شوی دی - د يونان تش په نوم جمهوريتونو کې مزدورانو ، د هقانانو او غلامانو ته د رای ورکولو حق او نور انسانی اساسی حقوق نه ورکول کيده - د انګلستان د پادشاهی په مطلق العنانه اوږدی موده کې د رای ورکولو حق هغه خلکوته حاصل وه چې دځمکې خاوندان وو، فرعون هم د همدی سرمايه لرونکې نظام تصور د خپل قوم په مخکې ايښی وه چې ما سره د سرو زرو او جواهراتو خزانی دی په کوم امير او وزير چې مهربانه شم هغه ته د سرو زرو بنګړی وراغوندم زما فوځ زما په

---

[43] تفسيرابن جرير **18**ټوک **25** مخ

وړاندی ودریږی، زما سره شاهی محل دی، چې په باغونو کې ئی ویالی بهیږی او زه د مصر پادشاه یم، خو د موسی علیه السلام سره نه سره شته نه سپین ، نه ورسره هغه باغونه شته چې په کې ویالی بهیږی او نه حکومت لری او نه د بل کوم ښکاره او ظاهری کمال خاوند دی حتی چې په خبرو کولو کې ئی ژبه هم پوره نه چلیږی ، نو را ته ووایی آیا زه د داسی یو معمولی انسان په وړاندی خپل سر ټیټ کړم ؟

نتیجه دا چې پانګه لرل او ماده پالل د ملوکیت له بتستهیزو اصولواو اساساتوله څخه دی [ اعاذناالله منها] .

## سیاسی قتل کول او یا بیګارول :

وَإِذْ نَجَّيْنَاكُمْ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ وَفِي ذَلِكُمْ بَلَاءٌ مِنْ رَبِّكُمْ عَظِيمٌ

[د البقره سورت 49 آیت ]

[ او هغه وخت راپه یادکړی چې مونږ تاسی ته د فرعون د قوم څخه خلاصون درکړ- چې هغوی په تاسی ډیرظلم کاوه ، ستاسی زامن به یی حلاحلول او ستاسی لورګانی به ئی ژوندی پریښودی او په دی‌کې ستاسی د پروردګار له طرفه ډیرغټ امتحان وه] .

إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ

[د القصص سورت 4 آیت ]

[ یقیناً فرعون په ځمکه سرکشی وکړه او د هغی اوسیدونکې ئی په ډلو وویشل چې د هغی څخه یی یوه ډله کمزوری او ذلیله کوله د هغی ډلی هلکان به ئی وژل او نجونی به ئی ژوندی پریښوولی، بی شکه فرعون فساد کونکو وه ] .

د ابن جریررحمه الله علیه او نورو مفسرینو وینا ده چې ددی ظالمانه عمل سبب یوویروونکېخوب وه یا د نجومیانو خبری وی ، خو

په حقیقت کې دا مرفوع احادیث نه دی ، خوب او د نجومیانوخبری هم یو سبب کیدی شی لیکن اصل سبب قرآنکریم په دی توګه بیان کړی دی چې د هغوی قوت کم کړی ، هغوی کمزوری او ذلیله کړی " یستضعف طائفه منهم" .

ابن جریر د ابن اسحاق رحمه الله علیهما څخه یوه وینا رانقل کړی چې : فرعون بنی‌اسرائیل د خپل ځان له پاره په ظلم او زور وړیا خدمت کوونکې او مزدوران ګرځولی وه او هغوی یې په مختلفوکارونو ګمارلی وو په ځینو ئی دنګی دنګی ماڼی او محلونه جوړول او په ځینو نورو ئی بزګری کوله او څوک به چې د کار وړنه وُ د هغه څخه به ئی محصول اخسته او د " سوءالعذاب " څخه همدا مطلب دی 44 .

په بایبل کې هم د بیګارونو او دکوچنیانو د وژلوهمدا علت بیان شوی چې هغوی کمزوری کړی شی .

" فرعون خپل قوم ته وویل چې ګوری اسرائیل مونږ څخه زیات قوی شوی دی نو راځی چې د هغوی سره د هغی [ حکمت ] له لاری مخکې لاړ شو، په دی خاطر ئی په هغوی بیګار مقررکړ چې هغوی ته به ئی سخت کار سپاره او په دی ترتیب به ئی هغوی ځورول، بیا نو هغوی فرعون ته د زیرمی ښار[ پتوم او رعمسیس ] جوړکړل، خو هر څومره به ئی چې هغوی عذابول په هماغه اندازه هغوی خپریدل ، نو هغه هغوی په نورو سختو او شاقه کارونو وګمارل او د ختو او ښختو په جوړولوا ود بزګری په کولوئی د هغوی ژوند نور هم تریخ کړ، د هغوی ټول خدمت د تشدد نه ډک وه خوکله چې د مصر پادشاه د دوه عبرانی دائیانو سره چې د یوه نوم سفره او د بل نوم فومه وه خبری وکړی او ورته ئی وویل چې کله ستاسی په لاس عبرانی ښځو بچې وزیږاوه نو هغه د تیږی په بټی کښینوی نوکه چیری هلک وه نو مړ به

44 تفسیرابن جریر رحمه الله علیه لومړی ټوک271 مخ - تاریخ ابن جریرطبری لومړی ټوک 198مخ

ئی‌کړی اوکه نجلی وه نو ژوندی به ئی پریږدی خو هغه دائیبانی د الله جل جلاله نه ویریدی ، نو هغوی د مصرد پادشاه حکم ونه مانه او هلکان به ئی ژوندی پریښول نو خلک په شمیرکې ډیر او د قوت خاوندان شول نو فرعون خپلو ټولو خلکو ته په تاکید سره وویل چې که چیری په هغوی کې کوم هلک وی نو هغه په دریاب کې واچوی اوکه انجلی وی نو هغه ژوندی پریږدی45 .

په قرآنی آیتونو او بائیبل کې چې د فرعونیزم کوم اصول او اساسات بیان شوی په هغه کې ویل شوی دی چې د حکمران ټولگی نه پرته نور ټول خلک باید وټکول شی او د هغوی قوت زیاتوالی ته پرینښودل شی ځکه چې د پادشاهی د ساتلو او ټینگښت په خاطرهر رنگ وینه تویول ، ظلم او تشدد نه کاراخیستل حتی چې د معصوموکوچنیانو وژل ددی شاهی نظام د سیاسی نظرئی بنسټ دی ، په همدی ترتیب د خلکو څخه مفته کار اخیستل او هغوی په زور مزدوران جوړول او د هغوی د زحمت ویستلو زبیښنه او نچوړ په دی نظام کې د پادشاه حق دی [اعاذناالله منها].

## د سیاسی رشوت په ورکولوسره د خلکو د ضمیر اخیستل :

فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ قَالُوا لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ

[د الشعراء سورت 41 – 42 آیاتونه ]

[ اوکله چې راغله جادوگران فرعون ته و یی ویلی که چیری مونږ غالب شو نومونږ ته څه اجرهم شته؟ فرعون وویلی چې هو ! تاسو به زما د مقربانو[ درباریانو] څخه یاست ] .

په دی آیت کې د پادشاهی پنځم اصل بیان شوی چې د ویری به

---

45 بائیبل کتاب خروج ا باب 8 تر 22 ایاتونو پوری بائیبل سوسائتی لاهورپاکستان 1969 عیسوی کال چاپ

څنګ کې د طمع اوغولونی سلاح هم استعمال شوی د هر وخت پادشاهانو د حق پالونکوپه مقابل کې سوء علماو [ نفس خوښوونکې پیرانو ، ادیبانو او شاعرانو ضمیر د پیسو په مقابل کې اخیستی ، نو بیا د هغه ضمیر پلورونکو د رباریانوکار دا وی چې د پادشاه په تعریف او ستاینه کې نوی نوی قصیدی تصنیف کړی او د شاه پالنی په مخالفوخلکو پسی ناروا تبلیغات او پروپاګند وکړی د پادشاه ددی درباری غلامانو له پاره د شاهی خزانی دروازه د تل له پاره پرانستی وی په درباری شاعرانو، فتوی خرڅوونکو عالمانو چپن خرڅوونکې پیرانو خو لکونو او ملیونو نو روپی د ملت د خزانی څخه مصرف یږی خو د غریبو خلکو د بنیادی مشکلاتو د حل په خاطریوه پیسه هم څوک نه مصرفوی - فرعون هم د موسیعلیه السلام د مقابلی له پاره د رشوت په ورکولو سره د جادوګرانو ضمیر اخستی وه خو د مقابلی په وخت کې الله جل جلاله هغوی ته د ایمان توفیق ورکړ او هغوی د شاه پالنی څخه مخ وګرځاوه اوالله پالونکې شوه .

د دلیل حګوابول په زور سره :

کله چې فرعون د جادوګرانو په واسطه مقابله ونه شوه ګټلای او د موسی علیه السلام د ربښتینوالی غوڅ دلیل ئی ترمخ شو چې د هغه جادوګرانو ئی هم تر تاثر لاندی راغلل او د هغه په صداقت او ربښتینوالی ئی ایمان راوړ . نو بیا ئی د دی دلیل د ځواب له پاره د زورڅخه د کار اخستو پریکړه وکړه .

قَالَ آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمْ الَّذِي عَلَّمَكُمْ السِّحْرَ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ

[د الشعراء سورت 49 آیت]

[ فرعونوویلی: تاسی د موسی [علیه السلام ] خبره ومنله مخکې له دی نه چې ما تاسی ته اجازه درکړای وی ! هرومرو دا ستاسی مشر دی چې تاسی ته یی کوډی دربښودلی دي ښه نو هم دا اوس به وپوهیږي

زه بـه ستاسی لاسـونه او پښـی رد بـدل غـوځ کـړم او تاسی ټـول بـه پـه داروځړوم ] .

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِي أَقْتُلْ مُوسَى وَلْيَدْعُ رَبَّهُ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَنْ يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ [د المؤمن سورت 26 آیت ]

[ یو ورځ فرعون خپلو درباریانو تـه وویـل مـا پریـږدئ چـې موسی ووژنم او دا دی خپل رب ته غږ کړی ، زه ویریږم چې دی ستاسی دین بدل کړی [ فرعونی نظام یـا فرعونی اقتـدار بـه بـدل کـړی ] یـا بـه پـه هیواد کې فساد را ولاړ کړي ] .

دا هغه شپږ غټ غټ اصول او بنستونه دی د کومو څخه چې د دی پـه اسـاس د نـړی هـر ډول ملوکیـت او پادشـاهی سیاسی کـړنلاره معلومیـدای شی

چنګیزیت

ای محمد !کر قیامت می برآری سر زخاک

سر بر آوروین قیامت در میان خلق بیـن

سعدی رحمه الله علیه

آسمان با ما سر پیکار داشت

در بغل یک فتنۀ تاتار داشت

علامه اقبال رحمه الله علیه

چنګزیت د ملوکیت او سرداری د سیاسی فکـر یـو شـکل دی لکـه څنګه چې یـوه لیـوه د وینـی د څکلـو پرتـه ژونـدی نـه پاتـه کیـږی نـو پـه همدی توګه چنګیزخان هم د بشر د وینـو لـه څکلـو پرتـه ژونـدی نـه پاتـه کیده .

تاتاریان د منګولیا یا مغلستان د ګوبی د دښتو یـو قـوم وه چـې د روحونـو عبـادت یـی کـاوه ، د همـدی دښتـی پـه شـمالی برخـه کـې دچنګیزخان د پلرونواونیکونو د سرداری ځای او ټاټوبی هم وه تـر اوسـه لا چنګیز د ځوانی شپی ورځی سبا کولی چې پلار یی مړ شو نو تاتاری

قوم د دی نوی ځوان سرداری ته غاړه کینښوده، خو چنگیزخان د سختو مشکلاتو اوستونځو د ګاللونه وروسته نور تاتاری سرداران وټکول اوخپله سرداری ئی ټینګه کړه او په ځوکلونوکې یی د خپلی سرداری د ریاست لمنه د ګوبی د دښتو څخه تر ترکستان او چین پوری پراخه کړه .

حافظ ابن کثیر رحمه الله علیه چې په 774 هجری کال کې مړ شوی لیکې: د تاتاریانو د ظلم او فساد لمن د چین څخه ترعراق پوری وغزیدله او تر617 هجری کال پوری چنگیزخان د عراق ، الجزائر، سوریی او مصر نه پرته په ټولو ملکونو بری او غلبه پیدا کړه، دی خلکو به چې کوم کلی او ښار فتحه کاوه نو د هغه خلک به یی وژل او د هغوی کورونه ، جوماتونه او مدرسی به یی سیځلی[46] .

ابن الاثیر رحمه الله علیه چې په 630 هجری کال کې وفات شوی د چنگیزی فتنی لومړنی دولس کاله په خپلو سترګو لیدلی خو د بغداد د مغلوبیدو په وخت کې چې د چنگیزخان د لمسی هلاکو په لاسو وران اوکنډر شو، نوموړی ژوندی نه وه خو د چنگیزی د بربریت او وحشت په هکله ابن الاثیر رحمه الله علیه لیکې چې: که چیری څوک ووایی چې د آدم علیه السلام څخه تر اوسه پوری دنیا په داسی مصیبت او غم نه وه ککړه شوی ، نو بالکل رښتیا ده ځکه تاتاریانو چې په کومو ښارونو کې عامی وژنی کړی دی په هغه کې یوازی د یوه ښار د وژل شوو اوسیدونکو شمیرد هغه بنی اسرائیلو د شمیرڅخه زیات دی چې د بخت نصر په واسطه وژل شوی وه ، دی ځیرونکو وحشیانو، سړی ، ښځی او ماشومان په ډیره بی رحمانه توګه ووژل ، د ښځوګیډی ئی وځیرلی او شیدی خوړونکې کوچنیان یی د میندو د غیږو څخه د

[46] البدایه والنهایه د ابن کثیررحمه الله علیه لیکنه 13 ټوک 86 – 87 مخونه 1966 عیسوی کال بیروت چاپ

اخستلو وروسته ټوټی ټوټی کړل [47] .

د617 هجری کال د ذی الحجی په څلورمه نیټه 1220عیسوی کال کې چې کله تاتاریانو بخارا فتحه کړه نو د هغوی ښځی یې په خپلو منځو کې تقسیم کړې او ښار ته یې اور ولګاوه .

و ا صبحت البخاری کان لم تمس بالامس

[ د بخارا د ښارچتونه راغورځیدل او داسی تباه شو چې تا به ویل چې دلته پرون هیڅ شی نه وه ][48] .

617 هجری کال د محرم الحرام په میاشت کې همدغه ډول عمل د سمرقند د ښار سره هم وکړ په خوارزم کې یی د لومړی یرغل په وخت کې سل زره کسان ووژل او بیا یی د ښار بند ونړاوه او ټول ښار یی د اوبو لاندی کړ او د بلخ ، ترمذ او خراسان د ښارونو سره ئی هم همدا عمل تر سره کړ.

656 هجری کال د محرم الحرام په میاشت کېچې د 1258 عیسوی کال د جنوری میاشتی سره سمون خوری د چنګیز لمسی هلاکوخان د مسلمانانو د خلافت مرکز بغداد وران او ویجاړکړ، د خلیفه مستعصم بالله په شمول ئی علماء ، فقهاء اونورحکومتی واکداران یو ځای ووژل ، د عباسی کتابخانی کتابونه ئی د دجلی په دریاب کې وغورځول او د مدرسو او جوماتونودا لوی ښار چې د عروس البلاد[ د ښارونو ناوی ] په نامه یادیده وران کړ، ابن خلدون رحمه الله علیه وایيچې دلته د وژل شو وګړو شمیر یوملیون او شپږ سوه زره یا شپاړ سوه زروکسانو ته رسیږی .

## د چنګیز د جوړو شوو قوانینومجموعه

---

[47] الکامل د ابن الاثیررحمه الله علیه لیکنه 12 ټوک 358 مخ 1966 عیسوی کال بیروت چاپ .

[48] الکامل د ابن الاثیررحمه الله علیه لینکه 12 ټوک 366 مخ 1966 عیسوی کال بیروت چاپ .

چنگیزخان په 599 هجری کال کې بادشاه اوپه 624 هجری کال کې مړ شوی ، ابن کثیر رحمه الله علیه لیکلی دی چې ما یو کتاب ولیده چې د بغداد یو وزیر علاوء الدین جوینی ترتیب کړی ؤ په دی کتاب کې چنگیز خان د ترتیب کړای شوی قوانینو څه اقتباسات هم رانقل کړی وه چې د " یاسا " یا " سیاسا " په نوم یاد شوی دا د هغه د سلطنت اساسی قانون وه او د هغه د اولاد دستور العمل هم وه چې په هغی کې د زنا ، لواطت، غلا ، د رواغو او جادوکولو سزا مرګ وه او همدارنګه د دوو اخ وډب کونکو ترمینځ مداخله کول ، په اوبو کې غوټه خوړل په اوبوکې بولی کول او د دشمن بندی ته د ډوډی اویا اوبو ورکولو سزا هم وژل وو ، تاتاریانو د خپل پادشاه اطاعت بی له کوم شرط کوه او خپلی پیغلی به ئی پادشاه ته د تحفی په ډول وړاندی کولی ترڅو هغه ئی د خپل ځان او خپلو د رباریانو له پاره په خپله خوښه انتخاب کړی[49] .

خلک د هیټلر او موسولینی د فاشیزم او آمریت اصطلاحی تعریفونه کوی خو همدا چنګیزی قانون د فاشیزم او آمریت له پاره بهترین اوغوره تعریف دی چې د فرعون ایزم نوی بڼه ده .

خو حقیقت دا دی چې د ملوکیت نه پورته ظالمانه او جابرانه نظام په تصور کې نه راځی چې د الله جل جلاله بندګان دیوه ځانګړی شخص دخواهشاتو او غوښتنو غلامان ګرځوی ، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې " د ټولو نه بد او کثیف نوم د هغه چا دی چې خپل ځان د شاهنشاه [ ملک الاملاک] په نوم یادوی .

د دی په مقابل کې اسلام د شورای نظام فرض ګرځولی چې د خلافت په فصل کې به یی په تفصیل سره یادونه وکړو [انشاء الله ] .

**پاپائیت [تیاکراسی ] :**

[49] البدایه والنهایه 13ټوک 118- 119مخونه

## نیو لیك

**اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ**

[د التوبه سورت 31 آیت]

**[دوی د الله جل جلاله نه پرته خپل علماء اوپیران خدایان نیولی‌دی ]**

.

وهل بدل الدین الا الملوک     واحبار سؤ و رهبانها

[ اونه ئی دی بدل کړی دین مګر پادشاهانو، علماؤ سؤ او رهبانیونو]

خداوند ا یه تیرے ساده دل بندے کدهرجائین

که درویشی بهی عیاری ئے سلطانی بهی عیاری

[ ای الله ! ستا دا ساده زړی بندګان چیرته ولاړ شی چې په درویشی کې هم عیاری او غولونه ده او په پادشاهی کې هم عیاری او مکر دی ]

.

تیاکراسی یا پاپائیت هم د ملوکیت او آمریت یو بل شکل دی چې په کې پاپ یعنی مذهبی مشرته د مطلق العنان حاکمیت اختیارات ورکړل شوی - پادشاه د شاهی تاج په سرکولو وروسته ظلم شروع کوی او پاپ خپله چپن او جیلک په اوړو اچوی او په خلکو خپله پادشاهی مسلطه وی .

بزیر دلق مرصع کمندها دارند

دراز دستی این کوتاه آستینان بین

دا تش په نوم مذهبی مشران غواړی په پاک لباس کې په خلکو خپله خدای قایم کړی د تحلیل او تحریم ، امر او نهی په هکله پاپ او د هغه نمایندګانو ته پوره واک او اختیار ورکړل شوی دی .

په جامع ترمذی کې د عدی ابن حاتم رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی‌الله وسلم د" اتخذوا اخبارهم ورهبا نهم اربابا " څخه دا مقصد اخیستی دی چې هغوی خپلو علماؤ او پیرانو ته د تحیل او تحریم پوره او بی د څه قید او شرطه اختیارات ورکړی

وه او د هغوی هره خبره به ئی لازما واجب الاتباع قانون ګڼلو[50].

خلک د تورات او انجیل د لوستلو څخه منع کیدل د پاپ او کلیسا فتوی یا فیصله به د خدای له طرفه وحی ګڼل کیده او د هغی څخه مخ اړول او یا د هغه سره مخالفت کول د کفر او ارتداد په معنی وه د حق او باطل ګډول ، او حق د خلکوڅخه پټول او په خپل لاس لیکل شوی فتوی خدای ته منسوبول ، د دغه تش په نامه علماو او پیرانو دنده ګرځیدلی وه او له همدی امله الله جل جلاله د هغوی سخته غندنه کړی ده .

وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ

[د البقره سورت 42 آیت]

[باطل ته د حق جامه مه وراغوندئ او له پوهی سره سره د حق پټولو هڅه مه کوئ ] .

فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَوَيْلٌ لَهُمْ مِمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَهُمْ مِمَّا يَكْسِبُونَ

[د البقره سورت 79 آیت]

[ تباهی ده هغو خلکو لره چې په خپلو لاسونو د کتاب لیکنه کوي او بیا خلکو ته وایي دا د الله څخه راغلی دی ترڅو د هغی په بدل کې لږ غوندی دنیاوی ګټه په لاس راوړي ، د هغو د لاسو دا لیکنه هم د هغو د تباهۍ وسیله ده او د هغو دا ګټه هم د هغو د هلاکت موجب ده ] .

° عیسی علیه السلام آسمان ته له ختولو وروسته یو یهودی پولس سینټ پال د تثلیث او کفاری د ناقابل فهم فلسفی باندی د یوه نوی دین بنسټ کیښود ، کله چې قسطنطین پادشاه په 305 عیسوی کال کې اقتدار او منصب تر لاسه کړ او همدا مسیحیت یی چې په اصل کې

[50] جامع ترمذی دوهم ټوک 136 مخ

پولسيت وه د رسمي دين په توګه اعلان ، او د هغه د خپرولو په خاطر يې کار پيل کړ خو لږ موده وروسته يوناني او رومي ماده پرسته تهذيبونو غلبه پيدا کړه او د پخوانيو ټولو ريکارډونه ئې ورمات کړل .

° د دې ماده پالنې او نفس پالنې د ماتولو له د رهبانيت نسخه را وړاندې‌کړې شوه رهبانيت [ پيرى ] په اصل کې د بده دين د بهکشانو د هندي دين د جوګيانو او سنياسيانو د اصولو مطابق د دنيا پريښول او د جسم د تعذيب يو نظام وه ، نکاح کول ، ښه او پاک کالي اغوستل ، غسل کول ، د خلکو سره اړيکې ټينګول په دې نظام کې حرام او منعه وه دا د هغوى جوړکړې نظام وه چې د الله جل جلاله له لورى نه وه راغلى ځکه رب العزت فرمايي :

وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَامَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا [د الحديد سورت **134** آيت]

[ او رهبانيت هغوى په خپله رامنځ ته کړ، مونږ هغه پر هغو باندې نه ؤ فرض کړې خو د الله جل جلاله د خوښي په لټه کې هغوى په خپله دغه بدعت [ د نوى شي منځ ته راوړل ] راوويست او بيا د هغه د رعايت چې کوم حق ؤ هغه يې ادا نه کړ ] .

° څوموده وروسته د ماده پالنې او شهوت پالنې دا ناروغي د دې پيرانو او راهبانو په کليساګانو کې وراننوته د فقيرى او ملنګي ځايونو د شاهي دربارونو او د زهد او تقوى دا چله خانې د بد کارى په ځايو بدلي شوى ، د کليسا د خاوندانو تر منځ به د آمرانو او د دولت د خاوندانو عيش او مستي هيڅ وه په پنمځه عيسوى پيړى کې د روم [ بشپ ] د پادشاهانو په څير- خپلې ماڼۍکې اوسيده.

د الوسنټ اتم پاپ د مستي او عيش په خاطر خپل مذهبي تاج ګرو کړ او يو لسم پاپ د درى پاپانو ټول عوائد هم مصرف کړى وو، داسې ويل کيږي چې د فرانسې د دولت ټول عوائد هم د دې پاپانو مصارف نه پوره کول، خانقاګاني [ چله خانې ] د بد اخلاقي هډې ګرځيدلي وې

، د هغه د ثلورو ديوالو ترمنځ به د نوو زيږلو کوچنيانو به په جار عامه وژنه کيدله ، د چرچ کارکونکو او مسيحی ملايانو حتی د محرمو ښځو سره ناروا اړيکې لرلی او د فطرت په خلاف جرمونو ئی د حد نه اوښتی وه په کليساګانو کې د ګناهونو اعتراف کول د بدوکړو ذريعه ګرځيدلی وه، د مذهبی کتابونو ژباړه په نورو ژبو منعه شوی وه ترڅو خلک د ناپوهی په تياره کې پراته وی او د پاپانو هره خبره واوری ا وويی منی ، خو د لوتر د اصلاحی خوځښت نه وروسته بائيبل په نورو ژبو و ژباړل شوه .

د دی ډول خبرو تفصيل د اروپا د اخلاقو تاريخ او د ساينس او دين جګړه په کتابونو کې موجود دی .

° په يوه لسمه عيسوی پيړی کې د شاهنشاهيت او پاپائيت ترمنځ د اقتدار د لاس ته راوړو جګړه پيل شوه ،چې په حقيقت کې د ملوکيت د دوو نظامونو ترمينځ جګړی وه او په دی وخت کې خلک ددی دواړو په غلامی کې تړلی وو .

ددی څخه وروسته د دين او ساينس ترمنځ جګړه ونښته ، پاپ ساينس پوهان او علماء د ځان له پاره خطر وګڼل ، نو پدی خاطر د کليسا خاوندانو ساينس پوهان او د طبعيت پوهان په بی دينی تورن کړل په داسی حال کې چې د الله جل جلاله دين د ساينس مخالف نه دی د پاپائيت او ساينس ترمنځ د نښتی په دوران کې د طبيعی علومو مشهور عالم برونو ئی يوازی په دی جرم ژوندی وسيزه چې هغه د ځمکې له کری پرته د نورو کائناتو يادونه هم کړی وه او ګليليو ئی په دی خاطر په دار وځړاوه چې هغه د ځمکې په حرکت عقيده درلوده [ ددی نظرئی ريښتينوالی اوغلطو الی دلته د بحث موضوع نه ده ] او د دی ډول جرمونو په تور کې ئی لږ تر لږه 32 زره کسان ژوندی وسيځل ،"جان ډيون پورټ په خپل کتاب اپالوجی‌آف محمد صلی‌الله و سلم ايند قرآن کې ليکې چې : د دينی محکمو د فيصلو په اساس دوولس

مليونـه خلـک وژل شـوی دی او دا وينـه تويونـه پـه عيسـائی تولنـه کې خپله د عيسائيانوپه لاس شوی ده[51] .

د ملايانو او راهبانو د دنيا پالنی او نفس پالنی ته په اشاری کولو سره الله جل جلاله فرمايی :

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنْ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ [د التوبه سورت 34 آيت ]

[ ای مومنانو ! ددی اهل کتابو د زياترو علما ؤ او روحانيونو حال دا دی چې د خلکو مالونـه پـه نـاروا لارو خوري او د الله جـل جلالـه د لاری څخه ئی منعه کوي ] .

خلکو د پاپائيت دا احمقانه او ظالمانه نظام د دين په نامه قبول کړ چې د پاپ څخـه د نفرت کولـو ترڅنګ ئـی د ديـن څخـه هم کرکـه پيـدا شوه چې همدا کرکه بيا وروسته د ډاروين ، مارکس او فروئيډ پـه څيرخلکو نوره هم زياته کړه ، همدا علت دی چې نن اروپا د ماديت او بی دينی په سيلاب کې غرقه او تباه پاته شوه، پاپايت او تيوکراسی ته خلک دينی حکومت وايی- حال دا چې دا دينی حکومت نـه وه ، بلکه د پاپانو حکومت وه او دا هم د ملوکيت او لا دين جمهوريت پـه څير شرکې نظام دی [ اعاذنا الله منها ][52].

### سيکولر [بی دينه ] جمهوريت يا ديموکراسی:

تو نے کيا ديکھا نھين مغرب کا جمھوری نظام

چہرہ روشن اندرون چنگيز سے تاريک تر

51 رحمه للعالمين دقاضی محمد سليمان سلمان منصورپوری ليکنه دوهم ټوک 214 مخ د پاکستا ن لاهورچاپ

52 د پاپائيت ددی بحث زياتـه برخـه د سـيد ابـوالاعلی مـودودی رحمـه الله عليـه د تفسير تفهيم القرآن او د مولانا ابوالحسن علی ندوی رحمه الله عليه د کتاب (انسانی دنيا پر مسلمانوکے عروج وزوال کا اثر) څخه اخستل شوی ده

جمهوریت اک طرز حکومت ھ کہ جس مین
بندون کو کنا کرے ھین تولا نھین کرے
علامه اقبال رحمه الله علیه

[ آیا تا لیدلی نه دی د غرب جمهوری نظام چې څیره ئی روښانه ده خو د ننه د چنګیز د نظام نه هم تیاره دی جمهوریت د حکومت هغه طرز دی چې انسانان په کې شمیرل کیږی خو تول کیږی نه ، جمهوریت په خپله اصلی عربی معنی کې کوم خراب شی ته نه ویل کیږی لکه څنګه چې ابن منظور افریقی رحمه الله علیه لیکلی دی چې :

الجمهور هی الرمله المشرفه علی ما حولها المجتمعه الرمل الکثیر المتراکم الواسع ، والجمهوره الارض المشرفه علی ما حولها ، و جمهورکل شی ء معظمه و جمهورالناس جلهم [ جمهوریت د شګو هغه غونډی ته ویل کیږی چې د خپلی شاو خوا ځمکې څخه پورته او مجتمع وی یا یو د بل د پاسه د شګو پراخ ډګر ته جمهور ویل کیږی ، جمهوره هغه ځمکې ته ویل کیږی چې د شا او خوا ځمکې څخه جګه او لوړ وی ، او په هر شی کې ډیر ته وویل کیږی او جمهور الناس څخه مقصد د خلکو اکثریت دی[53]] .

د حدیثو، فقهی او لغت په کتابونو کې د جمهور د کلیمی لغوی معنی په همدی مفهوم وار وار راغلی یعنی ډیر، ښکاره او یا لوړ رتبه وګړی چې په دغه ډول استعمال کې ئیکومه شرعی بدی نه شته ، د اسلامی ریاست مشر جمهورالناس یا د هغوی د استازو [ اهل الحل والعقد] لخوا ټاکل شوی او د هغوی باورئی تر لاسه کړی وی نو ددی امله د اسلامی حکومت نظام یو جمهوری او شورائی نظام دی، خو اوس زمونږ بحث په جمهوریت یا جمهور نه دی بلکه زمونږ د څیړنی موضوع دیموکراسی ده، غربی خلکو د جمهوریت فکر د عربی ډیکشنری څخه نه دی اخیستی، بلکه د یونانی کلیمی د دیموکرا سی

---

[53] لسان العرب 4 ټوک 149 مخ جمهر ماده

څخه ئی اخیستی دی چې معنی ئی د خلکو حکومت - د خلکو په واسطه - د خلکو له پاره .

په دی نظام کې د حق معیار او د قانون مصدر د خلکو خواهشات او غوښتنی دی، خلک د پوره اختیاراتو او قدرت څښتان دی او جمهوریت مطلق العنان نظام وی ، په دی نظام کې د خلکو نماینده ګانوته د الله جل جلاله ، رسول او آسمانی کتابونو یا اخلاقی میعارونو پیروی او تابعداری ضروری نه وی ، بلکه د خلکو د خوښی او غوښتنو پیروی او وفا داری ضروروی وی لکه چې خلک خدای وی او د خلکو نمایندګان د هغوی رسولان وی [ نعوذبالله ] .

د دی مشرکانه نظام د سیاست د بنسټیزو اساساتو د څیړنی ترمخه د دیموکراسی په هکله څه ویل ضروری دی ترڅو د هغی د پوهیدو په اساس په راتلونکو بحثونوکې یوڅه آسانی را پیدا شی .

**د دیموکراسی شالید**

د پادشاهۍاوپاپائیت دکړه نو په خلاف د یموکراسۍمنځ ته راغله کله چې خلک دپادشاه د سیاسی بربریت او د پاپ د دینی ظلم او تیری څخه تنګ شوه نو هغوی بی قیضی آزادی ته لاس وروا چاوه او د بی دینه سیکولر جمهوریت آزادی یی غنیمت وګڼله ، د آزادی په مینه کې دوی د پادشاه او پاپ په څنګ کې د الله جل جلاله ، رسول ، دین ، مذهب او اخلاقوڅخه آزاد شول .

د تاریخی دوری ترمخه دانګلستان په جزائروکې د مختلفو نژادونوخلک اوسیدل چې د بیلو بیلوځایوڅخه راغلی وه په دی خلکوکې زیات شمیر د برټنون وه او د همدی قوم د نوم به اساس د دی جزیری نوم هم برتانیه کښیښودل شو د دی ډلی دینۍاو مذهبی مشرانوته به ئی ډروئډ ویل چې د شخړو فیصلی به ئیکولی .

د 57 میلاد څخه وړاندی تر450 عیسوی کال پوری انګلستان د رومی شاهنشاهی په واک کې وه 507 کاله برټنیانو د آزادی هلۍځلی

وکړې خو د ناکامی سره مخامخ شو، همدا علت دی چې ملکه [بوډیشیا] تر اوسه د ملی قهرمانی په نوم یادیږی د رومیانود حکومت څخه د آزادی د ترلاسه کولو وروسته د انګلستان خلک ، 1688 عیسوی کال پرتمین انقلاب او د 1689عیسوی کال د فروری د بنیادی حقوقو د اعلان پوری 1235کاله د ملکې یا غیر ملکې کورنیو د مطلق العنان میراثی پادشاهیو او د هغوی مراعات اخیستونکو فیودالانو په دوه ګونی غلامی کې تړلی وه که څه هم په 1214عیسوی‌کال کې په میګناکارټا منشور کبیر[ لوی مرام ] باندی چې د انګلستان په تاریخ کې د جمهوریت د بنسټ په نامه مشهور دی پادشاه لاسلیک کړی وه خو په حقیقت کېدا د لویو لویو فیوډالانو،او پادریانو له پاره د مراعات ورکولو[ منشورکبیر] وه ځکه چې د هقانانو، مزدورانو او غریبو خلکو د دی منشورڅخه هیڅ ګټه نه شوه اخیستی، په همدی ترتیب سره ئی شاهی لوئی غونډی ته د[ پارلیمان ] نوم ورکړ خو دا ټول په نوم کې خلاصه شوی وه په حقیقت کښی پادشاهی د فیوډالانو او امرا ؤ د غوښتنو پوره کول وه .

په 1649عیسوی کال کې که څه هم جمهوریت غوښتونکو د وخت لومړی شاه چارلس په مړینه محکوم کړ او تر یوه حده پوری جمهوری حکومت هم جوړشوی وه خو یولس کاله وروسته په 1960 میلادی کال پارلمان یوځل بیا دوهم چارلس د پادشاهی په ګدی کښیناوه .

د 1689عیسوی کال څخه تر اوسه پوری دی خلکو قانونی شاهی په خپلی سینی پوری کلکه نیولی او د خپل ملت خزانه د" برطانیی د تاج " په نوم لګوی[54] [ فاعتبروا یا اولی‌الابصار ] .

د غربی تمدن د نسب لړی په پخوانی یونانی تمدن پوری نښلی‌اوهمدا د هغی اصلی‌مرکز دی ، د دی تمدن څخه دغرب خلکو

---

[54] د برطانوی پادشاهی د تاریخ لنډیزولیم لینګر د نړی تاریخ دوهم اودریم ټوکونه څخه رانقل شوی .

یوازې د شاهنشاهی سیاسی نظریه نه وه زده کړې بلکه ماده پالنه ئې هم هغوی ته په میراث کېپرې ایښې وه ، د یونانی تمدن امتیاز یوائې په مادیت کې دی او افلاطون په خپل کتاب [ ریاست ] کې د ځوانانوپه بې‌قیده ژونداو د هغوی په نه خلاصیدونکې حرص باندی ډیری دردونکې یادونې‌کړې دی ځکه چې هغه په خپله په توحید او اخلاقی بندیزونو باندی عقیده درلوده د یونانیانو په ځای رومیان منځ ته راغله خوپه مادیت او حیوانیت کې دوی د خپلو پلرونو او اسلافو څخه نور هم مخکې ولاړل، نو د ماده پالنی د دغی سیلاب د مخنیوی په خاطر رهبانیت منځ ته راوړل شو خو رهبانیت د پاپائیت ځیره غوره کړه ،او د دنیا پالنی ټول پخوانی ریکاردونه یې ورمات کړل دوی د پوهانواو علماو په عام قتل شروع وکړه او په دی اساس خلک د شاهی او پاپائیت په دوه ګونی غلامۍکې راښکیل شول او دوه ډوله د غلامی ځنځیرونه ئی غاړوته ورولویدل .

عام خلک د اسلام د دین څخه خبرنه وه خود شاهی او پاپائیت څخه په تنګ شوی وه او له همدې‌کبله وه چې د دینې‌کړنو په خلاف په هغوی‌کې د دښمنی اوکینی ریښو ځای وینو په او له مرحله کې د غرب د فلسفی د نیچرل ایزم [ د شیانو مادی طبعیت] د فکر په څنګ څنګ کې دوی په الله جل وعلی شانه هم عقیده درلوده ، غربی ډیکارت چې په 1650عیسوی کال کې مړ شوی له یوه پلوه د الله جل جلاله د وجود قایل وه او له بلې‌خوا به ئی ویل چې دا نړۍ د طبعی قوانینو لاندی په خپله چلیږی ، نوکه چیری الله جل جلاله موجود هم وی نو د هغه ددی نړۍ سره څه کار نشته ، لوتر چې په 1866 عیسوی کال کې ئی اصلاحی تحریک شروع کړی وه هغه هم د مادیت او تذبذب د مکروبونو مقابله ونشوه کړای .

د دین او مذهب په خلاف د تشکیک ، دوه ګونی تعصب او کینی دا دوره روانه وه چې په 1859عیسوی کال کې داروین یوکتاب د "

اصـل الانـواع " پـه نـوم بانـدی خپورکړاو پـه 1871 مـیلادی کـال کې د نسـب نامـه آدم پـه نامـه کتـاب ولیکـه چې پـه هغـی کې داسـی نظـر وړاندی کړی وه ، چې بشـر د بیـزو یـو ارتقـاء یافتـه شـکل دی ، چې اصل مقصد ئی د خپلـو نفسـی غوښتنو پـوره کـول او د نـړۍ د آرام او سهولتونو څخه مزه او ګټه اخسـتل دی ، د مخلوقـاتو او کائنـاتو ټول نظام د طبعی قوانینو په بنسټ پـر مخ ځی ، نـه کـوم خدای شـته ، نـه رسول ، نه آخرت شته او نه د انسان روح [نعوذباالله ].

کارل مـارکس د انګلیس پـه مرسـته 1847عیسـوی کـال کې پـه پټـه توګـه یـو کمونسـټ لـیګ [ د کمونسـټانوګوند] جوړکړ او بیـا هغـوی دواړو " کمونسـټ مانیفسـټ " جوړکړ - مـارکس د داروین د فلسـفی پـه اساس وویل چې انسان یوائې یو حیوان دی چې د ډوډی په خاطر لاس پښی وهی طبقاتیکشمکش [ پوړیزی هلیځلی ] او د جدل فلسـفه د مارکسیزم اصل بنسټ دی ، هغه وویل چې دین تریاک دی اوکمـونیزم د دین او اخلاقو له منځه وړل غواړی .

سـګمنډ فرائـډ پـه 1900عیسـویکال کې خپـل کتـاب د خوبونـو تعبیـر ولیکـه او پـه 1904عیسـوی کـال کې ئـی خپـل بـل کتـاب [ د ورځنـی ژونـد نفسـیات ] خپورکړ، دا د نفسـیاتو د نـوی علـم تهـداب ایښودونکې ګڼل کیږی نوموړی د داروین فلسفه نوره هم پـرمخ بوتلـه اووئی ویلی چې انسان د خواهشاتو او شهوت نه پرته بل شی نـه دی ، جرم د انسان فطری غوښتنه ده نو دی ته باید پـوره آزادی ورکـړل شـی ، الله جـل جلالـه ، رسـول ، دیـن او اخـلاق دا ټـول د ټـولنیزو فشـارونو پیدا ایښت دی اوکه نه نو په حقیقت کې دا وهم دی .

## د جان لاک او روسو نظریات

د اروین ، مـارکس ، فروئـد او نـورو غربـی پوهـانو د روحانیـت پـه ځای خلکوته د ماده پرستی اوحیوانیت زده کړه وروښوده خو جـان لاک ، روسو او ځینی نور سیاسی پوهانو د بی دینه جمهوریت او یا د خلکو

د حاکمیت غړ جګ کړ.

کله چې په کال 1688 میلادی کې د ستوراټ د کورنی د شاهانو اوخلکو تر منځ د کورنیو نښتو په نتیجه کې [ پرتمین انقلاب ] راغی نوجان لاک چې په1704عیسوی کال کې مړشوی په1690عیسوی کال د انقلاب نه دوه کاله وروسته خپل کتاب سول ګورنمنټ [ دخلکوحکومت ] تر نوم لاندی خپورکړ چې هغه د فکر لنډیز په دی ډول دی : د بشری ټولنی پیل د ښځی او نر ترمنځ د ازدواجی اړیکو په اساس شروع کیږی او دا اړیکې د دواړو د آزادوغوښتنو ا وآزاد تړون په واسطه مینځ ته راغی که څه هم سړی ته په ښځه باندی یو څه اختیار په لاس ورځی خو دا باید مطلق العنانه نه وی دواړو سره باید د ازدواجی اړیکو د پای ته رسولوحق هم موجود وی همدا ډول باید یو کورنی نظام وی ، چې هلته د کورنی مشرته یو څه اختیارات ورکړل شوی وی اوکورنۍکولای شی چې وغواړی دا اختیارات بیرته تری سلب کړی، په یوه سیاسی ټولنه کې هم د همدارنګه تړون د اصولو څخه کار اخیستل کیږی ، خلک باید د اعلی ځواک او ټولو اختیاراتو څښتنان اوسی د هغوی د نفس غوښتنه اوخوښه باید د قانون سرچینه او د طاقت مرکز و اوسی او حاکم ته په کار دی چې د خلکو غوښتنی پوره کړی ، ښه ټولنه هغه ده چې په هغۍکې اختیارات د یوه وګړی په لاس کې نه وی بلکه د خلکو د منتخب شوو نمایندګانو په لاس کې وی، البته ده د قانونی شاهی د ټینګولوتائید هم کړی دی[55] .

روسو په اصل سوئیسی وه خو په فرانسه کې اوسیده او په فرانسه کې هغه وخت ناوړه شاهی او فیوډالی نظام قائم وه چې په خلکو به ئی په زورکار کاوه ، په نوموړی د فرانسی داخلی حالاتو او د انګلستان [ بهترین جمهوری انقلاب ] سخت تاثیر وکړ او د همدی تاثیر په نتیجه

[55] سول ګورنمنټ دجان لاک دوم لیکنه فصل عربی ژباړه د 1959عیسوی کال بیروت چاپ .

کې ئې په1762عيسوی کال کې خپل يو مشهور کتاب معاهدۀ عمرانی [ ټولنيزتړون ] ترنامه لاندی خپورکړ، هغه د هابس مطلق العنان شاهی حکومت او د جان لاک قانونی شاهی حکومت دواړه لغواو په ځای ئی سوچې د خلکو د حکومت نظريه رامنځته کړه او د خلکو اراده او د هغوی غوښتنی ئی د قانون سرچينه وګرځوله د روسو د دی نظر په اساس په فرانسه کې په 1789 عيسوی‌کال کې يو عمومی انقلاب منځ ته راغی، همدا راز د امريکا د خپلواکې اعلان هم ، د 1776عيسوی کال د جولايي په څلورمه نيټه هم د همدی نظری [ د خلکو مطلق واک] يوه برخه وه چې د1783کال د ستمبر د مياشتی په دريمه نيټه انګلستان د پاريس په صلح نامه يی لاس ليک وکړ او هغه يې په رسميت وپيژاند چې په نتيجه کې د امريکا متحده ايالاتو ترنامه لاندی يو خپلواک حکومت جوړشو .

**د ديموکراسی بنسټونه** :

د همدی څيړنی په رڼا کې اوس د غرب د جمهوريت اساسی اصول ترڅيړنی‌لاندی نيسو.

**ا }د خلکو حاکميت** :

ددی اصل څرګندونه ديموکراسی ته يوه کتنه کې شوی چې نتيجه ئی‌دا ده چې د قانون سر چشمه، د خلکو غوښتنی، اراده او خوښه ده .

2 }**سيکولرازم [د دين او سياست ترمنځ پوره بيلوالی** :

ددی اصل ترمخه په جمهوری ياد خلکوپه حکومت کې‌هيڅ رسمی دين وجود نه لری خو د هيواد اوسيدونکو ته په خپل ورځنی ژوندکې دينی او مذهبی خپلواکې ورکړل شوی وی چې په ټولنيز، تمدنی اوسياسی معاملوکې دين او مذهب ننه ويستل قانونی جرم شميرل کيږی که چيری څوک د خپلی خبری د تايد له پاره د دنيا ټول مذهبونه او ټول آسمانی کتابونه وړاندی کړی نو بيا هم د هغه خبره د اوريدو او پاملرنی وړنه وی ترهغه پوری چې د خلکو استازی د هغی تائيد او

ملاتړ و نه کړی، ددی نه پرته که چیری یو شی په ټولو دینیکتابونوکې ناروا او حرام ښوول شوی وی خو د خلکو وکیلان ئیحلال وګڼی نوهغه حلال ګرځی، اوس د نړی ټولو جمهوریتونو سیکواریزم په خپلو اساسی قانونوکې شامل کړی دی .

په 1789 عیسوی کال امریکا د بشری حقوقو په اعلامیه کې سیاست او دین یو د بل څخه جلا کړل چې دا اعلامیه د جرمنی د فرانکفورت او برلن د 1848عیسویکال په اعلامیه کې ا وپه سویزرلنډکې د1866عیسوی کال په اعلامیه کې ومنل شوه اوکمونست روس خو د1919 عیسویکال را په دی خوا په دین او مذهب پسی خپل لوراو څټک را خیستی وه .

او په پاکستان کې زیاتو مشرانو سیاسی تربیه د انګلیسانو او یا د ګاندهیڅخه اخیستی او زده کړی ئی هم په انګلیسی ادارو او پوهنتونونو کې حاصل کړی ، نو له همدی امله د هغوی په فکرونوکې هم د [ سیکولرزم ] نظری خپلی ریښی غځولی دی ، خو الحمدلله چې د سید ابو الاعلی مودودی ، حسن البناء او نورو پوهانو رحمه الله علیهم په کوښښونو دا خبره عامه شوی چې اسلام د ژوندانه یومکمل نظام دی او دا په حقیقت کې یوائی د عقیدی او عباداتو دین نه دی . په اسلام کې د ټولنیزتمدن اوسیاسی امورو په هکله هم پوره لارښوونی شته .

علامه اقبال رحمه الله علیه په بی دینه سیاست باندی په ډیره ښه ډول تنقید کړی :

جلال پادشاهی هو که جمهوری تماشاهو
جداهودین سیاست سےتوره جاتی هے چنګیزی
میری نګاه مین هے یه سیاست لا دین
کنیز اهرمن و دون نهاد و مرده ضمیر
هوئی هے ترک کلیسا سے حاکمی آزاد

فرنګیو کې سیاست هے دیو ب زنجیر

[ که د شاهی د بدبه وی او یا د جمهوریت نخری ، نوکه دین د سیاست څخه جلاشی نو چنګیز به تری جوړه ، زما په نظردا بېدینه سیاست د اهرمن د وینځی او پست او مړ وجدان څخه عبارت دی ، د کلیسا په پرینبولو خو حاکم آزاد شو ، د فرنګیانوسیاست یو بی زنځیره دیو دی ] .

3 } **لبرالیزم [ بې‌قیده اوبی واکوخپلواکې** :

دیو استبداد جمهوری قبا مین پاے کوب

تو سمجهتا هے یه آزادی کې هے نیلم پری

علامه اقبال رحمه الله علیه

د جمهوریت په چینه کې د ظلم بلا داسې‌ګډیږی چې ته فکرکوی چې دا د آزادی خیالی ښاپیری ده، کیدای شی د سیکولریزم او د خلکو د حاکمیت زیبښه یوائی د موراو پلار بی قیده خپلواکې اوسی چې دا د خلکو منل شوی جمهوری حق هم ګڼل کیږی ددی خپلواکې په اساس د غرب وګړی الله جل جلاله اود هغه رسول ته هم کنځل کولای شی،د مور، خور،او لور سره جنسی اړیکې ټینګولای شی، لوڅ بربنډ ګرځیدی شی او په کوڅوکې د خلکو ترمخ هم جماع کولای شی نوهرچیرته ئی چې خوښه وی مزی چړچې کولی شی‌که چیری موراو پلار پری اعتراض وکړی نو هغوی نیول کیږی او بندی کیږی او جزا هم ورکول کیږی دا په دی خاطر چې د چا په شخصی ژوندکېمداخله کول قانونی جرم او د جمهوری حقوقو خلاف کاردی . د مور، پلار او لویانو احترام او عزت کول دلبرلیزم اومودرنیزم په خلاف یو خیالی کار دی، د سیاسی خپلواکې په نوم د تحریک چلیدل، مظاهره کول، احتجاج کول، اورلګول، تیری ورول او هر ډول تخریبی عمل کول جمهوری حق ګڼل کیږی ، لبرلیزم یوازی د شاه یا پاپ د غلامی‌څخه خپلواکې ترلاس کولو ته نه ویل کیږی بلکه د هغې‌په څنګ کې د الله

جل جلاله د هدایاتو او د هغه د رسول او د اخلاقو څخه ازادی ته هم ويل کيږی، دا هغه خپلواکي او ازادی ده چې د جمهوریت بيرغ پرته کونکې ئی د خپل ځان له پاره فخرګڼي او نازيږی کوی خو په حقيقت کې دا ډول جمهوريت اوخپلواکي د[حيوانيت] دوهم نوم دی او بس .

4 } **کپيټل ايزم يعنی سرمايه داری اوماده پرستی**:

کر می کفتار اعضای مجلس الامان
يه بهی ايک سرمايه دارون کې هے جنک زرکری
علامه اقبال رحمه الله عليه

[ په غونډوکېد مقررينو دو يناوو جوش، دا هم د پانګوالو ترمنځ د زرګری جنګ دی ] .

د دين او روحانيت څخه د سرکشی لازمی نتيجه همدا وی چې انسان د ګيډی غلام اود الله جل جلاله د بنده ګی په ځای ئی د زرو او سيم بنده ګرځوی . په غربی نظامونوکېد سود اوګټی نه پرته چاته قرض هم نه ورکول کيږی ، د دولت د لاسته راوړلو په خاطرد عصمت او آبرو خرڅول هم ښه کسب ګڼل کيږی چې په دی نظام کې د ټولونه ډير دولت لاسته راوړل او د ځمکو اخستل د ژوندانه مقصد او هدف دی "پناه غواړم په الله جل جلاله سره له دی نه ".

5 } **نشنليزم [ د نورو قومونو استحصال]** :

متاع غير په هوتی هے جب نظر اس کې
تو هر اول لشکر کليسا کې سفير
هے وهی ساز کهن مغرب کا جمهوری نظام
جس کے پر دو مين نهی غير از نوائے قيصری

[کله ئی چې د نورو په مال نظر ولګی نو بيا د لښکر هر مشر د کليسا سفير وی - د غرب په جمهوری نظام کې هماغه زوړ ساز دی د هغه په پردوکېد قيصرد سرود نه بل آواز نشته ] .

د دين او مذهب څخه د غربيانو د مخ اړولو او انکارکولو علت،

قومیت ، رنګ ، نژاد او وطن دی. د هغوی په فکرکې پراخوالی نشته بلکه په جغرافیائی چوکاټ کې بند دی ، قوم پالنه او وطن پالنه د هغوی نوی دین اومذهب دی .

اویا په بل عبارت قوم او وطن د هغوی خدای دی .د خپل قوم دګټو په خاطر د نورو قومونو لوټول او استثمارول د فخر سبب ګڼی،د خپل وطن بد ترین وګړی خپل وروړګڼی، لکه څنګه چې انګلیسانودلوی هند او نورو غصب کړو علاقو استثمارکړی وه،نود هغه ځخه هر یو خبر دی. په امریکه کې چې د تور پوستو او په هندوستان کې چې دنورو کوچنیو ملیتونو سره کوم سلوک کیږی هغه هم د هریوه ترمخه دی. په شرقی پاکستان کې د بنګال په جوړولوکې چې د غیر بنګال مسلمانانو سره کوم وحشیانه سلوک د مجیب الرحمن " عوامی‌لیک " او" مکنی باهنی" ډلوکړی هغه خو ټولو په خپلوسترګو ولید .

دا هغه قوم پرستی ده چې د جمهوریت یوه ستن ګڼله کیږی ، مګرد خپلو خپلوانو او وطن د خلکو خدمت خو د اسلام حکم او د عدل او احسان غوښتنه ده .

6 } **پارټی سیستم یا ګوندی‌سیستم**:

د غربی جمهوریتونو بنسټ د سیاسی ګوندونو په تنافس او مسابقی ولاړ دی په ولسی جرګه کې د مقتدرګوند او مخالف ګوند دوه ډلی موجو دی وی چې دواړه د یو بل د راپرځوولو په کوشش کې وخت تیروی ، د خپل ګوند ګټی د خپل قوم په ګټو پورته ګڼی، مقتدرګوند که کومه ښه فیصله هم وکړی نو اپوزیسون ئی خامخا مخالفت کوی اود دی علت دا ښوول کیږی چې دا زما د ګوند موقف او دریځ دی .

هرګوند د انتخاباتو د ګټلو له پاره جوړښتونه کوی ، د درواغووعدی‌کوی دا ځکه چې دهغوی د سیاست مقصد د اقتدارلاس ته راوړل دی هیڅوک د خپل ګوندی د دریځ پرته په پارلمان کې چا ته

نه ووړ ورکولای شی او نه نظر ، او که نه نو د ګوند څخه شړلی کیږی

د رای د ورکولو په وخت کې د ګوند له خوا د ټاکل شوو کاندیدانو حمایت ضروری دی که څه هم کاندید یو بدکاره، مضر، بدماش، بد اخلاقه او نا اهله شخص وی خو ګوندی دریځ د حق معیار دی .

دا شپږ اصول دی چې په هغی د دیموکراسی مانی ولاړه ده او پارلمانی جمهوریت او داسی نور ټول د کار د طریقی او نظام د چلوونکو پوری تړلی دی خو د جمهوریت فلسفه په همدی شپږو اصولو باندی ولاړه ده .

## اشتراکیت [ سوسیالیزم ]:

لکه څنګه چې جمهوریت دملوکیت او پاپائیت د عکس العمل په نتیجه کې منځ ته راغلی دی نو په همدی ډول سوسیالیزم د غربی پانګه وال جمهوریت د عکس العمل په نتیجه کې منځته راغلی چې لا تراوسه په بین المللی سطحه کې مخ په وړاندی روان دی، سوسیالیزم یوه انګلیسی کلمه ده چې د سوسائټی څخه را اخستل شوی، ماخذ ئی سوسیال دی چې معنا ئی [ټولنیز] ده د سیاست او اقتصاد په اصطلاح د سوسیالیزم تعریف دا ډول کیږی :

په هغه نظام کې چې د مملکت ټولی تولیدی منابع دیو وګړی یا څو وګړو په ځای د ټولنی ټولو افرادو په ملکیت کېوی او مقصد ئی د ټولنی او شخص دواړوګټه اوښه والی وی.اویووګړی ته په کې د ژوندانه د بنسټیزو ضرورتونو د فکرڅخه خلاصون ورکړل شی.

ددغی نظر ئی یوڅه خبری دیونان د افلاطون او د ایران د مزدک په مسلکونوکې هم لیدل کیږی بلکه د سوسیالیزم فکر په هر وخت کې په یو شکل نه یو شکل موجود وه، خو په دی وروستیو وختوکې د کارل مارکس په واسطه د یوی سیاسی او ټولنیزی فلسفی او نظام په شکل راوړاندی شو، له همدی کبله مارکس د علمی سوسیالیزم یا سائنټفک سوسیالیزم د پلار په نوم یادوی نو له دی امله سوسیالیزم ته

.......................

مارکسیزم هم وایی .

کارل مارکس په 1818عیسوی‌کال په جرمنی کې په یو یهودی کورنی کې سترګی پرانستلی ، په1847عیسوی کال ئی[ کمونسټ لیک ] جوړکړ او بیا ئی د انګلیس په مرسته کمونسټ مانیفسټ [ کمونستی مرام ] ترتیب کړ د جرمنی ، فرانسی او بلجیم څخه د شړلو وروسته په 1849عیسوی کال کې یی د پلازمنی انګلستان لندن کې استوګڼه غوره کړه او د1883عیسوی کال د مارچ په14نیټه په داسی حال کې چې په چوکې ناست وه د دی نړۍ څخه ولاړه چې همدا اوس یی قبر په لندن کې دی که څه هم مارکس په خپل ژوند کې د سوسیالستی انقلاب په راوړلو بریالی نه شو، خو د هغه وروسته د لینن په مشری 1917عیسوی کال د اکتوبر په میاشت کې د روسی په خاوره کې سوسیالستی انقلاب راغی چې نن د امریکې په مقابل کې یو لوی قوت دی .

## سوسیالیزم او د هغه بنسټیزاصول :

1 ] د ژوندانه مادی نظریه :

د مادیت دا نظر د داروین د ارتقا او تکامل په فلسفه ولاړ دی لنډیز ئی په دی ډول دی چې بشر د مادی مکروبونو یو تکاملی شکل دی او ټول حیوانات ، نباتات او جمادات د مادی مختلف شکلونه دی یعنی د خدای پالنی او روحانیت په ځای ماده پالنه د سوسیالیزم بنسټ دی - لینن وایی : د مارکس فلسفه د ماده پرستی فلسفه ده .

2 ] د پاك ذات الله جل جلاله د وجود خګخه انکار یا دهریت :

په اصولی توګه هر سوسیالیست دهری دی ، د الله د موجودیت په هکله مونږ وایو چې مونږ په الله جل جلاله یقین نه لرو او مونږ ته دا په ډاګه ده چې دینی او مذهبی مشران د ځمکې څښتنانواو د پانګی خاوندانو د خدای تصور منځ ته راوړی دی چې هغوی هم د لوټ مارانو په شان د خپلوګټو ساتنه وکړی .

لینن په بل ځای‌کې وایی" چې د خدای تصور یو د شرم نه ډك

خپریدونکې مرض دی ".

3 ] دین خګخه انکار :

د مارکس دا وینا د هرچا په خوله کې ده چې ویلی یی دی چې دین یو تریاک دی - لینن وایی " مارکسیزم ماده پرستی ده او د همدی په اساس هغه د دین سخت مخالف دی" مونږ باید د دین په خلاف وجنګیږو، د دین جرړی وباسو" تل دی وی دهریت ".

اوس د روسانو په قانون کې د دین په هکله د خبرو کولواجازه نشته خو د دین په خلاف پروپاګندکول د ټولو اوسیدونکوحق دی .

4 ] د کورنی نظام خګخه انکار :

مارکس کورنی نظام د بورژوازی نښه ګڼی، د کمونست ګوند په اساسنامه کې مارکس لیکلی دی چې " مونږ د کورنی له منځه وړل غواړو".

لینن په خپله یوه ویناکې داسی ویلی ووچې " مونږ د حلالی او حرامی اولاد ترمنځ توپیرد منځه یوړ" شریکې ښځی نیول د مارکسیزم اصول دی

5 ] د شخصی ملکیت خګخه انکارکول :

مارکس فردی ملکیت د پانګوالی ډلی یوه استثماری حربه ګڼی او د یوی‌کمونستی ټولنی د جوړولو له پاره ددی ملکیت له منځه وړل یو ضروری امرګڼی،لینن وایی : "کمونست"یوه لاطینی‌کلمه ده ځکه چې د شریک لاطینی معنی‌کمیونس ده ، نو کمونستی ټولنه هغه ټولنه وی چې په هغه کښرڅه شریک اوګډ وی یعنی ځمکې او فابریکې ګډ او شریک ملکیت وی په هغه کې خلک په ګډه کار وکړی او له هغه څه شریکه ګټه واخلی .

سوسیالیزم په حقیقت کې یو بدترین سرمایه داری او د زحمت کشانو په نوم د خلکو د استثمار ولو یو ظالمانه نظام دی ځکه په ملوکیت کې شاه په ټول دولت قبضه نه شی‌کولای او همدا راز په پانګه والو نظامونوکې هم په میلیونونو انسانوکې یو محدود شمیر

پانګه وال اوسی خو په سوسیالستی ټولنه کې یوازی یو سرمایه دار وی اوهغه هم د حکومت مشر

6 ] جدلي فلسفه او طبقاتی کشمکش :

مارکسیزم جدلي فلسفه او طبقاتی هلی‌ځلی یو حتمی امر ګڼی، مارکس وایی چې : په مادی عواملو او ټولنیزو قوتونو کې ټکر واقع کیږی ، تصورونه ، خیالونه او نظر ئی د همدی مادی حالاتو او ټولنیزو قوتونو د ټکر په نتیجه کې پیدا کیږی، طبقاتی کشمکشونه په هره زمانه کې موجود وی، په لومړی وختوکې د غلام او بادار تر منځ، د هغه وروسته د دهقان او د ځمکې د خاوند ترمنځ او اوس دا لاس اچونه د بورژوا [ پانګه والو ] او پرولتاری [ مزدورانو] د طبقوترمنځ روانه ده چې دا آخرنی جنګ دی چې پرولتاریا به په کې بری ترلاسه کوی د سوسیالیزم د سیاست نظریه دا ده چې نړۍ په دوه طبقو وویشل شی اوبیایوه طبقه دمنځه لاړه شی او بله طبقه غالبه شی، سوسیالیزم زیارایستونکوته غږکوی،او هغوی جنګوی د ظلم د له منځه وړلو په ځای دیوی ډلی دله منځه وړل اود بلی ډلی راپورته کول د دوی اساسی قانون دی په دی طبقاتی جنګ کې یوازی دا نه چې ځمکه لرونکېاو پانګه وال مړه کیږی بلکه زیارکښان اومزدوران هم په ټولنیز ډول وژل کیږی کله چې په 1917عیسوی کال کې په روسیه کې کمونستی انقلاب منځ ته راغی، نوهغه خلک چې په لومړیو کلونوکېووژل شوه د هغوی شمیریوملیون دری سوه شپږاویا زره شپږسوه شپږشپیته کسان وه چې په دی جمله کې یوملیون او شپږاتیازره مزدوران اوزحمت کشان شامل وه او دوه سوه نوی زره کسان د مختلفوکسبونوخاوندان پکې په قتل ورسیدل خو یوازی پنځه شپیته زره اته سوه پنځه شپیته کسه پانګه وال پکې وژل شوی وه دا هغه تحفه وه چې مزدورانو او زیارکښانو ته سوسیالیزم ورکړی وه

7 ] دیکتاتوری پرولتاریا یا دکارکګرانو آمریت :

کارل مارکس وائی چې په عبوری دوره کښ پرولتاریا دیکتاتوری

یا د کارګرانو آمرانه حکومت جوړول ضروری دی .

ترڅو د پانګه والو د پاتی شوو نښـواو پټـو اثراتـو څخـه ټولنـه پاکـه شی دکارګرانو د آمریت شکل د تیرشوو آمریتونوڅخه پرته بل څه ندی ځکه چې د مارکس په نظر هر ډول حکومتونـه د نوعیت لـه پلوه آمرانـه دی د سوسیالیزم مشران وایی : دکارګرانو د حکومت دجوړیدوله پاره ضروری شرط په ډیری چالاکۍ،او آزادی سره پانګه والـو او د ځمکې د خاوندانواو د هغه ددوستانود تدافعی قوت د ختمولوله پاره د زورنه کار اخیستل دی او هر هغه څوک چې په دی خبره نه پوهیږی هغه انقلابی نه دی نو هغه باید د کارګرانو د مشری یا مسئولیت څخه لری شی .

لینن وایی : انقلابی‌حکومت ته آمرانه کړنه په کارده .

8 ] أله ایزه دیکتاتوری :

که څه هم د روسیی د اساسی قانون له مخی هر18کلن وګړی کولای شـی خپلــه رایــه اســتعمال کــړی او هــر23 کلــن اوســیدونکې پــه انتخاباتوکې د کاندید پـه توګـه ودریدای شـی نـو پـه همدی ترتیـب د اساسـی قـانون لـه نظـره [سـپریم سـویت] چـې د ریاسـت ټولونـه لویـه جوړونکې اداره ده او د کاغـذ پـرمخ د دی اداری د اختیـاراتو یـو اوږ د فهرست هم لیکل شوی .

سـوویټ اف یـونین د شـوروی جمـاهیری اتحـاد او [ سـویټ اف نیشلیټر] پر دوو ادارو باندی مشتمله ده دا اداره د څلوروکالو لـه پـاره د عـامو انتخابـاتو پـه واسطه منځ تـه راځی، سوسیالستی مشـران دا ادعا کوی چې روسی حکومت په صحیح ډول جمهوری حکومت دی .

خو دا ټـول ځی ظاهری بڼه لـری اصلاً د اقتـدار واګـی دکمونسـت ګوند په لاس کې دی د کمونسټ ګونـد نـه پرتـه بـل کـوم سیاسـی ګونـد وجود نلری څوک چې د دی ګوند رکن نه وی نو هغه پـه انتخابـاتوکې د کاندیـد پـه توګـه نـه شـی ودریدلای او دکاندیـد انتخـاب هـم کمونسـت ګوند په خپله کوی د ګوند د کاندیدانو پرته بل هیڅ څوک مقابلی ته نه شی راوتلای نو همدا علت دی چې له انتخاباتو وروسته نړیوالـو تـه دا

اعلان کوی چې ګویا زمونږ ټول کاندیدان پرته له مقابلې څخه کامیاب شول د نومونو په ګوته کولو ته انتخابات او د ګوند آمریت ته جمهوریت وایی چې په حقیقت کې نه انتخابات شته او نه جمهوریت بلکه ګوندی دیکتاتوری ده .

ټولی پریکړی ګوند کوی، د[سپریم سوویټ] یوازی په نوم قانون جوړوونکې اداره په کال کېدوه ځله د اته یا لس ورځو له پاره راغونډتل کیږی ، ترڅو پریکړوته رسمی شکل ورکړی ، دا اداره د غور و فکریا بحث او څیړنی له پاره نه ده جوړه شوی، بلکه د ګوند د فیصلو د توثیق له پاره جوړه شوی ده. د وزیرانو د شوری ټاکل که څه هم د اساسی قانون له مخی باید د انتخاباتو له لاری وشی خو دا کارهم ګوند کوی .

9 ] د مشرانو د یکتاتوری :

د ګوند آمریت اود هغی اختیارات هم یوه ظاهری بڼه لری خو اصل اختیارات او اقتدار په دی نظام کې د ګوند د مشرانو په لاس کې وی ، ستالین وائی: " مونږ لیبرال [آزادی خوښوونکې] نه یو، مونږ ته د رسمی جمهوریت څخه د ګوند ګټی ډیری مهمی دی" په کمونستی هیوادونو کېمشر د قدرت نه لری کول تقریباً د امکان نه لری وی ، ستالین او ماوزتونګ د ژوند ترآخری سلګی پوری د خپلو خپلو هیوادو مشران وه که څه هم له مړینی وروسته دی دواړو ته کنځل کیږی خو د هغوی په ژوندکې په هغوی تنقید کول مرګ ته د بلنی سره برابر وه .

په کمونستی نظامونو کې مشرانو سره د اختلاف کولونتیجه هماغه وی لکه چې تراتسکې ورسره مخامخ شوی وه .

حقیقت دا دی چې سوسیالستی په اصل کې د لیډرانو شخصی آمریت او د یوه وګړی د ظالمانه پادشاهی بل نوم دی .

دا هغه لس اساسات وه چې د سوسیالیزم سیاسی نظام پری ولاړ دی د سوسیالیزم د اقتصادی نظام څیړنه د دی کتاب موضوع نه ده

زمونږ مقصد یوازی ددی نظام د سیاسی اړخ پیژندنه ده [56].

## اشتمالیت [کمونیزم ]

یه علم وحکمت مهره بازی یه بحث وتکرارکې نمایش
نهین هے دنیا کو اب کوارا پرانے افکار کې نمایش
تری کتابون مین اے حکیم معاش رکھاهی کیاهے آخر؟
خطوط خم دار کې نمایش مریز و کجدارکې نمایش

[ دا د علم او حکمت لوبی او دا د بحث او تکرار ښودنی- دنیا نوره د دی فرسوده افکارو د نمایش زغم کونکې نه ده - ای د اقتصاد حکیمه ستا په کتابونوکې - د دی کږو وږو او ښکته پورته کرښو نه پرته آخر دی څه؟ ] .

د علمی سوسیالیزم خاوندانو د سرمایه داری نظام د پای ته رسولو په خاطردوه پړاوونه ښودلی دی لومړی مرحله سوسیالیزم دی چې په هغه کې د جدلیاتی اصولو او طبقاتی هلوځلو په ذریعه د کارګرانو حکومت جوړیږی چې د پانګه والو او ځمکې لرونکود له منځه وړلو له پاره د غیر طبقاتی ټولنی د جوړولو په منظور اقدامات کیږی چې دا دکمونیزم ابتدائی او عبوری مرحله ده د سوسیالیزم په مرحله کې د تولید د منابعو په ملی کولو سره د ریاست ځواک کلکیږی او هر شخص ته د هغه د کار په اندازه معاش ورکول کیږی .

خو ددی په مقابله کې دکمونیزم یا اشتمالیت په دوهمه مرحله کې د هر وګړی څخه د هغه د استعداد په اندازه کاراخیستل کیږی خو هغه ته معاش د هغه د ضرورت په اندازه ورکول کیږی کمونیزم د سوسیالیزم یوه لوړه درجه ده چې په هغه کې د کارګرانو د پرله پسی

---

[56] په دی بحث کی د سو سیالستی مشرانو د خبرو اقتباسات د صادق محمدامین له اسلام اوکمونیزم نومی کتاب څخه واخیستل شوچی نومړی مستقیمادکمونستی‌کتابونوڅخه دا اقتباسات رااخیستی دی

هلوځلو په نتیجه کې یوه غیر طبقاتي ټولنه منځ ته راځي چې په هغه کې ترقي او خوشحالي وي او د خلکو ترمنځ هر ډول امتیازاتو ته خاتمه ورکړې شوې وي او بیا د هیڅ ډول حکومت او ریاست موجودیت ضروري نه وي بلکه خلک خپل معاملات په خپله جوړوي او د خپلې خوښې په انجمنوکې غړیتوب ترلاسه کوي دطبقاتي امتیازاتو په ځای مساوات اوټولنیز اصول رواجوي چې دا د بشریت د تکامل او لوړوالی مطلوبه مرحله ده خو د 1917څخه تر1980پورې63 کاله وشو چې د اولې مرحلې او عبوري حکومت د پای ته رسولو نښې له ورایه هم په نظرنه راځي .

خوښکاره ده چې غیرمملکتي ګډ ژوند یو غولوونکې حقیقت او خیال دی چې هغه ته رسیدل د امکان څخه لیرې دی او د غیر طبقاتي ټولنې جوړول یوازې د مارکس خیال وه چې په حقیقت کې هیڅ نه دی .

د بې دینه سیاست زېږشګه

دوه نړیوالې نشګتې

د سیاسي نظریو په لړکې چې د څلورونظریو ملوکیت ، پاپائیت ، جمهوریت او اشتراکیت [کمونیزم] یادونه په پورته دوه بابونو کې وشوه - په حقیقت کې دا ټولې نظریې د یوه نظر څانګې دي چې هغه نظرد ماده پرستي د هوی او هوس تابعداری ، بې دینه سیاست [ سیکولریزم] څخه عبارت دي چې نتیجه ئې، حرص ، کینه ، د ګیډې لوږه. اقتصادي او تجارتي رقابتونه قوم پرستي، وطن پرستي او د شهوتونو د خواهشاتونه مړکیدونکې اور په څیر را څرګندیږي او د نړۍ امن له منځه وړي ، د بې دینه سیاست او مادیت په بنسټ د دې ولاړ تهذیب نتیجه نړۍ په دوه نړیو الونښتو کې د هغې تباهي ولیده او اوس دا د روحاني ارزښتونوڅخه سرغړوونکېحیواني سیاست د دریم نړیوال جنګ له پاره ځان تیاروي لوئیس سنائیډر په خپل کتاب د 1939څخه تر 1945پورې نړیوال نښته کې د تباهي په ډیر زیاراو

تحقیق سره د هغی راپور داسی وړاندی کوی : لومړی نړیواله نښته په 1914عیسوی کال شروع شوی وه اود 1918عیسوی‌کال د نومبر په یوولسمه نیټه پای ته ورسیده، په دی نښته کې د ځانی‌او مالی تاوان شمیر په لاندی ډول دی :

په نښته کې د ورتیل وهل شووو خلکوشمیر پنځه شپیته ... میلیونه تنه - مړه شوی عسکر لس میلیونه - عام مړه شوی خلک دیارلس میلیونه- ورک شوی مړه عسکر دری میلیونه - زخمی عسکر شل میلیونه - پناه اخیستونکې لس میلیونه - بندیان دری میلیونه - یتیم شوی کوچنیان نهه میلیونه - کونډی شوی ښځی پینځه میلیونه

مالی تاوانونه دری‌کربه او یو دیرش اربه او شپیته کروړه دالر[57].

دا وه د څلوروکالو او دری میاشتو[ 1565ورځو] د ماده پرسته قومونو د وینی تویوونکو نښتو تباهی اوبر بادی ، اوس نو د دوهمی نړیوالی نښتی د تباهی او هلاکت شمیر وګوری چې د 1939عیسوی کال د ستمبر د میاشتی د لومړی نیټی‌د لمرځرک څخه شروع شوی وه او د 1945عیسوی‌کال د می په اتم پای ته ورسیده د2191ورځو نښتو د تاوانونو تفصیل په لاندی ډول دی :

په جنګ کې د ورتیل وهل شوخلکو شمیر او یا میلیونه
د مړه شوو عسکرو شمیراولس میلیونه
د عامو مړشوو خلکو شمیر اتلس میلیونه
د نښتی تاوان کروړونه کربونه ډالر[58].

د 1945عیسوی‌کال د اګست د میاشتی په شپږمه نیټه امریکا د

[57]- نړیوال جنګ دلوئیس سینائیډردغلام رسول مهرصاحب د پاکستان لاهورچاپ
[58] - نړیوال جنګ دلوئیس سینائیډردغلام رسول مهرصاحب د پاکستان لاهورچاپ

جاپان د هیروشیما په ښارکې د اتوم بم وغورځاوه په هغه وخت کې د ښار د اوسیدونکو شمیردری میلیونه او پنځه دیرش زره وه .

د1945عیسوی کال د اګست د میاشتې په نهمه نیټه ئی د دی هیواد په مهم ښار ناګاساکې باندی دوهم اتومی بم استعمال کړ چې د ښار د اوسیدونکو شمیر لکونو ته رسیده او د1861څخه تر 1865عیسوی کال پوری د امریکا په کورنی نښتوکې لس میلیونه انسانان وژل شوی وه [59].

د ویتنام دیرش کلن جنګ چې په 1975عیسوی‌کال د اپریل په 30 نیټه د آزادی د قومی محاذ د فتحې په اساس پای ته ورسید چې په دی جنګ کې لس لکه انسانان مړه شوی چې56 زره کسان په کې امریکایان وه او هم په دی جنګ کې-، امریکاته یوبلیارد او پنځوس ملیارده ډالره تاوان ورسید [60].

دروس او چین دکمونستی انقلاباتو په وخت او یا د هغې نه وروسته چې په لکونو خلک وژل شوی نود هغی شمیر په ډیرو کتابونو او مجلاتوکې خپور شوی دی دا د غربی جمهوریت اوکمونیزم د مفکوری هغه خبیثه ثمره ده چې نړۍ ولیده د مادیت په دی نظامونو کې یوازی په دوه نړیوالو نښتوکې اویا میلیونه انسانان په قتل رسیدلی او همدا اوس د بی دینه سرمایه دارانه جمهوریت توغ جګونکې امریکا او د کمونیزم پیرو روس یو ځل بیا د دریمی نړیوالی نښتی او د میلیونو انسانانو د قتل کولو په کوښښ کې لګیادی ، نړۍ په هرګوټ کې چې نښتی روانې‌دی او یا یی دکیدو امکان موجو ددی د ټولوتر شا همدغه دواړوڅیرونکې قوتونو لاسونه دی .

روسانو د افغانستان د مسلمانانو په قتلولو زړه یخ شوی نه دی او

---

[59] - رسول رحمت ترتیب کوونکی غلام رسول مهر 483 مخ

[60] - د پاکستان د نوای وقت 1975کاله د می اوله نیټه ورځپانه .

بيا د دوستی تر شپر لاندی خپلی اهدافو ته ځان رسوی او همدا راز د ایران او عراق په نښته کې او د عراق اوکویت په نښته کې د امریکا او روس دوارو لاسونه موجود وو امریکا په فلسطین او عراق کې د انسانانو وژل شروع کړی نو راځی ددی چاره اوس دا ده چې بې دينه سیاست پریږدو او دینی سیاست غوره کړو چې بنسټ یی د الله جل وعلی شانه د وحی په اساس اینبودل شوی دی .

سیاسه الوحی هی السیاسه این عقولکم اولی الریاسه

[ یوازی د وحی په بناء سیاست حقیقی سیاست دی نو ای حکمرانانو ستاسی عقل چیری دی ] .

دوحی په بنسټ ولاړ سیاست ته "خلافت" وایی ا وپه راتلونکې فصلونوکې په "خلافت" یاپه بله معنی " دینی سیاست" او د هغی په حقیقت او اصولو رڼا به واچول شی.

## دریم باب

### لومړی فصل

### د خلافت تعریف او د هغی ثبوت د قرآن او احادیثو له نظره

داسلامی نظام ستر داعی، د دینی سیاست امام او ستر مفکر سیدابوالاعلی‌مودودی رحمه الله علیه چې په 1399هجری قمری کال د ذیقعدی په لومړی ورځ وفات شوه وایی : د اسلامی‌خلافت نه د غربیانو په اصطلاح دینی‌حکومت دی لکه [ پاپائیت اوتهیاکریسی ] او نه جمهوری [دیموکراسی ] ده بلکه یو ممتازځانګړی نظام دی .

مولاناسیدابوالاعلی مودودی رحمه الله علیه1947 عیسوی کال د می‌په 9 نیټه په شمالی هندکې دشرقی پنجاب په پټانکوټ نومی علاقه کې د جماعت اسلامی یوی حلقی ته په وینا کې وویل : ننی

تهـذیب چـې نـن پـری پـوره فکـری ، اخلاقـی ، ټـولنیز ، سیاسـی او اقتصادی نظام چلیږی،په دری بنیادی اصولو ولاړ دی .

سیکولریزم : یعنی بی دینه یا د دنیاپالنه [ دنیاپرستی ] .

نشنلیزم : یعنی قوم پالل [ قوم پرست ] .

دیموکراسی : یعنی د خلکوحاکمیت

خو د هغی په بدل کې د اسلام دری صالح اصول دا دی :

د بی دینی په مقابل کې د الله جل جلاله بندګی او اطاعت

دقوم پالنی په مقابل کې انسانیت [ بشریت ]

د خلکو د حاکمیت په مقابل د الله جل جلاله حاکمیت او د خلکو خلافت

.

د 1948کـال د جنـوری پـه 7 نیټـه مولانـا سـیدابوالاعلی مـودودی رحمه الله علیه د جماعت اسلامی امیر د رادیو څخه د[ اسلام سیاسی نظام ] تر موضوع لاندی پـه خپلـه ویناکـې وویـل: د اسلام د سیاسی نظام بنسټ په دری اصولو باندی اینبودل شوی :

توحید [ د الله جل جلاله حاکمیت ] .

رسالت د رسول اکرم محمد صلی‌الله علیه وسلم قیادت] .

خلافت [ نیابتی‌حکومت] .

هغه د اسلام اوجمهوریت ترمنځ د توپیر د بیانولوپه ترڅ کې وویـل: " د غرب سیاسی نظریـه پـه [ جمهوری‌حاکمیـت ] بانـدی ولاړه ده او د اسلام په [ جمهوری خلافت]، هلته جمهور په خپله پادشاه دی خو دلتـه پادشاهی د الله جل جلاله ده او جمهورد هغـه خلیفـه اونایـب دی، هلتـه جمهورخپل شریعت په خپله جوړوی ، خو دلته هغه ته د هغه شریعت په اساس تلل په کاردی چې الله جل جلاله دخپل رسول په واسطه رالیږلی دی ، هلتـه د حکومـت کـار د جمهـورو غوښتنـه سـرته رسـول دی ، خـو دلتـه حکومـت او د هغـی جمهـور ټـول د الله جـل جلالـه د غـوښتنی پـه

مطابق عمل کوی [61].

دغه جمهوری خلافت ته مولا نا سید ابوالاعلی مودودی رحمه الله د تیودیموکراسی نوم ورکړی [ الهی یا دینی جمهوریت " [62].

د دینی جمهوریت د تشریح په هکله مولانا سید ابوالاعلی مودودی رحمه الله علیه لیکي چې : د اسلامی ټولنی هر وګړی د خلافت حقوق اواختیارات لری ، په دی حقوقو او اختیاراتو کې ټول خلک یو شان برابراو حقدار دی نه چا ته په کې په بل باندی برتری حاصله ده اونه څوک کولای شی چې بل څوک ددی حقوقوڅخه بی برخی‌کړی ، هغه حکومت چې د ریاست د امورو د پرمخ بیولو له پاره جوړیږی ، هغه د دی خلکو د خوښی مطابق منځ ته راځی، همدا خلک د خپل خلافت د اختیاراتو یوه برخه هغه ته ورسپاری خو په جوړولوکې ئی د هغوی رایی شامله وی او د هغوی د مشوری په رڼا کې هغه کارکوی هرڅوک چې د دوی اعتماد او باور ترلاسه کړی همغه به د خلافت چاری پرمخ بوزی اوکه ثوک د هغوی اعتماد د لاسه ورکړی نو هغه به د خلافت د منصب څخه هم لری کیږی نو په همدی خاطر اسلامی جمهوریت یو مکمل جمهوریت دی [63].

د مصر ستر پوه او مفکر شهید استاد سیدقطب رحمه الله علیه لیکي چې ځینی خلک د اسلام د سیاسی نظام اړیکې او ورته والی د د بشر په لاس د جوړو شوو پخوانیو او اوسنیو نظامونو سره د ثابتولوکوشش کوی خو هغوی د ډیرکم درک او د ماتی خوړلی ذهن خاوندان دی ځکه چې اسلام د هیڅ یو انسانی نظام مقلد او محتاج نه دی .

بل اختارطریقه متفردا فذاً و قدم الانسانیه علاجاً کاملا [ بلکه

[61] - د اسلام سیاسی نظام 13-14مخونه.
[62] - رسائل مسائل 4 ټوک 188مخ
[63] - اسلام کاسیاسی نظام کتاب 15مخ

اسلام خپل ځانته ځانګړی او ممتاز نظام دی او د بشریت له پاره پوره علاج وړاندېکوی ] .

د اسلامی نظام اساس د الله جل جلاله په حاکمیت ولاړی دی خو د بشری نظامونو اساس په خپله د بشر په حاکمیت استوار وی چې دا دواړه متضادی قاعدی یو د بل سره نه شی جمع کیدای .

زه د ډاکتر هیکل دا تعبیر روا نه ګنم چې عالم اسلام " اسلامی امپریالیزم " او استعمار دی ، اسلام عربی دین نه دی بلکه نړیوال دین دی او د ټولی نړۍ مسلمانان یو قوم دی، د عربو حکومت په غیر عربو [ عجمو] د یو قوم حکومت په بل قوم نه دی بلکه د الله جل جلاله په مخلوق د اسلام حکومت دی ، زه هغه خلک په غلطه ګنم چې وایی : اسلامی نظام په حقیقت کې" اسلامی سوسیالیزم" دی یا اسلامی د یموکراسی یا اسلامی جمهوریت دی ، د اسلام سیاسی نظام په څلورواساسی بنسټونو ولاړ دی .

الهیه حاکمیت [د الله جل جلاله حاکمیت] ، عدل الحکام [ د حکامو عدل ] ،اطاعه فیالمعروف [ په نیکیوکې اطاعت] ، الشوری [ مشوره ][64].

د مصر یو بل سترپوه اولیکوال ډاکترطه حسین لیکې چې : اسلامی نظام نه یوظالمانه ملوکیت دی، نه د یونانیانو جوړکړی جمهوریت او نه د رومیانو په شان شاهی ، جمهوری یا مشروطه قیصری، بلکه د ا سوچې عربی وه چې پاڅکې ئی اسلام جوړکړی وه [65].

نو د اسلام دغه ځانګړی او خاص نظام ته خلافت ویل کیږی چې په دی بحث کې به ئی حقیقت روښانه کړو.

---

[64] - عدالت اجتماعی د شهید سیدقطب رحمه الله علیه لیکنه

[65] - الفتنته الکبری د ډاکتړطه حسین لیکنه اردو ترجمه د علامه عبدالحمیدنعمانی

## د خلافت لغوی مفهوم :

د خلافت کلمه د خلف یخلف له باب څخه د مصدر صیغه ده چې د کتب یکتب په وزن دی لکه : کتابت ، حفاظت ، وقایت ....د دی ماده خلف ده چې معنی ئی وروستی یا بیا راتلونکې نسل دی، ابن منظور رحمه الله علیه او امام راغب رحمه الله علیه دواړو داسی لیکلی دی چې : الخلف ضد قدام [ خلف د مخکې ضد دی یعنی وروسته یا د شا له خوا نه ][66] .

په قرآنکریم کې خلف په همدی معنی په 22ځایونوکې راغلی دی لکه

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ

[د البقره سورت 255 آیت ، د طه سورت 11 آیت]

[ هغه { الله جل جلاله } پوهیږی په ټولو هغه شیانو چې په مخکې ئی دی اویا ئی وروسته دی ] .

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ [د یونس سورت 92 آیت]

[ نن به خلاصون ورکړو ستا جسم ته [ د فرعون لاش ته ] ترڅو ته د راتلونکو له پاره د الله جل جلاله د نښی په رنګ پاته شی ] .

وروسته والی د ځای او وخت په اعتبارهم کیدای شی [ وروسته راتګ] یا [ د شاخوا ته کیده] او د [ رتبی له رویه وروسته کیدل ] .

امام راغب رحمه الله علیه لیکلی : والمتاخر لقصور منزلته یقال له خلف [ څوک چې د درجی او رتبی له لحاظه د نورو څخه وروسته وی نو هغه ته هم خلف ویل کیږی ] .

څرنګه چې نائب د وخت او رتبی په لحاظ منوب عنه یعنی د چا چې نائب وی له هغه نه وروسته وی نو په همدی اساس د خلافت معنی هم نیابت ده کله نائب د منوب عنه د مړینی په اساس هم ټاکل

---

[66] - لسان العرب 6 ټوک 82 مخ باب الفاء فصل الخاء - مفردات القران 155مخ

کیږی او کله د هغه په ژوندکې هم تاکل کیږی خو د خلافت او خلیفه له پاره د منوب عنه مړینه شرط نه ده .

امام راغب رحمه الله علیه تحریر دی : وخلف فلان فلاناً قام بالامرعنه امامعه وامابعده... والخلافه النیابه عن الغیراماالغیبه المنوب عنه واما لموته واما لعجزه واما لتشریف المستخلف وعلی هذا الوجه الاخیراستخلف الله اولیاء ه فی الارض [ هغه سړی د هغه خلیفه شو یعنی د هغه له خوا نه دکار مسئول وگرځید که څه هم د هغه سره وی یا د هغی وروسته .... خوخلافت د بل چا نیابت کول د منوب عنه د غیاب په صورت کې یا د هغی د مړینی په صورت کې یا د هغی دکمزوره کیدو او عاجز کیدو په صورت کې یا هغه سړی ته د مشری شرافت دوربښودلو په اساس هغه خلیفه او نائب گرځول شوی چې د همدی آخری علت په اساس الله جل جلاله خپل دوستان په ځمکه خلفاء گرځولی دی [67].

ابن منظورافریقی رحمه الله علیه لیکي چې: والخلف المتخلف عن الاول هالکا کان اوحیا والخلف الباقی بعدالهالک والتابع له [ خلف هغه چاته ویل کیږی چې دمخکې نائب وی‌که څه هم مخکینی‌مړشوی هم نه وی او ژوندی وی‌اوخلف هغه ته هم ویل کیږی چې د مړشوی څخه وروسته پاتې‌وی اود هغه تابع وی ] [68].

 څرنگه چې انسان هم د خپل نفس مالک او با اختیار حاکم نه دی بلکه د الله جل جلاله بنده او غلام دی نو په دی اساس هر انسان د الله جل جلاله خلیفه دی، په داسی حال کې چې په خپل نفس یی هم د الله جل جلاله احکام نافذکړی وی او د خپل لاس لاندی افرادو هم د الله جل جلاله د احکامو د نافذولو پابند وی – د لغت پوهانو د همدی لغوی معنی په اعتبار د خلافت معنی امارت او حکومت او د خلیفه

[67] - مفردات القرآن 155مخ ماده خلف

[68]- لسان العرب 9 ټوک 89 مخ ماده خلف

معنی امیر او حکمران هم کړی ده .
ابن منظور رحمه الله علیه تحریردی چې:
و الخلافه الاماره و هی الخلیفی و انه لخلیفه بین الخلافه و الخلیفی و فی حدیث امیرالمؤمنین عمر فاروق رضی الله عنه لو لا الخلیفی لا ذلت و قال غیره الخلیفه السلطان الاعظم و انشد الفراء :

ابوک خلیفه ولدته آخری
وانت خلیفه ذاک الکمال

[ د خلافت اوخلیفی معنی امارت دی ، عرب وایی فلانی سړی خلیفه دی یعنی د هغه حکومت یو ښکاره حقیقت دی امیرالمؤمنین حضرت عمر فاروق رضی‌الله عنه ویلی دی که چیری د حکومت مسئولیت نه وای نو ما به په خپله اذان کولی ځینی نورو خو لیکلی چې هرحکمران ته خلیفه نه ویل کیږی بلکه لوی حکمران ته ویل کیږی،امام فراء رحمه الله علیه د دی خبری د ثبوت له پاره لاندی شعر لوستی دی { ستا پلارخلیفه یعنی‌حکمران وه چې د هغه څخه نورخلیفه ګان پیدا شوی دی او ته هم خلیفه ئی او همدا دکمال خبره ده } ] .

د پورتنی لغوی تحقیق نه معلومیږی چې یوازی په تخت کیناستواو یا د چا په ځای ټاکل کیدو ته خلافت نه ویل کیږی بلکه نیابت او نیابتی‌حکومت ته هم خلافت ویل کیږی په همدی ترتیب یوازی جانشین او قائم مقام ته خلیفه نه ویل کیږی بلکه د نائب او نیابتی‌حکومت مشر ته خلیفه ویل کیږی .

## د خلافت اصطلاحی تعریف

اسلامی سیاست پوهانو چې د خلافت یعنی اسلامی حکومت کوم فنی او اصطلاحی تعریفونه کړی دی د هغی یو څو مثالونه په لاندی توګه دی :
امام ابوالحسن ماوردی رحمه الله علیه چې په 450 هجری قمری

کال کې مړ شوی دا رنګه لیکي چې : الامامه موضوعه لخلافه النبوه فی حراسه الدین و سیاسه الدنیا [ امامت { اسلامی حکومت } د دی له پاره جوړیږی چې د اسلام سپیڅلی دین د ساتنی ا و د دنیا د نظم او نسق په چلولو کې د نبی صلی الله علیه وسلم نیابت وکړی [69] .

ابن عابدین شامی حنفی رحمه الله علیه لیکي چې : ریاسه عامه فی الدین والدنیاخلافه عن النبی [ هغه عمومی ریاست چې په دینی او دنیوی امورو کې د نبی صلی الله عنه په نیابت کې کارکوی[70] .

شاه ولی الله دهلوی محدث رحمه الله علیه چې 1176هجری قمری کال کې وفات شوی دی فرمایی چې : هی الریاسته العامه فی التصدی لاقامه الدین [ خلافت عبارت له هغه عمومی ریاست څخه دی چې عملاً د دین د اقامی په لور متوجه وی ] [71].

په دی تعریفونو کې کوم اختلاف نه شته خو یوازی په تعبیر کې ئی فرق موجود دی .

د دی تعریفونو خلاصه دا ده چې خلافت هغه عمومی ریاست دی چې د رسول اکرم صلی الله علیه په نیابت کې د دین کار کوی ، او د عموی څخه مراد دا دی چې په کوم هیواد کې دا خلافت قایم وی د هغی په اوسیدونکو کامل اختیار ولری خو کور، قبیلی یاکورنی حکومت ته په اصطلاح کې خلافت نه ویل کیږی بلکه د هغی له پاره [ ولایه عامه ] شرط دی .

## د خلافت خګرنګوالی د قرآن له نظره

کوم آیتونه چې د انبیاؤ کرامو علیهم الصلوه و السلام او صالحینو په حکومتونو پوری اړه لری نو د هغی یادونه او تشریح به وروسته تر

[69] - الاحکام السلطانیه 1973 مصر چاپ او مثال ئی د ابن خلدون د کتاب مقدمه

[70] - مجموعه شامی د امامت باب لومړی ټوک 511 مخ نقله عن المقاصدومثله فی .. شرح مواقف 3 ټوک 603 مخ - شرح عقاید نبوه خلافه

[71] ازاله الخفاء 2 مخ د 1976 عیسوی کال د پاکستان اردو بازار لاهور چاپ

نورو عنوانو لاندی وشی خو اوس د مثال په توګ هغه آیتونه وړاندی کیږی چې په هغی کې خلافت په عمومی ډول یاد شوی دی .

**۱ ] د استخلاف آیت :**

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمْ الَّذِي ارْتَضَى لَهُـمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الْفَاسِقُونَ [د النور سورت 55 آیت ]

[ الله جل جلاله ستاسی نه د هغو کسانو سره چې ایمان ئی راوړی دی او ښه عملونه وکړی وعده کړی ده چې هغوی په ځمکه هماغه شان خلیفه ګان وګرځوی لکه چې له هغو نه مخکې تیر شوي خلک یی کرځولی وو د هغو له پاره به د هغو دین پر محکمو بنسټونو ودروي چې هغه الله جل جلاله د هغوله پاره خوښ کړی دی او هغو د ویری ] اوسني حالت به په امن بدل کړی هغوی دی زما بندګی کوي او له ما سره دی څوک نه شریکوی او څوک چې له دی وروسته کفر غوره کړي نو همداسی کسان فاسقان دی ] .

مشهورتابعی امام ابوعالیه رحمه الله علیه فرمایی : نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او مسلمانان په مکه مکرمه کې او له هجرت نه وروسته د مدینی منوری په لومړیو ورځو کې د ویری په حالت کې وه سهاراو مابنام هر وخت به مسلح وه یو صحابی رضی الله عنه وویل چې آیا مونږ د امن ورځی نه شو لیدلی؟ ترڅو اسلحه ښکته کړو؟ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ډیر زر به تاسی وګوری چې یو شخص چې په څادرکې ئی ځان رانغښتی وی او په عمومی غونډه کې به ناست وی هغه سره به هیڅ ډول اسلحه اواوسپنه نه وی نو د رسول مقبول محمد صلی الله علیه وسلم د دی مخکې وینا د تائید له پاره

پورتنۍآیت رانازل شو[72].

ابن جریررحمه الله علیه د"یستخلفنهم " په تفسیرکې لیکي چې: فجعلهم ملوکهاوساستها [ اوهغوی په ځمکې حکمرانان او سیاسی مشران جوړکړی ] [73].

په دی آیت شریف کې د پنځوشیانو وعده شوی ده :

1- مؤ منانو او صالحینوته به په ځمکه خلافت ، حکومت او سیاسی قیادت ورکول کیږی .

2- د اسلام سپیڅلی دین به په ټینګو او کلکو بنسټونو دوری او غالب به یې کړی .

3- مسلمانانوته به هومره قوت اودبدبه ورکړی چې هغوی ته به د دښمنانوڅخه هیڅ ویره نوی .

4- په دی خلافت او حکومت کې به خلک یوازی د یوه الله جل جلاله بندګی کوی او د شرک نظام به پای ته رسوی .

5- هغه خلک چې اسلامی خلافت نه سر وغړی او بغاوت وکړی هغه به فاسق ګڼل کیږی .

له آیت څخه دا پ ه ډاګه کیږی چې اسلامی ریاست د الله جل جلاله نعمت دی د هغه نه پرته د تعلیم او تبلیغ په واسطه نه دین غالبي دی شی او نه امن او امان ټینګیږی ا ونه د شرک نظام پای ته رسیږی .

د پورتنی آیت ځلورذکرشوی نښی د رښتینوخلفاوپه دوره کې په پوره ډول موجودی وی - ټوله جزیره العرب ، خیبر، بحرین او ټول یمن د خاتم الانبیاء محمد صلی الله علیه وسلم دوره کې فتح شوی وه او د هغه نه وروسته د خلفاؤ په مبارکه دوره کې اسلام په ټوله آسیا کې

---

[72] - تفسیر ابن جریر 18 ټوک 159 مخ – تفسیرقرطبی 12 ټوک 297 مخ ... تفسیر روح المعانی 18 ټوک 202 مخ د پاکستان لاهور چاپ

[73] - تفسیر ابن جریر 18 ټوک 158 مخ – تفسیر روح المعانی 8 ټوک 200 مخ

خپور شوی وه، د روم د قیصراو د ایران دکسری امپراطوری پای ته ورسول شوی وی او دحضرت عثمان بن عفان رضیﷲ عنه په دوره کې، اندلس ، قبرص ، عراق او مشرق کې چین ، خراسان او اهواز فتح شوو. د دښمنانو د ویری د لیری کولو وعده هم پوره شوه ، اسلام غالب شو او د شرک نظام پای ته ورسید ، هیڅ یو انصاف خوښوونکې او حق خوښوونکې انسان په دی کې شک نه لری چې د حضرت ابوبکرحضرت عمر او حضرت عثمان رضیﷲ عنهم په خلافتونو همدی آیت د تصدیق ټاپه وهلی ده، ټولومفسرینواو قرآن پوهانو د دیآیت مصداق رښتینی خلفاء ښوولی دی شاه ولیﷲ رحمه الله علیه په دی آیت باندی په ازاله الخفاء کې ډیرمفصل بحث اوڅیړنه کړی ده .

قاضی ابوبکر بن العربی رحمه الله علیه چې په 543 هجری قمری کې مړ شوی لیکې چې : د اسلامی شریعت پوهانو دا آیت دڅلورواړو خلفاؤ خلافت د حقوالی دلیل ګڼی د الله جل جلاله هغوی خلفاء ګرځولی وه او د هغوی امانت او دیانت ئی خوښ کړی وه دوی دالله جل جلاله په غوره کړی دین باندیکلک ولاړ وه تراوسه پوری په فضیلت کې د هغوی څخه څوک مخکې شوی نه دی د دوی په واسطه د اسلام سیاسی قیادت هم قایم شوی وه او د اسلام له د دبدبی او برم څخه دفاع هم کیدله ، د الله جل جلاله دا وعده د هغوی په دوره کې پوره شوی ده ،که چیری دا وعده د هغوی په هکله نه وی او د هغوی په وخت کې نه وی پوره شوی، نو بیا به د هغه اهل کوم خلک وی ؟ زمونږ په وخت کې خو د داسی خلکو مثال نه پیداکیږی او نه په راتلونکې کې داسیخلک راځی رضیﷲ عنهم – همدا خبره امام قشیری رحمه الله علیه د عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه رانقل

.....................

کړی[74] .

علامه الوسی رحمه الله علیه هم ددی آیت په تفسیرکې په همدغه ډول لیکلی دی او د شیعه محترمینو دلائل ئی په ډیر ښه ډول ردکړی دی هغه د نهج البلاغه یو روایت هم رانقل کړی دی په هغه کېحضرت علی رضی الله عنه د همدیآیت په اساس د حضرت عمرفاروق رضیالله عنه د خلافت په حق کیدو استدلال کړی دی [75].

خو زمونږ مقصد د دی آیت څخه ددی خبری څرنګوالی دی چې د دی آیت په واسطه د خلافت یعنی اسلامی حکومت ضرورت او د هغی اهمیت ثابت شی - د اهل سنتو او اهل تشیعو ترمنځ د اختلافی مسائلو څیړل د دی کتاب موضوع نه ده .

که څه هم د آیت لومړنی مصداق راشدین خلفاؤ خو د مرتبو په اختلاف سره هرهغه حکومت چې د رسول اکرم صلیالله علیه وسلم د سنتواو د راشدینو خلفاؤ د سنتو مطابق د ریاست یا دولت نظام پرمخ بیایی نو د دیآیت مصداق ګرځی .

په صحیح مسلم کې د جابر بن سمره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلیالله علیه وسلم فرمایلی چې زما د امت کار به ترهغه پوری پرمخ روان وی ترڅوپوریچې دولس خلفاء نه وی پوره شوی .

حافظ ابن کثیررحمه الله علیه او نور محدثین وایی چې دا ضروری نه ده چې 12دولس خلیفه ګان دی یو د بل پسی نښتی ویکه څه هم څلورواندی یو د بل پسی نښتی تیرشوی او بیا د څه وخت وروسته عمر بن عبدالعزیز رحمه الله علیه خلیفه شو، د هغه وروسته به ترقیامت [ دآخرت ورځ ] پوری خلیفه ګان راځی چې آخری خلیفه به

---

[74] - احکام القرآن د ابن العربی لیکنه 3 ټوک 1392 مخ د 1972 عیسوی کال ....د بیروت چاپ .

[75] - تفسیر روح العانی 18 ټوک 205تر207 مخونو پوری

امام مهدی علیه السلام وی ، د نړۍ په مختلفو ملکونو او وختونوکې چیرته چې کوم مسلمان او عادل حکمران تیر شوی وی یا راځی نو د هغه اعمال اوکړنه به د اندازی مطابق ددی آیت مصداق وی خو حقیقی او اولین مصداق ئی راشدین خلفاء رضی‌الله عنهم دی .

د " ومن کفر بعد ذلک فاولئک هم الفاسقون " په تفسیرکې ابن جریر رحمه الله علیه لیکې چې : په دی آیت کې د کفر نه د الله جل جلاله انکارمقصد ندی بلکه کفران نعمت یعنی د نعمتونو ناشکری تری مقصد ده الله جل جلاله په جزیره العرب کې اسلام غالب کړی وه او مسلمانان د امن په حالت کې وه بیا خلکو د ظلم لاره اختیارکړه نوالله هم د هغوی حالت بدل کړ، د [خلافت او د اسلام د غلبی ] د نعمت په مقابل کې هغوی ناشکری وکړه نوالله جل جلاله هم په هغوی د ویری هغه حالت د دوهم ځل له پاره مسلط کړ چې پخوایی ختم کړی وه، ابوالعالیه رحمه الله علیه وایی چې دا ناشکری د حضرت عثمان رضی‌الله عنه وژل وه **76**.

امام بغوی رحمه الله علیه هم په خپل تفسیر معالم التنزیل کې لیکلی دی چې : د خلافت د ناشکری لومړنی پیښه د حضرت عثمان رضی الله عنه وژل دی د هغه جلیل القدر شخصت د شهیدولو وروسته د الله جل جلاله په نعمتونوکې کمی راغله او مسلمانان د امن د حالت څخه ووتل او بیا د ویری او ترس ، قتل قتال په حالت کې ککړشوه.

لنډه دا چې خلافت یعنی" حکومت علی منهاج رسول الله" ډیرلوی نعمت دی ، هغه خلک چې تری بغاوت او سرکشی‌کوی یا د هغه په ځای بیا د ملوکیت او قیصر وکسری په څیرحکومتونو راوستل غواړی نود نعمت ناشکری‌کوی .

**2 ] د تمکین فی‌الارض په هکله آیتونه :**

---

76- تفسیر ابن جریر **18** ټوک **160** مخ

الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَـاةَ وَأَمَـرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنْ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ [د الحج سورت 41 آيت ]

[ دهغه كسان دي كه چې كه مونږ دوی ته په ځمكه كې قدرت وركړو نو لمونځ به قايم كړی ، زكات به وركړي په ښه چارو به حكم وكړی او له بدي نه به منع وكړي او د ټولو چارو پای د الله جل جلاله په لاس كه ده ] .

مكنا د مكانه څخه اخستل شوی چې معنی يې مرتبه، قوت او طاقت دی: فلان مكين عند فلان بين المكانه يعنى المنزله و المكانه المنزله عندالملک ... و تمكن من الشى واستمكن ظفر [ فلانی سره د لوړی مرتبی خاوند دی ، مكانه هغه مرتبی او درجی ته ويل كيږی چې يو چا ته د كوم پادشاه په درباركې په لاس راغلی وی ، د تمكن من الشیء و استمكن مطلب دی بريالی شو او هغه څيز ئی په واک كې راغی[77]].

د دی څخه مخكې آيت دی چې په كې ويل شوی دی :

الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَنْ يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ

[ د الحج سورت 40 آيت ]

[ هغو كسانو ته اجازه وركړه شوه چې د هغو پر خلاف په جگړه لاس پوری كړی ځكه چې هغوی مظلومان دي او الله جل جلاله په يقينی ډول د هغو د ملاتړ وس لری ، دا هغه كسان دي چې له خپلو كورونو څخه په ناحقه وويستل شول يوازی په دی جرم چې هغوی وايی : زمونږ رب الله دی ] .

نوددی آيت څخه دا ثابتيږی چې له هغوی نه مطلب د رسول اكرم صلی الله عليه وسلم صحابه كرام دی هغوی د كورونو څخه ويستل شوی وه او ظلم هم په هغوی شوی وه او د قتال لومړی حكم هم هغوی

---

77 لسان العرب 13 ټوک 413 مخ

.....................

ته شوی وه .

ابن جریررحمه الله علیه فرمایی چې : د دی خلکوځخه مقصد د نبی صلی الله علیه وسلم اصحاب کرام رضی الله عنهم دی او د معروفو د حکم څخه توحید او د الهی حکمونو پیروی ده او د نهی عن المنکرڅخه مقصد د شرک او د الله جل جلاله نه د نافرمانی دکارونو څخه مخنوی دی [78].

خو دلته هم حکم عام دی امام قرطبی رحمه الله علیه لیکي چې : د حضرت ابن عباس رضیالله عنه وینا ده چې د دی آیت مصداقی په اول کې مهاجرین او انصار دی خو هغه خلک ئی هم مصداق دی چې په اخلاص سره د هغوی پیرویکوی- ابوالعالیه ، ضحاک او ابن ابی نجیح رحمه الله علیهم فرمایی چې په دی آیت کې حکمرانانو ته لارښودنه شوی ده چې کله الله جل جلاله هغوی ته ملک او سلطنت وربخښی نو هغوی به په خپل اقتدارکې هغه کارونه کوی چې راشدینوخلیفه ګانوکړی دی [79].

د آیت مقصد دا دی چې که چیری مونږ هغه مهاجرینو او انصارو ته د اسلام سپیڅلی دین په دښمنانو بریالیتوب ورکړو او هغوی ته په ځمکه باندی اقتدار، قوت ، مرتبه او حکومت وروبښو نو د هغوی د حکومت کړنلاره به دا وی چې:

1- د لمانځه د قایمولو نظام به جوړوی او په همدی ډول به د نورو عبادتونواهتمام کوی .

2- د زکات نظام به تامینوی اوپه همدی ډول به د اسلام ټول اقتصادی نظام استوار وی .

3- د هغوی د حکومت ټول کارونه او اجراء ات به نیکیو ته وده ورکول وی .

---

[78] - تفسیر ابن جریر 17 ټوک 178 مخ

[79] - تفسیر قرطبی 12 ټوک 73 مخ

4- د هغوی ټول قوت به د بدیو د له منځه وړلو په لارکې په کار اچول کیږی .

5- که چیری دوی خپل اقتدار د پورته ذکر شوو چارو په ځای، د خپلو شخصی غرضونو په خاطر د نیکیو د له منځه وړلواو د بدیو د خپرولو له پاره په کار واچاوه نو د هغی د بدو نتایجو به هغوی په خپله مسئول وی له دی امله چې "ولله عاقبه الامور[ د ټولو کارونو فیصله د الله جل جلاله په اختیارکې ده ] .

ددی آیت نه معلومیږی چې د اسلامی ریاست پرته نه د لمانځه نظام په پوره ډول قائمیږی نه د زکات نظام په پوره توګه نافذیږی ، نه نیکې وده مومی او نه بدی ختمیږی .

3 ] **اولی‌الامر آیت** :

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُوْلِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا [د النساء سورت 59 آيت]

[ ای مؤمنانو! د الله او د هغه د رسول او د هغه حاکمانو طاعت وکړئ چې له تاسی څخه د امر او واک خاوندان وي بيا که ستاسی تر مينځه په کومه چاره کې شخړه پيښه شي نو هغه د الله او رسول لوری ته محوله کړئ که تاسی په رښتيا سره په الله او د قيامت په ورځ ايمان لرئ همدا د کار يوه سمه طريقه ده او د عاقبت په اعتبار هم غوره ده ] .

امام ابن جرير رحمه الله عليه د صحابه کرامو رضی‌الله عنهم او تابعينو څخه د اولی الامر د تفسير په هکله دوه بيانونه را نقل کړی دی لومړی دا چې " هم الا مراء " يعنی د مسلمانو حکمران او اميران تری مقصد دی او د هغو د اطاعت کولو حکم شوی دی او دوهم دا چې " هم اهل الفقه والدين يعنی دا فقهاء او دينی مشران دی .

او خپل نظريې په دی ډول وړاندی کړی دی :

واولی الاقوال فی ذالک قول من قال هم الامراء والولاه [ غوره وینا د هغومحترمینو ده چې وایی د دی څخه مقصد امراءًاو حکام دی [80]].

امام فخرالدین رازی رحمه الله علیه د اولی الامر تفسیر د اهل الحل و العقد سره کړیدی یعنی هغه خلک چې د مسلمانانو د امورو مسئول او معتمد نمایندګان وی او فیصلی د هغوی له لاس کې وی [81].

امام جصاص ، امام ابن کثیر ، قاضی ثناء الله پانی پتی او امام طحاوی رحمه الله علیهم لیکلی دی چې د اولی الامر لفظ د عاموالی په لحاظ دوو طبقو علماء ، فقهاو او امراو او حکامو پوری تړلی دی[82]

.

حقیقت دا دی چې دا آیت د امراؤ په هکله رانازل شوی دی لکه څنګه چې د بخاری شریف د حدیث څخه معلومیږی، خو د لفظ د عمومیت په خاطر د هر رنګه اصحاب امر [د امرخاوندانو] له پاره استعمالیږیکه څه هم هغه علمی او فقهی لارښوونکې وی یا سیاسی مشران وی یا د ملک د نظم ونسق چلوونکېحکام وی یا د عسکری نظم اونسق برابروونکې صاحب منصبان وی یا د قضائیچارو پریکړه کونکیقاضیان وی یا په ټولنیزو امورکې د کلیواو ښارونو وکیلان وی ، هرمسلمان چې په هرحیث د مسلمانانو د امر خاوند وی نو هغه د اطاعت مستحق دی خو په دی شرط چې مسلمان وی او د الله جل جلاله او رسول تابعدار او پیرو وی او که داسی نه وی نو باید د مسلمانانو د مشری د منصب څخه لری کړی شی .

---

[80] - تفسیر ابن جریر 5 ټوک 147 تر 150 مخ پوری

[81]- تقسیر کبیر 10 ټوک د النساء 59 آیت

[82] - احکام القرآن د جصاص لیکنه 2 ټوک 210 مخ – تفسیر ابن کثیر 2 ټوک 326 مخ – تفسیر مظهری 2 ټوک 342 مخ – مشکل و الاثار د طحاوی لیکنه لومړی ټوک 476 مخ دار صادر بیروت چاپ

په دی مبارک آیت کې د اسلامی ریاست لـه پاره ځینی اصول او اساسات بیان شوی دی چې په لنډه توګه ئی وړاندی‌کوو.

ا- يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا:

ریاست د یو تنظیمی چوکاټ نوم دی چې د قیام له پاره ئی د هیواد او ځمکې موجودیت ضروری دی چیرته چې دا تنظیم استواریږی او منځ ته راځی .

په دی فقره کې ئی د ایمان خاوندان مخاطب کړی نو د دی خطاب نه دا ثابتیږی چې هرچیرته چې د ایمان خاوندان موجود وی نو هلته باید اسلامی ریاست منځ ته راشی اسلامی ریاست ، سیمی ایز، وطنی او جغرافیائی حدودو ته اهمیت نه ورکوی بلکه دا یو نړیوال فکری ریاست وی .

ب - أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ

د هر ریاست له پاره د اساسی قانون موجودیت ضروری دی چې په هیواد کې تر ټولو لوړه قانونی مرجع او د احترام وړ وثیقه وی ، ددی جملی‌څخه دا څرګندیږی چې د اسلامی ریاست اساسی قانون قرآن اوسنت دی . هیڅ پادشاه ، پاپ ، قومی مشر، پارلمان او د عوامو فیصلی ته د قرآن او سنتو په مقابل کې هیڅ قانونی حیثیت او اهمیت حاصل نه دی .

ج- وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ

په اولی الامرکې اجرائیه ، مقننه او قضائیه دری واړه قوې شاملی دی چې د مقننه څخه مقصد د شوری اعضاء دی چې په فقهی اصطلاح کې ورته اهل الحل والعقد - یا فقهاء عابدین ، یا العرفاء یا النقباء ویل کیږی .

د هیواد مجلس شوری بـه د قرآن ، سنت او د خلفائ راشدینو د سنتو په رڼا کې اساسی قانون جوړوی ، اجرائیه د شوری د پریکړو مطابق قانون نافذوی او په عملی توګه دریاست د چارو مسئولیت په

غاړه لري او د مجلس شوری په وړاندې ځواب ورکوونکې دی او عدلیه یعنې محکمې به په نزاعي چارو کې د اساسي قانون [قران اوسنتو ] په رڼا کې فیصلې کوي او په غیر منصوصو معاملاتو کې د مجلس شوری لخوا د صادر شو قانون مطابق فیصلې کوي خو د منکم[ ستاسي‌څخه ] معلومیږي چې دري واړو قوو د غړو له پاره د اسلام د سپیڅلي دین منل اساسي شرط دی .

د – فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ:

د الله جل جلا له د کلام د دې برخې څخه معلومیږي چې د اجرایي ، مقنني او قضائي دري واړو قوو سره اختلاف او نزاع کیدای شي په هري یوې ځانګې علمي‌او تعمیري انتقاد کیدلای شي، هیڅوک د تنقید نه پورته نه وي . پرته د الله جل جلاله د پیغمبرڅخه د خلکو ترمنځ هم شخړې راپیدا کیږي او د هغوی د خپل اولي‌الامر سره هم په ځینې شیانوکې نزاع او شخړه راپیداکیږي په همدې ترتیب اجرائیه هم په خپلو منځوکې د فکر اختلاف کولای شي، او د نورو ادارو او خلکو سره ئې هم اختلاف پیدا کیدای شي .

هر – فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ:

د الله جل جلاله د ې ارشاد څخه دا څرګندیږي چې د یوې بې طرفې او آزادې قضائي قوې چې د حکومت د تاثیر لاندې نه وي موجودیت ډیر ضروري دی ترڅو د شخړو په صورت کې پریکړې وکړي نزاع یا د راې او نظر اختلاف د هر چا سره کیدی شي خو هغه باید د تفرق ،ګوندبازۍ دشمنۍ او فساد ذریعه جوړه نه شي، بلکه قضائي قوې ته رجوع وشي، په قرآن اوسنتوباندې د پوهو پرهیزګارو خلکو[ فقهاې- عابدین ] اداره چې هره پریکړه وکړي نوبیا د هغې پیروي په ټولو لازمه ده، په دې شرط چې د اساسي قانون [د قرآن او سنتو] د صریح حکم او د امت د اجماع د پریکړې په خلاف نه وي اوکه نه نوبیا د هغې په خلاف په مرافعه کې عریضه کیدای شي ترڅو پریکړه معطل

او دو باره پرې غور وکړي .

و- إِنْ كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ:

ددې برخې څخه دا په ډاګه کيږي چې د پورتنيو اصولو پيروي د ايمان غوښتنه ده او يو مؤمن ته په هيڅ حالت کې د هغه مخالفت روانه دی .

ز- ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا

په دنيا او آخرت کې به د رياست د دې اسلامي اصولو د پيروی ښه او مطلوبه نتيجه راوزي په دی ټول آيت باندی د غور کولو څخه څرګنديږي چې د اسلامي رياست پرته نه د الله جل جلاله او د هغې د رسول محمد صلی‌الله عليه وسلم اطاعت په پوره ډول کيږي او نه د مسلمانانوحالت په پوره توګه ښه کيږی د دی آيت څخه د مستنبطو او د مربوط اصولو نوره تشريح به په دريم فصل کې کيږی انشاء الله

4 ] **سلطان په معنی د حکومت** :

وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَلْ لِي مِنْ لَدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيرًا [د بنی اسرائيل سورت 80 ]

[او دعا وکړه چې پرورګاره ! ما چې چيرته بيا يې له ريښتينولی سره مې بوځه او له هره ځايه مې چې باسې له ريښتنولی سره مې وباسه او له خپل لوری نه ما ته حکومت د مرستندوی په توګه راکړه ].

عبدالله بن عباس رضی‌الله عنه ، حسن بصری ، قتاده او ابن زيد رحمه الله عليهم فرمايي چې: کله د مکې کفارو د نبی اکرم صلی‌الله عليه وسلم د وژلو پريکړه وکړه نو الله جل جلاله دا آيت شريف را نازل کړاو مدينی ته د تللو حکم ئی ورته وکړ اودا دعا يی هم وروښوده چې ووايه : چې ای زما پالونکيه ربه ما مدينی { د اسلام مرکز } ته روغ او دآبروسره ورسوه او د مکې څخه مې روغ او د آبرو سره وباسه [83].

---

[83] - تفسير ابن جرير رحمه الله عليه 15 ټوک 148- 149 مخونه

د سلطان ژباړه ډيرخلک [ پادشاه] کوي،خو حقيقت دا دی چې د هغې معنی دليل او قوت هم دی، د دی لفظ معنی پادشاه نه دی بلکه اقتدار، حکومت يا حکمرانی ددی صحيح مفهوم دی .

ابن منظوررحمه الله عليه ليکي چې :

السلطان حجه و برهان والسلطان الوالی،يذکر ويؤ نث و السلطان قدره الملک [ د سلطان معنی حجت او برهان هم کيدای شی اوحکمران هم ، دا کلمه د مذکر او مونث دواړو له پاره استعماليږی او سلطان د حکمران اقتداراو د هغې قوت ته هم ويل کيږی ] .

امام المفسيرين ابن جرير رحمه الله عليه د حسن بصری رحمه الله عليه او قتاده دی قول ته ترجح ورکړی ده چې په دی آيت کې د سلطان څخه مقصد اقتدار، غلبه او حکومت دی هغه وايی د الله جل جلاله پيغمبر صلی‌الله عليه وسلم په دی پوهيده چې د اقتداراوحکومت پرته د هغه کار سرته رسولو طاقت زما سره نه شته نو هغه الله جل جلاله څخه وغوښت چې د حکومت واکې دی ما ته راکړای شی چې زما مرستندو ثابت شی . د الله جل جلاله د کتاب ، د الله جل جلاله د ټاکلی حدودو ، د الله جل جلاله مقرر کړی فرائضو د اداء او د دين د اقامت له پاره اقتدار او صلاحت يو ضرورت دی .

په دی کې هيڅ شک نه شته چې حکومت د الله جل جلاله يو رحمت دی که چيری حکومت موجود نه وی نو خلک به يو د بل نه غلاوی کوی او قوی خلک ضعيفان او کمزوری وشپيلوی[84].

حافظ ابن کثيررحمه الله عليه هم دغه ډول تفسيرکړی لکه چې فرمايی : د حق د اقامی په منظور او په دښمنانو د بريااليتوب د پيدا کولوله پاره د قتدار ځواک لاس ته راوړل ضروری دی په همدی خاطر د الحديد په سورت کې دلايلو او د کتابونو سره په څنګ کې د اوسپنی د راښکته کيدو يادودنه هم شوی ده چې مقصد تری قوت اوطاقت دی

[84] - تفسير ابن جريررحمه الله 15 ټوک 151

يعنی د دلائلو په ځنګ کې قوت هم ضروری دی لکه ځنګه چې په حديث [ موقوف حديث ]کې راغلی دی :

ان الله ليزع بالسلطان ما لايزع بالقرآن [ الله جل جلاله د حکومت په واسطه د هغو شيانو مخنيوی کوی چې د يوازی د قرآن د تعليم په اساس د هغه مخنيوی نه کيږی ] د حکومت له امله خلک د ګناهونو ځخه منعه کيږی ليکن ډيرخلک يوازی د قرآن په تعليم نه منع کيږی .

د هغه حديث حواله چې حافظ عماد الدين بن کثير رحمه الله عليه ورکړی ان الله ليزع ...دا په حقيقت کې د حضرت عثمان رضیالله عنه وينا وه ابن الاثير رحمه الله عليه په جامع الاصول کې او په خپله عماد الدين بن کثير رحمه الله عليه په البدايه کې راخستی ده خو داسی فکرکيږی چې اسناد ئی منقطع دی 85.

دا د حضرت عمرفاروق رضیالله عنه وينا هم ده چې کنزل العمال رانقل کړی ده 86.

ددی آيت ځخه دا ثابتيږی چې د حکومت پرته دين غلبه نه شی پيدا کولای، او د دين د اقامی په خاطر د حکومت د لاسته راوړو کوښښ يوازی دا نه چې روا دی بلکه مطلوب هم دی ، خو د خپل عرض په خاطر د حکومت طلب او غوښتنه جواز نلری .

**5 ] د حکم بالعدل په هکله آيتونه:**

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا

[د النساء سورت 58 آيت ]

---

[85] - جامع الاصول د ابن الاثير 4 ټوک 84 مخ د 1970 عيسوی کال حلوانی بيروت چاپ - البدايه والنهايه دحافظ عمادالدين ابن کثيرليکنه 2 ټوک 10 مخ

[86] - منتخب کنزل العمال د مسنداحمد په حاشيه 2 ټوک 34 مخ په حواله د تاريخ خطيب بغدادی.

[ مسلمانانو ! الله تاسی ته حکم کوی چې امانتونه د هغو اهل ته وروسپارئ او کله چې د خلکو په مینځ کې پریکړه کوی نوپه انصاف سره ئی وکړی الله جل جلاله تاسی ته ډیر نصیحت کوی او په باوری ډول الله هر څه اوری او وینې ] .

ابن جریر رحمه الله علیه د حافظ عمادالدین بن کثیررحمه الله علیه او قرطبی رحمه الله علیه څخه را نقلوی چې دا آیت د حضرت عثمان بن طلحه رضی‌الله عنه په هکله نازل شوی دی، د الله جل جلاله د کور[ بیت الله ] دکنجی‌ګانو د مسئولیت منصب به د دوی د کورنی سره ؤ څرنګه چې د مکې فتحی څخه وروسته هغه مسلمان شوی وه او د دی کار په هکله یی د پخواڅخه تجربه هم درلوده نو په دی اساس د دی مسئولیت اهل په خپله همدی وه رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم د هغه څخه کنجی واخیسته او د بیت الله دروازه ئی خلاصه او دننه ئی تشریف یوړ خوکله چې د باندی راووت نو پورتنی آیت ئی په ژبه وه ، نو هماغه وه چې حضرت عثمان بن طلحه رضی‌الله عنه ئی راوغوښت او د بیت الله د کنجی‌ګانو مسئولیت ئی وروسپاره 87.

څرګنده ده چې د بیت الله د کنجی‌ګرځول کوم مالی امانت یا قرض نه وه بلکه د مسئولیت یو منصب وه ، د شان نزول د دی روایت څخه ښکاریږی چې په دی مبارک آیت کې د[ امانات ] څخه مقصد د مسئولیت منصبونه دی که څه هم په عمومی ډول د دی کلمی په مفهوم کې ټول امانتونه شامل دی .

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله علیه په خپله رساله د السیاسه الشرعیه فی‌الراعی والراعیه کې د دی آیت کریمه په تفسیر کې لیکلی دی چې د شرعی سیاست دوه اصوله دی لومړی: اداء لامانات الی اهلها [ مسئولیتونه او منصبونه د هغوی آهل ته سپارل ] او دوهم

تفسیر ابن جریررحمه الله علیه5 ټوک 145مخ - تفسیر ابن کثیر2توک 321 . مخ – تفسیر قرطبی 5 ټوک 256 مخ

: حکم بالعدل [ انصاف او عدل له مخی پریکړی‌کول ] .

حضرت علی بن ابی طالب ، عبدالله بن عباس رضی‌الله عنهما ، زید بن اسلم ، شهربن حوشب او مکحول رحمه الله علیهم ټولو ویلی چې دا مبارک آیت د احکامو په هکله راغلی دی او اصل مخاطب ئی هم د حکومت خاوندان دی 88.

په پورتنی آیت کې هم د اسلام ښکلی اصول بیان شوی دی چې د اساسی قانون حیثیت لری ددی اصولو لنډیز په دی ډول دی .

ا – إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ:

د امراو حکم خاوند یوازی اویوازی الله جل جلاله دی ، حاکمیت او اقتدار د هغه حق دی خلفاء ، امراء، حکام اوټول خلک د هغه مامورین دی، د هغه بندګان او رعیت دی .

ب – أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا:

د حکومت منصبونه یو امانت دی چې د هغی اهل، مستحقو او لایقو خلکو ته به ورکول کیږی دا د مملکت د اوسیدونکو حق نه دی چې هغوی ئی د اوسیدونکو په تناسب وویشی او د هر ولایت او ولسوالی له پاره دی یوه اندازه وټاکي او د یوه ولایت د نفر په ځای دی د بل ولایت شخص نه نیسی بلکه دا فرائض دی چې باید هغه خلکو ته ورکړل شی چې د هغی د سرته رسولو له پاره اهلیت او قابلیت ولری .

بنی‌اسرائیلو د مسئولیت منصبونه یعنی‌د دینی مشری او قومی مشری رتبی ناهلو او بدکاره خلکو ته ورکولی چې په نتیجه کې یی ټول ملت خراب شو، نو انشاء الله د اهلیت شرائط به په دریم فصل کې په تفصیل سره بیان شی .

ج– وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ:

---

88- تفسیر ابن جریررحمه الله علیه5 ټوک 145مخ - تفسیر ابن کثیر2توک 321 مخ – تفسیر قرطبی 5 ټوک 256 مخ

.......................

د اسلامی حکومت ټولو اوسیدونکو ته قانونی برابری حاصله وی په دی آیت کې ئی یوازی د " عدل بین المسلمین" حکم نه دی کړی بلکه د "عدل بین الناس" حکم شوی دی- د قانون د نافذیدو او د عدل د قیام په لاره کې د نسل، رنګ ، وطن، ژبی، دین ، او مسلک توپیر روا نه دی ، په یوه اسلامیحکومت کې د یو غیرمسلمان ، ځان ، مال اوآبرو همداسیمحترم ګڼل کیږی لکه څنګه چې د یومسلمان ځان ، مال او آبرو محترمه وی .

ددی آیت شریف څخه دا را معلومیږی چې دعدل اوانصاف قیام اوټینګښت د اسلامی حکومت دجوړیدو پرته ممکن نه دی .

## د خلافت یا اسلامی حکومت

## په هکله رسول اکرم صلیالله علیه وسلم احادیث:

که څه هم د یو اسلامی حکومت د جوړولواړتیا او اهمیت په تیرو شوو څیړنوکې د قرآنی آیتونو په واسطه ثابت شوی دی نو دا به ډیره غوره وی چې د همدی موضوع له پاره د مثال په توګه یوڅوحدیثونه هم رانقل کړوچې ددی حدیثونو د رانقلولو یوه ګټه خو دا ده چې د هغی خلکو غلطی را په ډاګه شی، چې د دین او سیاست د بیلولو په کوشش کې دی او بله ګټه به ئی دا وی چې د هرحدیث شریف څخه د اسلامی حکومت څه اصول او آداب هم راڅرګند شی .

د اسلامی حکومت او اسلامی سیاست پوری مربوطو احادیثو او آثارو غټه زیرمه د حدیثونو په کتابونوکې موجوده ده که چیری یوازی په بخاری کې د کتاب الاحکام ، په صحیح مسلم کې کتاب الاماره او د ابن الاثیرپه کتاب جامع الاصول کې کتاب الخلافه په غورسره وکتل شی، نو د اسلام د سیاسی او عدالتی نظام پوره نقشه به په ذهن کې جوړه کړی، د دی نه پرته د سنن ابوداود ، جامع ترمذی، سنن نسائی ، مسنداحمد ، مجمع الزوائد ، موطا امام مالک رحمه الله علیه ، منصف عبدالرزاق او په کنزالعمال کې د دی موضوع په هکله د احادیثو ډیره

لویه ذخیره پرته ده، د دی کتاب د ترتیبولو او شاګردانوته د حدیثو د لوست په وخت کې پورته یاد شوی کتابونه زما ترکتنی لاندی وو د همدغه کتابونوڅخه یوڅه انتخابی احادیث رانقلوو، خو په ژباړه او تشریح کې ئی لنډیز په نظرکې نیول شوی دی .

اسلامی حکومت ته په فقه او احادیثوکې مختلف نومونه ورکول شوی، خود ټولو مفهوم یودی ، چې خلافت هم ورته ویل کیږی او دا تر ټولو مشهور نوم دی. د هغی د تسیمی علت دا دی چې اسلامی حکومت د رسول صلی الله علیه وسلم په نیابت کې کارکوی بل نوم ئی امارت دی دا په دی خاطر چې حکومت د امر او حکم کولو په خاطر جوړیږی او امامت هم ورته ویل کیږی چې دا د قوم رهنمائی او مشری په غاړه لری او د حکومت مشر، امام المسلمین یعنی د مسلمانانو قومی مشر بلل کیږی .

دلته رانقل شوی احادیث په عنوانو نوویشل شوی دی، ترڅو چې د عنوان له مخی مضمون مخ ته راشی او د کتنی په وخت کې ذهن د ستړتیا احساس ونه کړی .

### خلافت د الله جل جلاله رحمت دی :

قال حذیفه رضی‌الله تعالی عنه قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم تکون النبوه فیکم ماشاء الله ان تکون ثم یرفعها اذا شاء ان یرفعها- ثم یکون خلافه علی‌منهاج النبوه فتکون ما شاء الله ان تکون ثم یرفعهااذا شاء ان یرفعها- ثم یکون ملکا عاضاً فیکون ماشاءالله ان یکون ثم یرفعها اذا شاء ان یرفعها- ثم تکون ملکا جبریه فتکون ماشاءالله ان تکون ثم یرفعها اذا شاء ان یرفعهاثم تکون خلافه علی منهاج النبوه ثم سکت .

[ رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی چې ستاسی ترمنځ به نبوت ترهغی پوری روان وی ترڅو چې د الله جل جلاله غوښتنه وی اوکله چې الله جل جلاله وغواړی نو هغه به پای ته ورسوی د دی

وروسته به د نبوت په طریقه کارکونکې خلافت منځ ته راشي ، ترڅو چې الله جل جلاله وغواړی نوپائی ته په ئی ورسوی، بیا به نو چیچونکې [ ظالمه ] پادشاهی‌جوړه شی او دا به هم ترهغی پوری دوام وکړی ترڅو پوری چې الله جل جلاله غوښتی وی او بیا کله چې هغه وغواړی نو پائی ته به ئی ورسوی، بیا به د ظلم او تشدد شاهی دوره پیل شی دا به هغه پوری موجوده وی ، ترڅو پوری چې الله جل جلاله غوښتی وی او بیاکله چې هغه وغواړی نو پائی ته به ئی ورسوی د هغه نه وروسته به بیا د نبوت په طریقی کارکونکې خلافت منځ ته راشی، بیا نو رسول الله صلی‌الله علیه وسلم چپ شو] .

ددی حدیث روایت کونکې حضرت حبیب رحمه الله علیه فرمائی چې ما د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله علیه یو ملگری حضرت یزید بن نعمان رحمت الله علیه ته دا حدیث د کاغذ پرمخ ولیکه او وروم‌ی لیږه اوورته ومی لیکل چې زما په فکردچیچونکې او ظالمی پادشاهی‌څخه وروسته چې کوم خلافت دنبوت په طریقی سره منځ ته راځی،نو هغه به دعمربن عبدالعزیزرحمه الله علیه خلافت وی یزید بن نعمان رحمه الله علیه زما دا لیک حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله علیه ته وړاندی‌کړ،نو هغه ډیرخوشحاله شو او دا حدیث ئی ډیرخوښ شو89.

ددی حدیث شریف څخه دا رامعلومیږی چې هغه حکومت چې د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په تگ لاره نه ځی نوهغه به غوڅوونکې او ظالم نظام وی چې د زورپه واسطه به حکومت کوی .

د حضرت معاذ بن جبل رضی‌الله عنه او د ابوعبیده بن جراح رضی‌الله عنه دواړو څخه رانقل شوی دی چې د نبوت اوخلافت دوره د

---

[89] - مسنداحمدمسندنعمان بن بشیر 4 ټوک273 - مجمع الزوائد 5 ټوک 189 مخ او وایی چی روایان ثقه دی او هم روایت احمد –البزار- الطبرانی -کنزل العمال په 6 ټوک 121 مخ د 1979 عیسوی کال کی کړی دی .

الله جل جلالـه د رحمت دوره وه او د پادشاهی دوره د شراب ښنلو او فساد زمانه وی 90.

حضرت سفینه رضیالله تعالی عنه وائی چې رسول الله صلیالله علیه وسلم وفرمایل : زما په امت کې به د نبوت په ځیرخلافت تر دیر شو کالونو پوری وی او د هغه وروسته به پادشاهی جوړه شی .

حضرت سفینه رضیالله عنه خپل شاګرد ته وویل د حضرت ابوبکر حضرت عمر ، حضرت عثمان او حضرت علی رضیالله عنهم د خلافت حساب وکړه، نوکله چې مونږ د هغوی د خلافت وخت وشمیره نو پوره دیرش کاله شول د حضرت سفینی رضیالله عنه شاګرد سعید بن جبل جمهان رحمه الله علیه فرمایيچې ماوویل چې بنو امیه هم خپل ځانونه خلیفه ګان شمیری ، نو په دی خبره سفینی رضی الله عنه وفرمایلی: د زرقا زوی درواغ وایی، بل هم ملوک من شر الملوک [ دا خو د بدترینو پادشاهانو له ډلیځخه دی ]91.

په دی احادیثوکې خلافت اوملوکیت ته دوه متضاد نظامونه ویل شوی خلافت د شریعت پابند او د رسول الله صلیالله علیه وسلم و سنتوتابع حکومت وی چې د الله جل جلالـه رحمت دی، خو ملوکیت د یوه وګړی مطلق العنانه حکومت وی چې غوځونکیاوخوړونکې او د ظلم اوزور پالیسی اختیار وی .

که چیری د اسلامی ریاست کار د دین کارنه وای نو هغه به نبی صلیالله علیه وسلم ته نه منسوب کیده، نو څرګنده شوه چې حکومت او سیاست چې په نبوی تګ لاره جوړوی د دین کار دی .

---

90 مجمع الزوائد 5 ټوک 189 مخ

91 ترمذی ابواب الفتن باب ماجاء فی الخلافه - سنن ابوداود کتاب السنه باب الخلفاء - مسند احمد رحمه الله علیه 5 ټوک 22 مخ د څلورو اسانیدحدیث د ابی عبدالرحمن سفینه رضی الله عنه مولی رسول الله صلیالله علیه وسلم - جامع الاصول 4 ټوک 44 مخ

## د عادل حکمران فضیلت:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللَّهِ وَقَالَ : وَرَجُلٌ مُعَلَّقٌ بِالْمَسْجِدِ إِذَا خَرَجَ مِنْهُ حَتَّى يَعُودَ إِلَيْهِ حَدَّثَنِي زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى جَمِيعًا عَنْ يَحْيَى الْقَطَّانِ قَالَ زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ أَخْبَرَنِي خُبَيْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمْ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ الْإِمَامُ الْعَادِلُ وَشَابٌّ نَشَأَ بِعِبَادَةِ اللَّهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللَّهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ و تَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتَّى لَا تَعْلَمَ يَمِينُهُ مَا تُنْفِقُ شِمَالُهُ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ

[ نبی‌کریم صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی دی چې : اوه ډوله خلکو ته الله جل جلاله خپل سیوری کې ځای ورکوی په هغه ورځ چې د الله جل جلاله له سیوری نه بل سیوری نه وی موجود عادل حکمران ،هغه ځوان چې د الله جل جلاله په عبادت کې لوی شوی وی ، هغه شخص چې د هغه زړه د جومات سره تړلی وی هغه دوه کسان چې د الله جل جلاله له پاره په خپلوکې مینه کوی د الله جل جلاله په مینه یو د بل سره یو ځای کیږی، او د هغه په مینه یو د بل څخه جدا کیږی ، هغه شخص چې د کومی غټی مرتبی لرونکې ښایسته ښځی له خواورته د ګناه کولو په لور بلنه ورکړی شوی وی او هغه په ځواب کې ویلی وی چې زه د الله جل جلاله څخه ویریږم ، هغه شخص چې په پټه صدقه ورکوی په داسی‌حال کې چې د هغه چپ لاس هم نه خبریږی چې د هغه ښی لاس څه شی ورکړی دی ، هغه شخص چې په یواځوالی‌کې الله

جل جلاله یاده وی او سترګو څخه ئی اوښکې راځی[92] .

د سنن سعید بن منصور د یوه روایت څخه ښکاریږی چې د الله جل جلاله د سیوری څخه مقصد د عرش سیوری دی لیکن قاضی عیاض رحمه الله علیه فرمایی چې مقصد تری د شرافت او اکرام خاصه مرتبه ده [ د خاص رحمت سیوری تری مقصد دی ] .

امام نووی رحمه الله علیه د قاضی عیاض رحمه الله علیه وینا رانقل کړی ده چې : د عادل امام څخه مقصد د حکومت هغه مسئولین او مشران دی چې هغه د مسلمانانو د ښیګڼو او بهبو د مسئولیت ورپه غاړه شوی وی، دلته ئی د ټولو د مخه د عادل حکمران یادوونه ددی له خاطره کړیده چې د هغه ګټی او تاوانونه د نورو شپږ ډولو خلکو څخه ډیردی .

ابن حجر رحمه الله په فتح الباری د بخاری په شرحه کې لیکلی چې:

د عادل امام څخه مقصد د حکومت مشر دی او هغه سړی ته هم دا مرتبه په لاس ورتلای شی چې د مسلمانانو د کوم کار مسئولیت ورپه غاړه شوی وی او په عدل او انصاف سره کارکوی .

قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو ح وَأَنْبَأَنَا مُحَمَّدُ بْنُ آدَمَ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنْ ابْنِ الْمُبَارَكِ عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللَّهِ تَعَالَى عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَلَى يَمِينِ الرَّحْمَنِ

---

[92] - صحیح بخاری کتاب الصلوه لومړی ټوک 91مخ ، کتاب الزکوه لومړی ټوک 191 مخ ، کتاب الرفاق 2 ټوک 959مخ ، صحیح مسلم کتاب الزکوه باب فضل اخفاء الصدقه ، ترمذی ابواب الزهد 2ټوک 74 مخ سنن نسائی کتاب ادب القاضی 2 ټوک 1931 عیسوی کال دهلی مجتبائی چاپ ، موطا امام مالک کتاب الجامع باب فی المتحابین فی الله – الترغیب و الترهیب للمنذری 3 ټوک 260 مخ

الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا قَالَ مُحَمَّدٌ فِي حَدِيثِهِ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ

[ رسول الله صلىالله عليه وسلم فرمايلى دى : چې انصاف كونكې به د نور په منبرونو د الله جل جلاله په ښى طرف كې ناست وى او د هغه دواړه لاسونه ښى دى، دا هغه خلک دى چې د حکومت په كارونوكې ئى هم انصاف كولواو د خپلوكورنيو ترمنځ ئى هم د انصاف څخه كار اخست، او هغه مسئوليت چې وسپارل شوى وه په هغه كې ئى هم انصاف كاوه 93 ] .

امام نووى رحمه الله عليه فرمائى چې په دى فضيلت كې خليفه ، ښكته امراء او مسئولين او قاضيان ټول شامل دى .

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُنْذِرِ الْكُوفِيُّ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ عَنْ فُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ عَنْ عَطِيَّةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَى اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا إِمَامٌ عَادِلٌ وَأَبْغَضَ النَّاسِ إِلَى اللَّهِ وَأَبْعَدَ هُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا إِمَامٌ جَائِرٌ

[ د آخرت په ورځ الله جل جلاله له ته تر ټولو ډيرګران ا و نزدى شخص عادل حكمران وى اوتر ټولو ډير مبغوض اوډير لرى به ظالم حكمران وى 94.

عن ابن عباس رضى الله عنه قال قال رسول الله صلىالله عليه وسلم يوم من امام عادل افضل من عباده ستين سنه وحد يقام فىالارض بحقه ازكي فيها

---

93- صحيح مسلم كتاب الاماره باب فضيله الاميرالعادل- سنن نسائى 2 ټوک 302 مخ كتاب القضاء جامع الاصل 4 ټوک 53 مخ

94 - ترمذى ابواب الاحكام لومړى ټوک 192 مخ 1380 هجرى قمرى كال د اكستان كراچى سعيدى خپرندو اداره چاپ - الترغيب 3 ټوک 67 مخ - مسنداحمد3 ټوک 22 مخ د بيروت د دار صادر چاپ مسند ابوسعيد او جامع الاصول 4 ټوک مخ

.....................

من مطر اربعين صباحا

[ د عادل حكمران يوه ورځ د شپيتوكالو نفلی عبادت څخه غوره ده او يوه شرعی سزا چې د حق او انصاف په رڼا کې ئی په ځمکه قائموی د څلويښت ورځو باران څخه ډير برکت راوړی ] 95.

عن ابی هريره رضیالله عنه قال قال رسول الله صلیالله عليه وسلم ثلاته لاترد دعوتهم الصائم حتی يفطر و الامام العادل ودعوه المظلوم

[ د دری کسانو دعا نه رد کيږی د روژه لرونکې، د عادل حکمران او مظلوم ] 96.

په دی احاديثوکې د عدل او انصاف فضيلت بيان شوی دی او عادل حکمران ته د الله جل جلاله د رحمت سيوری ، د نور په منبر باندی کښيناستونکې او د لوړی مرتبی د خاوند کيدو زيری ورکړل شوی دی داسیځرګنديږی چې د عدل حکومت د عبادت يوه نوعه ده

.

## اسلامی حکومت

## د مسلمانانو د تحفظ ذريعه ده :

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ فَالْأَمِيرُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ عَلَيْهِمْ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهِ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ وَالْعَبْدُ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُ فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ

[ رسول الله صلیالله عليه وسلم فرمايلی دی چې : ښه پوه شی چې تاسو هريو مسئول ياست او له تاسو څخه ستاسو د رعيت په هکله

---

95 - ترغيب 3 ټوک 67 مخ په بحواله د طبرانیپه الکبير او الاوسط کی .

96 - ترغيب 3 ټوک 66 مخ په حواله ترمذی ،احمد ، ابن ماجه ، ابن خريمه

پوښتنه کيږي هغه حکمران چې په خلکو حکومت کوي هغه مسئول دی او د هغه څخه هم د هغه د رعيت په هکله پوښتنه کيږي سړی د خپلې کورنۍ ساتونکې دی او د خپل رعيت په باره کښه ورځنيې پوښتنه کيږي ښځه د خپل ميړه کورنی او اولاد په هکله مسئوله ده او د هغې څخه به د هغې په هکله پوښتنه کيږي غلام يا نوکرد خپل بادار د مال ساتونکې او مسئول دی او د هغه څخه به د هغې مال او شتمنې په هکله پوښتنه کيږي، يو ځل بيا واوری چې تاسو هر يو راعی مسئول ياست او تاسی څخه به ستاسی درعيت په هکله پوښتنه کيږي ] 97.

راعی درعی څخه اخستل شوی چې معنائی ساتنه ، حفاظت او مسئوليت دی - شپون ته په دی خاطرراعی وائی چې هغه د څارويو نساتنه کوی او د څيرونکو چارپايانوڅخه ئی ساتی نو په همدی ډول حکمران هم د خپل رعيت د حقوقو د ساتنې او د باندنيواوکورينو دښمنانو څخه ئی د ساتلو مسئوليت په غاړه لری د همدی املـه لغت پوهانو د دراعی معنا حاکم هم کړيده ، د حکمران پرته د رعيت مثال دا رنګه دی لکه څنګه چې د شپون پرته څرونکې چارپايان هری خوا ته منډی رامنډی وهی نوښکاره خبره ده چې په داسی حالت کې به څيرونکې او قوی چارپايان دغه کمزوری او ضعيفه څاروی ماتوی او خوری ئی او يا به په څړځای خپله قبضه کوی او هغوی ته د ننوتلو اجازه هم نه ورکوی ، د دی نبوی مشابهت څخه دا راڅرګنديږی چې د مسلمانانواو عوامود حقوقو ساتنه او تحفظ د اسلامی رياست د جوړيدو پرته ممکن نه دی .

---

97 - صحيح بخاری‌کتاب الاحکام باب اطيعوالله ... 2 ټوک 57 مخ 0 صحيح مسلم کتاب الاماره باب کلکم راع - سنن ابوداود کتاب الخراج والاماره باب مايلزم الامام ... - جامع ترمذی‌کتاب الجهادباب فی‌الامام ... جامع الاصول 4 ټوک 50 مخ ] پورتينی حديث امام په خپل کتاب صحيخ بخاری کی په لس مقاماتو کی د بيولوبيولو راويانو څخه نقل کړی

امام ابوسليمان خطابی رحمه الله عليه په معالم السنن شرح ابوداود کې ليکي دی چې :

فرعايه الامام الاعظم حياطه الشريعه باقامه الحدود و العدل فی الحکم ورعايه الرجل اهله سياسه لامرهم وايصالهم حقوقهم ورعايه المراه تدبيرامر البيت و الاولاد و الخدم والنصيحه للزوج فی کل ذالک – ورعايه الخادم حفظه ماتحت يديه والقيام بمايجب عليه من خدمته [ د امام اعظم [ د حکومت د مشر د مسئوليت څخه مقصد دا دی چې ] هغه به د شريعت حفاظت اوساتنه کوی، حدود به قايموی او دخلکو ترمنځ به په عدل او انصاف سره حکم کوی، د سړی د راعی کيدو څخه مراد دا دی چې هغه به د خپلی کورنی انتظام کوی هغه به اصلاح کوی او د هغوی حقوق به ادا کوی د ښځی د راعيه کيدو څخه مقصد دا دی چې هغه به دکور د کارونواو د اولاد او خدمتګارانو د کارونو انتظام او تدبير کوی او په دی ټولوکارونو کې به د خپل ميړه خيرغوښتونکې وی او د خادم او نوکر د راعی کيدوڅخه مقصددادی چې هغه به د هغه څه حفاظت اوساتنه کوی چې د هغه په لاس کې ورکړل شوی وی اوهغه خدمت به کوی چې ده ته ورسپارل شوی وی .

حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ عَنْ مُسْلِمٍ حَدَّثَنِي زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شَبَابَةُ حَدَّثَنِي وَرْقَاءُ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَعَدَلَ كَانَ لَهُ بِذَلِكَ أَجْرٌ وَإِنْ يَأْمُرْ بِغَيْرِهِ كَانَ عَلَيْهِ مِنْهُ

[ حکمران يو ډال دی چې د هغه په مشری کې نبنتی کيږی او هم د هغه په واسطه خلکو ته تحفظ په لاس ورځی که چيری هغه په تقوی حکم وکړ او د انصاف څخه ئې کار واخست نو هغه ته به د دی اجر ورکړل شی خوکه چيری هغه د عدل او تقوی په خلاف حکم ورکړ نو

د هغه عذاب به په همدی وی98].

الجنه بالضم مااستترت به من سلاح [ جنه هغه ډال او اسلحی ته ویل کیږی چې د اسلحی څخه پری ځان ساتل کیږی ] 99.

ددی تشبیه څخه مقصد دا دی چې لکه څنګه چې دډال اوسپر په واسطه د یو تیری کونکې د وهلو څخه جسم ساتل کیږی نو په همدی توګه د حکمران او د هغه د مشری په اساس د باندینیو دښمنانو مقابله کیږی او د کورنی دښمنانو او مفسدینو د فساد څخه د خلکو مالونه ، ځانونه او آبرو ساتله کیږی .

## اسلامی حکومت

### د الله جل جلاله د رحمت سیوری دی :

عن عمر رضیالله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم، السلطان ظل الله فی الارض یاوی الیه کل مظلوم من عباده فان عدل کان له الاجروکان علی الرعیه الشکر

[ اسلامی حکومت یا عادل حکمران په ځمکه باندی د الله جل جلاله د رحمت سیوری دی هغه چاته چې د الله د بندګانو څخه د هر مظلوم د فریاد اوریدو له پاره رجوع کیږی که چیری هغه انصاف وکړی نو هغه ته به ئی اجر په لاس ورشی او په رعیت باندی د هغو د انصاف شکرکول واجبیږی 100.

السلطان ظل الله فیالارض فمن اکرمه اکرمه الله ومن اهانه اهانه الله

[ مسلمان عادل حکمران پرځمکه د الله جل جلاله د رحمت سیوری دی نو هرچا چې د داسی عادل حکمران احترام اوعزت وکړ نوالله جل

---

98 - صحیح بخاری الجهاد لومړی ټوک 415 صحیح مسلم کتاب الاماره باب الامام جنه جامع الاصول 4 ټوک 64 مخ

99 مختار الصحاح 114 مخ

100 - الترغیب للمنذری3 ټوک 68 مخ په حواله د ابن ماجه ، بزار او بیهقی

جلاله به د هغه عزت وکړی اوکه چا د هغه سپکه وکړه نوالله جل جلاله به هغه سپک اوخوارکړی [101].

عن ابی بکره رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم : من اکرم سلطان الله تبارك وتعالی فی الدنیا اکرمه الله یوم القیمه و من اهان سلطان الله تبارك وتعالی فی الدنیا اهانه الله یوم القیامه

[ هرهغه چا چې په دنیا ئی د الله جل جلاله د دین د قائمونکې حکومت احترام نو الله جل جلاله وکړ به د قیامت په ورځ په هغه خپل فضل اوکرم وکړی خوکه چا دی ډول حکومت ته په سپکه وکتل نو الله جل جلاله به د قیامت په ورځ هغه خواراو سپک کړی[102] .

د الله جل جلاله حقیقی رحمت خو د هغی دین دی لیکن کوم حکومت چې د دین د اقامی او د عدل دراوستو په خاطر کارکوی ، نو هغه هم د الله جل جلاله د رحمت سیوری دی مګرهغه خلک چې حکومت ضروری نه بولی، نو هغه په اصل کې د الله جل جلاله د رحمت څخه د خلکو د بی برخی کولوکوښښ کوی .

## د اسلامی حکومت

## پرته ژوند کول ناپوهی ده :

حَسَنُ بْنُ الرَّبِيعِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ الْجَعْدِ أَبِي عُثْمَانَ عَنْ أَبِي رَجَاءٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ يَرْوِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَأَى مِنْ أَمِيرِهِ شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلْيَصْبِرْ فَإِنَّهُ مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَمَاتَ

---

[101] - منتخب کنزالعمال په حاشیه د مسند احمد 2 ټوک 131 مخ په حواله د طبرانی په الکبیرکی او البیهقی په شعب الایمان کې

[102] - جامع ترمذی باب الفتن 2 ټوک 55 مخ - مسند احمد5 ټوک 42 مخ - مجمع الزوائد 5 ټوک 215 - جامع الاصول 4 ټوک د حدیث پر له پسی حدیث7373

.....................

فَمِيتَةٌ جَاهِلِيَّةٌ

**[كه څوک د خپل اميرڅخه كوم نابېره شي وګوري [په خپل وګړيزژوندکې ] نو هغه ته په كار دي چې صبر وكړي دا په دي خاطرچې هغه چا چې د حكمران د اطاعت او پيروي څخه د يوه لويشت په اندازه هم سرغړونه وكړه او په همدی حالت كې هغه مړ شو نو دی د جاهليت په مرګ مړ شوی دی ]103.**

**عن ابن عمر رضی‌الله عنهم قال رسول الله صلی‌الله عليه وسلم من مات وليس فی عنيقه بيعه مات ميته جاهليه**

**[ كه چا ته په داسی‌حالت كې مرګ راشی چې د هغه په غاړه كې دخليفه ، امام او يا مسلمان عادل حكمران سره بيعت او يا د اطاعت كولو د وعدی حلقه نه وی نو د هغه مړينه د جاهليت مړينه ده104 ] .**

**عن حذيفه بن اليمان رضی‌الله عنه [فی‌حديث طويل ] تلزم جماعه المسلمين وامامهم**

**[حذيفه رضی‌الله عنه ته رسول الله صلی‌الله عليه وسلم فرمايلی وه چې: د مسلمانانوله ډلی سره اوسه او د هغوی د امام اطاعت او پيروی كوه105] .**

**د اسلام ترمخه د عربو قبائل د يوه حكمران د اطاعت څخه خبرنه وه د هغوی د ژوندانه نظام د قبائلی سردارانو په لاس كې وه چې په**

---

103 - صحيح بخاری باب الفتن 2 ټوک 1045مخ – صحيح مسلم كتاب الامارہ باب وجوب ملازمه جماعه المسلمين – مسنداحمد لومړی ټوک 175مخ - جامع الاصول 4 ټوک 79 مخ

104 - صحيح مسلم كتاب الامارہ باب وجوب ملازمه جماعه المسلمين – جامع الاصول 4 ټوک 78 مخ

صحيح بخاری باب الفتن 2 ټوک 1045مخ – صحيح مسلم كتاب الامارہ باب وجوب ملازمه جماعت المسلمين

خپلو منځو کې به ئې نښتې کولی، نوکله چې څوک داسې ژوند اختیارکړی نو د هغوی مړینه به د جاهلیت مړینه وی د حکومت نه پرته ژوند تیرول غیراسلامی ژوند او جاهلیت دی .

حافظ نورالدین الهیثمی رحمه الله علیه د پورتنی مضمون احادیث د لاندینوصحابو رضی الله عنهم څخه هم رانقل کړی دی : ابوذرغفاری ، ابومالک اشعری ، معاویه ، معاذبن جبل ، ابوالدرداء ، عبدالله بن عمر ، سعدبن جناده ، فضاله بن عبید ، حذیفه بن یمان ، عامربن ربیعه ، جبله او عبدالله بن عباس رضی الله عنهم.

که څه هم په پورتنو روایاتوکې دځینی سندونه ضعیف دی خومضمون ئی لکه د صحیح بخاری اوصحیح مسلم په شان دی چې پورته ذکرشو[106].

### د دری کسیزه ډلی له پاره
### هم د امیرټاکل لازم دی :

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ بَحْرِ بْنِ بَرِّيٍّ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَعِيلَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا خَرَجَ ثَلَاثَةٌ فِي سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ

[ که دری تنه د سفر له پاره روان شی نو د خپلی ډلی څخه یو تن امیر وټاکې ] [107].

عن عبدالله بن عمر رضی الله عنه قال قال النبی صلی الله علیه وسلم لایحل لثلاثه یکونون بفلاه من الارض الا امروا علیهم احدهم [108]

[ که چیری دری تنه هم په یوځای صحرا کې اوسیږی نو هغوی ته دا روا نه دی مګر دا چې یو د خپلودری کسو څخه د خپل ځان امیر وټاکې ].

---

[106] - مجمع الزوائد 5 ټوک 216مخ 1967 عیسوی کال بیروت چاپ

[107] - سنن ابوداود د کتاب الجهاد 3 ټوک 81 مخ

[108] - نیل الاوطار 9 ټوک 157 مخ کتاب الاقضیه والاحکام په حواله د امام احمد

قاضي شوكاني رحمه الله عليه د دى مضمون حديث د عمربن الخطاب رضي‌الله تعالى عنه او ابن مسعود رضي‌الله عنه څخه را نقل کړى دى او د نبوى صلي‌الله عليه وسلم ددى ارشاد ښيګنى يى داسى بيان کړى دى چې که چيرى د هغوى امير موجود نه وى نو بيا به هر يو په خپل نظر کلکوالى کوى چې ددى کار نه اختلاف اوتفرقه را پيداکيږى .

**د عادل حکمران خيرغوښتنه د دين يو فرض دى :**

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبَّادٍ الْمَكِّيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ قُلْتُ لِسُهَيْلٍ إِنَّ عَمْرًا حَدَّثَنَا عَنْ الْقَعْقَاعِ عَنْ أَبِيكَ قَالَ وَرَجَوْتُ أَنْ يُسْقِطَ عَنِّي رَجُلًا قَالَ فَقَالَ سَمِعْتُهُ مِنْ الَّذِي سَمِعَهُ مِنْهُ أَبِي كَانَ صَدِيقًا لَهُ بِالشَّامِ ثُمَّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ سُهَيْلٍ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الدِّينُ النَّصِيحَةُ قُلْنَا لِمَنْ قَالَ لِلَّهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ

[ دين د پنداو نصيحت نوم دى مونږ پوښتنه وکړه د چا له پاره ويى فرمايل د الله جل جلاله له پاره د هغه د کتاب له پاره د هغه د رسول له پاره د مسلمانانو د حکمرانانو له پاره او ټولو مسلمانانو ته ] [109].

د نصيحت په بنيادى معنا او مفهوم کې د صفائى [پاکې] اواړيکو معنا شامله ده نو په دى اساس ددى معنا ده د زړه پاکوالي‌اونيک اړيکې دى .

امام نووى رحمه الله عليه وايى چې : دا ډير لوى حديث دى [ و عليه مدار الاسلام ] .

---

[109] - صحيح بخارى کتاب الايمان باب الدين النصيحه – صحيح مسلم کتاب الايمان باب الدين والنصيحه

## نیو لیك

امام ابوسلیمان خطابی رحمه الله علیه وسلم ویلی چې نصیحت یوهراړخیزه کلمه ده اوپه عربی لغاتوکې داسی بله جامع کلمه نه شته چې د دی مفهوم ادا کړی .

النصیحه لله- د الله جل جلاله له پاره زړه پاکوالی او د هغه سره نیکې اړیکې دا دی چې د هغه په یووالی ایمان راوړی هغه په ټولوکامله صفاتو متصف او دټولو عیوبو اونقصانانو څخه پاک وګڼل شی ، د هغه تابعداری وشی، د هغه ددوستانوسره مینه وشی،او د دښمنانو سره ئی‌دښمنی وشی، د هغه د دین د منکرینو په خلاف جهاد وشی د هغه د نعمتونو شکراداء شی‌او د هغه د دین په لورخلکو ته بلنه ورکړل شی .

النصیحه لکتابه – د الله د کتاب فرقان حمید سره ښی اړیکې دا دی چې په هغه د الله جل جلاله د کلام په حیث ایمان راوړی او د هغه په احکامو باندی د زړه له اخلاصه عمل وکړی ، د تحریفاتو او د کفارو د عبثواعتراضاتو څخه یې دفاع وکړی شی، د هغه په مضامینو، پندونو ، نصیحتونو باندی غور، فکراو تدبر وشی د هغه د علومو خپرونه وشی او د هغه په لور خلکو ته بلنه ورکړل شی .

النصیحه لرسوله : دالله جل جلاله پیغمبرسره نیک اړیکې دا دی چې د هغه په رسالت ایمان راوړل شی، د هغه د سنتو پیروی وشی، د هغه د سنتو د خپرولوکوشش وشی، د هغه ددوستانو سره مینه وشی او د دښمنانو سره ئی دښمنی دهغه تعظیم وکړل شی، د هغه حسنه اخلاق دخپل ځان له پاره دعمل نمونه وګرځول شی دهغه د ال اود هغه د اصحابو رضی‌الله عنهم سره مینه وشی او د بدعاتوڅخه لریوالی وشی.

النصیحه لائمه المسلمین : د مسلمانانو د حکمرانانو خیرغوښتنه او د هغوی سره نیکې اړیکې دا دی چې په حقه خبرکې د هغوی سره کومک وشی،په ښه والی او نیکې کې ئی‌اطاعت وشی ، د غفلت او

غلطۍپه وخت کېخبردارکړل شي د مسلمانانو د حقوقو د ساتلو په خاطر آماده کړل شي په امامت کې یې لمونځ وکړل شي د هغوی ترمشري لاندې جهاد وشي او هغوی ته زکوه او صدقات ورکړل شي ترڅو ئې په مستحقینوکې وویشي .

النصیحه لعامه المسلمین : د عامومسلمانانوخیرغوښتنه او د هغوی سره د نیکې اړیکې دا دي په هغوی ته د دنیا اوآخرت د دواړو د خلاصون اوکامیابۍ لاره وروښودل شي هغوی ته ضررونه رسول شي، د هغوی اړتیاوې پوره کړل شي د مشرانو احترام وشي په کشرانو رحم وکړل شياو د بغض ، حسد ،کینۍاو غولونو څخه لرې والی وشي [110].

لکه څنګه چې په سوره النساء کې د الله جل جلاله او د هغې د رسول صلیالله علیه وسلم د حکم د منلو څخه وروسته د امام د اطاعت حکم ورکړل شوی، نوهمدا ډول په دې حدیث شریف کې د الله جل جلاله او د هغې د رسول صلیالله علیه وسلم د نصیحت څخه وروسته د مسلمانانو د حکامو د خیر غوښتنې او د هغوی سره د نیکو اړیکو کلکولو ته دین ویل شوی دی ددی نه دا راښکاره کیږي چې د الله جل جلاله ، رسول صلی الله علیه وسلم اودهغه دکتاب سره نیک اړیکې [حسن تعلق] د امامت د نظام پرته نه شي قائمیدلای او همدا راز دا تری هم ثابته شوه چې د امامت د نظام قایمول د دین یوه مهمه برخه ده .

### د امیرد احترام حکم :

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يَحْيَى أَخْبَرَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحِزَامِيُّ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ يَعْصِنِي فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَمَنْ يُطِعْ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ

---

[110] - نووی شرح مسلم په حاشیه قسطلانیلومړی ټوک 456 تر458 اومثله دده په فتح الباری لومړی ټوک 146مخ

يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي و حَدَّثَنِيهِ زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي

[ چاچې زما اطاعت وکړ نو هغه د الله جل جلاله اطاعت وکړ او چا چې زما نافرمانی وکړه نوهغه دالله جل جلاله نافرمانی وکړه او چا چې زما د امیر یا د مسلمانانو د امیر اطا عت وکړ نوهغه په حقیقت کې زمااطاعت وکړاوچاچې زما د امیر یا د مسلمانانو د امیر نافرمانی وکړه نو هغه زما نافرمانی وکړه[111] ] .

ابن حجرعسقلانی رحمه الله علیه وائی چې : هغه امیر چې په حق سره حکم کوی او د عدل اوانصاف له مخې پریکړی کوی نو هغه د رسول صلی الله علیه وسلم امیر او نائب دی دا په دی خاطرچې هغه د رسول صلی الله علیه وسلم به حکم اود شریعت مطابق امیر جوړ شوی دی [112].

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ وَهْبِ بْنِ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا عَمِّي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَنِي بُكَيْرٌ عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ جُنَادَةَ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ وَهُوَ مَرِيضٌ فَقُلْنَا حَدِّثْنَا أَصْلَحَكَ اللَّهُ بِحَدِيثٍ يَنْفَعُ اللَّهُ بِهِ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ دَعَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْنَاهُ فَكَانَ فِيمَا أَخَذَ عَلَيْنَا أَنْ بَايَعَنَا عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي مَنْشَطِنَا وَمَكْرَهِنَا وَعُسْرِنَا وَيُسْرِنَا وَأَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَأَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ قَالَ إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَكُمْ مِنْ اللَّهِ فِيهِ بُرْهَانٌ

[ عباده بن صامت رضی الله عنه فرمایی چې مونږ نبی کریم

111 - صحیح بخاری کتاب الاحکام 2 ټوک 57 مخ صحیح مسلم کتاب الاماره باب اطاعه الامام

**112** - فتح الباری 61 ټوک 228 مخ د 1959 عیسوی کال د مصر چاپ

صلی‌الله علیه وسلم راوغښتواودا وعده ئی راڅخه واخسته چې مونږ به د خپلو آمرانوخبره اورو د هغواطاعت او تابعداری به کووکه زمونږ طبعیت ئی غواړی او یا ئی نه غواړی، د سختی او نرمی په دواړو حالتونوکې [ په دی شرط چې د هغه حکم د شریعت مطابق وی] او زمونږڅخه ئی دا وعده هم واخسته چې مونږ به د حکومت د مسئولینوسره نه نښلو، مګرداچې دهغوی څخه ښکاره کفروګورو او د هغی د کفر په هکله د تاسی سره د الله خوا نه کوم قطعی دلیل موجود وی ][113].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَإِنْ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ

[ د خپلو آمرانو خبری واوری د هغوی اطاعت وکړی که څخه هم په تاسی داسی یوحبشی غلام امیرمقررشوی وی چې د هغه سر د ممیزد دانی په اندازه وی[114] ] .

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ فِيمَا أَحَبَّ وَكَرِهَ إِلَّا أَنْ يُؤْمَرَ بِمَعْصِيَةٍ فَإِنْ أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ

[ دامیرانو خبره اوریدل اود هغوی د اطاعت کول په مسلمانانو فرض دی، ترڅو پوری چې هغوی ته ئی په ګناه حکم نه وی کړی کله چې په ګناه حکم وکړی نو بیا ئی نه اوریدل روا دی او نه اطاعت کول

---

113 - صحیح بخاری کتاب الاحکام 2 ټوک 1045 مخ - صحیح مسلم کتاب الاماره باب البیعه علی السمع والطاعه

114 - صحیح بخاری کتاب الصلواه اوکتاب الاحکام - جامع الاصول 4 ټوک 61 مخ

•••••••••••••••••••••

.[115] ]

و حَدَّثَنِي سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ أَعْيَنَ حَدَّثَنَا مَعْقِلٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَبِي أُنَيْسَةَ عَنْ يَحْيَى بْنِ حُصَيْنٍ عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ الْحُصَيْنِ قَالَ سَمِعْتُهَا تَقُولُ حَجَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّةَ الْوَدَاعِ قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْلًا كَثِيرًا ثُمَّ سَمِعْتُهُ يَقُولُ إِنْ أُمِّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ مُجَدَّعٌ حَسِبْتُهَا قَالَتْ أَسْوَدُ يَقُودُكُمْ بِكِتَابِ اللَّهِ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا

[ رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دحجه الوداع په وخت کې په منی کې فرمایلی دی که پرتاسی پوزه غوڅی تور حبشی غلام امیرمقرر شی او هغه ستاسی مشری د الله جل جلاله دکتاب مطابق کوی نو د هغی خبره واوروی اواطاعت ئی وکړی ] [116].

عن ابی‌امامه رضی‌الله تعالی عنه قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فی خطبه حجه الوداع اتقو الله ربکم وصلوا خمسکم و صوموا شهرکم و ادوا زکوه اموالکم و اطیعوا اذا امرکم تدخلو جنه ربکم

[ رسول الله صلی الله علیه وسلم دحجه الوداع په وخت کې په آخری خطبه کې وفرمایل: د الله جل جلاله څخه ویریږی ، پنځه وخته لونځونه کوی ، د رمضان په وخت کې روژه ونیسی د خپلو مالونو زکوتونه ورکړی او د خپل امیراطاعت او پیروی وکړی نو تاسی به په جنت کې

[115] - بخاری2ټوک 1057مخ کتاب الاحکام - مسلم الاماره باب اذاامربمعصیه ...- جامع ترمذی کتاب الجهاد باب مالاطاعه مخلوق فی‌معصیه الخالق – سنن ابوداود کتاب الجهادباب فی‌الطاعه – سنن نسائی کتاب فی‌البیعه باب جزاء من امربمعصه - جامع الاصول 4 ټوک 65 مخ

[116] - صحیح مسلم کتاب الاماره باب السمع والطاعه بکتاب الله – جامع ترمذی کتاب الجهادباب ماجآفی‌طاعه الامام

داخل كړې شي117 ] .

## د امت اصلاح د صالح حكمران پرته نه كيږي :

عن ابن عباس رضیالله عنه قال قال النبی صلیالله علیه وسلم صنفان من امتی اذا صلحا صلحت الامه واذا فسدت فسدت الامه السلطان والعلماء وفی روایه الامراء و الفقها

[ زما د امت د دوه ډولوخلكو حالت چې ترڅه وخته پورې ښه وي نو د امت حالت به هم ښه او بهتر وي اوكله چې د هغوی حالت خراب شي نو په امت كې هم خرابی او بدی منځ ته راځی، ددی دوه ډلوڅخه مقصد حكمرانان اوعلماء دي 118.

حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ بَيَانٍ أَبِي بِشْرٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ دَخَلَ أَبُو بَكْرٍ عَلَى امْرَأَةٍ مِنْ أَحْمَسَ يُقَالُ لَهَا زَيْنَبُ فَرَآهَا لَا تَكَلَّمُ فَقَالَ مَا لَهَا لَا تَكَلَّمُ قَالُوا حَجَّتْ مُصْمِتَةً قَالَ لَهَا تَكَلَّمِي فَإِنَّ هَذَا لَا يَحِلُّ هَذَا مِنْ عَمَلِ الْجَاهِلِيَّةِ فَتَكَلَّمَتْ فَقَالَتْ مَنْ أَنْتَ قَالَ امْرُؤٌ مِنْ الْمُهَاجِرِينَ قَالَتْ أَيُّ الْمُهَاجِرِينَ قَالَ مِنْ قُرَيْشٍ قَالَتْ مِنْ أَيِّ قُرَيْشٍ أَنْتَ قَالَ إِنَّكِ لَسَئُولٌ أَنَا أَبُو بَكْرٍ قَالَتْ مَا بَقَاؤُنَا عَلَى هَذَا الْأَمْرِ الصَّالِحِ الَّذِي جَاءَ اللَّهُ بِهِ بَعْدَ الْجَاهِلِيَّةِ قَالَ بَقَاؤُكُمْ عَلَيْهِ مَا اسْتَقَامَتْ بِكُمْ أَئِمَّتُكُمْ قَالَتْ وَمَا الْأَئِمَّةُ قَالَ أَمَا كَانَ لِقَوْمِكِ رُءُوسٌ وَأَشْرَافٌ يَأْمُرُونَهُمْ فَيُطِيعُونَهُمْ قَالَتْ بَلَى قَالَ فَهُمْ أُولَئِكِ عَلَى النَّاسِ

[ یوی ښځی د ابوبكر رضیالله عنه څخه پوښتنه وكړه د جاهليت څخه وروسته چې الله جل جلاله زمونږ د حالت ښه والی او اصلاح

---

117 - جامع ترمذی كتاب الصلوه فیآخرابواب الصلوه تخريج د احمد رحمه الله عليه ، ابن حبان او الحاكم

118 - جامع بيان العلم د ابن عبدالبر لومړی 184 مخ د مصرچاپ - منتخب كنزالعمال پرحاشيه دمسنداحمد2 ټوک 147په حواله حليه الاولياء

فرمایلی دی نو په دی ښه حالت کې به مونږترڅه وخته پوری اوسو؟ ابوبکررضی‌الله عنه ورته وویل: ترهغه پوری چې ستاسوحکمران په صحیح لاره روان وی نوترهمغه وخته پوری به تاسوبه ښه حالت کې پاته شی ] [119].

قال عمر بن الخطاب والله مایزع الله بالسلطان اعظم ممایزع بالقرآن

[ عمرفاروق رضی‌الله عنه فرمایلی دی په الله جل جلاله قسم چې الله جل وعلی شانه د حکومت په واسطه چې دکومو بدیو مخنیوی کوی هغه د هغه نه ډیر زیات دی چې د قرآن په واسطه ئې‌کوی ] 120.

ددی علت دادی چې د قرآن د زده کړی او د هغی د پنداو دلائلو څخه ځینی‌خلک ګټه اخلی اوخپل ځانونه دګناه څخه ساتی- خو ځنی سخت زړی خلک د هغی څخه څه ګټه نه شی اخستی خو څرنګه چې حکومت ورته سزاورکوی او د هغه سره مادی قوت هم دی نو د دی له امله د سزاګانوله ویری ځینی خلک د جرمونوکولو څخه ځان ژغوری .

د همدی مضون په ډول اوپه همدی کلیمو د حضرت عثمان رضی‌الله عنه یوه وینا هم په کتابونوکې را نقل کړی شوی ده121.

ابومسلم خولانی رحمه الله علیه چې یولوی عالم او متقی تابعي وه فرمایی چې : مثل الامام کمثل عین عظیمه صافیه طیبه- الماء یجری منها الی‌نهرعظیم فیخوض الناس فیکدرونه ویعود علیه صفوالعین فاذاکان الکدرمن قبل العین فسد النهر و لا یصلح الناس الا بالامام ولا یصلح الامام الا با الناس [ حکمران د هغی لوی، پاکې اوخوږی

---

[119] - صحیح بخاری کتاب فضایل اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم باب ایام الجاهیلیه – جامع اصول **81** ټوک **4** مخ

[120] - منتخب کنز العمال په حاشیه د مسند 2 ټوک 134 مخ په حواله د تاریخ بغداد د خطیب بغدادی

[121] - جامع الاصول 4 ټوک 87 مخ 1970 چاپ - البدایه و النهایه ابن کثیر3 ټوک 10مخ

چینی په مثال دی چې د دی چینی اوبه په یوه غټ کانال کې بهیږی ، خلک د کانال په اوبوکې غوټې ووهی او هغه خرابوی او خړه وی خو بیا له چینی څخه پاکې او صافی اوبه راشی، خوکه په خپله دچینی اوبه خرابی او خړی شی نو د کانال اوبه به په خپله خرابی خړی پړی وګرځی- د خلکو اصلاح د حکمران پرته نه شی کیدلای- او د حکمران اصلاح د خلکو پرته نه شي‌کیدلای[122].

احمد بن عبدالله رحمه الله علیه فرمائی چې :

اسئل الله صلاحاً للولاه الرو،ساء

فصلاح الدین والد نیا صلاح الامراء

[زه د الله جل جلاله څخه سوال کوم چې هغه حکمرانان او مشران نیک وګرځوی ځکه چې د دین او دنیا اصلاح د حکمرانانو په اصلاح کې پټه ده ] [123].

د پورته نه ویشت روایتونو او همداسی ددی بحث په هکله د سلګونو نورو روایتونو څخه دا خبره راپه ډاګه کیږی چې د اسلامی عادل حکومت قیام یوه دینی وجیبه ده او دینی سیاست د اسلام او دین یو باب او مهمه څانګه ده .

د اسلامی‌حکومت

په هکله د اسلام پوهانو وینا وی :

دقرآنکریم د پنځه آیتونواودیرشو روایتونوڅخه داخبره ثابتیږی چې د اسلامی‌حکومت جوړول واجب دی ځکه چې که دمسلمانانوکوم سیاسی‌مشرموجودنه وی نو د هغی ټاکل په هغوی باندی شرعاً فرض دی اوکه نه نو دوی به د الله جل جلاله په وړاندی نیول کیږی مسلمان پوهانو د همدی آیتونواو روایتونو په نظرکې نیولو سره [ دامام

122 - المنصف لعبدالرزاق 11 ټوک 327 مخ باب الامام راع 1392 هجری قمری کال بیروت چاپ

[123] جامع البیان العلم د ابن عبدالبر لومړی ټوک **184**مخ

نصبول] يعنى د اسلامي حكومت جوړول او د خليفه ټاكل واجب كړى دى دلته د مثال په ډول د يوڅو پوهانو نظرئى را اخلو:

امام ابوالحسن الماوردى الشافعى رحمه الله عليه چې په 450 هجرى قمرى كال كې مړ شوى دى اوقاضىابويعلىالحنبلى رحمه الله عليه چې په 458هجرى قمرى كال كې مړ شوى دى ليكلى دى چې : وعقدالامامه لمن يقوم بها فىالامه واجب بالاجماع [ د رياست د مشرى له پاره دداسى يوه شخص ټاكل چې دا فرض ادا كړى شى د اجماع په اساس واجب دى ]124.

امام عبدالقاهربغدادى رحمه الله عليه چې په 429 هجرى قمرى كال كې مړ شوى دى وايى چې : جمهوراصحابنا من المتكلمين و الفقهاء مع الشيعه والخوارج واكثر المعتزله بوجوب الامامه وانها فرض وواجب [ زمونږ د استادانو څخه د عقائدو او فقهى مشهورو پوهانو همدا ډول شيعه ګانو، خوارجواواكثره معتزلو ډيرو همدا ويلى دى چې د اسلامى حكومت جوړول او امام نصبول فرض او واجب دى ]125 .

علامه ابن حزم ظاهرى رحمه الله عليه چې په 456 هجرى قمرى كال كې مړ شوى دى وايى چې : و لا يجوز التردد بعد موت الامام فى اختيار الامام اكثر من ثلاث [ د يو حكمران د وفات څخه وروسته د بل حكمران د ټكلو له پاره د درى ورځو څخه ډير وخت تيرول روا نه دى ] 126.

ابن حزم رحمه الله عليه په خپل بل كتاب كې دخليفه د ټاكلو د وجوب په هكله د اهل سنتو، مرجئو، خوارجو اوشيعو اجماع رانقل

124 - الاحكام السلطانيه ماوردى 1973 د مصر قاهره چاپ - الاحكام السلطانيه ابى يعلى رحمه الله عليه 1966د مصر قاهره چاپ

125 - اصول الدين 271 مخ جامع اشرفيه لاهورپاكستان چاپ

126 - المحلى د ابن حزم ليكنه لومړى ټوک 45 مخ

.....................

کړيده 127.

علامه ابوالشکورالسالمی رحمه الله عليه وايی چې : ان الخلافه ثابته والاماره قائمه مشروعه واجبه علی الناس ان يروا علی انفسهم اماما بدليل الکتاب والسنه والاجماع [ خلافت اوامارت د شريعت په اساس ثابت دی او په خلکو واجب دی چې په ځان يوسړی د حکمران په حيث وګوری د دی دليل قرآن ، سنت او د امت اجماع ده]128 .

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله عليه چې په 728 هجری قمری کال کې مړ شوی دی وايی چې : ان ولايه امرالناس من اعظم واجبات الدين بل لاقيام للدين الابها [ اسلامی حکومت ددين لويه فريضه اوجوړښت ئی واجب دی بلکه د هغه پرته دين نه شی قائميدلای ]129.

علامه علاو الدين الحصکفی حنفی رحمه الله عليه چې په 1088 هجری قمری کال کې مړ شوی دی ليکي چې : ونصبه اهم الواجبات فلذا قدموه علی دفن صاحب المعجزات [ د عادل حکمران ټاکل د دين اهمه فريضه ده همدا علت دی چې صحابه کرامو رضی الله عنهم د امير ټاکل د رسول الله صلی‌الله عليه وسلم د تدفين څخه د مخه سرته ورسول او ابوبکر صديق رضی‌الله عنه سره ئی بيعت وکړ ]130 .

علامه ابن الهام حنفی رحمه الله عليه چې په 681 هجری قمری کال کې مړ شوی دی ليکي چې : و نصب الامام واجب سمعا [ د رياست

---

127 - الفصل بين الملل والنحل ابن حزم 4 ټوک 87 مخ

128- التمهيد فی بيان التوحيد 172 مخ د 1309 هجری قمری کال د هندوستان

129 - السياسته الشرعته 161 مخ 1969 عيسوی کال د مصر چاپ

130 - درمختارسره د شامی حاشيه لومړی ټوک 511 مخ د امامت بحث - والمعتمد فی المعتقد 174 مخ د قاضی فضل الله توريشتی‌حنفی رحمه الله عليه 1288هجری قمری کال د هندوستان د مدراس چاپ - مقدمه ابن خلدون 166مخ

مشر ټاکل شرعاً واجب دی ] 131.

امام ربانی مجددالف ثانی شیخ احمد سرهندی رحمه الله علیه لیکي چې : بادشاه نسبت به عالم در رنگ دل است ببدن اگر دل صالح است، بدن صالح است و اگر دل فاسد است بدن فاسد است ، صلاح پادشاه صلاح عالم است و فساد او فساد عالم132.

په نړۍ کې د پادشاه مقام هغسی دی لکه څنګه چې په بدن کې د زړه مقام دی‌که چیری د زړه حالت صحیح وی نو جسم به هم روغ او صحیح وی اوکه چیری دزړه حالت خراب وی نو د جسم حالت هم خرابیږی ، صالح حکمران د ټولی نړۍ صلاح ده او بد حکمران د ټول نړی خرابیدل دی .

شاه ولی‌الله محدث دهلوی رحمه الله علیه لیکلی چې : واجب بالکفایه است بر مسلمین الی یوم القیمه نصب خلیفه مستجمع شرائط [ د قیامت تر ورځی پوری په مسلمانو دا کفائی فرض دی چې داسی یو خلیفه وټاکي چې په هغه کې د خلافت شرائط موجود وی133 ].

دا لس حوالی چې د عشره کامله حیثیت لری د مثال په ډول وړاندی‌کیږی اوکه نه د فقهی، احادیثواو تفاسیرو داسی کوم یوکتاب به نه وی چې په هغی کې د امام د ټاکلود وجوب او ضرورت اهمیت نه وی بیان شوی .

131 - المسایره 156 مخ د مصر د محمود یه چاپ – البدائع 7 ټوک 2 مخ د کاشانی حنفی لیکنه 1974 عیسوی کال چاپ

132- مکتوبات لومړی دفتر دوهمه برخه **47** مکتوب د هندوستان چاپ

133 **ازاله الخفاء عن خلافه الخلفاء 3 مخ د پاکستان لاهور چاپ**

......................

### دوم فصل

## د پيغمبرانو عليهم السلام او صالحينو حکومتونه :

د قرآنکريم له مخې د انبياء عليهم السلام فرضي منصب د دين اقامه کول ښوول شوی دی يعنی د اسلام ددين نافذول، دين يواځې مابعدالطبيعيات او يا د حس نه د لوړو کارونو نوم نه دی، بلکه د ژوندانه د پوره نظام نوم دين دی چې هغه په څو څانګو ويشل شوی : عقائد او ايمانيات – عبادات – معاملات – اخلاقيات - عقوبات- سياسيات

ددين ددی جامع فکرڅخه د نبوت او رسالت جامع فکرمنځته راځی د الله جل جلاله رالیږل پيغمبرمحمدصلی الله عليه وسلم د دنيا د پريښولو، د دنيا څخه د تيښتې او رهبانيت درس نه ورکوی، بلکه د دنيا د تعميراو د خلکو د اصلاح هر اړخيز پيغام ئی له ځانه سره راوړی نبی صلی الله عليه وسلم يواځی د ما بعد الطبيعی امورو معلم نه دی بلکه د ژوندانه د مکمل نظام ښوونکې هم دی چې په هغه کې د

سیاست اوحکمرانی اصول هم شامل دی .

د هندوستان نامتو محدث ، شاه ولی‌الله رحمه الله علیه د نبی صلی‌الله علیه وسلم د خصوصیاتو څیړنه په دی توګه کړی ده د بشری ژوندانه د تعمیر له پاره چې دکوموکومو صلاحیتونو اړتیا پیداکیږی نو هغه ټول د نبی صلی‌الله علیه وسلم په ذات کې نسبت نورو انسانانو ته فطرتا زیات موجود دی .

ا ] نبی یوحکمران هم وی چې د [ مدنی‌انسان ] په نوم یادیږی یعنی په ټولنیزو اوتمدنی امورو کې پوه او ماهرانسان .

ب ] نبی یوه حکیم هم وه چې د علم اخلاق ، تدبیر منزل او سیاست مدن په اصولوپوه اوماهر وه .

ج ] نبی یوکامل مرشد هم وی چې د عبادتونو او ذکرونو د هغه ټولوطریقوڅخه په ښه توګه باخبر وه چې د نفس د پاکوالی له پاره ورته اړتیاوی .

په نبی‌کې دا ټول کمالونه په خپله موجود وی د کوم تربیت ځای اوخانقاء تر احسان لاندی نه وی[134] .

د شاه ولی‌الله رحمه الله علیه د پورتنی څیړنی لنډیز دا دی چې نبوت دری بنستیز ارکان لری : حکومت او سیاست - علم اوحکمت – رشداوهدایت

په هر نبی‌کې دا دری واړه ارکان په پوره توګه موجود وی، هغه د حکمرانی او سیاست قابلیت هم لری،که څه هم هغه ته عملاً د منظمی حکمرانی وخت په لاس ورنشی،خو هغه په خپله فقیری کې هم د امیری په صفتونومتصف وی، د هغه په هکله دا فکرهم کیدای نه شی چې د مملکت د تدبیراو د خلکو د سیاست اصول اومقررات دی د هغه په زده کړوکې شامل نه وی .

---

[134] قره العینین فی تفضیل الشخین لنډ 41 مخ 1976 عیسوی کال مکتبه سلیفه لاهور پاکستان چاپ

په دی فصل کې د انبياء و او صالحينو د هغه حکومتونو يادونه کوو چې هغه قرآنکريم کې ذکر شوی د تاريخ په کتابونو کې هم د داسی حکومتونو حالات ترمخه کيږی ، چې د هغی مشران د الله جل جلاله نيک بندګان وه خو دلته د دی ټولو يادونه زمونږ په نظر کې نه ده .

## د آدم عليه السلام خلافت :

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ [د البقره سورت 30 آيت]

بيا لږ شان هغه وخت په زړه کړه چې کله ستا رب پرښتو ته ويلي ؤ چې زه په ځمکه کې د يو خليفه پيداکوونکې يم ] .

د مفسرينوامام ابن جريرطبری رحمه الله عليه چې په 310 هجری قمری کال کې مړ شوی دی د خليفه دکليمی د تفسيرپه هکله داسی وائی چې:

عن ابن مسعوداو ابن عباس رضی‌الله عنهما انی جاعل فی الارض خليفه منی يخلفنی فی الحکم بين خلقی و ذالک الخليفه آدم ومن قام مقامه فی‌طاعه الله والحکم بالعدل بين خلقه [ ابن مسعود او ابن عباس رضی‌الله عنهما د خليفه دکليمی مطلب په دی توګه بيان کړی دی چې زه پيداکوم په ځمکه خپل خليفه اوهغه به زما د مخلوق ترمنځ د پريکړی‌کولوپه وخت کې زما نائب وی او دا خليفه آدم عليه السلام دی او هرهغه شخص چې د الله جل جلاله اطاعت اود هغه د مخلوق ترمنځ په عدل اوانصاف سره حکم وکړی ، نو هغه به د آدم عليه السلام نائب وی[135]].

---

135- تفسير ابن جرير رحمه الله عليه لومړی ټوک 200 مخ - معالم التنزيل لومړی ټوک 20 مخ هندی نسخه – تفسير قرطبی لومړی ټوک 263 مخ –

علامـه سـيد محمود الوسـی رحمـه الله عليـه چې پـه 1270 هجـری قمری کال کې مړ شوی دی شوی فرمايي چې : انه خليفه الله فی الارض وکـذا کـل نبـی اسـتخلفه فـی عمـاره الارض و سياسـه النـاس وتکميـل نفوسهم وتنفيذ امره فيهم [ آدم عليه السلام پرځمکه د الله جل جلالـه خليفـه وه اوپـه همـدی ډول د الله جـل جلالـه هـر نبـی عليـه السـلام د ځمکې د ابـادولو پـه خـاطر پرځمکـه خپـل خليفـه ګرځـولی وه د خلکـو د سياست او صلاح په خاطر د هغـوی د نفسـونو د تزکيـی او پـاکوالی پـه خاطر او د هغوی ترمنځ د الله جل جلاله د حکمونـو د نافذونو پـه خـاطر ] [136].

د دی آيـت د تفسـير پـه هکلـه مفسـرينو د حکـم بالعـدل ، اقامـه الاحکـام ، تنفيـذ قضـايا او احکـام او سياسـه النـاس الفـاظ را نقـل کړی دی - ښکاره ده چې د انصاف په اساس پريکړی کـول د الله جل جلاله د حکمونو نافذول او پـه خلکـو سياسـت کـول صـرف د تبليـغ او تعليم کارنه دی بلکه دا د يوه حکمران فريضه ده دا ضرو رنه ده چې د حکومت نظم دی د اوسنيو حکومتونو پـه څيرهـراړ خيـز وی ، د آدم عليه السلام په وخت کې خلافت فطری او سـاده وه مګرکـه پـه هـر ډول وه خـو يـو حکومـت وه ، د ابـن الاثيـر او ابـن جريرحوالـه مخکـې ورکـړل شـوه چې ادم عليـه السـلام تـه د نبـوت بـه څنـګ کې ملـک الارض [ د ځمکـې حکومـت ] هـم ورکـړل شـوی وه چـې د هغـی د مـړينی وروسـته [حکومت ] د هغه ز وی شيث عليه السلام ته ورو سپارل شو،اود شيث عليه السلام په نشتوالی کې به د حکومت مسئوليت سياسه الملک د

---

زادالمسير ابن جوزی ليکنه لومړی ټوک 60 مخ 1964 عيسوی کـال بيـروت چـاپ
– تفسير مظهری د قاضی ثناء الله پانی پتـی ليکنـه لومړی ټوک 40 مـخ د مکتبـه
علميه لاهور پاکستان چاپ - تفسير کبير د امام رازی ليکنه 2 ټوک 165 مخ
136 - روح المعانی لومړی ټوک 220 مخ رشيد کتابخانه لاهور پاکستان چاپ

هغه زوی حضرت انوش سرته رساوه [137].

د ملک ، ریاست او سیاسه الملک د کلیموڅخه دا ثابتیږی چې د ابتدائی دور د حکومتونوڅخه اخستل شوی چې د آدم علیه السلام د خلافت په څیر وو .

دآدم علیه السلام دخلافت پوری د مربوطو آیاتونوڅخه را څرګند شوی سیاسی اصول :

په قرآنکریم کې د آدم علیه السلام نوم په" 25 " آیتونوکې یاد شوی دی چې د هغو آیتونو څخه د بقری په سوره کې د ځینی ثابت شوواصولو لنډه تشریح وړاندیکوو.

1 - إِنِّي جَاعِلٌ

: زه ټاکوونکې او جوړونکې یم :

له دی څخه په واضح توګه د الهی حاکمیت اصول ثابتیږی چې په حقیقت کې حاکم او ټولواک ذات الله جل جلاله دی او آدم علیه السلام د هغه ټاکلی خلیفه دی چې هغه د الهی اذن په اساس د ځمکې د ریاست او د الله جل جلاله د بندګانو د قیادت وظیفه سرته رسوی .

2- فِي الْأَرْضِ [ په ځمکه کې ]:

یعنی د آدم علیه السلام حکومت په جغرافیائیاو منطقوی حدودو کې مختصرشوی نه وه بلکه دالله جل جلاله په ټوله ځمکه دهغه حکومت وه البته دا بیله خبره ده چې په هغه وخت کې د آبادی د لږوالی په اساس ، په عملی توګه داخلافت په محدوده علاقه قایم کړشوی وه .

3- خلیفه [ خپل نائب ]

137 - الکامل د ابن اثیر لیکنه لومړی ټوک 47 مخ - تاریخ د ابن جریر طبری لیکنه 76 مخ

دا خلافت يو نيابتي حكومت وه چې د الله جل جلاله د احكامو او لاربښوونو پابند وه نه يو مطلق العنانه پادشاهی يا د خلكو د غوښتنو پابند حكومت .

4- وَإِذْ قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ

[ هغوی عرض وكړ:آيا ته په ځمكه كې داسی يو څوک ټاكې چې د هغی نظم خراب كړی او وينی توي كړي ؟ ] .

ددی نه څرګنديږی چې په بشری ټولنوكې د شخړو او نښتو را پيدا كيده يو طبيعی كاردی چې د خلافت يا نيابتیحكومت كار د همدی شخړو او نښتوپائی ته رسول او دجرائمو مخنيوی دی .

5- وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ

[ ستا له حمد او ثنا سره تسبيح اوستا له پاره سپيڅلی ستاينه خو همدا مونږ كوو] .

ښكاره ده چې په هغه ټولنوكې چې دګناه امكان نه وی، نو هلته د خلافت اوحكومت دجوړولو اړتيا هم نه ليدل كيږی د بشری ټولنی په څير په ملائكوكې بی اعتدالی موجوده نده نو په همدی خاطر په هغوی

كې د خلافت له پاره اړتيا هم نه شته .

6 - قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ

[ و يی ويل زه پر هغه څه پوهيږم چې تاسی پری نه پوهيږئ ] .

دا د خلافت د هغه ښيګڼو پـه لوراشاره وه،چې ملائكوتـه نـه وی معلومی،همدارازپه دیكښدهغه حقيقت په لورهم اشاره شوی ده چې د اعلی اقتدار خاوند او اعلی حاكم هغه څوک كيدای شیچې د هغه علم په ماضی ، مستقبل او حال باندی يو رنګ محيط او خپور وی .

7- وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا

[ الله جل جلاله آدم عليه السلام ته د ټولو شيانو نومونه وښودل ] .

د مبارک آیت ددی برخی څخه را څرګندیږی چې د خلافت له پاره ددینی علومو پرته د دنیاوی علومو زده کړې ته هم اړتیا ده، او د شرعی احکامو د علم په څنګ کې په ځمکنی شیانو پوهه هم ضروری ده ملائکوته د ځمکنی شیانوپه هکله پوهه نه وه ورکړل شوی، نو د پاکوالی سره سره هغوی ته خلافت ورنکړل شو، څرنګه چې آدم علیه السلام ته د ځمکې د تعمیر[ عماره الارض ] او د خلکو د سیاست [سیاسه الناس]کار ورپه غاړه وه نوځکه هغه ته د[ علم الاحکام] په څنګ کې[ علم الاشیاء ] هم ورکړل شوی وه.

8- فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى

[ بیا چې زما له خوا کوم هدایت ورسیږی ] .

خلافت کې اساسی قانون د الله له خوا څخه لاربښوونی او نازل کړی شوی حکمونه دی، البته په غیری منصوصو امورو کې یعنی مباحاتو اود مصالحو مرسلو په دائره او د اساسی قانون د حدودو په چوکاټ کې قانون جوړیدای شی خوپه دی شرط چې قانون جوړونکې فقهای عابدین وی .

9 - فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ

[ نو څوک چې زما د دی لاربښوونی پیروی وکړی نو پر هغو باندی به څه ویره او غم نه وی ] .

اسلامی حکومت کې د شرعی قوانینو پیروی د آخرت د ورځی د کامیابی او خلاصون وسیله ده. او د دنیوی اقتصادی آسانتیاو او آرام [ قراری ] انتظام کول هم د هغی په فرائضو کې شامل دی .

10- وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ

[ او هغه خلک چې د ده له منلو انکار وکړی او زمونږ آیتونه دروغ وانګیري هغوی د دوزخ ته تلونکي دی هلته به هغوی همیشه اوسیږی ]
.

د اسلامی حکومت د شرعی احکامو څخه سرغړونه یوازی د

دنيائى تاوانونو سبب نه گرځى بلکه د هغه اصلى اوحقيقى تاوان آخروى او هميشنى تباهي وبربادى ده پنانه غوارم په الله جل جلاله له هغه څخه .

### د ابليسى حکومت اصول :

عبدالله بن مسعود ، عبدالله بن عباس او نورو صحابه کرام رضى الله عنهم څخه روايت دى چې :

فجعل ابليس على ملک الدنيا ... وکان له سلطان الارض کان يسوس بين السماء والارض [ الله تعالیٰ ابليس د نړۍ په حکومت ټاکلى وه او هغه ته په ځمکه سلطنت ورکړل شوى وه او هغه د ځمکې او آسمان ترمنځ سياست او حکومت کولو] [138].

ابليس د ابلاس څخه اخستل شوى چې معنى ئى نا اميدى ، پښيمانى ، غم ، حيرانى او پريشانى ده، ابليس هم د خپلى سرغړونى او تکبر په اساس د الله جل جلاله د رحمت څخه نا اميده شوى وه او په غم ، حيرانى او پريشانى کې ککړ وه او همدا د هغى د تسميى علت دى ځکه چې د هغى اصلى نوم حارث يا عزازيل وه .

ابن منظور رحمه الله عليه ليکي چې: وابلس من رحمه الله اى يئس وندم ومنه سمى ابليس . . . وال ابلاس الحيره ... والابلاس الانکسار والحزن [ د ابلس معناده فلانکې نفر د الله جل جلاله د رحمت څخه بى برخي‌اونا اميده شوى دى نو همدا علت دى چې ابليس ته ئى د ابليس نوم ورکړى دى ... ابلاس حيرانتيا ته هم ويل کيږى او ابلاس د ماتى خوړلو اوغمجنيدو له پاره هم راځى ] [139].

د ابليسى نظام اصول د خلافت د اصولو ضد دى ددى ابليسى

---

[138] - تفسير ابن جرير ليکنه لومړى ټوک 226 مخ - تاريخ ابن جريرطبرى لومړى ټوک 41 مخ - الکامل د ابن الاثير ليکنه لومړى ټوک 23مخ - البدايه النهايه عمادا لدين بن کثيرليکنه لومړى ټوک 55 مخ

[139] - لسان العرب 6 ټوک 29 مخ – تفسير ابن جرير طبرى ا ټوک 227 مخ

سياست څوخواوی په لاندی ډول دی :

1- أَبَى [ هغه انکاروکړ ] :

د ابلیسی سیاست لومړی بنسټییزاصل دا دی چې د شرعی قانون د فوقیت څخه انکاراو د الله جل جلاله د حکمونوڅخه مخ اړول .

2- وَاسْتَكْبَرَ [ د خپلی لوئی په غرور کې اخته شو ] :

خپل ځان ئی لوی وګاڼه، د خپل ځان لـه پـاره ئی لـوړوالی او مطلق العنانیت اختیارکړ.

3- وَكَانَ مِنْ الْكَافِرِينَ [ اود نه منونکو له ډلی څخه شو ] .

د مسلمانانو په پرتله کافروته ترجیح ورکول او د هغوی د ډلی سره یوځای‌کیده.

4- قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ

[ ابلیس وویل چې زه له هغه نه غوره یم تا زه د اوره څخه پیدا کړی یم او هغه دی له خټی‌څخه پیداکړی دی ] .

د ابلیس له دی‌وینا څخه معلومیږی چې دعقلی سیاست [ دشریعت په مقابل کې‌دعقل علویت اونشنلیزم یعنی‌قوم پرستی‌اونژادپالنی]اول داعی‌ابلیس وه هغه به ویل چې عقل هیڅکله دانه قبلوی چې د اعلی نسـل او نـژاد پرځـای ښکتـه او ادنـی نـژاد تـه د ځمکـې د خلافـت او سیاست امور وسپارل شی .

5- لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ

[ خامخا به زه هغوی ته ستا په سمه لاره کښینم ] .

6- هَلْ أَدُلُّكَ عَلَى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَا يَبْلَى

[ ای آدمه ! تا ته هغه و نه درونه ښیم چې په هغـی سره تـل تـر تلـه ژونداو نه ختمیدونکې سلطنت په لاس درځی؟] .

غولونه د ځواک له پاره لوږه پیداکول،او باطل دحق په ځیر رامختـه کول د ابلیس پالیسی ده .

7- فَقُلْنَا يَاآدَمُ إِنَّ هَذَا عَدُوٌّ لَكَ وَلِزَوْجِكَ
[په دی سره مونږ آدم علیه السلام ته وویل چې ګوره دا ستا او ستا د میرمنی دښمن دی] .
8- يَنزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْآتِهِمَا
[ او له هغو څخه یی د هغوی جامی ویستلی وی ترڅو د هغوی شرم ځایونه یو د بل په وړاندی لوڅ شي ]
د بی پردګی او عریانی خپرول د ابلیسی نظام غوره پالیسی ده دا هغه ابلیسی اصول وه چې په هر وخت او هره زمانه کې پری د ابلیسی‌او طاغوتی نظامونو توغ جګوونکې او پیروان هر وخت او هره زمانه کې موجود وی او تر ټاکلی وخته پوری به موجود وی

ستیزه کار رھاہے ازل سے تا امروز
چراغ مصطفوی سےشرار بولھبی !

[ د ازل څخه تر نن پوری د خیر[ نبوی رڼا ] او شر[ دابولهب د فتنی ] ترمنځ کشمکش راروان دی ] .

## د حضرت یوسف علیه السلام د خلافت دوره

**[ تقریباً 1877 ق م څخه تر1797ق م پوری]**

وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي فَلَمَّا كَلَّمَهُ قَالَ إِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ[]قَالَ اجْعَلْنِي عَلَى خَزَائِنِ الْأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ[]وَكَذَلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَشَاءُ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ[]وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ لِلَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ
[د سورت یوسف 54 – 57 آیتونه ]
[ پادشاه وویل: هغه ما ته راولئ ترڅو زه هغه د ځان له پاره مخصوص کړم کله چې یوسف علیه السلام له هغه سره خبری وکړی نو هغه وویل اوس ته زما په وړاندی قدر او منزلت لری او ستا په امانتداری باندی پوره ډاډینه ده یوسف علیه السلام وویل : د هیواد

خزانی ما ته وسپاره زه ساتونکې هم يم او عالم هم ، پدی توګه مونږ په هغه هيواد کې ديوسف عليه السلام له پاره د حاکميت لاره اواره کړه د هغه خوښه وه چې په هغه [هيواد] کې چې چيرته غوښتل ځانته ځای جوړکړي مونږ خپل رحمت چاته مو چې خوښه شی ورپه برخه کوو ، د ښو کسانو اجر له مونږ سره نه ضايع کيږی ] .

په دی آيتونوکې د يوسف عليه السلام د حکومت يادوونه شوی ده چې هغه د مصر په ځمکه نزدی اتيا کاله کړی وه .

حضرت ابراهيم عليه السلام د عراق څخه هجرت وکړ اوکنعان [فلسطين] ئی‌خپل مرکز وټاکه، د اسلام په همدی نوی مرکز کې دحضرت ابراهيم عليه السلام د لمسی حضرت يعقوب عليه السلام څخه يوسف عليه السلام پيدا شو،ورونوئی دکينی او حسد به اساس نومړی په کوهی کې وروغورځاوه يو تجارتی‌کاروان هغه دکوهی‌څخه راوويست او د مصر په عزيز باندی ئی وپلوره د مصر د عزيز ښځی د هغه دګناه ګارولو له پاره منډی تړی شروع کړی، خو يوسف عليه السلام تری مخ واړاوه او بلکل پاک لمنی او معصوم پاتی شو، خو بيا هم د ګناه څخه د مخ اړونی په اساس په بندی خانه کې ورواچول شواته يالس کاله په بندی خانه کې پاته شو،هلته زندان کې ورته د نبوت مقام ورکول شو، نو د توحيد بلنه ئی بنديانو ته ورکړه د هغه عليه السلام د امانت پالنی ، ريښتونوالی، د نفس کنترولولو، حلم او بردباری ، ذهانت ، فراست او په ټولو معاملو د پوهيدلو په واسطه د مصرخلک ډيرد تاثير لاندی راغله، پادشاه هم تر تاثيرلاندی راغی،د خوب د تعبيرونو او دراتلونکې قحطی د تدبيرونو دبيانولوڅخه ديوسف عليه السلام شان اوکمال نور هم وځليد د مخامخ خبروپه واسطه ئی نورهم تاثيرزيات شو،نو هغه وه چې بادشاه ورته وويل چې دنن نه ايسته ته دلته معزز اومعتمد ئی،يوسف عليه السلام درک کړه چې د دين د اقامت له پاره دځواک دلاسته راوړو

حالات برابر دی نوهماغه وه چې یوسف علیه السلام ورته وویل – یوازی دمعززیدو،معتمد یدواوخاص مشاوری څخه څه نه جوړیږی نودمملکت ټولی خزانی ټول وسائل اومنابع او پوره اختیارات ماته راکړه پادشاه دده دا غوښتنه ومنله ،او د مملکت ټول امورئی ده ته وسپارل اوپه خپله یوازی په نوم پادشاه پاتی شو او د امام مجاهد د وینا په اساس په خپله مسلمان هم شو.

د اسلامی انقلاب دراوستلو او داسلامی حکومت د قائمولودری ذریعی دی :

ا[ د بلنی، تبلیغ، ښوونی او روزنی په واسطه د ملک ډیر وګړی په خپله د خپل ځان له پاره عادل اوصالح حکمران ټاکې،او که چیری نبی موجود وی نودهغی‌مشری او قیادت ته غاړه ږدی.

[2د صالحینواو نیکانو د یوه ټولګی په واسطه جهاد شروع شی او د جنګ له لاری په ځواک او اقتدارقبضه وکړل شی .

3] یا داسی حالات منځ ته راشی چې د ځواک بدلون د امن په واسطه صورت نیسی د یوسف علیه السلام له پاره په دی وخت کې دغه دریمه لار په لاس ورغلی وه هغه هم ددی حالاتوڅخه ګټه واخیسته او په ځواک ئی قضبه وکړه او د عدل او انصاف سره ئی د مصر په خلکو اتیا کاله حکومت وکړ ټولو نارینو او ښځو ایمان راوړ او د مملکت سرداران او مسئولین ټول د نوموړی پیروان وګرځیدل .

دا کوم پادشاه وه چې خپل اقتدار ئی یوسف علیه السلام ته منتقل کړ؟ د نوی عصر د محقیقینو نظر دا دی چې دا د مصر د [ هکسوس] یا [ هائک سوس ] یو پادشاه وه چې په مصری تاریخ کې ئی نوم ابوقیس ښوول شوی دی داسی فکرکیږی چې هغه په [1877ق م ] کې خپل حکومت یوسف علیه السلام ته وروسپاره په پخوانی مصری ژبه کې [ هائک] پادشاه ته ویل کیږی او [ سوس] شپون او درمی‌خاوند ته وایی دا خلک سامی نژادی وه د اوښانو،میږو اووزو ساتل دهغوی

کاروه د سوری او فلسطین څخه راغلی وو او مصر نیولی وه په هغه زمانه کې د مصر دارالسلطنت ممفس [ منف ] ؤ اوس هم دقاهری په جنوب کې نژدی14میله لری د هغی ښار نښی او آثار شته دی .

خو عربی تاریخ پوهانو او زمونږ مفسرین ددی پادشاه نوم ریان بن الولید ښئی چې د عملاق بن لاوز بن سام د اولاد څخه وه ابن جریررحمه الله علیه لیکېچې دابن عباس رضیالله عنه او ابن اسحق رضیالله عنه څخه روایت دی چې د هغی وخت د پادشاه نوم ریان بن الولیدوه چې د عمالقه د ډلیڅخه وه،نورود هغی نسب په دی ډول تشریح کړی دی ، ریان بن الولید بن ثروان بن راشه بن عمروبن عملاق بن لاوز بن سام بن نوح علیه السلام - ځینی وائی چې دی پادشاه د مړینی ترمخه اسلام قبول کړیوه اود یوسف علیه السلام پیروی ئی اختیارکړی وه او بیا د یوسف علیه السلام په ژوندکې مړشوی وه [140].

### د خزائن الارض تفسیر :

ځینی خلکود " اجعلنی علی خزائن الارض" څخه دا مقصد اخستی دی چې ما د خزانو وزیر وګرځوه او ددی خبری څخه ئی داسیاټکل کړی چې په کافرانه حکومت کې وزارت کول روا دی دا ډیره لویه غلطی ده چې باید ازاله ئی وکړل شی .

"خزائن د خزانه بالکسرجمع ده،چې یوازی د غلیاو غذا په معنی نه استعمالیږی بلکه ټول هغه مالونه ،وسائل او منابع په کې شامل دی چې د اړتیا په خاطر را ټولول کیږی او بیا د هغه ساتنه کیږی دا د خزن یخزن خزناً له بابه څخه دی چې د ساتنی او نګرانی معنی ورکوی په قرآنکریم کې راغلی دی چې " وان من شئی الا عندنا خزائنه " [ د هرشی خزانی زما سره دی څرګنده ده چې په دی آیت کې یوازی د خوراکي ځیزونو څخه مقصد نه دی بلکه د هرڅه خزانی تری مقصددی

---

[140]- تاریخ الامم والملوک د طبری لیکنه لومړی ټوک 172 مخ

خزانه او مخزن هغه ځه ته هم ويل کيږي چې هلته داړتيا وړشيان ساتل کيږي [141].

د خزائنو د دی لغوی څيړنی څخه دا معلومه شوه چې يوسف عليه السلام د مملکت د ټولو مالونو وسائلواومنابعو غوښتنه کړی وه هغه يوازی د يوه وزارت يا اداری د نگرانی غوښتنه نه وه کړی .

ابن جرير رحمه الله عليه په دی هکله فرمايی : قال ابن زيد رحمه الله عليه الفرعون خزائن کثيره غيرالطعام قال فاسلم سلطانه کله اليه وجعل القضاء اليه امره وقضاء نافذ.... استعمله الملک علی مصر و کان صاحب امرها و قا ل ابن زيد و لوشاء ان يجعل فرعون من تحت يديه ويجعله فوقه لفعل وقال مجاهد اسلم الملک الذی کان معه يوسف عليه السلام [ ابن زيد رحمه الله عليه ويلی دی چې دخوراکې موادو پرته د مصرد فرعون سره نوری هم ډيری خزانی دی پادشاه ددی ټولو خزانو اختيار او واک يوسف عليه السلام ته ورکړی وه او د پريکړی کولوحق هم له ده سره وه په دی وخت کې په ټول مصر د حضرت يوسف عليه السلام حکم او فيصله چليده .... پادشاه هم نوموړی د مصر حکمران او اختيارمند گرځولی وه ، ابن زياد رحمه الله عليه دا هم ويلی دی چې هغه کولای شو چې فرعون د خپل لاس لاندی او خپل ځان پری پورته کړی حضرت مجاهد رحمه الله عليه وايی چې پادشاه مسلمان شوی هم وه ][142].

مفسرين اومورخين ليکي چې :

د اقتدار انتقالولو وروسته حضرت يوسف عليه السلام په شاهی تخت لکه د سپوږمی په څير وځليد او د مملکت سرداران او مسئولين د هغه او د هغه د حکومت فرمان وړونکې وگرځيدل ، پخپله پادشاه

---

141- لسان العرب 13 ټوک 139 مخ

142- تفسيرابن جرير 13ټوک 5-6 مخونه - تفسير خازن 28 مخ 3 ټوک - تفسير مظهری 5 ټوک 174 مخ – روح المعانی 5 ټوک 13 مخ

ګوښه شو" فوض امره الیـه " او د مملکت ټـول امـورئی حضرت یوسف علیه السلام ته وروسپارل قطفیرئی د صدراعظمی د منصب څخه لری کړ او دا منصب ئی حضرت یوسف علیه السلام تـه ورحوالـه کـړ، فسلم سلطانه کله الیه [ ټول سلطنت ئی هغه ته په حواله کړ] [143].

حافظ عماد الدین بن کثیررحمه الله علیه لیکلی چې :

وسلطه علی جمیع الارض والبسه خاتمه .... وقال لـه لست اعظم منـــک الابالکرســـی.... وکـــان یوســـف اذ ذاک الحـــاکم فـــی امورالدیارالمصریه دنیا ودینا [ اوپادشاه حضرت یوسف علیـه السـلام د مصـر د ټـولی ځمکې حکمـران وګرځاوه خپلـه ګوتـه ئـی [ د سـلطنت مهر] هغه ته پـه ګوتـه کـړه اوورتـه ئـی وویـل چې زه ستا څخـه یـوازی د تخت او چوکي په لحاظ پورته یم په هغی وخت کې یوسف علیه السلام د ینی او دنیوی وه [144] .

د دی اقتباساتو: فسلم سلطانه کلـه فـوض امـره الیـه سلطه علی جمیع ارض مصرو انت له الملوک - الحکام فیامور الدیار المصریه او نورو جملوکې په ډیره څرګنده توګه راغلی چې د یوسف علیـه السـلام حیثیـت د یـوه نـوکر او مـامور پـه توګـه نـه وه بلکـه هغـه پـه خپلـه د سلطنت مشری په غاړه درلوده که څه هم پـه رسـمی ټوګه تـاج اوتخت د پادشـاه پـه لاس کې وه خـو پـه حزائن الارض بانـدی د ټـاکلو او تمکیـن فیالارض څخه همدا مقصد اخستل شوی،چې هغـه پـه عملی ټوګـه د سـلطنت حکمـران وه او یوسـف علیـه السـلام پـه خپلـه هـم خپـل دغـه صلاحیتونه د حکومت په نوم یاد کړی دی .

---

143 - زادالمسیرلابن جوزی رحمه الله علیه 4 ټوک 244 مخ – تفسیرکبیر د امام رازی رحمه الله علیه 18ټوک 162مخ – تفسیر قرطبی9مخ 13مخ – تفسیر خازن 3 ټوک 28 مخ – تفسیرمظهری 5 - ټوک 174مخ - تفسیر روح المعانی 13 ټوک 5 مخ - الکامل د ابن الاثیر لیکنه لومړی ټوک 147مخ

144 - البدایه والنهایه لومړی ټوک 210- 211مخونه

رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَنْتَ وَلِيِّ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ

[د يوسف سورت **101** آيت ]

[اى ربه تا ماته حکومت راکړى او تا ما ته د ځينى خبرو حقيقت راوښود ،اى د ځمکې او آسمانونو پيدا کونکيه په دنيا او آخرت کې ته زما کارجوړونکې يى ما ته مړينه په اسلام کې په برخه کړه او ما د نيکو خلکو سره يو ځاى کړه ] .

په بائبل کې هم داسى مضمون راغلى : ته زما دکور اختيارمند ئى او زما په ټولى رعيت ستا حکم چليږى يوازى د تخت د خاوند په صفت زه له تا څخه لوړ يم ... ګوره چې زه تا د ټول مصر حکمران ګرځوم ...اوستا د حکم پرته به په ټول مصرکې هيڅ څوک خپل لاس هم ونه خوځوى [145].

امام قرطبى رحمه الله عليه ليکې چې : و لما فوض الملک امر مصر الى يوسف تلطف بالناس وجعل يدعوهم الاسلام حتى امنوا به و اقام فيهم العدل فاحبه الرجال والنساء [کله چې پادشاه يوسف عليه السلام ته د مصرځواک او واک وروسپاره نو هغه د خلکو سره د نرمى او شفقت لاره اختيارکړه،هغوى ته ئى د اسلام په لوربلنه ورکړه،هغوى هم په ده ايمان راوړ اوهغه هم دمصردخلکوترمنځ عدل او انصاف قائم کړ نو ښځو او نرو ټولو د يوسف عليه السلام سره مينه شروع کړه ] [146].

## په غير اسلامى حکومتونو
## کې د ماموريت يا د امارت غوښتنى مسئله:

---

[145] - بائبل کتاب پيدايش 41 باب 39-45 آيتونه

**146** - تفسير قرطبى 9 ټوک 218 مخ – تفسير الکبير 18 ټوک 162 مخ - زاد المسير4 ټوک 246 مخ

## نیو لیك

الله جل جلاله فرمایلی: قَالَ رَبِّ بِمَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِلْمُجْرِمِينَ [د سورت القصص 17 آیت ]

[ موسی علیه السلام ژمنه وکړه چې ای زما ربه ! دغه احسان چې تا پر ما کړیدی له دی وروسته به هیڅکله د مجرمانوملاتړ نه شم ] .

رسول اکرم حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته الله جل جلاله حکم کړی دی چې :

فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِلْكَافِرِينَ [د سورت القصص 78 آیت ]

[ هیڅکله د مجرمانو ملاتړ مه جوړیږه ] .

دلته یوپوښتنه پیدا کیږی چې یوسف علیه السلام د کافر پادشاه په حکومت کې منصب ولی قبول کړ؟ ځکه چې دا خو د یو غیر اسلامی حکومت سره کومک دی ددی پوښتنی ځواب په دی څیړنه کې تر لاسه کیږی چې دا منصب ددین د اقامی په خاطرقبول شوی وه،که چیری پالیسی د کفری نظام وی اوحکم اوپریکړی د کافر پادشاه په لاس کې وی، نو په هغه صورت کې واقعاً د دی منصب په قبلولو سره د یو غیراسلامی نظام چلول ، د کفر کومک او مرسته ده نو پیغمبر علیه السلام لا څه چې یوعام متقی مؤمن ئی هم نه نشی قبلولای [حاشاوکلا] خو په مصرکې ټول اختیارات د حضرت یوسف علیه السلام په واک کې وه او د همغه حکم نافذ وه- پادشاه یوازی په نوم د تخت او تاج خاوند وه او تراوسه پوری د دی رسمی تخت او رسمی پادشاهی د پائی ته رسولو لپاره شرائط برابرنه وه او د یوسف علیه السلام له پاره همدا یوه لاره خلاصه وه چې یوازی په نوم پادشاهی دی تریوه وخته اوسی خو په عملی توګه دی د حق د قایمدو او د خلکو د سیاست ټول نظام دده په لاس کې وی همغه وه چې نوموړی د وخته څخه ګټه واخسته او ځواک ئی لاس ته راوست .

مفسرینو رحمه الله علیهم د حضرت یوسف علیه السلام د وزارت د منصب د قبلولو علتونه همدا ښوولی دی .

امام قرطبی رحمه الله علیه لیکې چې: ځینی پوهانو ویلی دی چې په دی آیت کې " اجعلنی علی خزائن الارض " ددی خبری له پاره دلیل دی،چې یوه

بهترشخص ته فاضل شخص ته د يو فاجر، فاسق يا كافر حكمران لخوا د كارونو سپارل اوقبلول روا دي خو په دې شرط چې د منصب قبلوونكې ته دا په ډاګه شي چې هغه ته به ټول واک وركول كيږي كه هغه وغواړي اصلاحي لارې اختياركړي د هغه په كاركې كوم خنډونه پيدا نه شي خو كه دا كار او منصب د يو فاسق او فاجر شخص په لاس كې وي او يا د هغې د فسق او فجور او يا د نفسي غوښتنو پيروي وي نو بيا د داسې منصب قبلول روانه دي [147].

قاضي ثناء الله پانې پتي رحمه الله عليه ليكې چې : په دې آيت كې ددې خبرې دليل شته چې د كافر يا ظالم پادشاه د لاسه د مسئوليت او منصب قبلول روا دي خو په دې شرط چې د حق د قيام لـه پاره او د مخلوق د سياسي ښيګڼې له پاره بله كومه لار نه وي موجود ، پرته له دې چې د همدې كافراو جابر له لاسه اختيار او اقتدار لاس ته راوړي [148].

دوهمه پوښتنه دا راپيدا كيږي چې آيا د منصب او امارت غوښتل او يا د هغې په طرف ميلان پيداكول ناروا دي ؟

الله جل جلاله فرمايلي دي چې :

تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ [د سورت القصص 83 آيت ]

[ هغه د اخرت كور خو به مونږ د هغو خلكو له پاره مخصوص كړو چې په ځمكه كې خپله لويي نه غواړي او نه د فساد كولو اراده لري او نيک عاقبت او انجام يوازې د پرهيزګارانو له پاره دى ] .

---

يوسف عليه السلام د الله جل جلاله پيغمبر وه په يو پيغمبر د مخلوق د معاملاتو انتظام او د امت د ښېګڼو او مصالحو اهتمام د استطاعت په اندازه او د امكان په صورت كې واجب دى .

---

[147] - امام قرطبي رحمه الله عليه 9 ټوک 215مخ

[148] تفسيرمظهري 5 ټوک 174مخ - روح المعاني 13ټوک 5 مخ

په دی وخت کې دا کار د همدی لاری ممکن وه کوم چې یوسف علیه السلام اختیار کړی وه لکه څنګه چې د واجبو او فرضو ادا کول کوم شی پوری موقوف وی نو د هغه حصول هم واجب او فرض ګرځی نو په همدی خاطر د قتدار غوښتنه او په هغی قبضه کول په یوسف علیه السلام واجب شوی وه اودا په دی خاطر چې په دی وخت کې د یوسف علیه السلام پرته بل څوک ددی منصب اهل او قابل نه وه او نه د واجب غوښتنه جاه طلبی وه [149].

امام قرطبی رحمه الله علیه فرمائی چې : " ددی منصب لاس ته راوړل د یوسف علیه السلام لپاره " فرض عین"ګرځیدلی وه او دا په دی خاطر چې د ده علیه السلام څخه پرته بل داسی بااهمیته شخص په دی وخت کېموجودنه وه نن هم همداحکم پرخپل ځای دی که چیری د چا په خپل نفس باندی باوروی چې هغه به په حق باندی ثابت قدمه اوسی اوبل کوم اهل ددی وظیفی د انجامولوله پاره دده نه زیات مناسب موجود نه وی، نو په دی وخت کې د مسئولیت دغه منصب ته به همدا تاکل کیږی او د هغی لاس ته راوړل په هغه باندی واجب دی خوکه چیری هلته نور اهل خلک هم موجود وی، نوبیا ددی منصب خواهش اوطلب دده له پاره روانه دی .دا په دی خاطرچې رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې: د امارت خواهش او غوښتنه ونه کړی [150].

## د طالوت حکومت

**[ تقریباً 1020 ق م څخه تر1004ق م پوری]**

**وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا قَالُوا أَنَّى يَكُونُ لَهُ**

---

[149]- تفسیرالکبیر مختصر د امام رازی لیکنه **18**ټوک **160-161**مخونه

[150] - تفسیرقرطبی 9 ټوک 216 مخ - زاد المسیر د ابن جوزی لیکنه 4 ټوک 243 مخ - تفسیر خازن 3 ټوک 27 مخ - تفسیر مظهری 5 ټوک 173 مخ - تفسیر روح المعانی 13ټوک 5 مخ

الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنْ الْمَالِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ [د البقره سورت 147 آیت]

[ د هغو پیغمبر هغو ته وویل چې الله جل جلاله طالوت تاسی له پاره بادشاه مقررکړی دی هغوی وویل هغه ځنګه پر مونږ د پادشاه کیدو استحقاق ومینده ؟ د هغه په پرتله مونږ د پادشاهی زیات وړیو. هغه کوم زیات شتمن سړی ندی پیغمبر ځواب ورکړه الله جل جلاله پر تاسی هماغه غوره کړیدی او هغه ته یی روحی او جسمی دواړه ډوله پراخ اهلیت وربښلی دی او الله واکمن دی چا ته یی خوښه شي خپل ملک ورکوی . الله جل جلاله سره ډیره پراخی ده او هر څه باندی عالم دی ] .

د موسی علیه السلام او حضرت هارون علیه السلام دوفات څخه وروسته کله چې د یوشع بن نون په مشری فلسطین فتح شو نو بنیاسرائیلو د خپل ځان له پاره کوم متحده حکومت جوړ نه کړای شو بلکه په قبائلی دښمنیو ککړ شو د دری سوه پنځوس کالو څخه زیاته موده همدغه د ملوک طوائفی دوره وه تر هغه پوری چې د عمالقو پخوانیو مشرکو قبائلو یو متحده محاذ جوړ کړ او نبی اسرائیل ئی د فلسطین د لوی برخی څخه وویستل او تابوت سکینه ئی هم تری واخست ، نو هماغه وه چې طالوت رحمه الله علیه د313 صالحو او مؤمنو کوچنی فوځ په ملګرتیا د عمالقو مقابله وکړه او د جالوت عسکرو ته ئی ماتی ورکړه نو په 1020 میلاد وړاندی کې بنی اسرائیلو یو متحده حکومت جوړ کړچې تر1004میلاد وړاندی پوری ئی یعنی16کاله ئی دوام وکړ.

طالوت رحمه الله علیه په خپله نبی نه وه هغه په اصل کې د حضرت ثمویل علیه السلام تر مشری لاندی حکومت کاوه خو ځرنګه چې هغه ډیر زوړ شوی وه- نو په دی خاطرد حکومت نظم ظاهراُ د طالوت په لاس کې وه اوهغه د حضرت ثمویل علیه السلام د احکامواو

لاربښوونو مطابق کارکولو- د هغه ټاکل هم د وحی په اساس وه که څه هم طالوت رحمه الله علیه د بنی اسرائیلوله ډلی څخه وه خو ددی ترمخه دده په کورنۍکې هیڅ سردار یا حکمران نه وه تیر شوی په دی وخت کې په بنی اسرائیلوکې د قبیله پرستی ، دنیا پرستی، مکروبونه خپاره شوی وه همد اعلت وه چې هغوی د الله جل جلاله لخوا په ټاکلی حکمران هم اعتراض وکړه او دلیل ئی دا راوړه چې دده سره دولت نه شته ، یعنیٔحکومت کول خو د خانانو، نوابانو بډایانو او... حق دی دغریبو،مزدورانوکارخودسرمایه دارانوخدمت کول دی نه دا چې په هغوی دی حکومت وکړی د الله جل جلاله بنی ورته وفرمایل : چې د قیادت اومشری یا د حکومت او سیاست لپاره نژاد ، قبیله، دولت او ثروت کوم اهمیت نه لری، بلکه اهلیت ته اهمیت ورکول کیږی طالوت د علمی او جسمانی پلوه په تاسی ټولو قوی او پورته دی نو ددی امله الله جل جلاله هغه په تاسیٔحکمران ټاکلی دی خوهغوی بیا هم تیارنه وه خو کله چې دکرامت په ډول [ د سکینی تابوت ] یا [ مبارک صندوق ] د طالوت لاس ته ورغی نود هغه وروسته به چې هرچیرته تلو، نو مشری به ئی منل کیده، طالوت رحمه الله علیه د عمالقو د مشرکو قبائلو څخه د مملکت د ازادیدو له پاره فوځ تیارکړ د اردن په کانال کې د اوبو څښلونه د منعی،کولو په اساس ئی د فوځ د صبر استقامت او د هغوی د نظم آزمیښت وکړ،د زړکونو عسکرو څخه یوازی 313 زیات یاکمو خلکو په دی آزمیښت کې کامیابی ترلاسه کړه ،اوبیا د همدی یو موټی مؤمن فوځ په واسطه ئی د جالوت لوی فوځ ته ماتی ورکړه اوجالوت د داود علیه السلام په لاس په قتل ورسید.داود علیه السلام په هغه وخت کې بلکل ځوان او د طالوت په عسکروکې شامل شوی وه د دی لوئی کامیابی وروسته د بنیٔاسرائیلو متحداومستحکم حکومت په شام او فلسطین کې جوړشو او د ملوک الطوائفی دوره پائی ته ورسیده .

.......................

## د داود عليه السلام خلافت

**[ تقريباً 1004ق م څخه تر965ق م پورې]**

يَادَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعْ الْهَوَى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ إِنَّ الَّذِينَ يَضِلُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا نَسُوا يَوْمَ الْحِسَابِ [د ص سورت 26 آيت]

[ اى داوده ! مونږ ته پرځمکه خليفه ګرځولى ئى، له دى کبله ته د خلکو ترمنځ په انصاف سره حکومت وکړه او د نفسى غوښتنى پيروى مه کوه چې هغه به تا د الله جل جلاله د لارى څخه واړه وى او کوم کسان چې د الله جل جلاله له لارى څخه بى لارى شى په يقينى ډول د هغوى له پاره سخته سزا ده چې هغو د حساب ورځ هيره کړى ده ] .

وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ [د البقره سورت 251 آيت]

[ اوالله جل جلاله داود عليه السلام ته سلطنت او حکمت ورپه برخه کړ او هر هغه څه يې ورزده کړل چې د الله جل جلاله خوښوه ] .

دطالوت رحمه الله عليه څخه وروسته دداود عليه السلام خلافت جوړشو چې د1004 ميلاد وړاندى څخه تر965 ميلاد وړاندى پورى يعنى نزدى څلويښت کاله ئىدوام وکړ په دىآيت کې د همدى داود عليه السلام دخلافت يادوونه شوى ده. د جالوت د قتلولو وروسته د حضرت داود عليه السلام بهادرى او شجاعت ښکاره شوى وه خود نبوت د ورکولو وروسته د لوى الله جل جلاله په فضل اوکرم په هرځاى کې برى او نصرت دده قدمونه ښکلول په ډير لږ وخت کې په سوريه ، عراق فلسطين او د اردن د ختيځ په ټولو سيموکې د ده خلافت جوړشو.

د " يا داود انا جعلناک خليفه فى الارض " د تفسير په هکله د څو مفسيرينو ليکنى دکتنى وړدى :

"حکما بين اهلها [ د ځمکې د اوسيدونکو ترمنځ حکومت

کوونکې][151]،ای تدبرامرالعبادمن قبلنابامرنا [ ته زمونږله خوا نه او زمونږ په حکم د بندګانو د معاملاتو نظم ونسق چلوی] [152]، فی الدعاء الیٰالله وسیاسه الناس [ ته د الله جل جلاله په خوا د بلنی او د خلکو د سیاست له پاره خلیفه ګرځول شوی ئی ] [153].

الله جل جلاله داود علیه السلام ته حکم کړی وه چې دانصاف په اساس به پریکړیکوی.اودخپل نفس دغوښتنیپیروی به نه کوی.ځکه چې هغه تاداالله جل جلاله د لاری څخه آړوی.

حافظ عماد الدین ابن کثیر رحمه الله علیه په دی هکله لیکي چې:
"دا د الله جل جلاله له خوا نه حکمرانانو ته وصیت دی چې د حق په اساس به پریکړه کوی او د هغه نه به مخ نه اړوی که نه نو د مستقیمی لاری څخه به وښویږی ابن ابی حاتم رحمه الله علیه د اسنادو په اساس رانقل کړی دی،چې اموی پادشاه ولید بن عبدالملک یوه ورځ د ابوزرعه رحمه الله علیه څخه پوښتنه وکړه چې تا تورات او انجیل هم لوستی دی، قرآن دی هم لوستی دی او ته د فقه عالم هم ئی، نودا ووایه چې آیا د خلیفه سره به هم محاسبه کیږی ابوزرعه رحمه الله علیه وویل: ای امیرالمؤمنین رښتیاخبره وکړم؟ ولید ورته وویل: بلکل،ابوزرعه رحمه الله علیه وویل: د الله جل جلاله په نزد ته ډیرمعزز ئی که داود علیه السلام ؟ هغه ته الله جل جلاله نبوت هم ورکړی وه اوحکومت هم، خو ددی سره سره هم الله جل جلاله هغه خبرکړی وه چېکه چیری تا د نفس پیروی وکړه ا ود عدل او انصاف لاردی غوره نه کړه نو د سختی سزا او محاسبی څخه به خلاص نه شی [154].

امام رازی رحمه الله علیه فرمائی چې: هرهغه څوک چې سیاسی

---

[151]- تفسیرابن جریرطبری 23ټوک 151مخ
[152]- تفسیرزادالمسیرد ابن جوزی لیکنه 7 ټوک 124مخ
[153] -- تقسیرکبیر 26ټوک 199
[154]- تفسیر ابن کثیر 6 ټوک 55 مخ

حکمران اوسی او د خپلو شخصي ګټو او اهدافو په خاطرحکومت کوی ، نود هغه په نتیجه کې به خرابی را پیدا کیږی او بالاخره به دا حکمران په خپله تباه کیږی، خو هغه حکمران اوسیاسی‌مشرچې د شریعت پابنداوسی، نو مصالح ، ښیګڼی او نیکې به خپره شی او د ریاست نظام به په ښئی طریقی سره چلیږی [155].

## د سلیمان علیه السلام خلافت

**[ تقریباً 960 ق م څخه تر926ق م پوری]**

وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ عَلَى مُلْكِ سُلَيْمَانَ [د البقره سورت 102 آیت ]

[ او په دی لړ کې یې دهغو شیانو پیروی وکړه چې شیطانانو د سلیمان علیه السلام د حکومت د نوم په اخیستلوړاندی کول ] .

وَكُلًّا آتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا [د الانبیاء سورت 79 آیت]

[ اوموږ داود علیه السلام او سلیمان علیه السلام دواړوته حکومت اوعلم ورکړی وه ] .

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ [ د ص سورت 35 آیت]

[ سلیمان علیه السلام وویلی‌چې ای پروردګاره ! راکړی ماته د هغه ډول حکومت چې مناسب نه وی چاته زماڅخه وروسته ،بی شکه چې ته دهرڅه بخښوونکې ئی ].

وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُدَ [ د النمل سورت 16 آیت]

[ او سلیمان علیه السلام د داود علیه السلام وارث وګرځید] .

دداود علیه السلام څخه وروسته د هغه پراخه حکومت د هغه زوی حضرت سلیمان علیه السلام ته په لاس ورغی دا دولی عهدی رواج شوی طریقه نه وه خولکه څنګه چې داود علیه السلام د الله جل جلاله د طرفه په حکومت کولو مامورشوی وه نوپه همدی توګه ئی سلیمان

---

[155]- تفسیر کبیر 26 توک 119 مخ

........................

عليه السلام ته هم د نبوت په څنگ کې دحکومت منصب ورکړی وه .
نبی د الله جل جلاله له خواڅخه ټاکل کیږی اوکله چېحاکم د خپلو ښکته مامورینو ټاکنه کوی نو بیا دهغه له پاره انتخاب ضرورت نه وی،په قرآنکریم کې دا نه دی ویل شوی چې داود علیه السلام خپل زوی سلیمان علیه السلام د حکومت وارث اوولی عهدټاکلی وه بلکه دورث کلمه راغلی ده وارث اوقائم مقام یې وگرځاوه-ځواب ئی روښانه دی هغه چا چې داود علیه السلام خلیفه ټاکلی وه- همغی سلیمان علیه السلام ته هم دخلافت منصب ورکړ.یعنی په خپله الله جل جلاله دواړوته دا مسئولیت وریه غاړه کړی وه.

څرنگه چې د انبیاو پرته نور خلک د الله جل جلاله له طرفه نه ټاکل کیږی، نوپه دی اساس د هغوی تقررد مسلمان امت د شوری په واسطه کوی، الله جل جلاله د سلیمان علیه السلام دعا قبوله کړه او هغه ته ئی د الوتونکو د خبروپه پوهیدوهم قوت ورکړ.او هوا او پیریان ئی هم دهغوی تابع وگرځول بلکه د سبا حکومت هم دهغه د حکومت تر تاثیراو اختیار لاندی راغی، نوپه دی اساس د داود علیه السلام څخه د سلیمان علیه السلام حکومت ډیرقوی او پراخه وه .

په خپله سلیمان علیه السلام فرمائی چې:

وَأُوتِينَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِينُ [ د النمل سورت 16 آیت]

[او مونږ ته داړتیا وړهرشئ راکړل شوی‌اویقینا ُچې دا د الله جل جلاله ښکاره فضل او احسان دی ].

ددی عظیم الشان او پراخه مملکت له پاره چې دکوموشیانواو اسبابونواړتیا وه هغه ټول راکړل شوی،د سلیمانی دعا څخه دا ثابتیږی چې د دین د اقامی او د شریعت د جاری کیدو په خاطر د الله جل جلاله څخه د مستحکم حکومت غوښتل د نبوت او تقوی په خلاف کارنه دی- افسوس دی چې د سلیمان علیه السلام څخه وروسته د هغه په ځای دکښیا ستوونکو نالایقی او د قوم د اخلاقی‌خرابیو په اساس

مخالفينو بيا سر راجګ کړ او په دی ترتیب د حکومت زوال شروع شو

## د سليمان عليه السلام

## ليك

## د سبا د ملکې په نوم

إِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِاسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيمِ أَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ [ د النمل سورت 31 آیت ]

[ د لوی الله جل جلاله په نامه پیل کوم چې ډیر مهربان او د رحم څښتن دی زما په مقابل کې زور مه کوی او زما حضور ته مسلمانان راشئ ] .

داسی لنډ ، جامع د معنی او عظمت نه ډک لیک شاید چا په دنیا کې لیکلی نه وی ددی خط مطلب داوه چې زما د خلافت او اسلامی حکومت په مقابل کې د زور او تکبر څخه کاراخیستل مناسب نه دی ستاخیر په دی کې دی چې اسلام قبول کړی او زما ترمشری لاندی حکومت هم ومنی د دی لیک څخه دا څو اصولی مسائل را په ډاګه کیږی چې:

ټول رسمی او غیر رسمی خطونه باید د بسم الله په لیکلو شروع شی .

د هغه اسلامی حکومت چې د شریعت پابند وی مخالفت کول روانه دی

داد یوه اسلامی حکومت وجیبه ده چې په خپل شاوخوا کې د غیر اسلامی حکومتونو د ړنګولو له پاره ضروری اقدامات وکړی .

د اسلامی حکومت هڅی باید د ملکونو د نیولو له پاره نه وی بلکه د اسلام د سپیڅلی دین د غلبی په خاطر وی .

## د ذوالقرنين حکومت

وَيَسْأَلُونَكَ عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ قُلْ سَأَتْلُو عَلَيْكُمْ مِنْهُ ذِكْرًا إِنَّا مَكَّنَّا لَهُ فِي

الْأَرْضِ وَآتَيْنَاهُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ [ د الكهف سورت 83 آيت ]

[ او ای محمده صلی الله علیه وسلم ! دوی له تا نه د ذوالقرتین په باره کې پوښتنه کوی دوی ته ووایه : زه به د هغه څه احوال تاسو ته و اورم مونږ هغه ته په زمکې کې قدرت ورکړی و او هر ډول وسایل او اسباب مو وربښلی وؤ ].

قرآنکریم دکهف په سورت کې د 83 آیت څخه تر98آیت پوری دذالقرنین د حکومت،جهاد ، عدل و انصاف او دالله جل جلاله څخه دویری قیصه بیان کړی ده نو د دی څخه دا معلومیږی چېکوم وخت کې د ذالقرنین په نوم څوک مقبول ، عادل خدای پالونکې او دیندراه حکمران تیرشوی دی چې د هغه سره د وسایلو پراخی وه او هغه د خپل مرکز په غرب او شرق کې او یوی بلی خوا [ شایدچې شمال وی ] فتوحات وکړه او د یاجوج او ماجوجو د فساد د مخنیوی او د خپل رعیت د ستاینی په خاطرئی یو مستحکم دیوال جوړکړی وه . د هغه په هیواد کې د عدل او انصاف نظام قایم وه مجرمینوته سزاګانی ورکول کیدی او د نوررعیت سره ئی ډیره نرمیکوله،ده په خپل دی پراخه او لوی حکومت او ډیرو مادی وسائلو غرور او تکبرنه کاوه بلکه دا ئی د الله جل جلاله رحمت ګاڼه [قال هذا رحمه من ربی ] .

په فرقان حمید او صحیحو احادثیو کې د ذوالقرنین د حکومت وخت او نور تفصیلات ندی ذکر شوی ځکه چې قرآنکریم د تاریخ کتاب نه دی- بلکه د هغه موضوع د هدایت له پاره احکام او د عبرت واقعات بیانول دی او دا مقصد د تفصیلاتو پوهیدوپرته هم لاس ته راځی زمونږ مقصد هم یواځیدابښوول دی چې ذوالقرنین یوعادل حکمران وه چې الله جل جلاله ئی تعریف کړیدی اودا ثابتول دی چې ددین د اقامی او د عدل د قیام په خاطرد حکومت او سیاسی نظم جوړول ضروری دی .

دځینی مورخینو او مفسرینو رحمه الله علیهم څخه سخته غلطی

شوی چې د ذالقرنین څخه ئی مقصد یونانی، مقدونی سکندر اخستی دی چې په 300 کاله وړاندی له میلاده تیر شوی ، هغه داراکو قتل کړاو د ده وزیر مشهور فلسفوف پوه ارسطو وه.

د حافظ عمادالدین بن کثیر رحمه الله علیه په البدایه او تفسیر دواړوکې ددی خبری سخت تردیدکړیدی ، سکندر یونانی مشرک وه اود ذالقرنین یادوونه قرآنکریم د یو صالح مؤمن په صفت کړیده د حضرت علی رضیالله عنه څخه یوروایت دی چې" ذوالقرنین نه نبی وه نه ملائکه بلکه یو صالح مسلمان وه [156].

حافظ عماد الدین بن کثیر رحمه الله علیه خپله څیړنه داده چېپه قرآنکریم کېذکرشوی ذوالقرنین دیونانی سکندرڅخه دوه زره کاله پخوا د حضرت ابراهیم علیه السلام په زمانه کې تیرشویدی هغه پښې ابل حج وکړ، همدا قول په عمومی توګه په عربی تاریخونواو عامو تفسیرونوکې ذکر شوی دی خو د نورو څیړونکو څیړنه دا ده چې په قران کې ذکر شوی ذوالقرنین څخه مقصد مشهور حکمران سائرس ایرانی وه چې هغه په ایران کېد هخامنشی دکورنی د حکومت بنسټ اینبی وه او هغه د550 وړاندی له میلاد څخه تر539 وړاندی له میلاده پوری 21کاله په ایران حکومت کړی وه دا یو عادل حکمران وه چې ایرانیان پری فخر کوی ایرانیان هغه ته ګورش اعظم وائی، یهودیان ورته خورس ، یونانیان ورته سائرس او عرب ورته کې خسرو وایی .

مولانا ابوالکلام آزاد رحمه الله علیه په تفسیر ترجمان القران کې مولانا سیدابوالاعلیمودودی رحمه الله علیه په تفسیر تفهیم القران کې اومولاناحفظ الرحمن سیوهاروی رحمه الله علیه په قصص القران کې همدی نوی څیړنی ته ترجیح ورکړی ده .

## د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم

[156]- البدایه النهایه 2ټوک106- 108مخونه 1966عیسوی کال بیروت چاپ

**خلافت او سیاست :**

**هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ** [د التوبه سورت 33 آیت]

**[ الله جل جلاله خپل رسول محمد صلی‌الله علیه وسلم له هدایت او حق سره رالیږلی دی تر څو چې هغه په ټولو ادیانو باندی برلاسی کړی که مشرکانو ته دا څومره ناکاره هم بریښی ] .**

د الفتح د سورت د 28 آیت کلمات هم همداسی دی خو د " ولوکره المشرکون " په ځای " وکفی بالله شهیدا " راوړی دی په دی آیت کې د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د بعثت مقصد او هدف په دی ډول بیان شوی چې هغه به داسلام دین په ټولو باطلو دینونو باندی غالبه وی او د دی لازمی غوښتنه هم همدا ده چې دا دین به د ځواک خاوند وی او نور ټول باطل ادیان به مغلوب اویا به نابودیږی د الشوری په 13 آیت کې ئی محمد رسول الله صلی‌الله علیه وسلم او اسلامی ټولنی ته همغه حکم کړی چې نوح علیه السلام ، ابراهیم علیه السلام ، موسی علیه السلام ، عیسی علیه السلام او نورو انبیاوته ئی ورکړی وه یعنی دا چې : ان اقیموالدین [دین قائم کړی ] د لغت پوهانو د څیړنی په رڼاکښ دین د اقامی څخه مقصد د دین نافذول ، جاری‌کول ، ټینګول او مضبوطول ، او هغه ته رواج او شهرت ورکول دی یعنی د هغه غالبول او په هغی عمل کول دی

څرګنده ده چې د دین کامیابی د دین د خاوندانو د کامیابی پوری تړلی ده ددین د اقامی د فریضی د ادا کولواو د دین د غلبی په خاطر د تعلیم، تبلیغ تربیت او پاکوالی په څنګ کې د اسلامی حکومت جوړولو او د ځواک د ترلاسه کولوکوشش کول هم په نبوی فرائضوکې شامل وه که څه هم رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د فطری طریقی مطابق د نبوت دکار شروع د توحید او تبلیغ ښوونی او روزنی څخه کړی وه او دا په دی خاطر چې ددین د علم نه پرته نه په دین عمل کیږی اونه هغه غالب او نافذیدی شی او نه د پوهو

او تربیه شووکارکوونکو د ډلی څخه پرته اسلامیحکومت ټینګیدائی شي او نه کارکولای شي خو د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د تعلیم او تربیی د پیل سره سم یو سیاسی فکر هم موجود وه او د شروع سره سم ئی د سیاسی اثراتو د پیدا کولو تدبیرونه هم اختیارکړی وه چې د همدی تدبیرونو په نتیجه کې د مدینی حکومت دهغه ترمشری لاندی جوړ شو[157].

## د توحید د کلیمی غوښتنه

### د توحید په بنسټ د حکومت جوړول

د توحید دکلیمی مفهوم دادی چې د یوه الله جل جلاله څخه پرته بل خدای نه شته او محمد صلی‌الله علیه وسلم د الله جل جلاله وروستی پیغمبر دی، اله کارجوړونکې ته هم ویل کیږی اوقانون جوړونکې ته هم لکه څنګه چې د حاکمیت په څیړنه کې د دی خبری په تفصیل سره یادونه شوی هر هغه څوک چې کارجوړونکي او قانون جوړونکې وی هغه معبود هم وی . او د عبادت مقصد هم دا دی چې د ژوندانه په هرارخ کې دیوه الله جل جلاله بندګی وشی، نوله دی امله د توحید دکلیمی غوښتنه دا ده چې یوازی په عباداتو ، معاملاتو ، اخلاقیاتوو جزاګانو[تعزیراو حدودو] سیاسیاتو [ دحکومت په نظام ] ، ایمانیاتو او عقائدو او ټولو کې د الله جل جلاله او د هغی د رسول محمد صلی‌الله علیه وسلم د احکامو په مخلصانه توګه اطاعت وشی، یا په بل عبارت ، دتوحید د کلیمی غوښتنه دا ده چې داسی یونظام منځ ته راشی چې هلته عبادت هم یوه الله جل جلاله لره وی او اقتصادی، ټولنیزی اوتمدنی چاری هم د یوه الله جل جلاله د قانون او حکم مطابق سرته ورسیږی په مکې دورکې د رسول اکرم الله صلی‌الله علیه وسلم د توحید د تبلیغ په وخت کې د اسلامی سیاست او اسلامی حکومت

---

[157] لسان العرب 12 ټوک 496-497 مخونه

فکرهم خلکو ته وړاندی کاوه که څه هم حکومت د هجرت څخه وروسته جوړ شوی وه- د حکومت او سیاست پوری د تړلو احکامو تفصیلات وروسته بیان شوی وه خو هغه ته مخکې ترمخکې اذهان تیاریدل د مکې د خلکو د حکومت وړاندیز په دی خاطر رسول الله صلیﷲ علیه وسلم مسترد کړ، چې هغوی د توحید د پریښولو شرط رامخته کړی وه. هغوی غوښتل چې د جاهلیت مشرکانه نظام په خپل حال پاته شی خو د دی حکومت مشری دی د پخوانیو سردارنو په ځای په خپله حضرت محمد صلیﷲ علیه وسلم سره وی ځرګنده ده چې دیو نبی په زړه کې د داسی یو حکومت فکرهم نه ګرځی،خو هغه صلی الله علیه وسلم دمکې سرداران قبائلی مشران او خپل خپلوان په مسلسله توګه په دی خبره پوهول چېکه چیری تاسو توحید قبول کړی او د هغی غوښتنۍهم ترسره کړی نو په عربو به ستاسی حکومت جوړ شی او عجم به تاسوته جزیه درکوی دا خبره هغه ددی فکرجوړولوله پاره کړی وه، چې د توحیدی نظام غوښتنه یوازی د خلکود عقیدو بدلون نه دی- بلکه د اقتدار او ځواک بدلون هم دی .

دنبوت په لومړیو دریوکلونوکې رسول الله صلیﷲ علیه وسلم خلک د حکمت او تبلیغ په واسطه په ځانګړی لیدنوکتنوکې د توحید په عقیده پوهول خوکله چې د نبوت په څلورم کال د الشعرا په سورت کې هغه ته دا حکم وشوچې] خپل نژدی خپلوان دی خبردارکړه نو هغه د صفا په غونډۍ کښی د ټولو قبائلو د نمایندګانو یوه غونډه جوړه کړه او په عامه توګه ئی ورته د توحید بلنه ورکړه- په صحیح بخاریکې خو یوازی دا راغلی دی چې هغه وفرمایل:" زه تاسی ته د الله جل جلاله د عذاب نه دویرولوله پاره راغلیيم- تاسو ایمان راوړی او خپل ځانونه ددی عذاب څخه په څنګ کړی اوکه نه نو زه تاسی د قیامت په ورځ د عذاب څخه نه شم ژغورلای ."

خو ابن سعد رحمه الله علیه چې په 230 هجری کال کې مړ شوی

دی د لاندی الفاظو په زیاتولو سره ئی داسی رانقل کړی دی :

وتدین لکم بها العرب وتذل لکم بها العجم [ که چیری تاسو توحید ومنی نو عرب به ستاسی تابع وگرځی اوعجم به ستاسی د لاس لاندی شی] [158].

د دی نبوی ارشاد څخه دا مقصد دی چې یو توحیدی ریاست به جوړ شی هماغه وه چې حکومت جوړ شو او د قیصر او کسری مانی ئی ورړنگی کړی .

ابن سعد رحمه الله علیه په بل ځای کې لیکې چې : د عامی بلنی د پیل څخه وروسته محمد خاتم الرسول صلی الله علیه وسلم ترلسوکالو پوری خلک په همدی خبرو پوهول، هرکال به دحج په وخت کې د [عکاذ مجنه ] او [ ذوالمجاز] کلنی میلی ځایوکې یوی یوی قبیلي ته ورته ، هغه قبیلی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به ورتلو په دی ډول دی :

بنوعامر- بنومحارب- بنوفزاره- بنوغسان – بنومره - بنوحنیفه- بنوسلیم- بنوعبس - بنونصر- بنوالبکاء- بنوکنده- بنوکلب- بنوحارث- بنوعذره- الحضارمه

پورته ذکرشوو پنځلس قبیلوته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا رنگه بلنه رسولی وه

یاایهاالناس قولوا لااله الا الله تفلحوا وتملکوبها العرب وتذل لکم العجم واذا آمنتم کنتم ملوکا فی الجنه وابولهب ورائه یقول لاتطیعوه فانه صابی وکاذب

[ " ای خلکو! ووایاست چې د یوه الله جل جلاله پرته بل معبود نه شته نو تاسو به کامیاب شی اوعجم به هم ستاسی ترلاس لاندی شی اوکله چې تاسی ایمان راوړی نو په جنت کې به هم پادشاهان شی ابولهب د محمد صلی الله علیه وسلم تره دده پسی وروسته تللو او ویل

---

[158] طبقات ابن سعد 1 ټوک 216 مخ

به ئی چې ای خلکو ! دده خبره مه منی دا صابی او دروغجن دی ] .

کله چې ابوطالب د مرګ په مرض اخته وه نو د قریشی سردارانو یوهیئت د ابوجهل په مشری ورته راغی او دا شکایت ئی ورته وکړچې ستا وراره زمونږ خدایان نه منی اوته د هغه حمایت او ساتنه کوی ابوطالب رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم ته وویل وراره جانه ته د خپل قوم څخه څه غواړی هغه مبارک وفرمایلی : اریدمنهم کلمه تدین لهم بها العرب و تؤدی الیهم العجم الجزیه [ زه له هغوی یوه خبره غواړم چې د هغی د منلو په صورت کې به عرب د هغوی تابع وګرځی او عجم به یې د لاس لاندی شی او جزیه به ورته ورکوی ] .

ابوطالب ورته وویل چې یوازی یوه خبره ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې: کاکاجانه وو‌ایه چې لااله الاالله - هیئت ورته وویل چې آیا مونږ یوازی د یوه الله جل جلاله بندګی وکړو په قریشی ملت [ آخری ملت ] کې مونږ تر اوسه پوری داسی خبره نه وه اوریدلی دا درواغ دی نو په همدی وخت کې د ص د سورت لومړی اوه آیتونه رانازل شول [159] .

د عربو او عجمو د حکومت کولو یادونه د مکې دور به بلنوکې ځکه په بیا بیا کیدله چې مخالفین او موافقین دواړه په دی ښه وپوهیږی چې د اسلام دین او د توحیدکلیمه د قتدار او ځواک بدلون غواړی او مکمل اسلامی انقلاب ئی غوښتنه ده .

### د حبشی د هجرت سیاسی اثرات :

[159] سنن ترمذی ابواب التفسیر سورت ص 2 ټوک 178مخ – مسند احمد – مسند ابن عباس لومړی ټوک 27 مخ - تفسیر ابن جریر په څلور اسانید23 ټوک 125- طبقات ابن سعد لومړی ټوک 202مخ – تفسیر ابن کثیر 6 ټوک 47 مخ په حواله د احمد او سنن نسائی - سیره ابن هشام لومړی ټوک 417 مخ د 1955 عیسوی کال د مصرچاپ – الکامل د ابن اثیر 2 ټوک 65 مخ – تاریخ الامم و الملوک د طبری 2 ټوک 219 مخ

## نیو لیك

د مکې دکفارو د مظالمو په اساس د صحابه کرامو رضی‌الله عنهم هجرت حبشی ته یوازی د پناه اخستولوله پاره نه وه بلکه دا یو رنګ سیاسی حکمت عملی هم وه چې مقصد یې د عربو څخه د باندی د دعوت خپرول وه او د حبشی شاهی کورنی ترتاثیر لاندی راوړل وه د حبشی مهاجرین دپناه اخستلو په څنګ کې د اسلام بلونکې او ترجمانان هم وه هغوی د دعوت او بلنی‌کار ته دوام ورکړ او په دی ترتیب د اسلام اثرات خپریدل حتی چې په هغه وخت کې د حبشی پادشاه نجاشی [اصحمه] هم مسلمان شو او د مدینی د هجرت وروسته ئی هلته د جوړشوی اسلامی حکومت سره د دوستی اړیکې هم ټینګ کړی .

د نبوت په پنځم کال د رجب په میاشت کې پنځلس کسانو[ یو لسو سړو او څلور ښځو] لومړی ځل حبشی[ایتوپیا] ته هجرت وکړ او د بعثت په شپږم کال نږدی سلوکسانو د دوهم ځل له پاره هجرت وکړ.کله چې د قریشوخلکو دا درک کړه چې ددی مهاجرینوپه واسطه په حبشه کې هم د محمد صلی‌الله علیه وسلم بلنه روانه ده او په راتلونکې کې هغه ډیر سیاسی اثرلری. نو هغوی عمروبن عاص رضی الله عنه عماره بن ولید رضی‌الله عنه یا د ام سلمه رضی‌الله عنها دوینا له مخی عبدالله بن ابی ربیعه ته قیمتی تحفی ورکړی او د نجاشی دربا رته ئی ورواستول ترڅوهغه دا مهاجرین دخپل وطن څخه وشړی، د قریشی‌هئیت د شکایت اوریدونه وروسته پادشاه مهاجرین خپل دربارته راوغوښتل د اسلام د پیغام درسولواو د پادشاه د متاثره کولوله پاره دا یو طلائی وخت وه چې د توقع څخه پرته پیدا شو،نو هماغه وه چې د مهاجرینو د نماینده په توګه حضرت جعفر بن ابی‌طالب شاهی دربار ته ولاړ او د اسلامی اصولو مطابق ئی سلام واچاوه او پادشاه ته ئی سجده ونه کړه درباریانو ورته وویل تا د بادشاه د احترام په خاطر سجده ولی ونکړه حضرت جعفر رضی الله

عنه ورته وویل : د الله جل جلاله پیغمبر محمد صلی‌الله علیه وسلم مونږ ته حکم کړی چې مونږ د الله جل جلاله څخه پرته بل هیچا ته سجده ونه کړو، لمونځونه وکړو او زکاتونه ورکړو،" ددی خبری وروسته عمرو بن عاص رضی‌الله عنه وویل چې دا خلک د حضرت عیسی علیه السلام په هکله له تاسی سره اختلاف لری پادشاه پوښتنه وکړه چې د حضرت عیسی علیه السلام په هکله ستاسو عقیده څه ده؟ حضرت جعفر رضی الله عنه ورته وفرمایل : حضرت عیسی علیه السلام د الله جل جلاله په حکم پیدا شوی وه او د هغه پاک روح الله جل جلاله پیغلی مریم عیها السلام ته القا کړی وه چې هغه ته د هیڅ بشر لاس نه وه لګیدلی [ هم بستره شوی نه وه ] نجاشی رحمه الله علیه د ځمکې څخه یوډکې راپورته کړ او وئی ویل چې : ای د حبشی خلکو او ای عالمانو او راهبانو! په الله جل جلاله قسم چې دا خلک زمونږ د عقیدی څخه ددی ډکې په اندازه هم زیاتی نه وائی د دی وروسته ئی مهاجرینو ته په خبرو کې ویل : زه تاسی ته هم ښه راغلاست وایم او هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته هم ښه راغلاست وایم چې تاسی د هغه له لوری دلته راغلی یاست او زه شاهدی اوګواهی وایم چې هغه د الله جل جلاله رسول دی چې ذکر ئی په انجیل کې هم شوی دی او ده غه پیش ګوئی حضرت عیسی علیه السلام کړی وه ، تاسی زما په مملکت کې هر چیرته چې غواړی اوسیدلی شی-که چیری زه د حکومت په چارو کې نښتی نه وائی نو زه به په خپله د هغه نبی علیه السلام په دربار کې حاضر شوی وایی د هغه پڼی مبارکې به می راجګولای او د هغه قدمو به می پاکولای د دی خبرو وروسته ئی د قریشی هیئت سوغات بیرته مسترد کړ[160].

امام احمد بن حنبل رحمه الله علیه په مسندکې د ام سلمه رضی‌الله عنها د روایت له مخی د حبشی د هجرت مکمله قصه رانقل کړی

[160] مسنداحمدلومړی ټوک 461مخ - مسند ابن مسعود دارصادربیروت چاپ

اوهمدا راز يي د مهاجرينو د خطيب جعفر رضی‌الله عنه د ويناو مکمل متن رانقل کړی دی چې هغه د نجاشی په دربارکې کړی وه په دی ويناکې د جاهليت د دوره اعتقادی ، اخلاقی او ټولنيزی خرابی بيان شوی وی، بيا ئی د نبی صلی‌الله عليه وسلم د معبوث کيدو يادونه وکړه او د هغه د تعليماتو لنډيز ئی وړاند کړی د هغه وروسته ئی د مکې د قريشو د هغه مظالمو يادونه وکړه چې په مسلمانانو به ئی کول او په آخره کې ئی وويل مونږ ستاسی د ملک په لور په دی خاطر راغلی يو چې دلته به پر مونږ ظلم و نه شی نجاشی رحمه الله ورته وويل : آيا له تاسی سره د دی پيغام څه برخه شته چې الله جل جلاله له خوانه په دی نبی صلی‌الله عليه وسلم رانازل شوی‌دی؟

حضرت جعفررضی‌الله تعالی‌عنه د مريم عليه السلام د سورت لومړی برخه تلاوت کړه ، د دی په اوريدلو نجاشی په ژړا شروع وکړه ،تر دی پوری ئی وژړل چې ږيره مبارکه ئی په ژړا لمده شوه- د هغه د دربار پادريانو هم په ژړا شروع وکړه، تردی ئی وژړل چې د هغوی ترمخ پرا ته کاغذونه هم لامده شول او بيا نجاشی وويل چې" دا پيغام او د حضرت عيسی عليه السلام تعليمات دواړه د يوه څراغ رڼا ده "او بيا ئی د قريشو هيئت ته وويل چې ولاړ شی زه دا خلک تاسی ته نه شم درکولای [161].

حضرت جعفر رضی‌الله عنه د مسلمانانو نماينده او د رسول الله صلی‌الله عليه وسلم سفير وه چې په شاهی دربارکې ئی د قريشو سفارتی هيئت ته په سفارتی ميدان کې سخته ماتی ورکړه ، دا د رسول الله صلی‌الله عليه وسلم دعوت هم وه او سياست هم چې کامياب ثابت شو .

---

[161] - مسنداحمد لومړی ټوک 201 مخ - سيرت ابن هشام لومړی ټوک 236 مخ - الکامل د ابن اثيرليکنه2ټوک 80 مخ البدايه النهايه د حافظ عماد الدين ابن کثيرليکنه 3ټوک73-74مخونه

.......................

وصلى الله عليه و على اله و اصحابه اجمعين

## د عقبې تړون د اسلامي حکومت پېيل :

د عقبې تړون هم د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم سیاسی زیرکتیا وه چې د هغه په اساس په عربو او عجمو کې د هغه د حکومت بنسټ کیښوولی شو،چې د هغه یادوونه حضور صلی‌الله علیه وسلم د قریشو سردارانو او د عربي قبائلو مشرانو ترمخ کړی وه دا تړون په اصل کې د اسلامي حکومت پېيل وه .

حضرت سوید بن صامت په مدینه کې هغه اول د ښه نصیب خاوند ، چې د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم تر تاثیر لاندی راغی خو د بعاث په نښته کې په قتل ورسید ، دوهم خوش قسمته انسان حضرت ایاس بن معاذ وه هغه ویلی وه" په الله جل جلاله سوګند چې دا ښې خبری دی خو هغه هم ډیرژر وفات شو[162].

د نبوت په یولسم کال دحج په وخت کې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د مدینی د یوی قبیلی خزرج د شپږ کسانو سره د منی په عقبه کې لیدنه وکړه ، هغوی اسلام قبول کړ او وعده ئی وکړه چې د راتلونکې کال کې د حج په موسم کې به بیا سره ګوری هغوی بیرته ولاړل او د اسلام تبلیغ ئی شروع کړ، او د مدینی په هرکورکې د رسول اکرم له صلی الله علیه وسلم د نوم یادونه شروع شوه .

د هغو شپږو خوش نصیبو صحابه و رضی‌الله عنهم نومونه دا دی :

ابوامامه اسعدبن زاره - عوف بن الحارث - رافع بن مالک - قطبه بن عامربن حدیده - عقبه بن عامربن نابی - جابربن عبدالله بن رباب رضی‌الله عنهم

د نبوت په 12کال د وعدی مطابق د حج په وخت د منی په کنده کې دولس کسانو د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم سره دوهم ځل له پاره

---

[162] سیرت ابن هشام 1- 2 ټوکونه 426 – 427 مخونه

لیدنه وکړه په دی وخت کې چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د هغوی څخه کومه وعده واخسته نوهغه د هغه بیعت [ تړون ] مطابق وه چې څوکاله وروسته د ممتحنی د سورت په 12دولسم آیت کې د مهاجرو ښځوڅخه د بیعت د اخیستوپه هکله ښوول شوی وه.

همدا علت دی چې د عقبی تړون ته مسند احمد او سیرت ابن هشام بیعت النساء ویلی دی او حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه فرمایی چې حضرت محمد صلی‌الله علیه وسلم زمونږ څخه دا ډول بیعت [ تړون ] اخستی وه .

د الله جل جلاله سره به هیڅوک نه شریکوی- غلابه نه کوی- زنا به نه کوی - خپل اولاد به نه وژنی- په هیچابه د دروغو تورنه لګوی او زما نافرمانی به نه کوی،که چیری تاسی په دی وعده وفا وکړه نوتاسی ته به جنت وی اوکه چا ددی حراموکارونوڅخه یوکارهم وکړنوبیا د هغه معامله دالله جل جلاله په حواله ده که هغه یی معافوی اوکه عذاب ورکوی .

د هغه د ولسوکسانو نومونه دا دی :

ابوامامه اسعدبن زراره - عوف بن حارث - رافع بن مالک - قطبه بن عامر - عقبه بن عامر - معاذبن حارث - زکوان بن عبدالقیس - عباده بن صامت - یزید بن ثعلبه - عباس بن عباده- ابوالهثیم بن التیهان- عویم بن ساعده رضی‌الله عنهم .

ددی بیعت وروسته محمد رسول الله صلی‌الله علیه وسلم حضرت مصعب بن عمیر رضی‌الله عنه د هغوی سره مدینی ته واستاوه هغه د مدینی منوری د مسلمانانو مشری په غاړه واخسته او د ښوونی او روزنی او تنظیم او دعوت کارونه ئی نور هم پسی پر مخ بوتله چې په دی کارکې حضرت اسعد بن زراره رضی‌الله عنه له ده سره ډیرکومک

..........................

وکړ[163].

د نبوت په 13 کال73 سړی او2 ښځی د دریم ځل له پاره د نبی اکرم صلیالله علیه وسلم سره په همدی عقبی کې د لیدنی له پاره راغلی وه په دی ځل ئی ورځخه د اطاعت په څنګ کې د جهاد او کومک کولو وعده هم واخسته .

حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه د دی بیعت څرنګوالی په دی توګه بیان کړی دی : مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دا وعده وکړه چې ستاسی هرحکم به اورو او منو به ئی،که زمونږ طبعیت ئی وغواړی اوکه وئی نه غواړی، مونږ به مالی مصارف په غاړه اخلو که څه هم تنګ لاسی اوسو یا آسوده ، مونږ به په نیکې حکم کوو او د بدی څخه به منع راوړو، د الله جل جلاله له پاره به حقه خبره کوو او د هیڅ ملامت کونکې پرواه به نه کوو- کله چې د الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ کلی یثرب [ مدینی ] ته تشریف راوړی نو مونږ به د هغه کومک کوو او د هغه به داسی ساتنه کوو لکه څنګه چې د خپلو ځانونو، ښځو او اولاد ساتنه کوو او د دی په بدل کې مونږ یوازی جنت غواړو[ نو دا هغه بیعت وه چې مونږ د رسول الله صلیالله علیه وسلم سره کړی وه ] .

## د دولس نمایندګانو ټاکل

د بیعت وروسته رسول الله صلیالله علیه وسلم وفرمایل چې ما ته ستاسی له ډلیځخه دولس کسه باوری نمایندګان غوره او راکړی چې دخپلی قبیلی داسی مسئول او استاذی وی لکه څنګه چې د حضرت عیسی علیه السلام حواریون کفیلان وه هغوی د خزرج څخه نهه او د

---

[163] - طبقات ابن اسعد لومړی ټوک 220مخ - سیرت ابن هشام لومړی ټوک 433مخ - تاریخ طبری 2 ټوک 235مخ - الکامل 2 ټوک 96مخ - البدایه والتهایه 3 ټوک 150 ددی بیعت ذکرد صیحیح بخاری په کتاب الایمان باب بیعه العقبه کی هم شوی خو د نومونویادوونه په بخاری اومسنداحمدکی نشته

اوس څخه دری کسه وټاکل ابن حزم ،ابـن هشـام او ابـن سـعد رحمـه الله علیه د هغوی نومونه په دی توګه ذکرکړیدی .

د خزرج څخـه : اسـعد بـن زراره رضیالله عنـه د رئـیس پـه توګـه او سعد بن ربیع ، عبدالله بن رواحه ، رافع بن مالـک ، بـراء بـن معـرور ، عبدالله بن عمر و بن حرام ، عباده بن صامت ، سعد بـن عبـاده ، منـدر بن عمر رضیالله عنهم .

د اوس څخـه : اسـید بـن حضـیر ، رفاعـه بـن عبدالمنـذر ، سـعدبن خیثمه رضیالله عنهم [164].

د همدی بیعت څخه وروسـته مسـلمانانو هجـرت وکـړ او نـزدی یـوه نیمـه میاشـت وروسـته پـه خپلـه رسـول اکـرم صلیالله علیـه وسـلم هـم هجرت وکړ او مدینه کې ئی د اسلام مرکز جوړ کړ د باوری خلکو ټاکل او د بیعـت د اخسـتوپه وخـت کـې د هغـوی څخـه د اطاعـت پرتـه ، د کومـک ، جهـاد او نصـرت وعـده اخسـتل ددی خبری ثبوت دی چې د عقبی بیعت پـه اصـل کـې د یـو اسـلامی حکومـت پیـل وه او د بلنـی پـه څنګ کې یو سیاسی زیرکتیا هم وه .

**په مدینه کې د جمعی لومړی خطبه**
**او د اسلامی حکومت اساسی اصول**

د مشهورو څیړونکو د وینا لـه مخـی محمـد صلیالله علیـه وسـلم د ابوبکر صدیق رضیالله عنه په ملګرتیا د نبوت په 13کال د ربیع الاول په 12نیټه د دوشـنبی پـه ورځ قبـا تـه ورسـید ، هلتـه د یوڅـو ورځـو تـم کیدونه وروسته مدینی منوری ته روان شـو ، هغـه د بنـو سـالم بـن عـوف په ځای کې د لومړی جمعی لمونځ اداکړ او لومړی خطبـه ئـی وفرمایلـه

[164]- سیـرت ابـن هشـام لومـړی ټـوک 442مـخ - طبقـات ابـن اسـعد لومـړی ټـوک 222مـخ - تـاریخ طبـری 2 ټـوک 238مـخ - الکامـل 2 ټـوک 99مـخ – وفـاء الوفـاء باخبـار دار المصـطفی د مسـهودی لیکنـه لومـړی ټـوک 230 مـخ بیـروت چـاپ - البدایه والنهایه 3 ټوک 159 مخ

چې دا خطبه په حقیقت کې د اسلامی حکومت تاسیس په خاطر د حکومت د مشر په حیث د هغه لومړنی پالیسی جوړونکې بیان وه چې په هغه کې د اسلامی نظام اساسی اصول او بنسټیز احکام واضع کړی وه دا د جمعی خطبه ابن جریر او ابن کثیر رحمه الله علیهما پوره رانقل کړی چې د هغی لنډیز په دی ډول دی .

**أ- توحید:**

حاکمیت او الوهیت یوائی دیوه الله جل جلاله صفت دی د همغه بندګی وکړی او د هغه سره هیڅوک مه شریکوی .

**ب- تقوی :**

د الله جل جلاله د عذاب اونیولوڅخه وویریږی. ریښتونی ژوند خو د دی دنیا ژوندنه دی بلکه د آخرت ژوند دی نو هرکار د آخرت د کامیابیدو په خاطرکوی .

**ج- د قرآن او سنتو پورته والی :**

ریښتونی لارښوونه ، حقیقی پوهه،او د حق معیارد الله جل جلاله کتاب او د هغه د رسول صلیالله علیه وسلم سنت دی - په هرکارکې د الله جل جلاله دکتاب او د هغه د رسول الله صلیالله علیه وسلم د سنتو پیروی وکړی نو په یوی اسلامی ټولنه کې یوائی قرآن او سنتوته پورته والی اوځواک حاصل دی .

**ه- جهاد فی سبیل الله :**

د الله جل جلاله دښمنان خپل دښمنان وګڼی او د هغه ددین د غالبولو له پاره جهاد وکړی ځکه چې اسلامی امت ئی د همدی له پاره غوره کړی دی

**و- اسلامی امت :**

ستاسی اسلامی نوم مسلمان دی چې تاسی ټول یوه ټولنه اویو قوم

یاست او د اسلامی امت په نوم یادیږی[165] .

دا هغه پنځه بنسټیز اصول دی چې په دی باندی د یوی اسلامی ټولنی او یو اسلامی حکومت بنیاد ایښودل شوی دی په دی وینا کې رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم د مدینی خلکو ته د راتلو سره سم وویل چې اوس به دلته د دنیا پرستی، قبیله پرستی، اوبت پرستی د جاهلی نظامونو په ځای به د توحید ، د آخرت په فکر او تقوی باندی ولاړ اسلامی نظام منځ ته راځی .

### د جوماتونو جوړول :

په یوه اسلامی حکومت کې جوماتونه اساسی رول لری ځکه چې د لمانځه قائمول د یوه اسلامی حکومت اولین کار دی آدم علیه السلام پر ځمکه باندی د الله جل جلاله لومړی خلیفه وه هغه هم د جبریل علیه السلام په لارښونه په مکه مکرمه کښد دنیا پرمخ لومړی جومات جوړکړی وه د کعبی د تعمیرد شروع څخه دی خبری ته ګوته نیول ضروری دی چې د یوه اسلامی خلافت لومړی بنیادی کار د جوماتونو د نظام جوړول او د عبادت د مرکز انتظام او اهتمام کول دی د لومړی پیغمبر علیه السلام سسپه څیر د الله جل جلاله پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم هم تر ټولو لومړی کار دا وکړ چې په قباء کې یی د جومات د جوړیدو تیګه کښیښودوه او بیا ئی د نبوی مسجد جوړښت پائی ته ورسوه د هغه وروسته ئی د خپل ځان له پاره حجره جوړه کړه . دنیالرونکې پادشاه لومړی د خپل ځان له پاره مانی آبادوی اوبیا د هغه وروسته نورکارونه کوی خو د اسلامی حکومت مشر او د کائیناتو سردار لومړی مسجد جوړکړ او بیا ئی د نورو اړتیاو په لور پاملرنه وکړه .

### مواخات عقد [ د ورورولی تړون ]

---

[165]- تاریخ ابن جریر2 ټوک 255-256 مخونه - البدایه والنهایه 3 ټوک 213 مخ

د هجرت په پنځمه مياشت رسول الله صلی الله عليه وسلم د اسلامی قوميت او دينی ورورولی د ټينګيدو په خاطر د مهاجرينو د اقتصادی کفالت او آباديدو له پاره ډيرمهم او انقلابی قدم واخيست چې هغی ته د احاديثواو سيرت په کتابونوکې " مواخات بين المهاجرين والانصار" ويل شوی دی .

انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی چې :

قد حالف النبی بين قريش والانصارفی داری [ رسول الله صلی‌الله عليه وسلم زما په کورکې د قريشو [مهاجرينو] او انصارو ترمنځ د اسلامی ورورولی تړون وکړی و[166]] .

د دی تړون يادوونه د صحيح بخاری په ډيرو ځايونوکې شوی ده [167].

په مسند احمد کې د ورورولی د تړون د ليکل شوی سند يادوونه هم شوی ده : ان رسول الله صلی‌الله عليه وسلم کتب کتابا بين المهاجرين والانصار علی ان يعقلوا معاقلهم ويفدوا عانيهم باالمعروف و الاصلاح بين المسلمين [ رسول الله صلی‌الله عليه وسلم دمهاجرينو او انصارو ترمنځ يو تړون وليکه چې دوی دواړه به يو د بل سره د ديت په ورکړه کېکومک کوی. يو د بل د بنديانو فديه به ورکوی اود مسلمانانو د اصلاح په لاره کې به کوشش کوی ][168] .

ابن سعد رحمه الله د څلورو مسانيدونو په واسطه د عقد مواخات تفصيل دا رنګه نقل کړی دی کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينی ته تشريف راوړ نو د او انصارو مهاجرينو د بيلو، بيلو وګړو ترمنځ يې دمواخات [ ورورولی] ريښی ټينګې‌کړی .

---

166 - صحيح بخاری‌کتاب الکفايه 1 ټوک 306 مخ

167 - صحيح بخاری المناقب 1 ټوک 533-561 مخونه - التفسير ټوک 659 مخ - الفرائض 2 ټوک 999مخ

168 - عبدالله بن عمرو بن العاص روايت مسند احمد 2 ټوک 204 مخ

د هغوی ترمنځ دا ورور ولی د یوه بل سره په کومک او حق باندی ولاړه وه او د هغی وخت د انصارو میراث هم مهاجرینوته ورکول کیده په دی تړون کې 25کسه مهاجرین او 25 کسه انصاریا د حدیثو نورو روایاتو د وینااله مخی50-50 کسه شریک وه – د ورورولی [مواخات] دا تړون د بدر د غزا څخه ترمخه شوی وه خوکله چې د بدر د جنګ وروسته دا آیت رانازل شو چې" نسبی ریښتیه لرونکې د میراث ډیرحق لری" نو بیا به میراث نسبی ریښته لرونکوته ورکول کیده، خو بیا هم د اسلامی ورورولی او یو د بل سره دکومک ریښتې په خپل ځای وی [169].

د عقد مواخات په نتیجه کې د مدینی انصارو خپلی ځمکې او باغونه د خپلو ځانونو او مهاجرز ورونو ترمنځ د ملکیت په اساس د ویشولو پیشنهاد وړاندی کړ خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : چې دومره زیات بار په تاسی اچول مناسب نه دی البته خپلی ځمکې د مزارعت په خاطرخپلو مهاجرو ورونو ته ورکړی خو په حاصل کې به ئی دواړه ګډیاستی انصارو وویل چې مونږ ته قبوله ده [170].

## الوثیقته السیاسه

## [ لومړی لیکل شوی قانون ]

په دی وخت کېږه مدینه منوره کې د اوس او خزرج د قبیلو پرته دیهودو دری بااثره قبیلیهم آبادی وی یعنی بنونضیر، بنوقریظه اوبنوقینقاع . هغوی ته د بلنی د په څنګ کې د دی هم اړتیاوه چې د هغوی سره د سیاسی اړیکو څرنګوالی معلوم شی ، او د مهاجرینو، انصارو اویهودو ترمنځ یو لیکلی تړون وشی، چې په هغه کې د حکومت د قانون اواهدافو بنیادی او ضروری مادی ولیکل شی،نو هماغه وه چې

[169]- طبقات ابن سعدا ټوک 238 مخ

[170]- صحیح بخاری کتاب المزارعه 1 ټوک 312 مخ - الهبه 1 ټوک 358- المناقب 1 ټوک 534 مخ.

د بدر د غزا ترمخه دهجرت په لومړیکال دا وثیقه اوسندو لیکل شو.

د دی مدنی تړون حواله په مسند احمد رحمه الله د ابن القیم رحمه الله په زاد المعاد او د حلبیه په سیرت او ځینی نورو کتابونوکې ورکړل شوی خو د هغو تفصیلات ئی نه دی ورکړی- حافظ عماد الدین بن کثیر په البدایه کې حواله ورکړی چې د امام ابوعبید قاسم بن سلام په کتاب الغریب کې په دی باندی اوږد بحث شوی دی د الحلبیی لیکونکې علی بن ابراهیم حلبی رحمه الله چې په 1044هجری قمری کې وفات شوی لیکې چې په [ الاصل ] کې د دی سند پوره متن موجود دی ، د الاصل څخه هغی مقصد د ابن سیدالناس یعمری چې په734 کې وفات شوی کتاب عیون الاثرفی فنون المغازی و الشمائل والسیر دی[171].

ابن هشام او ابن کثیرد محمدابن اسحق چې په150هجری قمری کې وفات شوی په حواله دا سند پوره رانقل کړی دی ، ابن اسحق رحمه الله علیه د مغازی او سیر پخوانی او مستند امام دی نو په دی خاطرد هغه وینا هم مستنده ګڼل کیږی ، د ابن هشام سیرت او البدایه څخه ددی مهم سیاسی تړون او مدون قانون لنډیز را نقل کوو.

بسم الله الرحمن الرحیم دا تحریری تړون چې د مهاجرینو ، انصارو او هغه خلکو چې د هغوی تابع دی او په جنګ کې ورسره شریک وی، ترمنځ لیکل شوی دی :

1- ټول مسلمانان یوه ټولنه اویوقوم ګڼل کیږی .

2- قریشی‌مهاجرین به د پخواپه شان د خپلوبندیانو فدیه ورکوی او په دیت ورکولوکې به یو د بل کومک کوی .

3- د اوس او خزرج د اته قبیلو نومونه واخستل او ولیکل شوه چې

---

171 - مسنداحمد2ټوک 204مخ - زادالمعاد 2 ټوک 63 مخ 1970 عیسوی کال د مصر چاپ – د الحلبیه سیرت 2 ټوک 29 مخ 1964 عیسوی کال - البدایه 3 ټوک226 مخ - جوامع السیر ابن حزم لیکنه 95مخ

دوی به ټول د پخواپه شان یوبل ته دیت ورکوی او د خپلو بندیانو فدیه به ورکوی لکه څنګه چې د ایمان د خاوندانو اصول دی .

4 - د پوروړو او تنګ لاسوخلکوبه په نیکه توګه کومک کیږی .

5 - د ظالمانو ، مجرمانو او مفسدو خلکو په خلاف به ټول مسلمانان یوکیږی که څه هم د هغوی څخه کوم مجرم د کوم مسلمان زوی هم وی .

6 - هیڅ مؤمن به دکافرو د حمایت په خاطربل مؤ من نه وژنی او نه به د مؤ من په مقابله کې دکافرحمایت کوی .

7 - که ادنی مؤمن هم چا ته پناه ورکړی نو هغه به د ټولو پناه ګڼل کیږي

د مسلمانانو مسئولیت به شریک وی .

8 - که چیری یهودان زمونږ فرمان وړونکیوګرځی نو په هغوی باندی به ظلم ونه شی بلکه کومک به ورسره کیږی .

9 – د مسلمانان صلح به په ګډه وی،ځانګړی صلح هیڅ حیثیت نه لری، مګرپه ټولنیز ډول چې دکومی باندینی قبیلی سره سوله کیږی د جنګ په وخت کې هیڅ مسلمان په ځانګړی توګه سوله نه شی کولای .

10- مسلمانانو به په وار وار جهاد ته درومیکله چې یوه ډله راشی نو بله ډله به لیږل کیږی .

11- د ټولومسلمانانو وینه برابره ده او په حقه او صحیح لاره به هماغه ګڼل کیږی چې متقی وی .

12- چاچې کوم مسلمان په ظلم اوتیری سره قتل کړی وی نو د هغه څخه به قصاص واخستل شی مګر دا چې د مقتول وارث په دیت اخستلو راضی شی،او د قاتل په خلاف به ټول مسلمانان متحد وی .

13- د مکې دقریشو[کفارو] سره به نه مالیکومک کیږی او نه به د مسلمانانو په مقابل کې ورته پناه ورکول کیږی .

14- دهری معاملی اوهر ډول شخړی پریکړه بـه د الله جل جلاله په کتاب او د محمد صلیالله علیه وسلم د سنتو په اساس کیږی [ قانونی

پورته والی به قرآن او سنتوته حاصل وی ] او د پریکړی اختیار به د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره وی .

## یهودو پوری تړلی مادی

15- په مدینی‌منوری باندی دتیری په وخت کې به یهود د مسلمانانو سره په جنګ کښریک کیږی او د جنګ تاوان به هم په ګډه ورکوی ځکه چې دا جګړه د وطن د دفاع جنګ دی .

16- یهودیان به په خپل دین او مسلمان به په خپل دین عمل کوی .

17- د یهودیانو ټولو قبیلو اود هغوی دوستانو ته به د قانون په رڼاکې ټول حقوق حاصل وی له دوی چې څوک جرم وکړی نو هغه به د جزا څخه خلاص نه شی .

18- د جرمونو د سزا وروکولو په وخت کې به هیڅ ډول خنډونود را پیدا کولو اجازه ورنه کړل شی، غولونکې اوتړون ماتوونکې به خپل ځان په خطر کې اچوی ، ځکه چې تحفظ نیکوخلکوته ورکول کیږی .

19- د دی تړون ګډونکونکوته په مدینی[یثرب]کې د هرډول فتنی او فساد جوړول حرام دی .

20- د ګاونډی او پناه اخستونکې له پاره هم همدغه حقوق دی او په هغوی باندی به هیڅکله زیاتی ونه شی .

21- د تړون د ګډون کونکوترمنځ که کله کومه شخړه او حادثه را پیدا شی چې د هغی څخه فساد جوړیږی، نو د هغه پریکړه به د الله جل جلاله د قانون په اساس حضرت محمدصلی‌الله علیه وسلم کوی .

22- د مکې قریشو[کفارو] او د هغوی دوستانو ته به په هیڅ ډول پناه نه ورکول کیږی .

23- د تړون ټول ګډون کونکې د هر چا سره په سوله کې برابر شریک دی او د مسلمان په څیر هریو یهودی به هم د سولی د دی تړون پابند وی ، چې د کومی بهرنی قبیلی سره شوی وی .

24- هره ډله به دخپلی سیمی د ساتنی او د هغی څخه د دفاع له پاره

.....................

مسئوله وی

25- دا ترون به د ظالم او زیاتی‌کوونکې د سزا د ورکولو په لار کې خنډ نه ګڼل کیږی : وان الله جار لمن اتقی وبر و محمد رسول الله {صلی الله علیه وسلم } او الله جل جلاله د هغه چا مددګار او حامی دی چې ډیر د الله څخه ویریدونکې اونیکو کار وی محمد صلی الله علیه وسلم دالله رسول وی ] [172].

## ددی لیکل شوی دستورڅخه ثابت شوی

## سیاسی‌اصول

ا ] ټول اسناد او لیکنی به په بسم الله سره شروع کیږی دا ځکه چې د حکومت لوی حاکم الله جل جلاله دی .

ب] د حکومت قانون قرآن اوسنت دی چې مشر ئی محمد صلی‌الله علیه وسلم دی د 14 – 21 مادو له مخی

ج ] ټولواوسیدونکو د قانون په وړاندی برابر حقوق لری 4- 11-16-17 مادو له مخی

د] د حکومت دفاع په ټولو اوسیدونکو لازمه ده او هیڅ ډول فتنی او فساد ته به اجازه ورنه کړل شی 15-19 مادو له مخی[173]

## د قتال فی سبیل الله

## څخه مقصد د اسلامی‌حکومت جوړول او ټینګول دی

د مکې په دولس کلنه دوره کې چې کوم مظالم په مسلمانانو وشوه او په آخره کې چې د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د قتل په خاطر د هغی

---

**172**- سیرت ابن هشام لومړی ټوک 510 مخ د 1955 عیسوی کال د مصطفی‌البانی1955 لیکنه - البدایه د حافظ عماالدین بن کثیرلیکنه 3 ټوک 224 مخ د 1966 عیسوی کال د بیروت چاپ

**173** - اصلی لیکنه په 52 مادو باندی مشتمله ده لیکن ما ئی تکرار حذف کړاود مضمون نتیجه می بیان کړه .

مبارک کورمحاصره کړای شو، نو پدی اساس دمسلمانانو او د مکې د قریشو ترمنځ د نښتی امکانات را پیدا شوی وه په مدینی کې د حکومت د جوړیدو سره الله تعالی هغوی ته دنښتواجازه ورکړه او د لړی مودی وروسته ئی قتال فی سبیل الله فرض وګرځاوه.

د بین المللی قانون په اساس دجنګ په حالت کښیځوک هم ددښمن قافلی ته په خپلوحدودوکې د اجازی اخستلو پرته د سفر کولو اجازه نه ورکوی دجګړی په حالت کې د دښمن په تجارت بندیزونه لګول او د نورو لارو څخه د هغه ټکول او د هغه د قوت ختمول د جنګ یوه برخه ده ، جنګ د مکې د قریشو له لوری لومړی پیل شوی وه نو په دی خاطر اخلاقاً او شرعاً اُوهمدا راز د قومونو د مسلمه قاعدو په اساس دا نه چې د مسلمانانوحق نه وه بلکه پری فرض وه چې په دښمن تجارتی بندیزونه ولګوی او د هغوی قافلوته د اسلامی حکومت په حدودوکې د تیریدو اجازه ورنکړی همدا علت وه چې د هجرت په لومړی کال نبی صلی‌الله علیه وسلم د قریشو د قافلو د ټکولو په خاطرځه ټولی ورولیږل او په دی ترتیب د جهاد اوقتال سلسله پیل شوه د قتال فی سبیل الله مقصد قرآن کریم په دی ډول بیان کړیده :

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ[]الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَنْ يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ[]الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوْا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنْ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ [د الحج سورت **39** تر **41** آیاتونو پوری ]

[ هغو کسانو ته اجازه ورکړه شوه چې د هغو پر خلاف په جګړه لاس پوری کیږی ځکه چې هغوی مظلومان دي او الله په یقینی ډول د هغو د ملاتړ وس لری دا هغه کسان دی چې له خپلو کورونو څخه په نا حقه

وویستل شول یوازی په دی جرم چې هغوی وایی " زمونږ رب الله دی که الله خلک یو د بل په وسیله دفع نه کړی نو خانقا ګانی ، کلیسا ګانی ، عبادتخانی او جوماتونه چې په هغو کې د الله نوم ډیر زیات اخیستل کیږی ټول به ونړول شي الله به ارومرو د هغو کسانو سره مرسته وکړی چې د هغه مرسته کوی الله ډیر زورور او بر لاسی دی دا هغه کسان دی چې که مونږ دوی ته په ځمکه کې قدرت ورکړو نو لمونځ به قایم کړی زکات به ورکړی ، په ښو چاروبه امر وکړی او له بدیونه به منع وکړی او د ټولو چارو پای د الله په لاس دی ] .

په جامع ترمذی کې د عبدالله بن عباس رضی‌الله عنهما څخه روایت دی چې د قتال په هکله د ټولو ترمخه همدا آیت را نازل شوی دی- د دی آیتونوڅخه مقصد دا دی چې ظالم د ظلم څخه منع کړی او داسی‌حکومت جوړکړی چې په هغه کې د الله جل جلاله د عبادت له پاره آزادی وی د غریبوخلکو اقتصادی حالت ښه شی د ښه والی او نیکې احکام نافذ شی او د بدی ټولی لاری چاری ختمی شی . یعنی د ظلم شرک او د فساد د نظامونو په ځای د عدل ،توحید او د اصلاح نظام منځ ته راشی، په بل ځای کې‌الله جل جلاله فرمائی چې::

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ

[ د انفال سورت 39 آیت ]

[ اود دوی سره ترهغه پوری وجنګیږی چې د کفراو شرک غلبه پای ته ورسیږی او د الله جل جلاله حکم په ټولوغالب شی ] .

حافظ ابن کثیر رحمه الله علیه لیکې چې:

ای یکون دین الله هو الظاهرالعالی علی سائر الادیان

[ د الله جل جلاله دین په ټولو نورو دینونو غالب او عالی واوسی ] [174].

په صحیح بخاری او صحیح مسلم کې د ابوموسی اشعری رضی‌الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دیوه پوښتنی په

---

[174] - تفسیر ابن کثیر لومړی ټوک 402 مخ

.....................
ځواب کې وفرمایل : "

من قاتل لتکون کلمه الله هی العلیا فهو فی سبیل الله

[ هغـه څوک چې ددی پـه خاطرجنګیـږی چې یـوازی د الله جـل جلالـه کلیمـه دی پرتـه اوسـی نـو پـه حقیقـت کې همـدا سـړی د الله جـل جلالـه پـه لارکې جنګیږی ] .

د پورتنی بیان لنډیز دا دی چې د جهاد او قتـال څخه مقصد پـه زور د خلکو مسلمانول نه دی،که چیری تری مقصد دا وایی نو بیا به اسلام کې د خراج احکام نه وای ، جزیـه او خـراج پـه همـدی خاطراخستـل کیـږی چې غیرمسلم خلک هم پـه اسلامی حکومت کې پـه خپـل دیـن عمـل وکولای شی،حکومت به د هغوی د مال ، ځان او آبرو ساتنه کوی ، د هغه اړتیا به پوره کوی او د هغوڅخه چې د جزیی اوخراج لـه لاره کـومی پیسـی لاس تـه راځی نوهغه به د هغـوی د بهبـود پـه خاطرخرڅوی او حقیقت دا دی چېپـه زور سره مسلمان کول ممکن هم نـه دی دا ځکه چېایمـان یـوائې د اقـرار کولوڅخه عبارت نه دی بلکه د سینی د پراخوالی په څنګ کې د تسـلیمی ،انقیـاد او د زړه د تصـدیق نـوم هـم دی- د جهـاد او قتـال څخـه مقصـد د کفارو او مشرکینو د اقتدار ختمول او د اسلامی حکومت جوړول دی اوکه چیری مخکې څخه جوړشوی وی نو بیا د هغی د دفاع اوټینګښت لـه پـاره جهاد کیږی او جنګ د غلبی په خاطرکیږی اود همدی غلبی نـوم اقتـداراو حکومت دی .

## د الله جل جلاله په لارکې
## د قتال د آیتونوڅرنګوالی

د قرآنکریم په څوارلس سورتونو او 47 آیتونو کې د قتال حکم ورکړل شـوی دی او یـا د هغـی فضـیلت بیـان شـوی دی د دی نـه پرتـه پـر15 سورتونو او 28 آیتونو کې یا د جهاد حکم او یا ئی فضیلت بیـان شـوی دی - جهاد یوازی جنګ ته نه وائی بلکه جهاد د هر ډول هلوځلو د څخه عبارت دی که څه ژبه وی ، په قلم وی او د زړه د بدوالی یا د مال او نورو

وسایلو او صلاحیتونو په اساس وی ، خو په دی شرط چې مقصد تری د دین غلبه وی، همدا علت دی چې د النحل سورت په 110 آیت د الفرقان سورت په 52 آیت د العنکبوت سورت 66 آیت کې د جهاد ذکر دی په داسی حال کې چې دا سورتونه مکې دی او په مکه د قتال اجازت نه ؤ

د قتال د آیتونو نقشه په لاندی ډول ده:

د البقره سورت : 154-190-193-216-244-246- 251 آیتونو

د آل عمران سورت :13-121-146-157-167-169- 195 آیتونو

د النساء سورت :74 - 75 -76-77-84 - 89 -91 آیتونو

د الانقال سورت :16- 39- 65 آیتونو

د التوبه سورت : 5-12-13-14- 29-36-111-123 آیتونو

د الحج سورت : 39- 58 آیتونو

د الاحزاب سورت : 61 آیت

د محمد سورت : 4 –20 آیتونو

د الفتح سورت : 16 آیت

د الحشر سورت : 11-12آیتونو

د الصف سورت : 4 آیت

دالحجرات سورت : 9 آیت

دالحدید سورت :10 آیت

د المزمل سورت چې مکې کې نازل شوی دی او ټول شل آیت دی چې په دی کې د راتلونکې جنګ په هکله مخکې وینا شوی ده .

## دغزاګانو او د سرایا ټول شمیر

غزوه په اصطلاح کې هغه سفرته ویل کیږی چې د قتال په اراده یی صورت نیولی وی او په هغه کې د فوځ مشری په خپله محمد صلی‌الله علیه وسلم کړی وی او سریه هغه جنګی سفر ته ویل کیږی چې په هغه کې د ډلی مشری کوم صحابی رضی‌الله عنه ته ورسپارل شوی وی او په خپله رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په هغه کې کډون نه وی کړی .

زید بن ارقم رضی‌الله عنه د غزواتو شمیر نولس ښوولی دی[175].

امام ابویعلی رحمه الله علیه د جابر بن عبدالله رضی‌الله عنه څخه د غزواتو شمیر یویشت را نقل کړی دی[176].

عبدالرزاق رحمه الله علیه د سعید بن مسیب څخه د غزواتو شمیر24را نقل کړی دی [177].

ابن حزم چې په 456 هجری قمری کال کې مړ شوی د غزواتو شمیر 25 ښوولی دی[178].

ابن هشام رحمه الله علیه د غزواتو شمیر26 او د سرایاو شمیر38 ښوولی دی [179].

ابن سعد د واقدی چې په207 هجری قمری کال مړ شوی ، ابن اسحق چې په150 هجری قمری کال مړ شوی او موسی‌بن عقبه رحمه الله علیهم چې په141هجری قمری کال مړ شوی څخه رانقل کړی چې د غزواتو شمیر 27 دی او د سرایاو شمیر47 دی [180].

ابن عبدالبر رحمه الله علیه - السیره الحلبیه اوالا ستیعاب هم د غزواتو شمیر27 او د سرایاو شمیر47 ښوول دی [181].

لیکن عملاً په نهه غزاگانو کې جنگونه شوی دی چې هغه په لاندی ډول دی : بدر، احد ، مریسیع، خندق ، قریظه ، خیبر.، مکه ، حنین او طائف .

په شمیرکې د توپیر یو علت همدا دی چې ځینی اشخاصو یوازی د

---

175 - صحیح بخاری کتاب المغازی لومړی باب

176- فتح الباری 8 ټوک 283 مخ

177 - فتح الباری 8 ټوک 283 مخ

178 - جوامع سیر16 مخ

179 سیرت ابن هشام رحمه الله علیه 3- 4 ټوک 608 مخ

180- طبقات اپن سعد رحمه الله علیه 2 ټوک 5 مخ

181 الحلبیه 2 ټوک 342 مخ

مشهورو غزاگانو او سريو يادوونه کړې اوځينې نورو ئې پوره شمير بيان کړى، بل علت ئى دا دى چې ځينى غزاگانى د ځينو نورو غزاگانو تتمه گڼل شوى او جداگانه حيثيت ورته نه دى ورکړل شوى خو دا بايد په ياد وساتل شى چې ځينى محدثينو او د سيرت ليکوالانوهرهغه سفر نقل او حرکت ته غزوه ياسريه يا بعث ويلى دى چې د دښمن په علاقه يې صورت نيولى وى هغه ئى کړې وى د دښمن د حالاتو د معاملو يا د دښمن سره د جنگ يا د تبليغ اويا دکوم تړون له پاره وى په خاطر،دا په دى خاطر چې په دى هرى وظيفىکې د دښمن سره د ټکرخطر موجود وه .

## په اتويشت غزواتو کې د فوځ قيادت
## د محمد صلىالله عليه وسلم په غاړه وو

په اتويشت غزاگانوکې د اسلامىفوځ مشرى په خپله رسول الله صلىالله عليه وسلم په غاړه درلوده او ديوه بى مثاله عسکرى قوماندان په صفت ئى دجنگ په ډگرکې د اسلام د مجاهدينو قومانده په خپل لاس کې اخستى وه څرنگه چې د دى کتاب موضوع د غزاگانو او سرياو تفصيل وړاندى کول نه دى خو بيا هم د ابن سعد رحمه الله عليه د کتاب څخه د عسکرى او جنگىمهماتو يوه اجمالى خاکه وړاندى کول به دگټى څخه خالى نه وى :

د ودان يا ابواء غزاء دوهم هجرى قمرى کال د صفر مياشت - د مجاهدين شمير 70 تنه

د بواط غزاء دوهم هجرى قمرى کال د ربيع الاول مياشت - د مجاهدين شمير 200 تنه

د سفوان غزاء دوهم هجرى قمرى کال د ربيع الاول مياشت - د مجاهدين شمير 70 تنه

د ذى العشيره غزاء دوهم هجرى قمرى کال د جمادى الثانى مياشت - د مجاهدين شمير 200 تنه

د بدر الکبرا غزاء دوهم هجرى قمرى کال د رمضان مياشت - د

نيو ليك

......................
مجاهدين شمير313 تنه څه کم او يا زيات

د بنو قينقاع غزاء دوهم هجری قمری کال د شوال مياشت - د مجاهدين شمير ....

د سويق غزاء دوهم هجری قمری کال د ذوالحجه مياشت - د مجاهدين شمير 200 تنه

د قرقره الكدر غزاء دريم هجری قمری کال د محرم الحرام مياشت - د مجاهدين شمير 200 تنه

د غطفان غزاء دريم هجری قمری کال د ربيع الاول مياشت - د مجاهدين شمير 450 تنه

د نجران غزاء دريم هجری قمری کال د جمادی الاول مياشت - د مجاهدين شمير 300 تنه

د احد غزاء دريم هجری قمری کال د شوال مياشت - د مجاهدين شمير 650 تنه

د حمراء الاسد غزاء دريم هجری قمری کال د شوال مياشت - د مجاهدين شمير 540 تنه

د بنو النضير غزاء څلورم هجری قمری کال د ربيع الاول مياشت - د مجاهدين شمير ... تنه

د بدر صغری غزاء څلورم هجری قمری کال د ذوالعقده مياشت - د مجاهدين شمير 1500تنه

د ذات الرقاع غزاء پنځم هجری قمری کال د محرام الحرام مياشت د مجاهدين شمير 400 تنه

د ذات الرقاع غزاء پنځم هجری قمری کال د ربيع الاول مياشت -د مجاهدين شمير 400 تنه

د دومه الجندل غزاء پنځم هجری قمری کال د محرم الحرم مياشت د مجاهدين شمير 1000 تنه

د بنو المصطلق غزاء پنځم هجری قمری کال د شعبان مياشت - د

..........................

مجاهدين شمير ...... تنه

د احزابو غزاء پنځم هجری قمری کال د ذوالعقده میاشت یا د شوال میاشت - د مجاهدین شمیر 3000 تنه

د نبو قریظه غزاء پنځم هجری قمری کال د ذوالحجه میاشت - د مجاهدین شمیر 3000 تنه

د بنولحیان غزاء شپږم هجری قمری کال د ربیع الاول میاشت - د مجاهدین شمیر 200 تنه

د غابه غزاء شپږم هجری قمری کال د ربیع الثانی میاشت - د مجاهدین شمیر 500 تنه

د حدیبیی غزاء شپږم هجری قمری کال د ذو العقیده میاشت - د مجاهدین شمیر 1400 تنه

د خیبر غزاء اوم هجری قمری کال د محرم الحرام میاشت - د مجاهدین شمیر 1420 تنه

د وادی القری غزاء اوم هجری قمری کال د محرم الحرام میاشت - د مجاهدین شمیر 1382 تنه

د مکې د فتحی غزاء اتم هجری قمری کال د رمضان میاشت - د مجاهدین شمیر 10000 تنه

د جنین غزاء اتم هجری قمری کال د شوال میاشت - د مجاهدین شمیر 12000 تنه

د طائف غزاء اتم هجری قمری کال د شوال میاشت - د مجاهدین شمیر 12000 تنه

د تبوک غزاء نهم هجری قمری کال د رجب میاشت - د مجاهدین شمیر 30000 تنه[182].

د ځینی غزاګانو په تاریخونو او د لښکرو په شمیرکې د اهل مغازیو

[182]- طبقات الکبری د ابن سعد لیکنه 2 ټوک 8 مخ څخه تر 192پوری 1906 عیسوی کال بیروت چاپ

تر منځ اختلاف موجود دی لکه د ابن اسحق رحمه الله عليه په نزد د احزاب غزاء د پنځم هجری قمری کال شوال په مياشت کې شوی ده او د بنوالمصطلق غزاء د شپږم هجری قمری کال د شعبان په مياشت کې شوی خوځرنګه چې ما دا تفصيل د ابن سعد رحمه الله عليه څخه راخيستی دی نوپه همدی خاطرمی تاريخ او د مجاهدينو شميرهم دهمغه څخه رانقل کړی دی .

## په نبوی دوره کې عسکری قوماندانان

د اسلامی رياست څخه د دفاع په خاطر عسکری قوماندانوډير زيات اهميت ورکړل شوی دی د مدينی په لس کلنه دوره کې رسول الله صلی‌الله عليه وسلم په مختلفووختوکې مختلف صحابه کرام رضی الله عنهم د عسکری قوماندانانو په حيث د ځينی عسکری کارونوپه خاطراستولی دی ، ددی [سراياو] څخه د ټولو لومړی سريه د حمزه بن عبدالمطلب رضی‌الله عنه وه د هجرت په اومه مياشت چې د روژی په مياشت وه کې استول شوی وه . خو تر ټولو زياتو سراياو ته ئی زيد بن حارث رضی‌الله عنه ليږلی دی هغه د اته سريو قوماندانی‌کړی ده چې وروسته ورته د موتی په نبنته کې شهادت ورپه برخه شو- ابن سعد د نبوی دور د عسکری قوماندانانو [ امرا ء الجيش] ټول شمير ديرش ښوولی دی خو بل کوم مورخ د عسکری قوماندانانو دومره تفصيل په کوم ځای کې نه دی ښودلی ځومره چې دی ښودلی‌اوبيان کړی ئی دی .په طبقات کبری کې د عسکری قوماندانانو د نومونو تفصيل چې په شميراو ترتيب کې تاريخی‌ملحوظات په نظرکې نيول شوی دی په دی توګه راغلی دی :

حمزه بن عبدالمطلب - عبيده بن حارث - سعد بن ابی وقاص د ايران فاتح - عبدالله بن حجش اسدی– عمير بن عدی بن خرشه خطمی - سالم بن عميرالعمری - محمدبن مسلمه د کعب بن اشرف قاتل- زيد بن حارثه - ابوسلمه بن عبدالاسد مخزومی - عبدالله بن انيس - منذربن عمرو الساعدی - عاصم بن ثابت الانصاری - مرثدبن ابی مرثد غنوی -

عکاشه بن محصن اسدی - ابوعبیده بن جراح - عبدالرحمن بن عوف – علی بن ابی طالب - عبدالله بن عتیک - عبدالله بن رواحه - عمروبن امیه ضمری - کرز جابرالفهری - عمربن خطاب - ابوبکرصدیق - بشیربن سعدانصاری - غالب عبدالله لیثی - ابن ابی‌العوجاءسلمی - شجاع بن وهب اسدی - کعب بن عمرغفاری - جعفربن ابی طالب - خالدبن ولید - عمروبن عاص د مصرفاتح - ابوقتاده بن ربعی‌الانصاری - سعدبن زیداشهلی - طفیل بن عمروالدوسی - عینیه بن حصن فزاری - قطبه بن عامربن حدیده - ضحاک بن سفیان کلابی - علقمه بن مجزمدلجی - عبدالله بن حذافه سهمی - اسامه بن زید - ابوعامراشعری - جریربن عبدالله البجلی رضی‌الله عنهم .

ددی وروستی دواړو صحابه و ذکرابن سعد رحمه الله نه دی‌کړی خو په صحیح بخاری کې راغلی دی چې ابوعامراشعری رضی‌الله عنه د اوطاس د سریې امیر ټاکل شوی وه او هغه په همدی نبنته کې شهید شو او حضرت بیا جریر رضی‌الله عنه ئی د هغی ټولګی‌امیرټاکلی شو چې په یمن کې ئی‌ذوالخلصه نومی بت خانی د ورانولو په خاطرلیږلی شوی وه .

## په نبوي دورکې منطقوي اميران

کان النبی صلی‌الله علیه وسلم یبعث من الامراو الرسل واحدا بعد واحد [ نبی‌کریم صلی‌الله علیه وسلم به امران ټاکل او سفیران به ئی یو په بل پسی استول183].

ابن حجرعسقلانی لیکې چې : والاخبارطافحه بان اهل کل بلدمنهم کانوا یتحاکمون الی الذی امرعلیهم و یقبلون خبره و یعتمدون علیه [ د ډیرو روایاتو څخه دا رامعلومیږی چې د هری سیمی خلکوپه د خپلو ستونځو پریکړه د هغه امیرپه واسطه کوله چې په هغوی به ټاکل شوی وه د هغه خبره به ئی‌منله او په هغه به ئی باورکاوه 184].

183 - صحیح بخاری کتاب التمنی واخبارالاحاد5 ټوک 1078مخ

184 - فتح الباری16 ټوک 362 مخ

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د سیمو امرانو ته د خاصو لارښودنو وروسته د تللو امرکاوه د نمونی په توګه ،کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دهجرت په لسم کال دحجه الوداع څخه وروسته معاذ بن جبل رضی الله تعالی عنه په پورتنی یمن او ابوموسی اشعری رضی الله عنه ئی په ښکتنی یمن د امرانو په حیث ولیږل نو هغوی ته ئی د لیږلو په وخت کې داسی لارښوونی‌کړی وی : په خلکوبه آسانتیا راوړی ، نرمی به اختیاروی او د سختی‌څخه به ځان ساتی ، په اسلام باندی عمل کونکو ته زیری ورکړی خو داسی کړنلاره به نه اختیاروی چې د هغی په اساس خلک د اسلام څخه متنفر شی .

معاذ بن جبل رضی‌الله تعالی‌عنه ته ئی دا لارښوونه هم کړی وه چې د یمن اهل کتابوته په توحید او رسالت باندی د ایمان راوړلو بلنه ورکوه، ایمان راوړونکو ته د لمانځه په اداکولو تاکیدکوه او د هغوی د اغنیاوڅخه زکات اخله اود هغو په مسکینانوئی ویشه 185.

د قران کریم مطابق به پریکړه کوی‌که چیری په هغی‌کې ښکاره او واضحه حکم موجودنه وی نو بیا به د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د سنتو مطابق پریکړه کوی اوکه چیری په هغه دواړوکښهم صریحه اوڅرګند حکم په لاس درنه شی، نو بیا به اجتهادکوی 186.

ابن حزم د24 عسکری قوماندانانو نومونه ذکرکړی دی خو په هغه کې ئی د زکات د راټولونکو وګړو ځینی نومونه هم اخستی دی 187.

ابن قیم رحمه الله علیه د دولس امرانو نومونه رانقل کړی دی [188].

بلاذری رحمه الله علیه په فتوح البلدان کې د امراو یادوونه په مختلفو

---

[185] - صحیح بخاری کتاب الزکاه 1 ټوک 187 مخ

[186] - سنن ابوداود کتاب الاقضیه باب اجتهاد الرائی فی القضا ء – جامع الاصول 10 ټوک 177 مخ

[187] - جوامع السیر 23 مخ څخه تر 25 مخ پوری

[188] - زاد المعاد لومړی ټوک 47 مخ

ځايونوکې کړيده خو د خپل دوهم کتاب [انساب الاشراف] په لومړي جلدکې يې د هغه د تفصيل په خاطرځانګړي باب جوړکړي دی، د دی اميرانو څخه باذان بن ساسان بن بلاش هم وه چې د بهرام جورد نژاد څخه وه او د ايرانی پادشاهی لخوا په يمن کې حاکم ټاکل شوی وه خو د کسری د وژلو وروسته مسلمان شو او رسول الله صلیﷲ عليه وسلم هغه د پخوانی تجربی په اساس د ټول يمن حاکم وټاکه د هغه وروسته د هغه زوی شهر بن باذان حاکم ټاکل شوی وه او د هغه وروسته بيامختلف صحابه رضیﷲ تعالی عنهم د دی منطقی د اميرانو په توګه ټاکل شوی وه .

عتاب بن اسيد رضیﷲ عنه مکه مکرمه - عثمان بن ابوالعاص ثقفی رضیﷲ عنه طائف - علاء بن الحضر رضیﷲ عنه بحرين - عمروبن عاص رضیﷲ عنه عمان - ابوسفيان بن حرب رضیﷲ عنه نجران - بازان بن ساسان رضیﷲ عنه يمن - شهربن بازان رضیﷲ عنه يمن - مهاجربن ابی اميه رضیﷲ عنه يمن - ابان بن سعيدبن عاص رضیﷲ عنه يمن – ابوموسی اشعری رضیﷲ عنه ديمن سواحل - معاذبن جبل رضیﷲ عنه يمن جند- يزيدبن ابی سفيان رضیﷲ عنه تيماء - ثمامه بن اثال رضیﷲ عنه اليمامه - عمروبن سعيدبن عاص رضیﷲ عنه وادی قری [خيبر][189] – خالد بن سعيدبن عاص رضیﷲ عنه يمن - زيادبن لبيدانصاری رضیﷲ عنه حضرموت - عمربن حزم رضیﷲ عنه نجران کی د اميرانو په توګه ګمارل شوی وو.

د ورستنيو دری نومونو يادونه علامه بلاذری470 هجری قمری مړ شوی دی کړی ده[190].

## په نبوی دورکې د زکات ټولولو مسئولين

ابن هشام ،ابن حزم ، ابن جرير ، ابن ، ابن اثير رحمه الله عليهم ټولوليکلی دی چې د رسول الله صلیﷲ عليه وسلم په وخت کې په

---

[189] - فتح الباری 16 ټوک 317 مخ – عمده القاری 25 ټوک 19 مخ

[190] - فتح البلدان 76 مخ د 1900 عيسوی کال د مصرچاپ

هـرکلي‌کې دزکـات درا ټولولـو لـه پـاره امیـران ټـاکلي شـوي وه ، همـدا رازځنـې سـیموحاکمان هـم دخپلـو دنـدو د سـرته رسـولوپرته د زکـاتونواو صدقاتو په را ټولولو باندې موظف وه د احاديثوپه کتـابونوکې د زکـاتونو را ټولونکوته مصدقين هم ويل شوي [ د صدقو را ټولونکي ] .

د څومشهورو زکات ټولونکوامرانونومونه په لاندې توګه دي :

مهـاجربن ابي‌اميـه رضـي الله عنـه ديمـن پـه صنعاکي – زيـاد بـن لبيـد انصـاري رضـي الله عنـه پـه حضـرموت کـي - عـدي بـن حـاتم رضـي الله تعالیٰ‌عنه په بنوطي او بنواسد کې - زبرقان بن بـدر رضـي الله تعالیٰ‌عنـه د بنوسـعدبن زيـد بلـه يـوه علاقـه کـې - قـيس بـن عاصـم رضـي الله عنـه دبنوسعدبن زيدپه يو بل علاقه کې - مالک بن نويره رضي الله تعالیٰ‌عنه په بنوحنظله کې – علاء بن الحضرمي رضي الله عنه په بحرين کې – علي بن ابي‌طالب رضي الله عنه په نجران- عمربن خطاب رضـي الله تعـالی عنـه [191].

## په نبوي دور کې د مرکزي حکومت موقت مسئولين

کلـه کلـه بـه رسـول الله صـلی‌الله عليـه وسـلم پـه مرکـزکې د لمانځـه د امامت اونورو انتظامي امورو د سرته رسولو له پاره په خپـل ځـای يـوکس نائـب ټاکـه ځرنګـه بـه چې اکثـرو صـحابو کرامـو رضـي الله عـنهم بـه دده مبارک سره په سفرکې‌ګډون درلوده نوپه دې خاطربـه ئې د ټيټې مرتبې د صحابه ووځخه يوڅوک په خپـل ځـای ټاکـه، نـو د هغـه د مرکزي حکومت موقتو مسئولينو وجدول په لاندې توګه لاس ته راغلی دی :

سعدبن عباده انصاري رضي الله عنه د دوهم هجري قمري کال د ودان د غزاء په وخت . - سعدبن معـاذ انصـاري رضـي الله عنـه د دوهـم هجري

---

[191] - سيرت ابن هشام 3-4 ټوک 600 مخ – جوامع السير 24 مخ – الکامل د ابـن اثير 2 ټوک **301**

قمری کال د بواط د غزاء په وخت - زیدبن حارثه رضی الله عنه د دوهم هجری قمری کال د سفوان د غزاء په وخت - ابوسلمه عبدالاسدمخزومی رضی الله عنه د دوهم هجری قمری کال د ذیالعشیره غزاء په وخت - ابولبابه بن عبد المنذر رضی الله عنه د دوهم هجری کال د بدر الکبری د غزاء په وخت امیر – عمر بن ام مکتوم رضی الله عنه د لمانځه د امام په صفت د دوهم هجری قمری کال د بدرالکبرا د غزاء په وخت - ابولبابه بن عبدالمنذررضی الله عنه د دوهم هجری قمری کال د بنوقینقاع غزاء په وخت - ابولبابه بن عبدالمنذر رضی الله عنه د دوهم هجری قمری کال د سویق د غزاء په وخت - عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه د دریم هجری قمری کال د قراره الکدر غزاء په وخت – عثمان بن عفان رضی الله عنه د دریم هجری قمری کال د غطفان غزاء په وخت – ابن ام کلثوم رضی الله عنه د دریم هجری قمری کال د بحران غزاء په وخت – عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه د دریم هجری قمری کال د احد د غزاء په وخت – عبدالله بن مکتوم رضی الله عنه د دریم هجری قمری کال د حمراء الاسد د غزاء په وخت – عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه د څلورم هجری قمری کال د بنو النضیر د غزاء په وخت - عبدالله بن رواحه رضی الله عنه د څلورم هجری قمری کال د بدر صغری غزاء په وخت – عثمان بن عفان رضی الله عنه د پنځم هجری قمری کال یا اوم هجری قمری کال د ذات الرقاع د غزاء په وخت- سباع بن عرفطه رضی الله عنه پنځم هجری قمری کال د دومه الجندل د غزاء په وخت – زید بن حارث رضی الله عنه پنځم هجری قمری کال یا شپږم هجری قمری کال د بنوالمصطلق د غزاء په وخت - عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه پنځم هجری قمری کال د احزاب د غزاء په وخت – عبدالله ابن ام مکتوم رضی الله عنه پنځم هجری قمری کال د بنوقریظه د غزاء په وخت – عبدالله ابن ام مکتوم رضی الله عنه شپږم هجری قمری کال د بنولحیان د غزاء په وخت- عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه شپږم هجری قمری کال د غابه د غزاء په وخت - عبدالله بن

ام مکتوم رضی الله عنه شپږم هجری قمری کال د حدیبیه د غزاء په وخت - سباع بن عرفطه رضی الله عنه اوم هجری قمری کال د خیبر د غزاء په وخت - عبدالله ابن ام مکتوم رضی الله عنه اتم هجری قمری کال د فتح مکه غزاء په وخت محمد بن یاسباع بن عرفطه رضی الله عنهما نهم هجری قمری کال د تبوک د غزاء - ابودجانه سماک بن حرشه رضی الله یا سباع بن عرفطه غفاری رضی الله عنه عنه لسم هجری قمری کال د حجه الوداع غزاء په وخت [192].

## د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وزیران و د شوری غړی

د وزارت او شوری په هکله به په دریم فصل کې تفصیلي‌څیړنه وشی خو د پورتنی عنوان لاندی یوائی دا ښوول کیږی چې د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په حکومت کې وزیران اومشاورین هم موجود وو چې د ریاست د کابینی او د اجرایه شوری په نامه یادیدلای شی .

ابوبکر صدیق رضی الله عنه - عمر فاروق رضی الله عنه - عثمان بن عفان رضی الله عنه – علی بن ابی‌طالب رضی الله عنه - حمزه رضی الله عنه - ابوعبیده رضی الله عنه - عثمان بن مظعون رضی الله عنه - عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه - سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه - طلحه رضی الله عنه - زبیربن عوام رضی الله عنه - جعفر رضی الله عنه [193].

## په نبوی دورکې لیکوالان

د العلق د سورت په پنځم آیت کې ئی قلم د علم ذریعه ښوولی ده اګرچې د نبی صلی‌الله علیه وسلم له پاره امی ویل کمال اویوه معجزه وه نوپه دی خاطر د هغه د علم ذریعه د الله جل جلاله لخوا وحی وه خو د غیر

[192] - البدایه و النهایه د ابن کثیر 5 ټوک 110 مخ
[193]- السیره الحلبیه 3 ټوک 428 مخ

## نیو لیک

نبی له پاره لیک لوست قابلیت او کمال کمل کیږی، عرب الکامل هغه چا ته وائی چې په لیک لوست وپوهیږی لکه څنګه چې قرآنکریم ذکر دی چې عرب قوم امی قوم وه ، خو د اسلام د راتلو تر مخه هم هلته یوڅه خلک وو چې په لیک لوست پوهیدل خو څرنګه چې د هغوی زیاتره بی سواده او امی وو نو په دی خاطر قرآن ټولو ته امی ویلی دی . او ورته د امی ویلو یوعلت دا دی چې دا خلک ددین نه بی خبره وو علامه بلاذری حمه الله علیه لیکلیدی چې د اسلام دراتلو ترمخه یویشت کسان په لیک لوست پوهیدل چې په هغوی 17نارینه اوڅلور ښځی وی، د هغوی نومونه په دی ډول دی :

عمربن خطاب رضی الله عنه – علی بن ابیطالب رضی الله عنه - عثمان بن عفان رضی الله عنه - ابوعبیده بن جراح رضی الله عنه - طلحه رضی الله عنه – یزید بن ابی سفیان رضی الله عنه - ابوحذیفه بن عتبه رضی الله عنه - حاطب بن عمر رضی الله عنه - ابوسلمه بن عبدالاسد رضی الله عنه – ابان بن سعید رضی الله عنه - خالدبن سعید رضی الله عنه - عبدالله بن سعدبن ابی سرح رضی الله عنه - حویطب بن عبدالعزی رضی الله عنه - ابوسفیان بن حرب رضی الله عنه - معاویه بن ابی سفیان رضی الله عنه - جهیم بن الصلت رضی الله عنه - علابن الحضری رضی الله عنه – شفا بنت عبدالله عدویه رضی الله عنها - حفصه بنت عمر رضی الله عنهما - کریمه بنت مقداد رضی الله عنه - ام کلثوم بنت عقبه رضی الله عنها ، په مدینی منوری کې د بنواوس او بنوخزرج په قبیلوکې هم د اسلام ترمخه یوشمیرخلک په لیک اولوست پوهیدل لکه :سعدبن عباده رضی الله عنه - منذرعمرو رضی الله عنه – ابی بن کعب رضی الله عنه - زیدبن ثابت رضی الله عنه - رافع بن مالک رضی الله عنه - اسیدبن حضیر رضی الله عنه - معن بن عدی رضی الله عنه - بشیربن سعد رضی الله عنه - سعدبن ربیع رضی الله عنه - اوس بن خولی رضی الله عنه - عبدالله بن ابیمنافق رضی الله عنه - سویدبن صامت رضی الله عنه { چې

دده سره د لقمان صحيفه هم وه } [194].

دا هغه 23 کسان دي چې بلاذري ئی یادوونه کړی ده خو په دی کې یوازی د مکې او مدینی د مشهورو خلکو ذکر شوی دی ځکه چې امکان شته چې د عربو په باقی ښارونوکې هم څه د لیک لوست خلک موجود وو کله چې د هجرت نه وروسته اسلامی ریاست جوړشو نو د لیک فن ته ئی نوره وده او ترقی هم ورکړه ځکه چې د حکومت د کارونو د پر مختلو لـه پاره باسواده خلکوته اړتیا وه .

ابن سعد رحمه الله علیه لیکې چې د بدر د بندیانو له ډلېڅخه هغه څوک چې په لیک پوهیده او د فدئی د ورکړی توان ئی نه وه نوهغوی ته رسول اکرم صلیالله علیه وسلم وویلی چې تاسی د انصارو زامنو ته لیک و رزده کړی چې همدا ستاسو فدیه ده هریوته ئی لس لس ځوانان وروسپارل اوکله به چې هغو لسوکسانو لیکل ور زده کړ نو بیا به ئی پریښوده [195].

د تاریخ او سیرت په کتابونوکې د نبی صلی الله علیه وسلم د وخت د لیکونکو صحابو رضی الله عنهم د نومونو تفصیل موجود دی چې په دی هکله ابن الاثیر رحمه الله علیه یولس نومونه درج کړی دی ، خو ابن حجر رحمه الله علیه پنځلس او ابن قیم رحمه الله علیه 17نومونه راخستی دی [196].

ابن عبدالبر رحمه الله علیه چې په 463 هجری قمری کال کې مړی شوی او حافظ عمادالدین بن کثیر رحمه الله علیه د23 صحابه ونومونه رانقل کړی دی، حافظ عماد الدین بن کثیر رحمه الله علیه د هغه هریو وګړی لنډی سوانح هم بیان کړی دی چې د هغو نومونه په دی ډول دی :

[194] - فتوح البلدان د بلاذری لیکنه 1318 هجری قمری کال چاپ

[195] - طبقات د ابن سعد لیکنه 2 ټوک 22 مخ

[196] - الکامل د ابن اثیر لیکنه لومړی ټوک 313 مخ – فتح الباری د ابن حجر لیکنه 10 ټوک 397 مخ

ابی ابن کعب ، زید بن ثابت ، عبدالله بن سعد بن ابی سرح ، عبدالله بن ارقم زهری ، علی بن ابی‌طالب ، ابوبکرصدیق ،عمربن خطاب ، عثمان بن عفان ، زبیربن عوام ، خالد بن سعید بن عاص ، ابان بن سعید بن عاص ، حنظله اسدی ، علابن حضرمی،خالدبن ولید ،عبدالله بن رواحه ، محمدبن مسلمه ، عبدالله بن عبدالله بن ابی‌مغیر بن شعبه ، عمروبن عاص ، معاویه بن ابی سفیان ، جهیم بن الصلت ، معیقیب بن ابی فاطمه ، شرحبیل بن حسنه رضی الله عنهم [197].

د ریاض د پوهنتون استاد پروفیسور ډاکترمحمدمصطفی‌الاعظمی په دی هکله د کتاب النبی صلی‌الله علیه وسلم ترعنوان لاندی یوکتاب لیکلی دی چې په هغه کې ئی د 22نورو صحابو رضی الله عنه نومونه د مستندو کتابونو په حواله درج کړی دی هغه لیکلی چېکه چیری نور زیات کوښښ وشی نو نورنومونه هم په لاس راځی لیکن تراوسه پوری چېځومره تحقیق شوی دی نو د هغه په اساس د 45 صحابه نومونه په لاس راغلی دی [198].

د اداری نظام بنسټ په نبوی دورکې‌ایښوول شوی دی‌که څه هم اداری او دفتری نظام د حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په وخت کې پرمختګ وکړ، خو د دی نظام بنسټ په ابتدائي توګه د حضرت محمد صلی‌الله علیه وسلم په واسطه ایښوول شوی وه .

ځنی صحابه کرامو رضی الله عنهم به د قرآنکریم د لیکلوکارکاوه چې په دی ډله کې زید بن ثابت رضی الله عنه ډیرمشهور وه [199].

ابن عبدالبر او ابن حجررحمه الله علیهم لیکلی دی چې په مدینه منوره کې د لیکلوکار زید بن ثابت کاوه، نو په دی اساس هغه د کاتب النبی په

---

[197] - الاستیعاب د ابن عبدالبر لیکنه په حاشیه د الاصابه 1 ټوک 50 مخ – البدایه د ابن کثیر لیکنه 5 ټوک 339 مخ

[198] - کتاب البنی د 1974 عیسوی کال د پیروت چاپ

[199] - صحیح بخاری کتاب فضایل القرآن

نوم مشهور شوی وه خوځينی نورو صحابو هم د وحی د ليکلوکارکاوه د زيد بن ثابت رضی الله عنه څخه دمخه به د رسول الله صلی‌الله عليه وسلم د وحی د ليکلو کارحضرت ابی بن کعب رضی الله عنه کاوه اوهمدغه صحابی رضی الله عنهم په مدينه منوره کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم لومړی کاتب وه[200] .

حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د اسلام د قبلولو د قصی څخه راڅرګنديږی چې د قرآنکريم ليکنه اوکتابت په مکې دورکې شروع شوی وه[201].

زيد بن ثابت او ابی بن کعب رضی الله عنه د پادشاهانو او قبائلی مشرانو په نوم د خطونو د ليکلوکارهم کاوه .

ځينی صحابو به تړونونه او د سولی ليکونه ليکل لکه علی بن ابی طالب رضی الله عنه او ځينی نورو صحابه کرامو به د غنيمت د مالونو او نورو سرکاری مالونو درجول ترسره کول، همدا راز په صحيح بخاری کې يو روايت دی چې رسول الله صلی‌الله عليه وسلم به د صدقاتو راټولونکو وګړو څخه حساب اخيسته او د هغوی سره به ئی محاسبه کوله [202].

حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَ ابْنَ الْأُتَبِيَّةِ عَلَى صَدَقَاتِ بَنِي سُلَيْمٍ فَلَمَّا جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَاسَبَهُ قَالَ هَذَا الَّذِي لَكُمْ وَهَذِهِ هَدِيَّةٌ أُهْدِيَتْ لِي فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَلَّا جَلَسْتَ فِي بَيْتِ أَبِيكَ وَبَيْتِ أُمِّكَ حَتَّى تَأْتِيَكَ هَدِيَّتُكَ إِنْ كُنْتَ صَادِقًا ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَطَبَ النَّاسَ وَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ

---

200 - الاستيعاب په حاشيه الاصابه باندی 1 ټوک 50 مخ

201 - سنن دارقطنی نهی المحدث عن من القرآن باب 1 ټوک 123 مخ

202 - صحيح بخاری الاحکام باب محاسبه العمال

أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَسْتَعْمِلُ رِجَالًا مِنْكُمْ عَلَى أُمُورٍ مِمَّا وَلَّانِي اللَّهُ فَيَأْتِي أَحَدُكُمْ فَيَقُولُ هَذَا لَكُمْ وَهَذِهِ هَدِيَّةٌ أُهْدِيَتْ لِي فَهَلَّا جَلَسَ فِي بَيْتِ أَبِيهِ وَبَيْتِ أُمِّهِ حَتَّى تَأْتِيَهُ هَدِيَّتُهُ إِنْ كَانَ صَادِقًا فَوَاللَّهِ لَا يَأْخُذُ أَحَدُكُمْ مِنْهَا شَيْئًا قَالَ هِشَامٌ بِغَيْرِ حَقِّهِ إِلَّا جَاءَ اللَّهَ يَحْمِلُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَلَا فَلَأَعْرِفَنَّ مَا جَاءَ اللَّهَ رَجُلٌ بِبَعِيرٍ لَهُ رُغَاءٌ أَوْ بِبَقَرَةٍ لَهَا خُوَارٌ أَوْ شَاةٍ تَيْعَرُ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ

ځينی صحابو به د مالی امورو سندونه ليکل ځکه چې د دريمی سپاری د بقری د سور ت په 382 آيت کې د مالی معاملو د ليکلو حکم شوی دی ، د ځينی روايتونوڅخه را څرګنديږی چې د خلکو د شمير او د عسکری رضاکارانو نومونو د درج کولو بنسټ هم ايښودی شوی وه .

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اكْتُبُوا لِي مَنْ تَلَفَّظَ بِالْإِسْلَامِ مِنْ النَّاسِ فَكَتَبْنَا لَهُ أَلْفًا وَخَمْسَ مِائَةِ رَجُلٍ فَقُلْنَا نَخَافُ وَنَحْنُ أَلْفٌ وَخَمْسُ مِائَةٍ فَلَقَدْ رَأَيْتُنَا ابْتُلِينَا حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ لَيُصَلِّي وَحْدَهُ وَهُوَ خَائِفٌ حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ عَنْ الْأَعْمَشِ فَوَجَدْنَاهُمْ خَمْسَ مِائَةٍ قَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ مَا بَيْنَ سِتِّ مِائَةٍ إِلَى سَبْعِ مِائَةٍ

[د حضرت حذيفه بن يمان څخه روايت شوی دی چې يوځل رسول الله صلی‌الله عليه وسلم وفرمايل: ما ته د هغه خلکو نومونه وليکې چې د اسلام کلمه وائی ، نو د پنځلس سوه خلکو نومونه مو ورته وليکل ] .

دا روايت سفيان ثوری د اعمش او ابی وائل د حذيفه رضی الله عنه څخه روايت کړی دی خو کوم روايت چې ابوحمزه د ابو معاويه له خولی نقل کړی دی د باسوادو شمير د شپږ سوو او اوه سوو په منځ کې ښودل شوی [203].

ابن حجر رحمه الله عليه ليکي چې ابن التين رحمه الله عليه په پوره اعتماد

[203] - صحيح بخاری کتاب الجهاد لومړی ټوک 430 مخ

لیکلی دی چې دا حکم د خندق د غزا په وخت کې ورکړل شوی وه خو علامه داودی رحمه الله علیه لیکلی دی چې کیدای شی دا حکم د حدیبیه په وخت کې ورکړل شوی وی – خو زما نظر دا دی چې کیدای شی دا حکم ئی د احد د غزا په وخت کې ورکړشوی وی خوپه شمیرکې د توپیر علت همدا ښوول شوی دی چې دکتابت حکم په مختلفو وختونوکې ورکړل شوی دی .

ابن حجررحمه الله علیه فرمایی چې :

و فی الحدیث مشروعیه کتابه دوادین الجیوش وقد تیعین ذالک عند الاحتیاج الی تمیزمن یصلح للمقاتله عمن لا یصلح[204].

[ ددی حدیث څخه دا معلومیږی چې د عسکرو درجول او لیکل مشروع دی او هغه وخت ضروری ګرځی چې کله چې د جنګ د قابلیت لرونکو او قابلیت نه لرونکوترمنځ د بیلتون اړتیا پیدا شی ]

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ وَلَا تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ اكْتُتِبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا وَخَرَجَتْ امْرَأَتِي حَاجَّةً قَالَ اذْهَبْ فَحُجَّ مَعَ امْرَأَتِكَ

[د ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت د ی چې: یو سړی وویل چې ای رسول الله صلی الله علیه وسلم زما نوم د فلانکې غزاء د تلونکو په ډله کې لیکلی شوی دی او زما ښځه حج ته تلل غواړی او تا ویلی دی چې د ښځی سره حج ته ولاړ شه[205]] .

ددی روایت څخه دا معلومیږی چې د فوځی سربښندونکو د نوم د لیکلو دفتر په نبوی دورکې په ډیره ساده توګه جوړ شوی وه، هغه خلک چې وائی چې مسلمانانو دفتری نظم د ایرانیانوڅخه زده کړی وه نو د هغوی دا خبره اصولا غلطه ده که څه هم د نورو هیوادونو د تجربو څخه ګټه اخستل کومه بده خبره نه وه نوحضرت عمرفاروق رضی الله عنه به دا

---

[204] - فتح الباری 6 ټوک 518 مخ

[205]- صحیح بخاری لومړی ټوک 430 مخ

ګټه تری اخیستی هم وی خو د دفتری نظام بنیاد او بنسټ په خپله رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ایښی وه چې د همدی نظام د بنسټ په اساس د هغه راتلونکې مانۍ پورته شوه .

په صحیح بخاری‌کې دکتابت پوری تړلی ابواب موجود دی د مثال په توګه : کتابه العلم کتابه الامام الناس یستحب للکاتب ان یکون امینا عاقلاً - کتاب الحاکم الی عماله

## په نبوی دوری کې ژباړونکې:

رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د الله جل جلاله په لوربلونکې هم او د مملکت مشرهم وه ، هغه ته د بلنی‌خطونه او د نظم پوری تړلی‌نورو لیکونولیږل هم ورپه غاړه وه او په نورو ژبو به ورته خطونه هم راتلل ، نوپه دی اساس دیوی ژبی‌څخه په بلی ژبی ته د ژباړی اړتیا لیدل کیده ، امام بخاری رحمه الله علیه د باب ترجمه الحکام ترعنوان لاندی دحکمران له پاره د ترجمان اړتیا ثابته کړی ده او دا لاندی حدیث ئی رانقل کړی دی :

عن زیدبن ثابت رضی الله عنه ان النبی‌صلی‌الله علیه وسلم امره ان یتعلم کتاب الیهود حتی‌کتبت للنبی‌کتبه واقراء ته کتبهم اذا کتبوا الیه

[ د زید بن ثابت رضی الله عنه څخه روایت شوی دی چې نبی‌کریم صلی‌الله علیه وسلم ما ته دیهودو د ژبی او د هغی د رسم الخط د زده کړی حکم کړی وه ما عبرانی ژبه زده کړه او بیا به می د نبی صلی‌الله علیه وسلم له پاره خطونه لیکل او د یهودو راغلی خطونه به می لوستل اوهغه ته به می‌اورول ] [206].

ابن حجر رحمه الله علیه فرمایی چې امام بخاری دا روایت په خپل تاریخ کې په متصله توګه رانقل کړی دی په هغه کې راغلی دی چې زید بن ثابت رضی الله عنه په 15ورځوکې ژبه زده کړی وه - په مسند احمد ، مسند اسحق او مسند ابویعلی رحمه الله علیهم کې د نورو سندونو په

[206] - صحیح بخاری کتاب الاحکام 2 ټوک 1068 مخ

څنګ کې دا هم راغلی دی چې زید بن ثابت رضی الله عنه ته رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دسریانی ژبې د زده کړې حکم هم کړی وه او هغه داژبه هم زده کړی وه ځکه چې په دواړو ژبوکې به ترجمانی ته ضرورت پیداکیده[207].

المسعودی لیکلی دی چې زیدبن ثابت رضی‌الله عنه فارسی، رومی ، قطبی او حبشی ژبې زده کړې وی [208].

ابن سعد رحمه الله علیه لیکلی دی چې په 7 هجری کال کی چې کوم شپږ کسه قاصدان لیږل شوی وه نو هغوی ټولو د هغی قومونو په ژبو چې ورته لیږل شوی خبری کولای شوی [209].

د مملکت مهر :

د یو ریاست له پاره سرکاری مهر[ الخاتم ] ته بنسټیز اهمیت ورکول کیږی او د مملکت د مشرخاص مهرد هغه امتیازی نښه ګڼل کیږی.درسول الله صلی‌الله علیه وسلم په وخت کښې هم الخاتم ته بنسټیزاهمیت ورکول شوی‌وه امام ابوداودپه خپل کتاب سنن ابی داودکښې کتاب الخاتم به نوم یوځانګړی فصل لیکلی دی چې اته برخی لری او 26حدیثونه ئی په کې رانقل کړی دی .

حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى الرُّومِ قِيلَ لَهُ إِنَّهُمْ لَنْ يَقْرَءُوا كِتَابَكَ إِذَا لَمْ يَكُنْ مَخْتُومًا فَاتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ وَنَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ فَكَأَنَّمَا أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي يَدِهِ

[ د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چې کله حضرت

---

[207] - فتح الباری 16 ټوک 310 مخ – اسدالغابه فی معرفه الصحابه 2 ټوک222مخ د المکتبه الاسلامیه الریاض چاپ – الستیعاب په حاشیه د الاصابه لومړی ټوک 552 مخ

[208] - سیر الانصار لومړی ټوک 403 مخ 1948 عیسوی کال د هندوستا ن چاپ

[209] - طبقات د ابن سعد لیکنه لومړی مخ 258 مخ

رسول الله صلیالله علیه وسلم عجموته د لیکونو د لیږلو اراده وکړه نو ځینی صحابو رضیالله عنهم ورته وویل چې دا خلک داسی خط چې مهرپری نه وی لګیدلی نه اخلی، نوهماغه وه چې رسول الله علیه وسلم دسپینو زرو یو مهر[ګوته] جوړ کړ چې پری محمدرسول الله [صلیالله علیه وسلم لیکلی وه[210]]

حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي يَدِهِ وَفِي يَدِ أَبِي بَكْرٍ بَعْدَهُ وَفِي يَدِ عُمَرَ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ جَلَسَ عَلَى بِئْرِ أَرِيسَ قَالَ فَأَخْرَجَ الْخَاتَمَ فَجَعَلَ يَعْبَثُ بِهِ فَسَقَطَ قَالَ فَاخْتَلَفْنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مَعَ عُثْمَانَ فَنَزَحَ الْبِئْرَ فَلَمْ يَجِدْهُ

[د ابن عمر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څخه وروسته دا ګوته د حضرت ابوبکر رضی الله عنه سره وه او د هغه وروسته د حضرت عمر رضیالله عنه سره وه خو وروسته بیا د حضرت عثمان رضی الله عنه څخه په آریس نومی یوه کوهیکې ولویده [211] ]

دا حدیث د صحیح بخاری څخه پرته صحیح مسلم ، ترمذی ، ابوداود ، نسائی او ابن ماجه هم رانقل کړی دی .

حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَقَالَ إِنِّي اتَّخَذْتُ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ وَنَقَشْتُ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ فَلَا يَنْقُشَنَّ أَحَدٌ عَلَى نَقْشِهِ

[ابن عمررضی الله عنه فرمایلی چې رسول اکرم صلیالله علیه وسلم حکم ورکړی وه چې هیڅوک دی زما دګوتی په څیرګوته نه جوړه وی [212]].

---

[210]- صحیخ بخاری کتاب اللباس 2 ټوک 872 مخ

[211] - صحیخ بخاری کتاب اللباس 2 ټوک 873 مخ

[212]صحیح مسلم کتاب اللباس – ترمذی په شمایل کی

حَدَّثَنَا أَبُو مَكِينٍ نُوحُ بْنُ رَبِيعَةَ حَدَّثَنِي إِيَاسُ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ الْمُعَيْقِيبِ وَجَدُّهُ مِنْ قِبَلِ أُمِّهِ أَبُو ذُبَابٍ عَنْ جَدِّهِ قَالَ كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَدِيدٍ مَلْوِيٌّ عَلَيْهِ فِضَّةٌ قَالَ فَرُبَّمَا كَانَ فِي يَدِهِ قَالَ وَكَانَ الْمُعَيْقِيبُ عَلَى خَاتَمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

**[ددی سرکاری مهر ساتونکې او امین [امین الخاتم] حضرت معیقیب بن ابی فاطمه دوسی وه[213]] .**

مهرجوړول اود هغه له پاره د یوه امین ټاکل ددی خبری څرګند ثبوت دی چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د ریاست مشرهم وه،او د الله جل جلاله په لوربلونکې [ رسول ] هم او د ریاست د چارو پرمختګ د هغه د بلنی او د نبوت د فریضی یوه برخه وه .

## په نبوی دورکې سزا ورکونکې

مجرمانوته د جزا ورکولوپه وخت کې دی ته اړتیاوی چې یوڅوک هغه ته دسزا ورکولو په خاطر راوغوښتل شی، خو هلته یو څه کسان ددی له پاره ټاکل شوی هم وه بلکه دا یو ډول پولیسی قوت وه چې نومونه ئی په لاندی ډول دی :

علی بن ابی‌طالب رضی‌الله عنه ، زبیربن عوام رضی‌الله عنه ، مقداد بن عمرو رضی‌الله عنه ، عاصم بن ثابت رضی‌الله عنه ، محمد بن مسلمه رضی‌الله عنه رضی‌الله عنه ، ضحاک بن سفیان کلابی رضی‌الله عنه رضی‌الله عنه ، قیس بن سعدبن عباده [ وکان قیس بن سعدالانصاری رضی‌الله عنه منه بمنزله صاحب الشرطه من الامیر] او قیس بن سعدرضی‌الله عنه د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په دربارکې د پولیسو د صاحب منصب یا کوتوال مقام درلوده [214].

## په نبوی دور کې د بازارونوڅارونکې

---

213 سنن ابوداود کتاب الخاتم – سنن النسائی کتاب الزینه

214- زاد المعاد 1 ټوک 48 مخ – السیره الحیلبیه 3 ټوک 422 مخ

د بازارونو اومارکیټونو څارنه کول هم د حکومت په غاړه وی، ترڅو غیر شرعی سوداګانی ونه شی ، د ټاکلی نرخ نه زیات قیمت وانه خیستل شی، او دغو لونی، فریب ګړون او غش څخه مخنیوی وشی، دغه کار ته الحسبه او د دغه کارکوونکې ته المحتسب ویل کیږی، د مکې د فتحې څخه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم سعید بن سعید بن عاص رضی الله عنه د مکې د بازار د څارونکې په څیر ټاکلی وه[215] .

دمدینی منوری د بازارونو د څارنی کار په یووخت کې حضرت عمر رضی الله عنه ته سپارل شوی وه [216].

## په نبوی دورکې
## د اسلامی حکومت سفیران

اسلامی ریاست یوفکری او په اصولو ولاړ ریاست وی ، نوپه دی خاطر د سوچې مادی غوښتنو په بنسټ ولاړحکومت په مقابل کې اسلامی حکومت ته د بهرنیو اړیکو د ټینګولو له پاره سفیرانو اوقاصدانو لیږلوته زیاته اړتیاوه، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله رسول وه او د هغه دا مسئولیت وه چې د توحید پیغام د عوامو پرته حکمرانانو او سردارانوته هم ورورسوی ددی مقصد د ترسره کولوله پاره هغه په خاصه توګه کسری اوقیصرته سفیران لیږلی وه چې هغوی نبوی لیکونه دی دواړو پادشاهانوته رسولی وه ددی نه پرته ئی نوروبیلوبیلوځایونوته هم سفارتی استاذی لیږلی وه .

ابن حزم د هغه لسولیکونو یادوونه کړی چې هغه صلی الله علیه وسلم د لسو پادشاهانو په نوم لیږلی وه او د هغی ډلې څخه څلوروکسانو اسلام قبول کړی وه [217].

---

[215]- الاستعیاب په حایشه د الاصابه 2 ټوک 48 مخ

[216]- الحلبیه 3 ټوک 424 مخ

[217] - جوامع السیر 29 ټوک

خو ابن هشام د نهوکسانود سفارتونویادوونه کړی ده او د حلبيي په سيرت کې د اته پادشاهانوپه نوم دخطونويادوونه شوی ده [218].

په دی هکله د ټولو زيات څخه تفصيلات ابن سعد رحمه الله عليه بيان کړی دی، د سلو هغه وړواو لويو خطونو يادونه کړی چې د پادشاهانو يا قبايلي‌مشرانوپه نوم ليږل شوی وه،ددی ليکونو څخه ځينی تبليغي‌او بلنيزه بڼه لری او ځينی د تړونونو په خاطر وه اوپه ځينی نوروکې د شرعی احکامو تفصيلات بيان شوی دی خو د پنځلسو ليکونو پرته دنور وليکونوپه هکله دانه ده معلومه شوی چې دکوموصحابو رضي‌الله عنهم په لاس ليږل شوی دی د هغه پنځلسو سفيرانونومونه په لاندی ډول دی :

عمروبن اميه ضمری رضی الله عنه دحبشی پادشاه نجاشی ته ، دحيه بن خليفه کلبی رضی‌الله عنه د روم قيصرته، عبدالله بن حذافه سهمی رضي‌الله عنه دايران کسری ته ، حاطب بن ابی بلتعه الخمی رضی‌الله عنه مقوقيس مصری ته ، شجاع بن وهب اسدی رضی‌الله عنه حارث غسانی سوريه ته ، سليط بن عمروعامری رضی‌الله عنه هوزه بن علي‌يمامه ته ، عمروبن عاص رضی‌الله عنه دعمان جيفرته ، علاء بن الخضرمی رضی‌الله عنه دبحرين منذرعبدی ته ، مهاجربن ابي‌اميه مخزومی رضی‌الله عنه ديمن حارث عبدالکلال ته ، معاذبن جبل رضی‌الله عنه يمن ته - مالک بن مراره رضی‌الله عنه يمن ته - جريربن عبدالله بجلی رضی‌الله عنه ذوالکلاع ديمن ته ، عمروبن حزم رضی‌الله عنه يمن ته ، ابوموسي‌اشعری رضی‌الله عنه يمن ته عياش بن ابی ربيعه يمني‌حارث ته [219].

په پورته خلکوکې د پيل نه اوه تنه صحابه کرام رضی‌الله عنهم په يوه ورځ [ دمحرم په اوم نيته] خپلی وظيفی پسی ليږلی شوی وو او ټولو د هغی قومونو په ژبه خبری کولای شوي‌کوم ته به چې ليږل کيده، رسول الله صلی‌الله عليه وسلم خطونه به د ليکلو وروسته اوريدل،په دی هکله زيدبن

---

[218] - سيره ابن هشام 3 ټوک 407 مخ – الحلپيه 3 ټوک 283 مخ

[219]- طبقات ابن سعد 1 ټوک 258 مخ – زاد المعاد 45 ټوک

ثابت رضی الله عنه فرمايلی دی چې :

کله به چې زه دقرآن کريم دليکلوڅخه فارغه شوم نو رسول الله صلی الله عليه وسلم به وفرمايل ولوله او راته ئی واوروه ، مابه لوسته که چيری کوم تېکي به پاته شوی وه نو هغه به ئی راته اصلاح کاوه او بيا به ئی دا ليکنه اخيستنه اوخلکوته به ورتللو[220].

عبدالله بن ارقم رضی الله عنه يوځل درسول الله صلی الله عليه وسلم په نوم د يوه راليږلی شوی خط ځواب وليکه او بيائی‌هغه ته واوراوه،نوهغه ورته وفرمايل ډيرښه دی ليکلی دی [221].

## د محمد صلی الله عليه وسلم په دربار کې د حکومتونو او قبيلو جرګی او هيئتونه

قُلْ يَاأَيُّهَا الْكَافِرُونَ[]لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ[]وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ[]وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدتُّمْ[]وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ[]لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ

[کله چې د الله مرسته راشي او بری [در] په برخه شي او ای [ پيغمبره ! ] ته وګوري چې خلک ډلی ډلی د الله په دين کې داخليږی نو د رب له ثنا ستاينی سره د هغه تسبيح وکړه او له هغه نه ښښنه وغواړه بيشکه هغه ستر توبه قبلوونکې دی ].

دا سورت دحجه الوداع په وخت کې په منا کې نازل شوی دی په دی کې د مکې د فتحی او د9 هجری کال دعام الوفود په لور اشاره شوی ده ځکه کله چې د اسلامی رياست د قوت د مقابلې له پاره په جزيره العرب کېکوم قوت پاته نه شو، نو د عربو د هری ښندی څخه جرګی او د بيلو بيلو حکومتونو او قبيلو سفيران د رسول الله صلی الله عليه وسلم په دربار کې راحاضر شول ځينی هيئتونه د نهم هجری کال څخه ترمخه راغلی وه خو ډير په همدی کال راغلل نو د دی امله دی کال ته د عام الوفود کال هم

[220]- مجمع الزوايد 1 ټوک 159 مخ

[221] - مجمع الزوايد 1 ټوک 159 مخ

وائی په صحیح بخاری او احادیثو په نورو کتابونوکې د ځینو هیئتونو یادونه شوی ده خو تاریخ پوهانو او مغازی او سیرت لیکونکو د هغوی ډیرتفصیل بیان کړی دی .

ابـــن جریـــر - ابـــن هشـــام اوبـــن اثیررحمـــه الله علـــیهم د دی هیئتونوتفصیلات رانقل کړی دی ، ابن کثیررحمه الله علیه په البدایه کې دکتاب " الوفودالواردین الی رسول الله صلیالله علیه وسلم" په نوم یو ځانګړی فصل لیکلی دی او ډیرګټه ورتفصیلات ئی بیان کړی دی [222].

خو د ابن سعدرحمه الله علیه په کتاب الطبقات الکبری کې د هیئتونو شمیرهم ډیرنقل شوی دی او ترتیب ئی هم ډیرښه دی،نو د دی امله مونږ د ابـن سـعد رحمـه الله علیـه دکتـاب څخـه یومجمـل فهرسـت رانقلوخـو تفصیلات ئی اوس ضروری نه ګڼو په طبقاتوکې چېد هیئتونو د شمیراو د هغه دراتللود نیتی په هکله چې کوم معلومات شته هغه مولیکلیدی- اوکوم چې معلوم نه دی نو د هغه ځای موسپین پری ایښیدی، په شمیراوتاریخ کښکه چیری د نوروکتابونو سره کوم اختلاف په نظر راځی ،نو د هغه یو علت د ځیړنی اختلاف هم دی خو یوعلت ئی دا هم دی چې د ځینی قبیلومشران ځوځو ځله راغلی دی .

د مزینه هیئت پنځم هجری قمری کال 400 تنه ، د بنواسد هیئت نهم هجری قمری کال 10 تنه ، د بنوفزاره هیئت نهم هجری قمری کال 13 تنه ، د بنومره هیئت نهم هجری قمری کال 13 تنه ، د بنوثعلبه هیئت لسم هجری قمری کال 10 تنه ، د بنوسعد بن بکر هیئت پنځم هجری قمری کال 1 تن ، د بنوکلاب هیئت نهم هجری قمری کال 13 تنه ، د بنوقشیربن کعب هیئت اتم هجری قمری کال 3 تنه ، د بنوالبکاء هیئت نهم هجری قمری کال 3 تنه ، د بنوکنانه هیئت نهم هجری قمری کال 1 تن ،د بنواشجع هیئت پنځم هجری قمری کال 100 تنه ، د بنوباهله هیئت اتم هجری قمری کال 1 تن ، د بنوسلیم هیئت اتم هجری قمری کال 900 تنه

222 - البدایه و النهایه د حافظ عمادالدین بن کثیر لیکنه **5** ټوک **40** مخ

، د بنوثقیف هیئت نهم هجری قمری کال 13 تنه ،د بنو ربیعه هیئت اتم هجری قمری کال 20 تنه ، د بنونجیب هیئت نهم هجری قمری کال 13 تنه ، د خولان هیئت لسم هجری قمری کال 10 تنه ، د صدار هیئت نهم هجری قمری کال 13 تنه ، د بنوزبید هیئت لسم هجری قمری کال 10 تنه ،د بلی هیئت نهم هجری قمری کال ، د بهراء هیئت 13 تنه ، د بنوعذره هیئت نهم هجری قمری کال 12 تنه ، د سلامان هیئت لسم هجری قمری کال 7 تنه ، د بنوغسان هیئت لسم هجری قمری کال 3 تنه ، د بنو الحارث هیئت لسم هجری قمری کال 7 تنه - د بنو الدا ر هیئت نهم هجری قمری کال 10 تنه ، د رهاوبین هیئت لسم هجری قمری کال 15 تنه ، د بنوعامر هیئت نهم هجری قمری کال 10 تنه ، د بنو النخع هیئت لسم هجری قمری کال 200 تنه ، د بنو بجیله یمنی هیئت لسم هجری قمری کال 250 تنه ، د بنوالحمص یمنی هیئت لسم هجری قمری کال 7 تنه ، د الاشعیربین یمنی هیئت اوم هجری قمری کال 50 تنه ، د دوس هیئت اوم هجری قمری کال **80** تنه ، د ثماله والحدان هیئت اتم هجری قمری کال ، د بنوخشعم هیئت لسم هجری قمری کال ، د بنوجزام هیئت شپږم هجری قمری کال ، د ملوک حمیر هیئت نهم هجری قمری کال **7** تنه ، دنجران یمنی هیئت **14** تنه ، د بنومحارب هیئت **80** تنه ،د بنوعیس هیئت **80** تنه ، د راس بن کلاب هیئت **1** تن ، د بنوعقیل هیئت **3** تنه ، د بنوجعده هیئت **1**تن ، د بنوعبد بن عدی هیئت **4** تنه - د بنوهلال هیئت **3** تنه ، د بکربن وائل هیئت **5** تنه ، د بنوتغلب هیئت **16** تنه ، د بنوحنیفه هیئت **13** تنه ، د بنوطی هیئت **13** تنه ، د جعفی هیئت **2** تنه ، د بنومراد هیئت **1** تنه ، د بنوکنده هیئت **13** تنه ، د بنوالصدف هیئت **13** تنه ، د خشین هیئت **17** تنه ، د جهینه هیئت **1** تنه ، د بنوکلب هیئت **2** تنه ، د بنوجرم هیئت **2** تنه ، د بنوالازد هیئت **13** تنه ،د بنو همدان هیئت **1** تن ، د سعد العشیره هیئت **1** تن ، د بنوعنس هیئت **1** تن ، د نجران یمنی هیئت **14** تنه ، د بنوعامر هیئت ، د شیبان هیئت ، د سعد هذیم هیئت د ملوک حضرت موت هیئت ، د ازد عمان هیئت ،، د بنو نوغافق هیئت - د بنوبارق هیئت ، د بنواسلم هیئت ، د

بنومهره هيئت ، حبشيان هيئت [223].

## حجه الوداع

د23 کاله نبوت او لس کاله حکومت کولو وروسته رسول الله صلیﷲ علیه وسلم په 25د ذی القعدی په لسم هجری کال کی د حجه الوداع آخری سفر وکړ چې په سفرکې دګډون کونکوشمیرڅومره وه په دی هکله کوم صحیح شمیرمعلوم نه دی خو د سیرت په ټولوکتابونوکې راغلی دی چې جموع کثیره" او "عدد لا یحصون [ ډیری ډلی وی اوبی شماره خلک وه] .

په سیرت الحلبیه کښلاندی ویناوی راخستل شوی دی : څولیښت زره - اویا زره - نوی زره - یولک څوارلس زره - یولک شل زره ددی نه هم ډیر [224].

دهلوی محدث عبدالحق رحمه الله علیه د یو لکوڅوارلس زره او یو لکو څلورویشت زرودوه روایتونه رانقل کړی دی[225].

قاضی منصور پوری رحمه الله علیه د یولکو څلورویشت زره او یو لکو څلور څلویښت زرو دوه روایتونه راخستی دی [226].

د صحابه کرامو رضیﷲ عنهم د ټول شمیرپه هکله کوم قطعی ثبوت او روایت هم نه شته ابن حجررحمه الله علیه د امام ابوزراعه رازی رحمه الله علیه وینارا نقل کړی ده چې: ټولو هغه ښځواو نارینوچېرسول الله صلیﷲ علیه وسلم ئې لیدلی‌وه اود هغه څخه یې روایت هم کړی دی د هغوی شمیردیولک څخه زیات دی .

ابن کثیررحمه الله علیه لیکلی‌دی چې : د ابوزراعه رازی رحمه الله علیه څخه رانقل شوی‌دی چې د صحابو رضیﷲ عنهم شمیریولکوشل

---

223- طبقات کبری ابن سعد رحمه الله علیه 1 ټوک 291 مخ

224 -الحلبیه 3 ټوک 308 مخ

225 - شرخ سفرالسعاده 27 مخ 1978 عیسوی کال مکتبه نوریه سکهرچاپ

226 - رحمه اللعالمین لومړی ټوک 340 مخ

زروتنو ته رسیده[227].

دامام شافعی رحمه الله علیه څخه روایت دی چې: هغه مسلمانان چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ئی لیدلی وه یا یې د هغه څخه څه اوریدلی وه شمیرېې شپیته زره دی.امام حاکم ابوعبدالله ویلی دی.چې دویونکوصحابورضی الله تعالی عنهم شمیرنزدی پنځه سوه کسان دی خوامام احمدرحمه الله علیه چې کثیرالروایات دی هغه یواځی 987 کسه صحابو رضی الله عنهم روایات رانقل کړی دی او په صحاح ستوکې د هغوی پرته دری سو صحابو رضی الله عنهم څخه روایت کړی دی [228].

د صحابو رضی الله عنهم په حالاتو باندی څلورو کتابونو ډیر شهرت موندلی دی الاستیعاب فی معرفه الاصحاب د ابن عبدالبر رحمه الله علیه چې د3500 صحابو رضی الله عنهم پیژندګلوی په کی شوی ده بل کتاب د ابن الاثیر جزری اسدالغابه فی معرفه الصحابه دی چې په کې د 755 اصحابوو رضی الله عنهم پیژندنه شوی ده اود شمس الدین ذهبی به کتاب التجرید کې د **8808** صحابو رضی الله عنهم حالات بیان شوی دی .

څلورم کتاب دابن حجر رحمه الله علیه الاصابه فی تمیزالصحابه دی دا کتاب ډیرجامع دی په دی کې د12894 صحابو رضی الله عنه ذکرشوی دی خو په هغه کې تکرارهم شته او هغه کوچنیان هم په کې شمیرل شوی دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې لابلوغ ته نه وه رسیدلی او د هغه خلکو یادوونه هم په کې شوی ده چې صحابه نه وه خو د غلطی په اساس ځینی خلکو په صحابوکې شمیرلی [الله تر ټولو ښه پوهیږی ].

## د حجه الوداع خطبه

په حجه الوداع کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دری ځلی خلکو ته ویناوی وکړی دذوالحجی په اتم تاریخ په یوم الترویه کې اوهم ئی دعرفی

227 - الا صابه لومړی ټوک دریم مخ

228 -البدایه والنهایه 5 ټوک 356مخ

په ورځ د عرفات په میدان کې او دریمه په یولسم یا دولسم دذی الحجی په منیٰ کې د دی دری واړو خطبونه پرته رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د حج په وخت کې په نورو مختلفو ځایونو کې هم ویناوی کړی دی په صحیح مسلم کې د عرفات خطبه دا ډول را نقل شوی ده .

بی شکه چې ستاسی وینه او ستاسی مال یو په بل حرام دی لکه څنګه چې تاسی دنن ورځی د دی ښاراو د دی میاشتی‌احترام کوی .

ښه وپوهیږی چې د جاهلیت هریوه طریقه او هر یو رواج زما د پښولاندی پا مال شوی دی[ هغه بیا مه را ژوندی کوی ].

د جاهلیت د زمانی [ د اسلام ترمخه ] د قتلونو اوجنګونو دعوی ختم کړل شوی دی لومړی زه د خپلی کورنی وینه ختموم یعنی‌د ابن ربیعه بن حارث وینه چې‌په بنو سعدکې ئی شیدی څکلی وی او بنوهذیل هغه قتل کړی وه[ دا د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دکاکا لمسی وه ] .

د جاهلیت دزمانی سود ختم کړل شوی دی، تر ټولو لومړی زه دخپلی‌کورنی سود ختموم [ د حضرت عباس بن عبدالمطلب سودڅومره چې وه ټول پری ښوول شو] .

د خپلو ښځوپه هکله دالله جل جلاله نه ویریږی تاسو هغوی د الله جل الله جل جلاله په نوم د مسئولیت په اساس خپلی ښځی‌ګرځولی دی او د الله جل جلاله د حکم په اساس تاسی د هغوی جسمونه خپل ځانته حلال ګرځولی دی .

په ښځو دا ستاسی‌حق دی چې هغه ستاسوپه بستره بل چاته د راتلواجازه ورنکړی،که چیری هغوی داسی‌وکړی نوهغه دتعزیربه خاطر دومره ووهی چې دوهلو نښی ئی ښکاره نه شی [د دی څخه زنا مقصد نه دی بلکه شرعی پرده نه کول تری مقصد دی ] .

ښځی په تاسو دا حق لری چې‌هغوی ته په نیکه طریقه خوراک اوکالی ورکړی .

زه تاسوته هغه څه پریږدم اوځم چې‌که چیری تاسوهغه ټینګ ونیسی

نوهيڅکله به بې‌لارى نه شى[د الله جل جلاله کتاب ].

د قيامت په ورځ به له تاسې‌څخه زماپه هکله پوښتنه وشى، نو ووایاست چې تاسې‌به څه ځواب ورکوی؟ ټولو وویل چې‌مونږګواهی وایوچې تا د الله جل جلاله احکام ترمونږ پوری رارسولی وه .

په دې خبره رسول الله صلى‌الله علیه وسلم دشهادت ګوته پورته کړه او بیا ئى دخلکوپه لور د ښکته کولوپه وخت کې وویل اللهم اشهد- اللهم اشهد-اللهم اشهد [اى الله جل جلاله ته ګواه اوسه ، اى الله جل جلاله ته ګواه اوسه ، اى الله جل جلاله ته ګواه اوسه[229] ].

## وفات

د رسول الله صلى‌الله علیه وسلم د وفات په هکله ټول اهل سیر رحمه الله علیهم اومحدثین رضى‌الله عنهم متفق دى چې دا د دوشنبى ورځ وه ددى ذکر د صحیح بخاری په یوه روایت کې هم راغلی دی په دی هکله اجماع ده چې د وفات میاشت دربیع الاول میاشت وه خو د وفات تاریخ په یقینی اوقطعی توګه نه دی تاکل شوی محمدبن اسحاق ، محمد بن سعد ، واقدی ، ابن حزم ،، ابن هشام او د ابن کثیر رحمه الله علیهم‌څیړنه دا ده چې هغه په **12**د ربیع الاول **11**هجری قمری کال د دوشنبې‌په ورځ په غرمه کې وفات شوی دی خوموسی بن عقبه ، لیث بن سعد ، ابن شهاب زهری ، عروه بن زبیر ، سلیمان بن طرحان التیمی ،، محمدبن قیس او ابونعیم فضل بن دکین رحمه الله علیهم نظریات دا دی چې هغه په دوهم د ربیع الاول وفات شوی دی ـ حافظ ابوالقاسم سهیلی او ابن حجر رحمه الله علیهم اونورو همدی وینا ته ترجیح ورکړی ده په دی لړکې ځینې‌نوری ویناوی هم شته خو ډیره مشهوره همدا ده چې په دولسم د ربیع الاول وفات شوی دی [ الله جل جلاله ډیر ښه پوهیږی ][230] .

[229] صحیح مسلم کتاب الحج باب حجه النبى‌صلى‌الله علیه وسلم

[230]- السیره النبویه 4 ابن کثیر ټوک 505 مخ 1978عیسوی کال - فتح الباری 9 ټوک 193 مخ

نيو ليك

.....................

دريم فصل

## د اسلامی حکومت بنسټونه

## [لومړی اصل

## د الله جل جلاله حاکمیت ]:

په سیاسی اصطلاح کې اعلی اقتدار یا مطلق ځواک ته حاکمیت وای نوپه دی اساس هغه څوک چې اراده او خوښه ئی د قانون سرچینه او حکم ئی په ټولو لوړ وی،د ځواک خاوند او اعلی حاکم ورته ویل کیږی چې په شرعی اصطلاح کې ورته تشریعی حاکمیت هم ویل کیږی یعنی د قانون حاکمیت ، د اسلامی حکومتی نظام او د شرعی سیاست ، لومړی بنیادی اصل دا دی چې حاکمیت او اعلیٰاقتدار د مخلوقاتو د څښتن یو صفت دی د قانون سرچینه انسانی عقل نه ، بلکه دالله جل جلاله له خوا وحی ده

او قرآن او سنتوته په کې د اولیت حق ورکړل شوی. د الهی حاکمیت ثبوت د قرآن ، سنتو د راشیدنو خلفاو د کړنلاری د امت د اجماع ، عقل او قیاس ټولوڅخه کیږی چې د همدی عنوان لاندی د دغی اساسی اصولو وضاحت او څیړنه کوو .

### د حکم لغوی مفهوم :

دحاکم ماخذ حکم دی چې معنی ئی پریکړه او فرمان ورکول هم راتلای شیاو پوهه او حکمت هم ،ابن منظورافریقی رحمه الله علیه لیکلیدی چې: والحکم العلم والفقه والقضاء بالعدل [حکم، علم او پوهی ته هم ویل کیږی اوعادلانه پریکړی ته هم[231]] .

ابن درید چې په 321 هجری قمری کې وفات شوی لیکې چې : فکل کلمه وعظتک او زجرتک او د عتک الی مکرمه او نهتک من فبیح فهی حکمه وحکم [ هره هغه خبره چې تاته پند درکړی یا تاکومی سهوی ته متوجه کړی ، یا تا دکوم بد شیڅخه منع کړی،دا رازخبری ته حکمت اوحکم هم ویل کیږی ] [232].

علامه جمال قرشی لیکې چې : حکم بالضم فرمودن ... و دانش وحکمت [ حکم فرمان ... پوهی اوحکمت ته ویل کیږی ] [233].

لنډه دا چې حکم په لغت کې شاهی فرمان او عادلانه پریکړی ته وایی چې په مروجه ژبه تریکې مراد د امر او نهیقانون دی ] .

### د شرعی حکم فقهیمفهوم

د اصولو د علم پوهانو،شرعی حکم په دی توګه تعریف کړی دی : خطاب الله المتعلق بافعال المکلفین بالا قتضاء والتغیر[ شرعی حکم د

---

[231]- لسان العرب 3 ټوک 141 ماده حکم - مختارالصحاح 148 مخ د 1967 عیسوی کال د بیروت چاپ - مفردات القرآن 126 مخ - تفسیرابن جریر لومړی ټوک 557 مخ

[232] - جمهره الغه 2 ټوک 186 د هندوستان حیدرآباد دکن چاپ

[233] - صراح اللغات 66 مخ باب المیم 1910 عیسوی کال د هندوستان چاپ

الله جل جلاله هغه فرمان دی چې د هغه په واسطه د بندګانو له پاره ځنی افعال واجب یا مستحب ګرځولی شوی وی او ځینی نور پری حرام او بد] ، دغی الهی احکاموته شرعی احکام یا شریعت ویل کیږی او د هغی رالیږونکې ته حاکم یا شارع یعنی قانون جوړونکې ویل کیږی [234].

## د الهی حاکمیت په هکله قرآنی آیاتونه

په قرآنکریم کې د الله جل جلاله د حاکمیت او قانون جوړونی په هکله ګڼ آیتونه راغلی دی په 22آیتونوکې دحکم د کلیمی او د هغی د مشتقاقوڅخه ثابتیږی چې الله جل جلاله حاکم شارع او قانون جوړونکې دی چې ددی آیتونونقشه په لاندی توګه ده :

{د البقره سورت 313 }-
{د ال عمران سورت 23}-
{ د المائده سورت42، 43 ،44 ،45، 47 ،50 آیاتونه }
{د الانعام سورت 57 ، 62 ، 114 آیاتونه
{د یوسف سورت 40 آیت
{د الرعد سورت 37 آیت
{د الکهف سورت 26 آیت
{د النور سورت 48 – 151 آیاتونه
{د غافرسورت 12 آیت
{د الشوری سورت 10 آیت
{د الممتحنه سورت 10 آیت
{د الطور سورت 152 آیت
{د القلم سورت 48 آیت
{د الدهر سورت 24 آیت.

ددی دوویشت آیتونوڅخه یوڅو د مثال په توګه وړاندی‌کوو:

---

[234]- تحریرالاصول سره د شرحی لومړی ټوک 77 مخ - منهاج الرسول للبیضاوی په حاشیه د تحریرلومړی ټوک 22 مخ

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ

[د المائده سورت 50 آيت]

[ نو ايا بيا د جاهليت پريکړه غواړي؟ پداسی حال کې چې کوم خلک په الله باور لري نو د هغوی په نزد له الله نه بل غوره فيصله کوونکې هيڅ نشته ] .

د دی آيت څخه دا څرګنديږي چې د انسان په جوړشوی قانون پريکړه کول جاهليت دی او شرعی قانون د يوبهترين قانون په توګه منل د ايمان باور او يقين غوښتنه ده.

امام ابن کثير رحمه الله عليه ددی آيت په تفسيرکې د چنګيزخان دکتاب په حواله ليکلی دی چې: "هرڅوک چې داسیکړنلاره اختيارکړي لکه چې چنګيز خان غوره کړی وه نوهغه کافر دی او دهغه په خلاف جنګ کول واجب دی ترهغه پوری چې هغه د الله جل جلاله او د هغه د قانون په لور ونه ګرځی، او د قرآن او سنتو مطابق د هری وړی او غټیمعاملی پريکړيکولو ته تيارنه شی "[235].

أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي أَنزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا

[د الانعام سورت 114 آيت]

[ايا زه د الله نه پرته بل کوم فيصله کوونکې ولټوم پداسی حال کې چې هغه تا ته پوره مفصل کتاب ليږلی دی ] .

دا چې هغه په تابانـدی واضحه اوڅرګنـد کتاب راليږلیـدی نـو د هغوخلکو رويه حيرانوونکې ده چې د الله جل جلاله راليـږل شوی قانون پريږدی او د بشر د جوړ شوی قانون لټه کوی .

إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ [د يوسف سورت 40 آيت]

[ د فيصلی واک يوازی الله جل جلاله سره دی هغه امرکړی چې د هغه

[235]- تفسير ابن کثير 2 ټوک 590 مخ

پرته د بل هیچا بندګی مه کوئ دا د ژوند سمه سیخه لاره ده خو زیاتره خلک نه پوهیږی ] .

وَأَنزَلَ مَعَهُمْ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ

[د البقره 213 سورت 50 آیت ]

[ او د هغوی سره یی حق کتاب رالیږلی ترڅو هغه اختلافونه چې د حق په باب د خلکو تر مینځه راغلی وو فیصله کړي ] .

که د حاکمیت مقام د انسانی عقل پوری وایی نو بیا د انبیاء کرامو د رالیږلوڅه اړتیا وه او د کتابونو د رالیږلو څه حاجت ،کتابونه دهمدی له پاره رانازل شوی دی‌چې د هری شخړې اومعاملی پریکړه د هغه په اساس وکړی شی اوهغه د ژوندانه واجب الاطاعت قانون وګرځول شی .

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الْفَاسِقُونَ .....

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الظَّالِمُونَ......

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الْكَافِرُونَ .......

[ اوکوم خلک چې د الله د نازل کړي قانون سره سمه فیصله ونکړی هماغوی فاسقان دی ... هغوی ظالمان دی ... هماغوی کافران دی ... [236]]

.

کفرپه دوه برخوویشل شوی دی اعتقادی کفراو عملی‌کفر،که چیری د الله جل جلاله په حاکمیت اود هغه په قانون باندی اعتقاد او ایمان نه وی،نوهغه ته اعتقادی کفرویل کیږی اوکه چیری ایمان وی‌خو د پوهی سره سره په عملی ډول د هغی په اساس عمل ونه کړای شی نو دی ته عملی‌کفر وائی- ظلم هغه ته ویل کیږی چې د یوه حق بل ته ورکړل شی یا حق لرونکي ته حق ورنکړای شی هغه څوک چې په بشری قانون پریکړه کوی نوهغه دالله جل جلاله حق مخلوق ته ورکوی. نو دی ته شرک فی‌الحکم وائی چې په قرانکریم کې ورته لوی ظلم ویل شوی دی

[236] - د المائده سورت 47 - د المائده سورت 45 - د المائده سورت 44 آیتونه

إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ [د القمان سورت 50 آيت ]
همدا ډول شرک هم په دوه برخوويشل شوی، عملی شرک او اعتقادی شرک ، اوپه همدی توګه د فسق معنی بغاوت سرکشی او دالله جل جلاله د بندګۍڅخه دباندی‌کیده دی دا هم په دوه برخو ویشل شوی دی، اعتقادی فسق او عملی فسق .

حضرت عطا اوطاوس رحمه الله علیهم همدی لور ته د اشاری کولوپه ترڅ کې فرمایلی دی :کفردون کفروظلم دون ظلم وفسق دون فسق [کفرهم څو درجی لری، ظلم هم څو درجی لری او فسق هم څو درجی لری ] [237].

همدا راز محمد بن اسماعیل بخاری رحمه الله علیه هم د کفر اوظلم د پورته یاد شوو درجو په هکله توضیحات ورکړی دی[238] .

یو چا د حضرت حذیفه رضی الله تعالی عنه څخه پوښتنه وکړه چې دا آیتونه خو د بنی‌اسرائیلو په هکله رانازل شوی دی هغه ورته وفرمایل چې بنی‌اسرائیل خو بیا ستاسو ډیرښه ورونه دی چې ترخه توك د هغوی له پاره شوه اوخواږه خواږه توك ستاسو له پاره ، هیڅکله داسی نه ده، تاسو به هم د هغوی په قدم قدم اخلی .

حسن بصری رحمه الله علیه او ابراهیم نخعی رحمه الله علیه دواړو ویلی دی چې دا آیت خوپه ښکاره توګه د بنی‌اسرائیلوله پاره راغلی دی،خو زمونږ له پاره هم همدا ډول حکم دی .

## تحا کم الطاغوت

### [ د معاملاتو او شخړو پریکړه دطاغوت په واسطه ]

په قرآن کریم کښیه یوه بله توګه هم دخدای دحاکمیت ثبوت موجود دی اوهغه دطاغوت څخه د انکارحکم دی دطاغوت په هکله اته آیتونه راغلی‌دی نو دلته لومړی آیتونه رانقلوو او بیا د طاغوت حقیقت را

[237] -ابن جریر 6 توك256مخ
[238]- صحیح بخاری‌کتاب الایمان باب کفر دون کفروباب ظلم دون ظلم

.....................

برسیره کوو.

فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدْ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انفِصَامَ لَهَاوَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ [د البقره سورت 256 آیت]

[ طاغوت نه انکارشي او په الله یې ایمان راوړ هغه یوه داسی کلکه اسره ونیوله چې هیڅکله ماتیدونکې نه ده او الله د هر څه اوریدونکې او په هر پوهیدونکې دی ] .

په دی آیت کې طاغوت دالله جل جلاله په مقابل کې راغلی دی اودهغه څخه مخه اړو نه او سرکشی اود الله جل جلاله په احکامو او فرامینو باندی ایمان راوړلوته عروه الوثقی [ نه شلیدونکې حلقه او کلکه تکیه ویل شوی ده ] کفر بالطاغوت د لااله غوښتنه ده او ایمان بالله د الاالله غوښتنه ده - د الله جل جلاله د قوانینوڅخه پرته د نورو ټولوقوانینوڅخه انکارکول اومخ اړول اود الله جل جلاله په قوانینو ایمان راوړل د کلمیی طبیه حقیقت او د توحیدمفهوم دی .

وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمْ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُمْ مِنْ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ أُوْلَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ [د البقره سورت 157 آیت]

[او کوم خلک چې د کفر لاره غوره کړي د هغوی ملاتړ اومرستندویان طاغوتان دی او هغوی له رڼا نه د تربمیو لوري ته راکاږی دا کسان دوزخ ته ورتلونکې دي هلته به تل اوسیږی ] .

نو د دی آیت څخه معلومیږی چې په طاغوت قانون توره تیاره او د الله قانون رڼا او روښنائی ده .

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنْ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا هَؤُلَاءِ أَهْدَى مِنْ الَّذِينَ آمَنُوا سَبِيلًا- أُوْلَئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمْ اللَّهُ وَمَنْ يَلْعَنْ اللَّهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ نَصِيرًا [د البقره سورت 51 آیت]

[ ایا تا هغو خلکو ته نه دی کتلی چې د کتاب له علم څخه یو څه برخه ورکړه شوی ده او د هغو حالت دا دی چې جبت او اطاغت مني او دد

کافرانو په باب وایی چې له ایمان راوړونکو څخه خو د همدوی لاره زیاته سمه ده ، همداسی خلک دی چې الله پرې لعنت کړیدی او په چا باندی چې الله لعنت وکړی بیا ته هغه له پاره مرستندوی نشې میندلی ] .

ددی ایت څخه څرګندیږی چې د طاغوتی نظام پیروی کول د الله جل جلاله د قهر او لعنت سبب ګرځی ، او هغه خلک چې دد طاغوت د قانون پیروی کوی هغوی ته د توحید په نسبت د کفر او شرک لاره ښه ښکاری .

الَّذِينَ آمَنُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ لطَّاغُوتِ فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَانِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا

[د النساء سورت 76 آیت ]

[ کوموخلکو چې د ایمان لاره غوره کړیده هغوی د الله په لار کې جنګیږی او هغه خلکو چې کفر کړی دی د طاغوت په لاره کې جنګیږی نو د شیطان له ملګرو سره وجنګیږئ او باور ولرئ چې د شیطان د سیسی په حقیقت کې ډیری کمزوری دی ] .

د پورتنی آیت څخه مقصد دا دی چې د الله جل جلاله دکلیمی د لوړوالی په خاطرجنګ کول دایمان غوښتنه ده او د طاغوت د قانون د لوړوالی په خاطر جنګیدل کفر دی او په خپله طاغوتی نظام په حقیقت کې د شیطان د مکراو فریب څخه عبارت دی

.مَنْ لَعَنَهُ اللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوتَ أُولَئِكَ شَرٌّ مَكَانًا وَأَضَلُّ عَنْ سَوَاءِ السَّبِيلِ

[ د المائده سورت 60 آیت ]

[هغه څوک چې الله جل جلاله وربانـدی لعنت وکړ او غضب یی وربانـدی راښکته کړاو له هغو څخه ئی بیزوګانی او خوګان جوړ کړل او هغه چا چې د غیر الله اطاعت وکړ نو د هغو درجه لا ډیره زیاته بده او له نیغی او سمی لاری څخه ډیر بی لاری شوی دی ].

په پورتنی آیت کې د طاغوت بندګی کونکې او د هغی د قانون پیروان د بیزوګانو خنزیرانو، لعنتیانو او غضب کړای شوو په فهرست کې شمارل

شوی دی او ویل شوی چې دوی د صحیح لاری څخه بلکل اووښتی دی .

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنْ اُعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ

[د النحل سورت 36 آیت]

[ مونږ په هر امت کې یو پیغمبر ولیږله او د هغه په وسیله مو ټول خبردار کړل چې د الله جل جلاله بندګی وکړئ او د طاغوت څخه ځان وژغوری ] .

ددی څخه دا څرګندیږی چې د طاغوت د بندګی او د هغه د قوانینو څخه د لری والی حکم هر نبی علیه السلام ته ورکړل شوی وه او د ټولو انبیاو علیهم الصلوه و السلام د شریعتونو بنسټ د الله جل جلاله په حاکمیت او د هغه په معیودیت ایښوول شوی دی .

وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَنْ يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوا إِلَى اللَّهِ لَهُمْ الْبُشْرَى

[ د الرمز سورت 17 آیت ]

[ او کومو خلکو چې د طاغوت له بندګی څخه ځان وژغوره او د الله جل جلاله په لور یی رجوع وکړه د هغو له پاره زیری دی نو [ای پیغمبره ] زیری ورکړه زما هغو بندګانو ته چې په غورسره اوری او د هغی د ډیر ښه اړخ پیروی کوی ] .

د زیری مستحق خلک هغه دی چې د طاغوت د بندګی څخه لری والی کوی ، پورته اوه آیتونوکې دا خبره په صریحه توګه څرګندیږی چې د حکم ورکولو ، پریکړی کولو او د قانون جوړولو اختیار طاغوت ته نه دی ورکړل شوی او په هرمؤمن فرض دی چې د هغه څخه مخ واړوی او لری والی تری وکړی .

## د طاغوت مفهوم

## د لغت د پوهانوله نظره

د طاغوت کلیمه د طغی او طغیان یا طغو او طغوی طغوان څخه اخستل شوی ده - طغی، طغیان، طغو، طغوی او طغوان ددی ټولومعنا د اعتدال د پولوڅخه وتل دی په کلیموڅخه راوتلی کلیمه دسرکشی او د

پولوڅخه د اوښتلو په معنا ډیره استعمال شوی لکه :

كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَاهَا [ د الشمس سورت 9 آیت]

[ د ثمودیانوقوم د خپلی سرکشی په اساس یې حق دروغ وګڼل ]

فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ [ د البقره سورت 15 آیت - د الانعام سورت110 آیت د الاعراف سورت 186 آیت - د یونس سورت 11 آیت - د الاسراء سورت 60 آیت د الکهف سورت 80 آیت - د المومنون 75 آیت ]

[ او دوی په خپله سرکشۍ کې لکه د ړوند په شان تیندکونه خوری ]

د طاغوت کلیمه د همدی مادی څخه د مبالغی صیغه ده،چې معنائی ،کثیرالطغیان یعنی په سرکشی ، نافرمانی او د حدود څخه په وتلوکې د ټولونه وړاندی کیدل دی ، چې یواځې ګمراه او سرکشه نه، بلکه د کفر او ګمراهی مشر او قائد هم وی .

لغت پوهانو د دی کلیمی څرنګوال په دی توګه بیان کړی دی :

و الطاغوت یقع علی الواحد و الجمع و المذکر و المونث وزنه فعلوت انما هو طغیوت قدمت الیاء قبل الغین وهی مفتوحه و قبلها فتحه فقلبت الفاُ... و قال ابواسحق رحمه الله علیه کل معبود من دون الله عزوجل جبت و طاغوت و قال الشعبی وعطاء و مجاهد رحمه الله علیهم الجبت السحرو الطاغوت الشیطن و الکاهن وکل راس فی الضلال

[ د طاغوت کلیمه د واحد ، جمعی ، مذکر او مونث ټولو له پاره راځی چې صرفی وزن ئی فعلوت او یا طغیوت دی دلته ئی "ی" په "غ " باندی رامخته کړی او په " الف" یی بدله کړی ابوسحق رحمه الله علیه فرمایلی چې د الله جل جلاله پرته د بل هر چا بندګی وکړی شی نو هغه جبت او طاغوت دی شعبی عطار اومجاهد رحمه اللهم علیه ویلی دی چې جبت جادو ته وایی او طاغوت شیطان اوجادوګر ته هم ویل کیږی او هرهغه سړی ته طاغوت ویل کیږی چې د ګمراهی لیډر او قائد دی[239].

[239]- لسان العرب 15 ټوک 9 مخ – مختار لصحاح 393 مخ - مفردات القرآن

## د طاغوت مفهوم د صالحینو له نظره

عمر فاروق رضی الله عنه ، عامر شعیبی ، ضحاک ، او سدی رحمه الله علیهم ویلی‌دی چې د طاغوت څخه مقصد شیطان دی .
او امام راغب اصفهانی لیکلی دی چې : الشیطان اسم لکل عارم من الجن و الانس و الحیوان [ د هربدخو یه او سرکشه نوم شیطان دی که څه هم دا انسان وی یا پیری او یا حیوان وی ].
ابن عباس او ابن مسعود رضی‌الله عنهما فرمایی چې : اما شیاطینهم فهم روسهم فی‌الکفر و قال قتاده قادتهم فی‌الشر[ د منافقو د شیطانانو څخه مقصد د کفر او بدی لاربنوونکې او قیادت کونکې انسان دی ] .
غالباً چې په قرآن کریم کې په 88 ځایونوکې د شیطان کلیمه یاده شوی ده چې په هغې کې ئی لږ تر لږه په څلورو آیتونوکې په خپله انسان ته په څرګند ډول شیطان ویل شوی لکه : د البقره سورت 14 ایت ، ال عمران سورت 175 آیت ، د انعام سورت 112 آیت ، د الناس سورت 6 آیت ـ کومو صحابو رضی الله عنهم او تابعینو رحمه الله علیهم چې طاغوت په شیطان معنی کړی دی نو د هغوی مقصد عام دی [ هغه پیریان او انسانان چې خلک بی لاری کوی ، د کفر او د شرک مشری او قیادت کوی هغوی طاغوت دی ] .
امام فخر الدین رازی په خپل تفسیر کې فرمائی چې : د سوره النساء په 51 آیت کې یی حیی بن احطب اوکعب بن اشرف ته جبت او طاغوت ویل شوی دی چې دا آیت د همغوی په هکله را نازل شوی وه دا په دی خاطر چې دی دواړو کوشش کاوه چې خلک د دین څخه واړوی .
د امام مجاهد رحمه الله علیه یوه وینا ده چې : الطاغوت الشیطان فی صوره انسان یتحاکمون الیه و هو صاحب امرهم [ طاغوت د انسان په شکل کې شیطان وی چې هغه ته خلک د خپلو شخړو د پریکړی له پاره ورځی او دی د هغوی حاکم او قاضی وی ] .
ابن جریرطبری رحمه الله علیه فرمایی : صحیح خبره دا ده چې د الله

جل جلاله په مقابل کې هر سرکش او باغی ته چې د الله جل جلاله څخه پرته یی بندگی وشی طاغوت ویل کیږی که څه هم هغه دا خلک په زور خپل تابع کړی وی یا خلکو په خپله خوښه او مینه د ده بندگی او عبادت شروع کړی وی که دا انسان وی یا بت وی یا کوم بل شی 240.

حافظ ابن قیم رحمه الله علیه چې په 751 هجری قمری کال کې وفات شوی لیکلی : هرهغه شی ته طاغوت ویل کیږی چې د هغه له امله بنده د ندگی د پولو څخه ووځی که څه هم د هغه عبادت وشی اویا د هغه تابعداری اواطاعت وشی، د هر قوم طاغوت هغه دی چې هغوی د خپلو شخړو د پریکړو له پاره د الله جل جلاله او رسول صلیالله علیه وسلم پرته هغه [طاغوت] ته ورځی او دا قوم بیا د هغه عبادت کوی یا د هغه تابع گرځی، پرته له دی چې د هغه بصیرت په واسطه چې الله جل جلاله دوی ته ورکړی دی معلوم کړی چې دا د الله جل جلاله اطاعت دی اوکه نه ؟

دا دی د دی نړۍ طواغیت او شیطانان ،که چیری تاسی د دوی حالت او کړنه په غور وڅیرۍ، نووبه گوری چې ډیروخلکود الله جل جلاله عبادت پری ایښی او د دی طواغیتوعبادت او پرستش ئی شروع کړی او د الله جل جلاله او د هغی د رسول صلیالله علیه وسلم د قانون پرځای د طواغیتو په لور د خپلومعاملو او شخړو د پریکړی له پاره ورځی 241.

د لغت پوهانواود تفسیر د امامانو د پورتنیڅیړنی څخه دا ثابتیږی چې کاهن ، ابلیس او بت هم طاغوت دی .

اوهغه حکمران چې د الله جل جلاله د حاکمیت پرځای خپل حاکمیت مسلط کول غواړی اود الله جل جلاله د قانون پرځای خپل جوړ شوی قوانین او د نورو انسانانو جوړکړی قوانین نافذول غواړی، هم طاغوت دی په خپله د انسان ،اماره نفس هم طاغوت دی چې د هغه په اساس دی بغاوت او سرکشی ته تیاریږی ، الله جل جلاله د دی ټولوطواغیتوڅخه د

240- ابن جریر 3 ټوک 19 مخ – تفسیر روح المعانی 3 ټوک 13 مخ
241 - اعلام الموقعین لومړی ټوک 18 مخ د هندوستان چاپ

لری والی‌حکم کړی دی .

## شریعت او شارع

په خپله د شریعت د کلیمې‌څخه دا ثابتیږی چې‌واځې‌الله جل جلاله شارع اوقانون جوړونکې‌دی شریعت شرعه شارع او مشرعه په عربی کې‌لاری ته وائی ، لوی لاری ته شارع وایی او لاربښوونکې ته شارع هم ویل کیږی خو د قرآن په اصطلاح د شریعت څخه مقصد د [ الهی احکامومجموعه ] ده.

ابن منظور رحمه الله علیه لیکې چې:

والشریعه والشرعه ما من الله من الدین وامر به کالصوم والصلوه والحج والزکوه و سائراعمال البر [ شریعت او شرع د دین هغه لاره ده چې الله جل جلاله خپلو بندګانوته ټاکلې‌ده او په هغه ئی ورته د تلوحکم کړی دی لکه لمونځ ، زکاه ، روژه ، حج غوره اعمال ] 242.

مشهور تابعی حضرت قتاده رحمه الله علیه فرمایلی دی چې :

والشریعه الفرائض و الحدود و الامر و النهی [ شریعت د فرائضو، شرعی حدودو، امر او نهی نوم دی 243 ] .

د قرآن کریم په دری آیتونوکې د شریعت دکلیمی په څنګ کې د الله جل جلاله د قانون جوړونکې په حیث یادکړل شوی دی ] .

ا ] لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا [د المایده سورت 48 آیت]

[ مونږ له تاسی نه د هر یوه له پاره یو شریعت او یو عملي تګلاره ټاکلې ده ] .

ټول انبیاء علیه السلام او آسمانی ملتونه د دین په اصولوکې یو د بل سره متحد دی خو هر امت ته د هغی د چاپیریال او خاص استعداد مطابق

---

242- لسان العرب 8 ټوک 176 مخ - مختارالصحاح 335 مخ - صراح 317 مخ - مجمع البحار2 ټوک 184 مخ

243- تفسیر ابن جریر طبری 25 ټوک 147 مخ

خاص خاص احکام او لارښوونی ورکړل شوی دی .

صحیح بخاری لیکلی چې : ټول پیغمبران علیهم السلام په خپلو منځوکې میرنی ورونه دی لکه د چا چې پلار یو وی او مورګانی یی بیلی بیلی وی .

د دی نه همدا مقصد اخستل کیږی چې اصول ټول یو، خو په فرعوکې توپیر شته د"جعلنا" څخه را څرګندیږی چې د قانون او شریعت ورکونکې یوازی او یوازی یو الله رب العالمین دی .

ب ] ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ [ د الجاثیه سورت 18 آیت ]

[ او ته مو ای پیغمبره ! د دین په یوه روښانه لاره [ شریعت ] باندی برابر کړی یی له دی کبله ته پر هماغی باندی لاړ شه او د هغو کسانو د نفسی غوښتنو پیروي مه کوه چې علم نلری ] .

په دی آیت کې هوا د شریعت په مقابل کې ښوولی شوی ده او دا تری راڅرګندیږی چې هغه قانون چې د الله جل جلاله د قانون په خلاف وی هغه به په هوا او نفسی غوښتنی ولاړ وی اودهغه جوړونکې یاپه هغه عمل کونکې به ناپوهه او د خپل نفس بنده وی که څه هم د دی قانون جوړونکې کوم فیلسوف ، یا دینی مشر،یا پادشاه وی اویا د قوم وکیلان ،کارګران او د هقانان اویا عوام وی .

ج ] أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ

[د الشوری 21 آیت ]

[ ایا دا خلک د الله سره داسی شریکان نیسی چې د دوی له پاره یی د دین داسی طریقی غوره کړی چې الله د هغی اجازه نده کړی ؟ که د فیصلی خبره مخکې نه وای سرته رسول شوی نو د دوی ترمنځ به پریکړه صادر کړای شوی وه به باوري توګه د دغو ظالمانو له پاره درناک عذاب دی ] .

د پورتنی آیت د وضاحت څخه دا را په ډاګه کیږی چې دلته د شرکاوڅخه مقصد هغه ګدونکونکې نه دی چې خلک ئی دکومک له پاره په غائبانه ډول راغواړی بلکه مقصد تری هغه خلک هم دی چې هغه ئی ورسره په تشریع او قانون سازی کې شریکان ګرځولی‌دی د هغوی په مقررکړی قوانینو او احکامو باندی خلک داسی روان دی چې ته به وایی همدا شریعت دی او پیروی ئی په دوی ضروری ده ، دا خو داسی شرک دی لکه څنګه چې څوک د الله جل جلاله پرته بل چاته سجده کوی ، اویا د الله جل جلاله پرته څوک د غیبی‌کومک له پاره راغواړی ، د آیت په آخر کې دی ډول خلکو ته ظالمان ویل شوی ، او علت ئی دا دی چې د شرعی قانون په خلاف وضعی قانون جوړول یا په هغه عمل کول شرک دی [ ان الشرک لظلم عظیم ] په رښتیا چې شرک ډیرلوی ظلم دی ] .

## اله د تشریعی‌حاکم پرمعنی

د اله د کلیمی یادونه د قرآنکریم په یو 140 ځایونو کې راغلی ده په ډیروځایوکې دا کلیمه د کارجوړونکې، فریاد اوریدونکې، مشکل حل کوونکی او د عبادت او بندګی مستحق په معنی استعمال شوی ده،خو په ځینو نورو آیتونوکې د قانون جوړونکې، حاکم او د بندګی او د اطاعت د لائق په معنی راغلی ده ، هسی خو د کارجوړولو په څنګ کې د قانون جوړولوعقلی ربط هم شته نوځکه څوک چې کارجوړونکې وی نوبندګی بیا د همغه حق وی .

أَرَأَيْتَ مَنْ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ أَفَأَنْتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا

[د الفرقان سورت 43 آیت ]

[ آتا ته د هغه چا حال ته ځیر شوی یی چې هغه خپل نفسی خواهش خپل خدای ګرځولی وي ؟ ایا ته په سمه لاره باندی د داسی چا د رااوړلو مسئولیت پر غاړه اخیستلی شی ؟ ] .

ښکاره ده چې هیڅوک هم خپل ځان کارجوړونکې او د غیبی قوت

مالک نه گڼی نو ځکه دلته هم د اله کلیمه د کارجوړولو په معنا نه ده راغلی بلکه د تشریعی حاکم او قانون جوړونکې په معنی راغلی ده ، ابن جریر او ابن کثیر رحمه الله علیهم دواړو لیکلی دی چې : دا آیت د هغه عربومشرکینو په هکله رانازل شوی وه چې کله به ئی ښکلی تیږه ولیده نو مخکنیی تیږه به ئی وغورځوله او بیابه ئی د هغی نوی تیږی عبادت شروع کاوه نو الله جل جلاله د همدی طرز عمل په لور د اشاری کولو په ترڅ کې ویلی دی چې دا خلک په حقیقت کې د خپل نفس بندګان دی .

ابن جوزی رحمه الله علیه د دی آیت په تفسیرکې لیکلی دی چې: المعنی یتبع الهواء ویدع الحق فهوله کالا له [ د آیت مفهوم دا دی چې دا شخص د نفس پیروی کوی اوحق پریږدی نو دا نفس ده ته د معبود په منزله دی ] 244.

عمادالدین بن کثیررحمه الله علیه فرمایی چې : ای مهما استحسن من شئ وراه حسنا فی هوی نفسه کان دینه ومذهبه [ هغه څه چې دی یی د خپل نفس د غوښتنی په اساس ښه وګڼی نو همغه د دی دین دی ] **245**.

ابوامامه رضی‌الله عنه څخه رانقل شوی چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی‌دی چې :

ماتحت ظل السماء من اله یعبد من دون الله اعظم عندالله من هوی یتبع

[ د الله په نزد د آسمان لاندی تر ټولو لوی اله چې د الله جل جلاله پرته ئی بندګی کیږی هغه نفس او خواهش دی چې پیروی کیږی246].

په دی حدیث کې اله ته مطاع اومتبوع ویلی شوی دی یعنی حاکم او قانون جوړوونکې، چې د هغه اطاعت به کیږی که څه هم د هغه حکم او خو ښه د الله دحکم موافق وی یامخالف .

---

244 زاد المسیر 6 ټوک 92 مخ

245 تفسیر ابن کثیر 5 ټوک 154 مخ

246 الترغیب لومړی تکوک 41 مخ په حواله د طبرانی په الکبیر کی

وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ

[د التوبه سورت 31 آيت]

[ او هغوی ته له یو معبود نه پرته د بل هیچا د بندګۍ کولو حکم نه ؤ ورکړی شوی هغه چې له هغه پرته بل هیڅوک د عبادت وړ نشته پاک دی له هغو مشرکانه خبرو څخه چې دوی یی کوی ].

عمادالدین بن کثیررحمه الله علیه د دی آیت په تفسیرکې لیکلی دی چې : وما امروا الا لیعبدوا الها واحدا - الذی اذا حرم الشیء فهو الحرام وما حلله فهو الحلال ما شرعه ابتع وما حکم به نفذ

[ د الله جل جلاله د واحدانیت څخه مقصد دا دی چې کله هغه کوم شی حرام کړی نو همغه حرام وی او کوم شی چی هغه حلال کړی نو هغه حلال وی اوکوم قانون چې هغه ئی نافذ وی د هغه به تابعداری کیږی او هر هغه حکم چې هغه ئی کوی هغه به جاری کیږی ] 247.

ابن جریررحمه الله علیه هم په دی ځای کې اله د معبود اومطاع په دواړو معناګانو راوړی دی : وهو الله الذی له عباده کل شی ء وطاعه کل خلق تنزیها و تطهیرا لله عمایشرک فی طاعته وربوبیته

[ الله جل جلاله هغه ذات دی چې هرڅه د هغه عبادت کوی او ټول مخلوق ئی اطاعت کوی، پاکې ده یو الله جل و علی شانه ته د هغه شیانو څخه چې هغوی یی ورسره په تابعداری او حاکمیت کې ورګډوی ] 248.

دی دواړو تفسیر پوهانو دلته اله د تشریعی حاکم او قانون جوړوونکې په معنیٰ راخستیٰ دی او د کلام د وضاحت څخه هم دغه ثابتیږی .

## رب د تشریعی حاکم په معنیٰ

د رب کلیمه په قرآن کې دری ډوله معناوله پاره استعمال شویده اوپه عربی ژبه کې ئی هم همدا دری بنیادی معنا وی راغلی : مالک -

247 تفسیر ابن کثیر 3 ټوک 386 مخ

248 تفسیر ابن جریر 10 ټوک 115 مخ

پروردګار- حاکم او پادشاه

ابن منظور رحمه الله عليه ليکلي چې: الرب يطلق في اللغه على المالک و السيد و المدبر والمربی و القيم و المنعم [ د رب دکليمې اطلاق په لغت کې په مالک ، پادشاه ، مدبراو منتظم ، مربی او محسن هم کيږي ] 249.

مفسرينوهم دا دری ډوله معنا بيان کړی ده : فربنا جل شانه السيدی الذی لاشبه له و لامثل فی سودده و المصلح امرخلقه بما ا سبغ عليهم من نعمه و المالک الذی له الخلق والامر [ زمونږ رب چې شان ئې تر ټولو لوړ، حاکم او پادشاه دی او د هغه په سيادت او حاکميت کې هيڅوک د هغه سره مشابه اوبرابر نه دی، د خپل پيدا ايښت { مخلوق } د حالت ښه کوونکې دی { د هغوی پالونکې دی }د هغه ټولو نعمتونو په واسطه چې هغه د دوی له پاره راليږی دی { پيدا کړی يې دی } او زمونږ رب مالک دی او هغه لره دی خلق {پيدا ايښت } او اختيار ] 250.

په قرآنکريم کې د الله جل جلاله له پاره د رب کليمه په 960 ځايونو کې راغلی ده چې په هغه کې142ځايونه داسی دی چې د هغی د متن او وضاحت څخه دا په ډاګه کيږی چې هلته د رب کليمه د تشريعی حاکم ، شارع او قانون جوړونکې په معنا راغلی ده او يا په دری واړو ذکر شوو معناګانو استعمال شوی ده

قُلْ يَاأَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ [د ال عمران سورت 64 آيت ]

[ ووايه ای اهل کتابو! يوی داسی خبری ته راشئ چې چې زمونږ

---

249- لسان العرب لومړی ټوک 339 مخ

250 - ابن جرير رحمه الله عليه - زادالمسيرد ابن جوزی رحمه الله عليه او ابن کثير رحمه الله عليه

او ستاسو دواړو ترمنځ يو شان ده دا چې مونږ له الله نه پرته د هيچا بندګي ونکړو له هغه سره هيڅوک شريک ونګڼو او لـه مونږ نـه دی هيڅوک له الله نه پرته هيڅ يو په ربوبيت ونه نيسئ که هغوی ددی بلنی له منلو نه مخ واړوی نو په ډاګه ورته ووايه چې شاهدان اوسئ مونږ خو مسلمانان يو او يوازی د الله جل جلالـه بندګی کـوونکې او اطاعت کوونکې يو ] .

يومشـهو رتـابعی ابـن جـريج رحمـه الله عليـه فرمـايی چـې : ان تلـک الربوبيه ان يطيع الناس سادتهم وقادتهم فی غيرعباده وان لم يصلوا لهم [ د الله پرته د بل چا رب نيولو څخه مقصد دا دی چې خلک دی [ پرتـه دکوم شرعی دليل څخه] د خپلو مشرانو او سردارانو تـابع اوسی، کـه څـه هم د هغوی عبادت [ بندګی او سرټيټونه ] نه کوی او نه د هغوی لـه پـاره لونځ ادا کوی ] 251.

يعنی هغوی ئی د غيبی طاقت خاوندان هم نه ئی ګڼلی اونـه هغـوی تـه سجده کوی ، خو د الله د حکم په مقابل کې د هغوی حکم پـه ځـای راوړی نو د دوی دغه عمل ، د هغوی د رب نيولو سره برابر دی .

امام قرطبی رحمه الله عليه د رب د نيولو تشريح په دی توګـه کـړی ده چې د کتاب خاوندانو خپل علماو او راهبانو ته د رب درجه ورکـړی وه ، د الله د تحريم او تحليل پرته ئی د هغوی تحريم او تحليل مانه - نو دا آيت ددی خبری څرګندوی دی چې يواځی په نظری ډول يوشی ته ښه ويل باطله خبره ده ترڅو چې هغه په کوم شرعیدليل ښه نه وی ښوول شوی د دی آيت څخه د شيعه ګانودا خبری هم مسترد کيږی چې وايی د امام خبره ددليـل او سند پرته هم بايد ومنل شی،او امام د الله جـل جلالـه حرام کـړی شيان حلالـولای شـی پرتـه لـه دی څخه چې د هغـه لـه پـاره کـوم شـرعی سـند

[251] - تفسير ابن جرير 3 ټوک 304 مخ

........................
راوړاندی کړی 252.

اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ [ د التوبه سورت 31 آيت ]

[ دوی خپل عالمان او روحانيون له الله پرته خپل ارباب نيولی دي ] .

د دی آيت تشريح د عدی بن حاتم رضی الله عنه څخه په رانقل شوی يوحديث کې واضح شوی چې يادونه به ئی حاکميت په بحث کې د رسول الله صلی‌الله عليه وسلم د حديثو تر عنوان لاندی وشی .

امام فخرالدين رازی رحمه الله عليه ليکې چې : زما استاد چې خاتمه المحقيقين وه ما ته به يی ويل چې ما يو ځل د ځينی مسائلو د ثبوت په خاطر دمقلدينوپه مخ کې آيتونه ولوستل نو په حيرانتيا سره يی وويل چې زمونږ د پخوانيو [ سلفو] روايات د دی په خلاف دی [ دا مرض د ډيرو خلکو په رګونوکې ځغاستی دی ]

## قضا د تشريعی حکم په معنی

د الله جل جلاله قضا په دوه ډوله معنی کيږی : تکوينی احکام – تشريعی احکام .

په قرآنکريم کې دا کليمه په 38 آيتونو کې راغلی ده چې هلته تری مقصد تکوينی او ازلی قضاء ده خو لږ تر لږه په دوه آيتونوکې د قضا کليمه د شرعی حکم يا د شرعی قانون په معنی همه راغلی ده دا د بيان يو بل شکل دی چې د هغی په اساس الهی حاکميت ثابتيږی .

وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ [د بنی اسرائيل سورت 23 آيت]

[ او ستا رب پريکړه کړيده چې تاسی د بل هيچا عبادت مه کوئ مګر يوازی د هغه ] .

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ

---

[252] - تفسير قرطبی 4 ټوک 107 مخ - په همدی ډول په تفسير الکبير- تفسيرالمدارک - تفسير البحر المحيط او مظهری د ال عمران سورت 64 آيت تفسير

......................

مِنْ أَمْرِهِمْ  [ د الاحزاب سورت 36 آيت ]

[ هيڅ يو مؤمن سړی او هيڅ مؤ منه ښځه دا حق نلری چې کله الله جل جلاله او د هغه رسول صلی‌الله عليه وسلم د کومی معاملی فيصله وکړي نو بيا د هغه ته د خپلی معاملی د فيصلی اختيار حاصل وی ] .

په دی دواړ آيتونوکې دا خبره روښانه شوی ده چې قاضی الله جل جلاله دی اوحکم کول د هغه حق دی او د هغه په مقابل کې د قانون جوړولو حق هيچاته نه دی ورکړل شوی ، په همدی توګه د امرکليمه د تشريعی‌حکم په معنا په قرآنکريم کې په 43 آياتونو کې راغلی ده او دا ورڅخه داسی ثابته شوی چې مطلقه آمريت يوازی د الله جل جلاله صفت دی .

## عبادت د حکم منلو په معنی

د عبادت اساسی معنا خو غايه الخضوع والتذلل دی يعنی د خپل معبود په وړاندی ترآخری درجی پوری عاجزی کول او د هغه په مقابل کې خپل ځان بی وسه او کمزوری ګڼل ، د همدی بنيادی مفهوم په اساس په قرآنکريم کې دا کليمه په دری معناو استعمال شويده : غلامی، پرستش، د حکم منل [ بندګی ] .

د غلامی او پرستش دمعناو مثالونه خو ډيری دی خو د عبادت کليمه د بندګی او اطاعت په معنا هم ډيره استعماليږی .

ابن منظور افريقی رحمه الله عليه ليکي چې: العباده الطاعه ... وکل من دان لملک فهوعابدله [ د عبادت معنا اطاعت اوتابع کيدل دی لکه څوک چې د کوم پادشاه [ په غيری مشروط ډول ] تابع اوسی نو هغه ته د هغه غلام ويل کيږی ] .

يعنی د کوم حکمران او مشر اطاعت کول په غير مشروط ډول، پرته له دی نه چې وګوری چې د ده حکم د شريعت مطابق دی او که نه،دا په اصل کې د هغه عبادت کول دی چې ناروا او شرک دی ، په قرآنکريم کې د الله جل جلاله له پاره د عبادت حکم او د غير الله د عبادت څخه منع

144 ځايه راغلی ده ، خو 73 ځايونه داسې دي چې هلته عبادت د اطاعت په معنا ياد شوی دی يا د پرستش او اطاعت په دواړو معناو استعمال شوی دی چې دلته د نمونې په توګه څو آيتونه تر نظر تيروو .

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ [ د البقره سورت 172 آيت ]

[ ای د ايمان خاوندانو د هغه پاکوشيانوڅخه وخوری چې مونږ درکړی دی تاسوته، او د الله جل جلاله شکرپه ځای کړی که چيری تاسی د هغه عبادت کونکې ياست ] .

ابن جريرطبری رحمه الله عليه د دی آيت په تفسيرکې ليکې چې : که چيری تاسی په ريښتونی د الله جل جلاله د حکم تابع او غاړه ايښودونکې ياست،نو هغه څه چې هغه درته حلال اوپاک ګرځولی دی هغه بې د څه تکلف څخه وخوری او په خپل ځان د هغه د حرامولو په اساس د شيطان په قدمونو قدم مه اخلی 253.

[ د الله جل جلاله له خوانه د حرامواو حلالوګرځول شوو پابندی کول هم د هغه عبادت دی نه يوائې سجده کول ] .

أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَابَنِي آدَمَ أَنْ لَا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ

[د يسن سورت 60 آيت ]

[ ای دآدم عليه السلام ځوځاته ! آيا ما تاسوته هدايت نه وه کړی چې د شيطان بندګی مکوئ هغه ستاسی ښکاره دښمن دی او يوازی زما بندګی وکړئ دغه سمه لاره ده ] .

امام فخرالدين رازی رحمه الله عليه ددی آيت په تشريح کې ليکې چې: معناه لا تطيعوه بدليل ان المنهی عنه ليس هو السجود له فحسب بل الانقياد لامره و الطاعه له فالطاعه عباده [ د آيت معنا دا ده چې د شيطان بندګی‌مه کوی دا په دی خاطرچې شيطان ته نه يوائې دا چې

253- تفسير ابن جريرطبری 2 ټوک 84

سجده کول منع دی بلکه د هغه د حکم تابع کیدل هم منع دی ځکه چې اطاعت او بندګی هم عبادت دی ] .

له دی وروسته امام رازی رحمه الله علیه یو پوستنه کوی چې آیا مونږ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د امرانوکوم اطاعت کوو دا هم عبادت دی ؟

په ځواب کې ویل شوی دی ، چې د رسول الله صلیالله علیه وسلم او اولوالامر اطاعت د الله جل جلاله د حکم په اساس کیږی ، خوکه چا د امرانو اطاعت د الله جل جلاله د نافرمانی په کارونوکې وکړ نو دا به د هغه په عبادت کې و شمیرل شی .

نوموړی امام بله پوښتنه کړی ده چې څرنګه چې شیطان [ جنی شیطان ] مونږ نه لیدلی شو او نه ئی خبره اوریدلی شو نو څنګه به ښکاره شی چې دا د شیطان عبادت دی؟

ځواب ئی دا ډول ویل شوی دی ، چې کله شیطان په نورو انسانانو کې ننوځی اوکله ستاسو په داخل کې پټ ناست وی که چیری کوم انسان تاسو ته حکم وکړ او یا په خپله ستاسی نفس تاسی یوه داسی کار ته وهڅولی چې د الله د شریعت اوحکم مخالف وی نو پوه شی چې حکم ورکونکې په تاسی کې ننوتی دی په دی وخت کې که چیری تاسی د هغه حکم په ځای کړنو دا د شیطان عبادت دی چې شرک دی ، تاسوبه ډیرخلک لیدلی وی چې د ظالموحاکمانو په دروازوکې ولاړ وی او د پادشاه د نزدی خپلولی له کبله فخرکوی او په دی خبره خوښ وی چې پادشاه زمونږ د وینا په اساس ظلم کړی دی او یا مونږ د هغی د وینا په اساس ظلم کړی دی ، همدی ته د پادشاه عبادت وایی چې شرک دی 254.

فَقَالُوا أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ [د المؤمنون سورت 47 آیت]

[ فرعونیانو و ویل چې آیا مونږ د ځان غوندی دوو انسانانو باندی

254 تفسیر کبیر 26 ټوک 96 مخ د مصر چاپ

ایمان راوړو ؟ او انسانان هم داسی چې د قوم یې زمونږ بندګی کوونکې دی ] .

ابن جریر رحمه الله علیه د دی آیت په تفسیرکې لیکلی دی چې : یعنون انهم لهم مطیعون متذللون یاتمرون لامرهم ویدینون لهم و العرب تسمی کل من دان لملک عابداً له و من ذالک قیل لاهل الحیره العباد لانهم کانوا اهل طاعه لملوک العجم [ د هغوی مقصد دا وه چې دا زمونږ تابع او ذلیل قوم دی زمونږ د حکمونو منونکوی او زمونږ اطاعت کوی ، عرب د یو پادشاه تابع شخص ته د هغه عابد وایی.حیره د عراق خلکو ته عباد یعنی غلامان ویل کیده ځکه چې هغوی د عجمو باشاهانو تابع وه ] .

## مطلق اطاعت

د اطاعت او طاعت معنی ده: لایتمارلما امر و الارتسام فیما رسم [ د ورکړل شوی حکم منل او په هغه رسم [ قانون ] تلل چې ورته ټاکل شوی وی ] .

د الله جل جلاله د مطلق او غیر مشروط اطاعت حکم د قرآنکریم په 28 آیتونو کې شوی دی او د فساقو او نافرمانه خلکو، اطاعت څخه منع والی او د هغه بدی په پنځلس آیتونو کې شوی ده ، او د الله جل جلاله د پادشاهی ذکر د قرآنکریم په 39 آیتونوکې شوی دی ، د دی پورتنی جملی څخه هم د الله جل جلاله د حاکمیت ثبوت په لاس راځی په لاندی ورکړل شوی نقشه کې د هغه آیتونو د شمیر ذکر دی چې د هغه په واسطه د الله جل جلاله تشریعی حاکمیت ثابتیږی ، دا نقشه د سرسری مطالعی وروسته تیاره شوی او که نه په قرآنکریم کې نور هم ډیر داسی‌کلیمات شته چې د هغی څخه پورتنی مضمون په ډیره ښه توګه ثابتیږی ، خو حقیقت دا دی چې ټول قرآن کریم د الهی حاکمیت دلیل دی ځکه چې دا کتاب الله جل جلاله رالیږلی د کوم انسان تالیف اوتصنیف نه دی .

د اسلامی حاکمیت اصول قرآنکریم په بیل شکل ، جملو او متنوع

.......................

اسلوب کې بیان کړی دی :

تشریعی حکم 22 آیتونه

شریعت 3 آیتونه

اله د تشریعی حاکم په معنی3 آیتونه

رب د تشریعی حاکم په معنی 142 آیتونه

قضا د تشریعی حکم په معنی 2 آیتونه

آمر د تشریعی حاکم په معنی 43 آیتونه

عبادت د اطاعت په معنی 73 آیتونه

عبد د تشریعی حاکم د تا بعدار په معنی 131 آیتونه

د مطلق اطاعت حکم 28 آیتونه

د فساقو د اطاعت څخه منع والی 15 آیتونه

طاغوت ته د تحاکم څخه منع والی 8 آیتونه

د الهی ملک 39 آیتونه

ټول ځایونه 509 آیتونه

## د الهی حاکمیت په هکله

## د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم احادیث

د الله جل جلاله د حاکمیت په هکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو شمیر ترسلګونو پوری رسی لیکن دلته د نمونی په توګه یوڅواحادیث رانقلووچې د الله تعالی د حاکمیت په هکله ښکاره دلایل دی ، د تهجد دلمانځه په وخت کې به رسول الله صلی‌الله علیه وسلم یوه اوږده دعا لوستله چې د هغی یوه جمله دا ده : وبك خاصمت و الیك تحاکمت [ زه ستا په کومک سره بحث کوم او ستا په وحی پریکړه کوم255].

ابن حجر رحمه الله علیه د تحاکمت تشریح په دی ډول کړی ده چې زه د

---

255 -بخاری باب التهجد بالیل - صحیح مسلم باب دعا النبی صلی‌الله علیه وسلم اذقام من اللیل

ټولو معاملاتو او شخړو پریکړه ستا د حکم مطابق کوم او د جاهلیت په مشرکانه رسوموباندی ئی نه کوم .

عن عبدالله بن ابی‌اوفی رضی‌الله عنه اوصی بکتاب الله تعالی

[ د عبدالله د ابی اوفی رضی الله عنه نه روایت چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم موتږ ته په قرآن د عمل کولو وصیت کړی وه256] .

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ يَحْيَى بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ سَمِعْتُ جَدَّتِي تُحَدِّثُ أَنَّهَا سَمِعَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهُوَ يَقُولُ وَلَوْ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ يَقُودُكُمْ بِكِتَابِ اللَّهِ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا و حَدَّثَنَاه ابْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ عَبْدًا حَبَشِيًّا و حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا وَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ عَبْدًا حَبَشِيًّا مُجَدَّعًا

ام الحصین رضی‌الله عنه فرمایی چې ما د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم څخه دحجه الوداع په وخت کې اوریدلی وه چې که چیری په تاسی بدرنګه تور غلام هم امیر مقرر کړی شی نو د هغی اطاعت وکړی خو په دی شرط : یقودکم بکتاب الله [ چې هغه ستاسو قیادت او مشری د الله جل جلاله دکتاب په اساس وکړی257.

عن مالك رحمه الله علیه بلغه ان رسول الله صلی‌الله علیه وسلم قال ترکت فیکم امرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتاب الله وسنه نبیه

[ ما ستاسو ترمنځ دوه شیان پریښوول تر هغی پوری چې تاسی په هغی‌منګولی لږولی وی، نو هیڅکله به ګمراه او بی لاری نه شی، یو د الله

256 - صحیح بخاری کتاب الوصایا باب الوصاه بکتاب الله

257 - صحیح مسلم کتاب الاماره باب السمع والطاعه عمل بکتاب الله

كتاب او بل د نبی صلی‌الله علیه وسلم سنت ] 258.

عن ابی هریره قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فاحذروا انی ترکت فیکم ما ان اعتصمتم به فلن تضلوا ابدا کتاب الله وسنه نبیه

[ د شیطان د پیروی څخه ځان وساتی، ما ستاسی ترمنځ هغه شی پری ایښی دی چې که چیری تاسی په هغه ټینګی منګولی ولګولی نوهیڅکله به بی لاری نه شی، یو د الله جل جلاله کتاب اوبل د نبی صلی‌الله علیه وسلم سنت 259].

عن ابی شریح الخزاعی رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ان هذا القرآن طرفه بیدالله وطرفه بایدیکم فتمسکوا به فانکم لن تضلوا و لن تهلکوا بعده ابداً

[ د ابی شریح خزاعی رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی د دی قران یوه خوا د الله جل جلاله په لاس کې ده او بله خوا یی ستاسی په لاس کې ده، دا ټینګ ونیسی نو هیڅکله به بی لاری نه شی اونه به په هلاکت کې ولویږی ] 260.

عن ابی‌ایوب الانصاری رضی‌الله عنه قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم علیکم بکتاب الله احلوا حلاله و حراموا حرامه

[ د الله جل جلاله دکتاب تابعداری په خپل ځان لازمه کړی د هغه حلال حلال وګڼی او د هغه حرام حرام وشمیری ] 261.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَعِيلَ الْوَاسِطِيُّ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ حَدَّثَنَا أَبُو فَرْوَةَ يَزِيدُ بْنُ سِنَانٍ عَنْ أَبِي الْمُبَارَكِ عَنْ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا آمَنَ بِالْقُرْآنِ مَنْ اسْتَحَلَّ مَحَارِمَهُ

---

258 - موطا مالک القدر باب النهی عن القول فی القدر

259 - الترغیب د منذری لیکنه 1 ټوک 37 مخ 1342 هجری قمری کال د مصر چاپ

260 - الترغیب د منذری لیکنه 1 ټوک 37 مخ 1342 هجری قمری کال د مصر چاپ

261 - الترغیب د منذری لیکنه 1 ټوک 37 مخ 1342 هجری قمری کال د مصر چاپ

[ د صهيب رضی‌الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی دی چې په قرآن ئی ایمان نه دی راوړی هغه چا چې د هغه حرام کړی شیان ئی‌حلال وګڼل262].

حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ الْجُعْفِيُّ قَال سَمِعْتُ حَمْزَةَ الزَّيَّاتَ عَنْ أَبِي الْمُخْتَارِ الطَّائِيِّ عَنْ ابْنِ أَخِي الْحَارِثِ الْأَعْوَرِ عَنْ الْحَارِثِ قَالَ مَرَرْتُ فِي الْمَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ يَخُوضُونَ فِي الْأَحَادِيثِ فَدَخَلْتُ عَلَى عَلِيٍّ فَقُلْتُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَلَا تَرَى أَنَّ النَّاسَ قَدْ خَاضُوا فِي الْأَحَادِيثِ قَالَ وَقَدْ فَعَلُوهَا قُلْتُ نَعَمْ قَالَ أَمَا إِنِّي قَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَلَا إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ فَقُلْتُ مَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ كِتَابُ اللَّهِ فِيهِ نَبَأُ مَا كَانَ قَبْلَكُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ وَهُوَ الْفَصْلُ لَيْسَ بِالْهَزْلِ مَنْ تَرَكَهُ مِنْ جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللَّهُ وَمَنْ ابْتَغَى الْهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللَّهُ وَهُوَ حَبْلُ اللَّهِ الْمَتِينُ وَهُوَ الذِّكْرُ الْحَكِيمُ وَهُوَ الصِّرَاطُ الْمُسْتَقِيمُ هُوَ الَّذِي لَا تَزِيغُ بِهِ الْأَهْوَاءُ وَلَا تَلْتَبِسُ بِهِ الْأَلْسِنَةُ وَلَا يَشْبَعُ مِنْهُ الْعُلَمَاءُ وَلَا يَخْلَقُ عَلَى كَثْرَةِ الرَّدِّ وَلَا تَنْقَضِي عَجَائِبُهُ هُوَ الَّذِي لَمْ تَنْتَهِ الْجِنُّ إِذْ سَمِعَتْهُ حَتَّى قَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ وَمَنْ عَمِلَ بِهِ أُجِرَ وَمَنْ حَكَمَ بِهِ عَدَلَ وَمَنْ دَعَا إِلَيْهِ هَدَى إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ خُذْهَا إِلَيْكَ يَا أَعْوَرُ

[ د حضرت حارث اعور رضی الله عنه فرمایې چې زه په جومات کې تیریدلم و می لیدل چې خلک د دنیا په خبرو بوحت دی نو زه حضرت علی رضی الله عنه ته ورغلم ومو ویل یا امیر المؤمنین ایا تاسی نه ګوری چې خلک په خبرو مشغول دی هغه وفرمایل : ایا داسی دی ؟ ما وویل هو ! حضرت علی رضی الله عنه وفرمایل ما رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایل چې ورځخه می واوریدل چې یوه فتنه راتلونکی ده ما عرض وکړه ددی څخه د ځان ساتلو کوه لاره ده هغه وفرمایل : د الله جل جلاله کتاب

262 - جامع ترمذی ابواب فضایل القرآن

دی چې په دیکې د تیرشوو قومونوحالات بیـان شـوی دی او د راتلونکـو قومونو له پاره خبر دی ، دا کتاب ستاسو ترمنځ د راپیښنو شوو شخړو او معاملوله پاره حکم {پریکړه کونکې قانون } دی .

د دی حدیث د راوی حارث اعـور رضـی الله عنـه د ثقـه والـی پـه هکلـه محدثینو خبری کړی دی ، خو ابـن کثیـر رحمـه الله علیـه وایـی چې حـارث اعور د درواغو احادیثو جوړونکې نه دی، همدغه روایت امام احمد رحمه الله علیـه هـم پـه خپـل مسـندکې نقـل کـړی دی،پـه همـدی ډول یوحـدیث د حضرت عبدالله بن مسعود رضی عنـه څخـه امـام ابوعبیـد قاسـم بـن سـلام رحمه الله علیه په خپل کتـاب فضـایل القـرآن کې او د ابـن عمـر رضـی الله عنه څخه ابن الاثیر په جامع الاصول کې رانقـل کـړی دی- خـو د هغـوی پـه سندکې حارث اعور رضی الله عنه نشته 263.

حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ يَزِيدَ الْكُوفِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ عَنْ غُطَيْفِ بْنِ أَعْيَنَ عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي عُنُقِي صَلِيبٌ مِنْ ذَهَبٍ فَقَالَ يَا عَدِيُّ اطْرَحْ عَنْكَ هَـذَا الْـوَثَنَ وَسَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فِي سُورَةِ بَرَاءَةٌ اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ قَالَ أَمَا إِنَّهُمْ لَمْ يَكُونُوا يَعْبُدُونَهُمْ وَلَكِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا أَحَلُّوا لَهُمْ شَيْئًا اسْتَحَلُّوهُ وَإِذَا حَرَّمُوا عَلَيْهِمْ شَيْئًا حَرَّمُوهُ

[ عدی رضی الله عنه فرمـایی چې کلـه زه د نبـی اکـرم صـلی الله علیـه وسلم په خدمت کې حاضر شوم نو زمـا پـه غـاړه د سرو زرو صـلیب وه نبـی صلیالله علیـه وسـلم وفرمایـل ای عـدی ! دا بـت وغورځـوه ، هغـه پـه دی وخت کې د برات د سورت دا آیت لوسته چې هغوی خپل علما ء او پیران د الله جل جلاله پرته خپل خدایان ګرځولی وه ، ویی فرمایل ښه پوه شه چې دی خلکـو د هغـوی پرسـتش نـه کـاوه خوکلـه بـه چې د دوی احبـارو او رهبانوکوم شیحلال کړ نو د هغوی مقلدینو او پیروانو بـه هـم هغـه { پرتـه

263 - جامع الاصول 8 ټوک 463 مخ

دکوم شرعی دلیل ښخه } حلال ګانه او کوم شئ به يې چې حرام کړ هغوی به حرم ګانه ] 264.

په دی آیت او په دی حدیث کې دپاپائیت او تیاکراسی ته شرک ویل شوی دی چې په هغه کې پاپ ته د تحریم او تحلیل کامل اختیارات ورکړل شوی وه او هغوی په عملی توګه اعلی حاکمان ګرځیدلی وو .

ابن جریر رحمه الله علیه دا حدیث د څلورو سندونو په اساس رانقل کړی دی په یوه روایت کې دا زیاته شوی چې[ همدغه طرز عمل د هغوی عبادت وه] اوهمدغه هغوی خپل خدایان ګرځولی وه .265

دا حدیث احمد بن حنبل ، ابن سعد ، عبدبن حمید ، محمدبن المنذر ، ابن ابیحاتم ، ابن مردویه او بیهقی رحمه الله علیهم هم په خپلو کتابونوکې رانقل کړیدی 266.

په دی احادیثوکې قرآن کریم او نبوی سنتو یعنی د الله جل جلاله له خوا نه وحی ته د واجب الاطاعت قانون درجه ورکړل شوی او د الهی حاکمیت مقصد هم همدا دی چې د الله جل جلاله له خوا را لیږل شوی قانون ته په نورو وضعی قوانینو پورته والی ورکړل شی او د الله جل جلاله وحی ته د قانون د ماخذ درجه ورکړل شی .

## د الهی حاکمیت په هکله

## د راشدینو خلفاو رضی الله عنهم تلپ لاره

د قرآن او سنتوڅخه وروسته د مسلمانانوله پاره د عمل غوره نمونه دراشدینو خلفاو رضی الله عنهم کړنلاره او سنت دی په صحیح بخاری کې د څلورو واړو راشدینوخلفاو کړنلاره په دی توګه بیان شوی ده :

فاذا وضح الکتاب والسنه لم یتعدوه الی غیره اقتدا بالنبی صلی‌الله علیه وسلم

---

264 -جامع ترمذی کتاب التفسیر سوره التور

265 -تفسیر ابن جریر 10 ټوک 114 مخ

266 - تحفه الاحوزی 4 ټوک 117 مخ د 1346 عیسوی کال د بیروت چاپ

••••••••••••••••••••••

[ د دی خلفاء رضی الله عنهم او امامانو په وړاندی به چې کله د قرآن او سنت له مخی حکم واضع شو نو د هغه څخه به یی د نبی صلی الله علیه وسلم د اتباع په خاطر تیری نه کاوه ] .

امام دارمی رحمه الله علیه چې په 255 هجری قمری کال کې وفات شوی د ابوبکر صدیق رضی الله عنه کړنلاره په دی ډول بیانوی :

أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّلْتِ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ بُرْقَانَ حَدَّثَنَا مَيْمُونُ بْنُ مِهْرَانَ قَالَ كَانَ أَبُو بَكْرٍ إِذَا وَرَدَ عَلَيْهِ الْخَصْمُ نَظَرَ فِي كِتَابِ اللَّهِ فَإِنْ وَجَدَ فِيهِ مَا يَقْضِي بَيْنَهُمْ قَضَى بِهِ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي الْكِتَابِ وَعَلِمَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ الْأَمْرِ سُنَّةً قَضَى بِهِ فَإِنْ أَعْيَاهُ خَرَجَ فَسَأَلَ الْمُسْلِمِينَ فَقَالَ أَتَانِي كَذَا وَكَذَا فَهَلْ عَلِمْتُمْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي ذَلِكَ بِقَضَاءٍ فَرُبَّمَا اجْتَمَعَ إِلَيْهِ النَّفَرُ كُلُّهُمْ يَذْكُرُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ قَضَاءً فَيَقُولُ أَبُو بَكْرٍ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ فِينَا مَنْ يَحْفَظُ عَلَى نَبِيِّنَا فَإِنْ أَعْيَاهُ أَنْ يَجِدَ فِيهِ سُنَّةً مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ رُءُوسَ النَّاسِ وَخِيَارَهُمْ فَاسْتَشَارَهُمْ فَإِنْ أَجْمَعَ رَأْيُهُمْ عَلَى أَمْرٍ قَضَى بِهِ

[ کله به چې د ابوبکر رضی الله عنه په وړاندی دوه ډلوکومه مسئله د پریکړی له پاره راوړه نو د ټولو ترمخه به یی په قرآن کریم کې د هغه د حل له پاره غور او فکر کاوه، که چیری په قرآن کې به ئی د هغه د حل کومه لاره پیدا کړه نو د هغه مطابق به ئی پریکړه کوله خوکه په قرآن کریم کې به کوم واضح حکم په لاس ورنغی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتوکې به ورته د هغی له پاره کوم حکم معلوم وه، نو بیا به ئی د همغه مطابق پریکړه کوله، خوکه چیری به په دواړو کې د حکم د میندلو څخه عاجزه شو، نو بیا به د باندی راووت او د مسلمانانو څخه به ئی پوښتنه کوله چې ما ته په دی ډول یوه موضوع راغلی آیا تاسی ته په دی هکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم کومه پریکړه معلومه ده څو ځلی داسی شوی چې د ابوبکر رضی الله عنه سره به د مسلمانانو یوه ډله یو ځای کیدله او

هریو به په دی هکله د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم پریکړه رانقلوله ، نو ابوبکر رضی‌الله عنه وویل ستاینه ده الله جل جلاله چی په مونږ کی داسی خلک شته چې زمونږ د پیغمبر صلی‌الله علیه وسلم سنت یې په یاد دی .267

دغه روایت په سنن بیهقی کې هم رانقل شوی دی خو په آخرکې ویل شوی دی چې د حضرت عمر رضی‌الله عنه هم همدغه کړنلاره وه268 .

## د الهی حاکمیت په هکله

## د اسلام سپیڅلی دین د پوهانو [ فقهاو ] ویناوی

دلته د الهی حاکمیت په هکله د مجتهدینو امامانو او مشهورو اسلامی پوهانو ویناوی وړاندی کیږی ترڅو څرګنده شی چې زمونږ پخوانی فقهاء د الهی حاکمیت په دینی اصولو کې ټول د یوه نظر خاوندان او متفق دی .

ا } امام ابوحنیفه رحمه الله علیه چې په 50 هجری قمری کال مړ شوی دی فرمایی : اخذ بکتاب الله فما لم اجد فبسنه رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فان لم اجد فی کتاب الله و لا سنه رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اخذت بقول اصحابه رضی الله عنهم اخذ بقول من شئت منهم وادع من شئت منهم و اخراج الی قول غیرهم فاما اذ انتهی الامر الی ابراهیم و الشبعی و ابن سیرین وعطاء و سعیدبن المسیب رحمه الله علیهم و عدد رجالاُ فقوم اجتهدوا فاجتهد کما اجتهدوا [ زه د الله جل جلاله په کتاب عمل کوم کله چې په هغه کې را ته کوم حکم په لاس رانه شی نو بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت را اخلم خوکه چیری په کتاب او سنت دواړوکې را ته حکم په لاس رانه شی نو بیا د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اصحابو رضی‌الله تعالی عنهم قول را اخلم د هغوی د اقوالو څخه

---

267- صحیح بخاری کتاب الاعتصام باب قول الله : وامرهم شوری بینهم

268 - تفسیر فتح الباری 17 مخ 105 مخ د سنن بهیقی رحمه الله علیه په حواله

مى چې د چا قول خوښ شو هغه اخلم او د چا مى چې خوښ نه شو پريږدم يى، خو د صحابو رضى الله عنهم د وينا و پرته د بل چا وينا نه را اخلم ،كله چې خبره ابراهيم ، شعبى ، ابن سيرين ،عطاء ، سعيد بن المسيب رحمه الله عليهم او په دى ډول نورو وګړوته ورسى نودا داسى خلک وه چې اجتهاد به 35ئىکاوه نو زه هم د هغوى په څيراجتهادكوم ] 269.

كان ابوحنيفه رحمه الله عليه يقول حرام على من لم يعرف دليلى ان يفتى بكلامى و قال لا ينبغى لاحد ان يقول قولا حتى يعلم ان شريعه رسول الله صلىالله عليه وسلم يقبله [ امام ابوحنيفه رحمه الله عليه به ويل چې حرام دى په هغه چاچې د دليل د معلومولو پرته زما په وينا فتوى وركوى ، او هيچا ته په دين کې هيڅ خبره كول مناسب نه دى، ترڅو يى پلټنه ونه کړى چې آيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم شريعت دا خبره قبلوى 270].

كان الامام الاعظم يقول اياكم وارا ء الرجال [ امام اعظم رحمه الله عليه به فرمايل چې د خلكو په ذاتى راي [ ددليل پرته] د عمل كولوڅخه لرى والى وكړى271].

ب } د امام ابويوسف رحمه الله عليه شاګرد يحيى بن يحيى رحمه الله عليه فرمايى چې ما د نوموړى امام څخه د وفات كيدو په وخت کې اوريدلى چې ويل يې : كل ما افتيت به فقد رجعت عنه الا ما وافق كتاب الله و سنه رسول الله صلىالله عليه وسلم [ ما د خپلو ټولو فتوو څخه مراجعه کړى ده پرته له هغوڅخه چې د كتاب الله او سنت رسول الله صلىالله عليه وسلم سره برابرى وى ] 272.

---

269 - تاريخ بغداد خطيب ليكنه 13 ټوک 368 مخ د بيروت چاپ - مناقب الامام عظم رحمه الله عليه للموفق الدين ملكى 1 ټوک 76 مخ

270 - الميزان الكبرى شعرانى ليكنه لومړى ټوک 58 مخ

271 - الميزان الكبرى شعراتى ليكنه لومړى ټوک 58 مخ

272 - تاريخ بغداد د بغداد خطيب ليكنه 14 ټوک 354 مخ

ابن عبدالبر ، امام شعرانی او ابن عابدین شامی رحمه الله علیهم دڅلورو واړو امامانوڅخه رانقل کړی دی چې : اذا صح الحدیث فهو مذهبی [ په صحیح حدیث عمل کول زما مذهب دی ] 273.

ج } امام مالک رحمه الله علیه 179هجری قمری کال مړ شوی دی فرمایی : الحکم حکمان حکم جا ء به کتاب الله و حکم احکمته السنه [ حکم او قانون یوائې دوه برخی لری یو دا چې د الله جل جلاله د کتاب څخه ثابت شوی وی او دوهم دا چې د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د سنتو څخه ثابت شوی وی ] 274.

د } امام شافعی رحمه الله علیه چې په 204 هجری قمری کال مړ شوی دی په خپل کتاب الام شپږم او اوم ټوک کې په دی موضوع اوږود بحث کړیدی ، هغه د کتاب او سنت څخه د آزاد قانون جوړونی او اجتهاد کونکو په هکله فرمایی چې : قال قولا عظیما لانه وضع نفسه فی رایه و اجتهاده و استحسانه علی غیر کتاب و لاسنه موضعها فی ان یتبع رایه کما اتبعا [ هغه ډیره ستره خبره کړی ده، دا په دی خاطر چې هغی خپلی ذاتی رائی ، خپل اجتهاد او خپلی خوښه ته چې په کتاب او سنت نوی بنا شوی ، د کتاب او سنت درجه ورکړی ده ، تر څو د دی د رائی او اجتهاد همداسی پیروی وکړی شی لکه څنګه چې د کتاب او سنتو پیروی کیږی 275.

په بل ځای کې لیکې چې خپله خوښه روا ګڼل داسی دی لکه څوک چېخپل ځان ته د شارع او قانون جوړونکې درجه ورکړی .

دا هم لیکې چې: لایلزم قول بکل حال الا بکتاب الله و سنه رسوله [ یوه وینا هم په هیڅ حالت کې لازم الاتباع نه ګرځی پرته له دی څخه چې په کتاب او ستنوکې د هغه له پاره کوم دلیل موجود وی ] .

---

273 - مجموعه شامی ا ټوک 63 مخ د 1324 هجری قمری کال د مصر چاپ

274 - جامعه بیان العلم د ابن عبدالبر 2لیکنه ټوک 25 مخ

275 - کتاب الام د امام شافعی لیکنه 2 ټوک 200 مخ

ها} امام احمد بن حنبل رحمه الله عليه 241 هجری قمری کال مړ شوی دی خپل یوه شاگرد ته د نصیحت کولوپه ترڅ کې ویلی وه چې : لا تقلدنی ولا تقلد مالکا ولا الشافعی ولا الاوزاعی ولا الثوری رحمه الله علیهم وخذمن حیث اخذوا [ مه زما تقلیدکوه، نه د مالک نه د شافعی نه د اوزاعی نه دثوری رحمه الله علیهم بلکه د هغه منبع څخه احکام واخله دکومه ځایه چې دوی بزرگانو اخستی وه276].

امام احمد رحمه الله علیه 228 هجری قمری کال مړ شوی دی د خلق قرآن د فتنی په وخت کې ئی معتصم عباسی خلیفه ته په یوه ویناکې وویل یا امیرالمومنین : اعطونی شیأُ من کتاب الله و سنه رسوله حتی اقوال به [ یاامیرالمومنینه ! دکتاب الله او سنتو له مخی په [خلق قرآن باندی ] کوم دلیل را وړاندی کړه چې زه یی ومنم ] 277.

و } امام ابن حزم رحمه الله علیه چې په 456 هجری قمری کال کی مړ شوی دی لیکلی دی چې : دین الاسلام اللازم لکل احد لایوخذ الا من القرآن او مما صح عن رسول الله صلی‌الله علیه وسلم [ د اسلام د دین احکام چې پیروی ئی په هرچا لازمه ده د قرآن او صحي حدیثونه پرته د بل څه څخه نه اخستل کیږی ] 278.

ز } امام فخرالاسلام بزدوی حنفی رحمه الله علیه 482 هجری قمری کال کی مړ شوی دی لیکلی دی چې : و اصل الشرع الکتاب والسنه [ د شرعی قوانینو ماخذکتاب او سنت دی 279]

ح } امام غزالی رحمه الله علیه چی په 482 هجری قمری کال مړ شوی دی لیکلی دی چې : فانما النافذ حکم المالک علی مملوکه و لا مالک

---

[276] - اعلام الموقعین 2 ټوک 302 مخ

[277] - مناقب الامام الاحمد بن جوزی 401 مخ د1979 عیسوی کال چاب البدایه و الناهیه 10 ټوک 333مخ

[278] - المحلی لابن حزم لومړی ټوک 50 مخ د احمدشاکر په تحقیق د بیروت چاب

[279] الاصول د بزدوی لیکنه 6 مخ د پاکستان کراچی چاپ -

الا الخالق فلا امر والا حكم الا لـه [ په غـلام يـوائى د خپـل مالـک حکم نافذيدلاى شى، نوڅرنګه چې د خالق پرته بـل مالـک نـه شـته نـو پس د همغه پرته بل څوک د حکم کولو حق نه لری280.

ط } شيخ الاسلام ابن تيمه رحمه الله عليه 728 هجرى قمرى کال کې مړ شوى دى ليکلى دى چې : والشريعه انما هى كتاب الله و سنه رسول الله صلى الله عليه وسلم و ما كان عليه سلف الامه فى العقائد و الاحوال و العبادات و الاعمال و الاحكام و السياسيات [ شرعى قانون هغه دى چې د کتاب او سنتو څخه ثابت شوى وى او سلفو پرى عمل کړى وى ، د عقائدو او اخلاقو له پلوه هم، د عباداتو او اعمالوله خوا هم او د احکامو او سياسياتونو له خوا هم 281].

ى } امام ابن قيم رحمه الله عليه چې په 751 هجرى قمرى کالې مړ شوى دى ليکلى دى : لا واجب الا ما اوجبه الله ورسوله ولم يوجب الله و رسوله على احد من الناس ان يتمذهب بمذهب رجل من الامه [ د اتباع وړحکم هغه دى چې الله جل جلاله او د هغه رسول واجب کړى وى ، الله جل جلاله او د هغه رسول صلى الله عليه وسلم په هيڅ دا واجب کړى نه دى چې د امت څخه د يوه کس مذهب دى لازماً اختيارکړى282].

ک } امام ابواسحق الشاطبى رحمه الله عليه چې په 790 هجرى قمرى کال مړ شوى دى ليکلى دى : د علماء او فقهاو پيروى په دى خاطرنه کيږى چې هغوى په مطلق ډول د حکم ورکولو او قانون جوړولو په منصب فائز وى دا منصب يوائى هغه شريعت ته حاصل دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم باندى نازل شوى وه 283.

---

280 - المستصفى د امام غزالى ليکنه لومړى ټوک 53 مخ د مصر چاپ

**281** - مجموعه فتاوى شيخ الاسلام 19 ټوک 308 مخ 1382 هجرى قمرى کال چاپ د سعودى رياض چاپ

282 - اعلام الموقعين 4 ټوک 131 مخ

283 - الاعتصام د شاطبى ليکنه 3 ټوک 250 مخ 1914 ميلادى کال د مصر چاپ

ل } قاضی بیضاوی رحمه الله علیه چې په 791 هجری قمری کال کې مړ شوی دی لیکلی دی چې : الفصل الاول فی الحاکم و هو الشرع دون العقل [ حاکم او د قانون ماخذ عقل نه دی بلکه د الله جل جلاله شریعت وی 284].

م } علامه ابن الهام حنفی رحمه الله علیه چې په 861 هجری قمری کال کې مړ شوی دی لیکلی دی : الحاکم لا خلاف فی انه الله رب العالمین [ په دی هکله هیڅ اختلاف نه شته چې حاکم رب العالمین په خپله دی 285].

ن } قاضی شوکانی رحمه الله علیه چې په 750 هجری قمری کال کې مړ شوی دی لیکلی دی : لا خلاف فی کون الحاکم الشرع [ په دی هکله هیڅ اختلاف نه شته چې د الله شریعت حاکم دی 286].

## په حکم کې شرک

په تیرو شوو پاڼو کې د 509 قرانی کلیمو لس حدیثونو د راشدینو خلفاو د کړنلاری او د څوارلس مشهورو فقهاو د ویناوو څخه دا راپه ډاګه شویده چې حاکمیت د الله جل جلاله صفت دی او د قانون ماخذ قرآن او سنت ی د دی څیړنی څخه دا ثابتیږی چې د الله جل جلاله پرته بل چاته د حاکمیت ، شارعیت او په غیر مشروط ډول قانون جوړونی واکی ورکول په حکم کې شرک [ شرک فیالحکم ] دی ، چې د شرک بدی او مذمت د قرآن کریم په 168 ځایونو کې بیان شوی چې دلته ئی د نمونی په توګه یو څو آیتونه را اخلو چې د هغه څخه د شرک فی الحکم [ په قانون جوړونه کې د شرک ] بدی بیان شوی ده .

وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرْ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ

---

284 - منهاج الاصول په حاشیه تحریرالاصول 1 ټوک 91 مخ

285 - تحریر الاصول سره د شرحه 2 ټوک 250 مخ

286 - ارشاد الفحول د شوکانی لیکنه 1937 میلادی کال د مصر چاپ

إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ

[د الانعام سورت 121 آيت]

[ او د هغه ځارويو چې د الله د نوم په اخيستلو نه وی ذبحه کړای شوی غوښه مه خوری دا کار فسق دی شيطان د خپلودوستانو په زړونوکې شکونه او وسوسی اچوی ، تر څو چې هغوی له تاسی سره شخړه وکړي خو که تاسی د هغوی اطاعت وکړ تاسی به په باوري توګه مشرکان ياست ] .

د مائدی د سورت په لومړی آيت کې ئی د هر ډول مرداری غوښی خوړل حرام کړی دی چې مرداره غوښه په دری ډوله ده : لومړی دا چې د حلولو پرته مړ شی ، دوهم د کوم مؤمن يا د کتاب د خاوندانو پرته ئی بل کوم مشرک ذبح کړی ، دريم داچې دالله جل جلاله د نامه پرته د بل چا په نوم حلاله کړی شوی وی نو په پورتنی آيت کې د همدی دريم ډول لورته اشاره شوی ده ځکه چې د هغوی دحرمت په هکله شيطانانو د دوی په زړونو کې شکوک پيدا کول ، نوالله جل جلاله مسلمانانوته وويل چې که چيری تاسی د شيطان د دی شکوکود تاثير لاندی راشی او دهغوی خبره ومنی نوتاسوبه هم مشرکان شی ښکاره ده چې د دی څخه شرک فی‌الحکم [ په حکم کې شرک ] مقصد دی .

امام رازی رحمه الله عليه فرمايی چې : و فيه دليل على ان كل من احل شيا مما حرم الله اوحرم شيا مما احل الله فهو مشرك وانما سمى مشركا لانه اثبت حاكما سو الله تعالى وهذا هو الشرك [ په دی آيت کې ددی خبری دليل موجود دی چې هرڅوک چې د الله جل جلاله حرام کړی شيان حلال او حلال کړی شيان حرام وګرځوی نو هغه مشرک دی ، هغه ته د مشرک د ويلو علت دا دی چې هغه د الله جل جلاله پرته نورخلک حاکمان [ قانون جوړونکې ] ګرځولی دی ، چې دا په خپله شرک دی ] .287

قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله عليه وايی چې : قال الزجاج فان من

287 - تفسيرکبير13 ټوک 180 مخ - تفسير قرطبی نقل د ابن العربی نه 7 ټوک 77 مخ

ترک طاعه الله او اطاع غیره واتبعه فی دینه فقد اشرک [ امام زجاج لغوی رحمه الله علیه ویلی دی چې هغه څوک چې د الله تابعداری نه کوی یا د دین په هکله د الله جل جلاله پرته د نورو اطاعت کوی نوهغه د شرک مرتکب گرځی ] 288.

وَكَذَلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ شُرَكَاؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ [ د الانعام سورت 137 آیت ]

[ او په همدی ډول ډیرو مشرکانو ته د هغوی شریکانو د هغوی اولاد وژنه ښایسته کړی ده ترڅو چې هغوی له تباهی سره مخامخ کړي او هغوی د خپل دین په باب په اشتباه کې واچوی ].

د هغوی دا شریک څوک وه، چې دا قانون ئی جوړکړی وه چې خپل اولاد و وژنی؟

قتاده رحمه الله علیه په دی هکله فرمایی چې دلته تری نه د مشرکینو مشران او رئیسان مقصد دی - فرا او زجاج رحمهم الله وایی چې د بت خانو منجاوران تری مقصد دی ، لیکن ماوردی رحمه الله علیه وایی چې دا یو سرکش انسانان وو 289.

هغوی ته ئی په دی خاطر شریک ویلی دی چې خلکو د الله جل جلاله د قانون په مقابل کې د هغوی جوړ کړی قانون [ د اولاد قتلول ] اطاعت شروع کړی وه [ هغوی یی په حکم کې شریکان کړی وه ] .

انی‌کفرت بما اشرکتمون من قبل [ زه مخ اړونکې [انکاری ] یم له دی نه چې تاسی شریک کرځولی وم د الله جل جلاله سره پخواه تر دی ] 290.

امام رازی حمه الله علیه فرمایی چې : کانوا یطیعون الشیطان فی اعمال الشرک مایطیعون الله فی اعمال الخیر وهو المراد بالاشراک [ دی خلکو په بدو کارونوکې دا ډول د شیطان پیروی کوله لکه څنگه به ئی چې

---

288 - -تفسیر مظهری 3 ټوک 283 مخ

289 - زاد لمیسر3 ټوک 357 مخ

290 - د ابراهیم سورت 22 آیت

په نیکوکارونوکې د الله جل جلاله اطاعت کاوه [ د شریک جوړولوڅخه همدا مقصد دی ] .

شاه ولیالله محدث دهلوی رحمه الله علیه چې په 1176هجری قمری کال کې مړ شوی فرمایلی چې : و اشهد بالله انه کفر بالله ان یعتقد فی رجل من الامه ممن یخطیء ویصیب ان الله اوجب علی اتباعه حتما و ان الواجب علی هو الذی یوجبه هذا الرجل علی [ زه په الله قسم یادم او ګواهی ورکوم چې داسی عقیده لرل کفر دی چې ګویا الله په مونږ د امت د یوه داسی فرد پیروی او اطاعت لازم ګرځولی دی چې رایه یې صحیح او غلط کیدای شی او یا دا ډول عقیده لرل هم کفر دی چې ووایې پرما همغه حکم واجب دی ، چې فلانی شخص پر ما لازم ګرځولی دی ] .291

د شاه ولی الله مقصد په داسی خلکو رد کول دی چې د قرآن او سنتو د واضحو احکامو په مقابل کې د بل چا د جوړ شوی قانون او جاری شوی لاری پیروی کوی [ دلته په غیر منصوص امورو کې د اسلام د فقها و او مجتهدینو د اتباع څخه منع کول د هغه مقصد نه دی ] .

د شاه ولیالله رحمه الله علیه زوی شاه عبدالعزیز رحمه الله علیه د دهلی لوی محدث چې په 1249هجری قمری کال کې مړشوي فرمایی چې : اطاعت غیر او تعالی بالاستقلال نیر کفر است و معنی اطاعت عیر بالاستقلال آنست که او را مبلغ احکام ندانسته و ربقئه تقلید او درګردن اندازد و تقلید او را لازم شمارد و با وجود ظهورمخالفت حکم او تعالی جل جلاله دست از اتباع برندارد این هم نوعي است از اتخاذ انداد که درآیت آتخذوا احبارهم ... نکوهش آن فرموده اند

" په مستقل ډول د غیر الله اطاعت کول هم کفر دی د مستقل ډول څخه مقصد دا دی چې هغه د احکامو د مبلغ ګڼلو په ځای د هغه د تقلید کړی په غاړه کې واچوی ، او د هغه تقلید په ځان لازم وشمیری ، که چیری د دی حکم د الله جل جلاله دحکم مخالف هم وی نو بیا هم د هغه د اتباع

---

[291] - التفهیمات الالهیه ا ټوک 211 مخ د مجلس علمی ډهابیل چاپ

څخه لاس نه اخلی نو دا هم د الله جل جلاله سره د شریک جوړولو یو نوع ده ، لکه څنګه یی چې په "اتخذوا احبارهم ... " کې په ډاګه فرمایلی دی[292].

د سورت النساء د 105 آیت څخه تر115 آیت پوری په دوو رکوعګانوکې د منافقینو ذکر شوی، چې د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په پریکړی خوښ نه وه د هغه وروسته یی په 116 آیت کې فرمایلی : " بی شکه چې الله جل جلاله بخښنه نه کوی هغه چا ته چې د هغه سره څوک شریک کوی ".

ددی آیت په توضیح کې د شاه ولی‌الله رحمه الله علیه بل زوی شاه عبدالقادر رحمه الله علیه چې په 1230 هجری قمری کال مړ شوی دی لیکلی دی چې : پورته د منافقانو ذکرو شوی ؤ چې د پیغمبرصلی الله علیه وسلم په حکم راضی نه وه ، او په بیله لار تلل ، بیا یی دا آیت راولیږه چې الله جل جلاله شرک نه بښی" که چا په حکم کې د الله جل جلاله سره څوک ه شریک کړ [ د اسلام د دین پرته د بل دین حکم یې ومانه او د هغی په قانون ولاړ ] نو د اسلام ددین پرته په بل هردین عمل کول شرک دی که څه هم په عبادت کې ئی شرک نه وی کړی 293.

د شاه ولی‌الله رحمه الله علیه شاګرد قاضی‌ثناء الله پانی پتی رحمه الله علیه فرمای چې :اذا صح عند احد حدیث صحیح مرفوع من النبی صلی الله علیه وسلم سالما عن المعارضه و لم یظهر له ناسخ و کان فتوی ابی حنیفه رحمه الله علیه خلافه و قد ذهب علی وفق الحدیث احد من الائمه الاربعه یجب علیه اتباع الحدیث الثابت ولایمنعه الجمود علی‌مذهبه من ذالک کیلا یلزم اتخاذ بعضنا اربابا مُن دون الله - روی البیهقی فی المدخل باسناد صحیح الی عبدالله بن مبارک رحمه الله علیه قال سمعت اباحنیفه رحمه الله علیه یقول اذاجاء عن النبی فعلی الراس والعین [ کله

292 - تفسیرعزیزی د البقره سورت " فلاتجعلواالله اندادا "
293 - موضع القرآن د النساء سورت 116 آیت

## نیو لیك

چې چا ته د نبیکریم صلی الله علیه وسلم صحیح مرفوع حدیث په لاس ورشی او د هغه په مقابل کې بل کوم حدیث موجود نه وی او منسوخ هم نه وی او د امام ابوحنیفه رحمه الله فتوی د دی حدیث په خلاف وی ، خو د ځلورو امامانوڅخه د یوه فتوی د دی حدیث سره برابره وی نو د حدیث اتباع واجبه ده ، او په خپل فقهی مسلک د حدیثو د اتباع په لارکې خنډ نه شی ، ترڅو یو بل د خپل ځان رب جوړول لازم و نه ګرځوی - امام بیهقی رحمه الله به مدخل کې د عبدالله بن مبارک رحمه الله ع څخه په صحیح سند رانقل کړی دی فرمایلی چې ما د امام ابوحنیفه رحمه الله څخه اوریدلی دی چې زه د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم حدیث د سرپه سترګو منم .

مولانا شبیراحمد عثمانی رحمه الله د سورت النساء د 116آیت ګټهی داسی بیانوی " شرک یوازی دا نه دی چې د الله جل جلاله پرته د بل چا بندګی وکړی شی بلکه د الله جل جلاله د حکم په مقابل کې د بل چا حکم منل اوخوښوول هم شرک دی .

مولانا عثمانی رحمه الله علیه د سورت النساء د آخری آیت حاشیی او ګټهو کې هم په " شرک فی الحکم" باندی تفصیلی بحث کړیدی .

د الله جل جلاله پرته نور د شارع حاکم او قانون جوړونکې په حیث منل اوهغوی ته دا حق ورکول چې څنګه مو خوښه وی قانون جوړکړی ، هغه بدترین شرک دی چې نن پری مسلمان حکومتونه ککړ دی ، او خلک هم د دی مشرکانه نظامونو لاندی ژوند تیروی ، په مسلمانانو فرض دی چې د مشرکانه نظامونو د پای ته رسولو او د اسلامی توحیدی نظام د قیام په خاطر یو موټی شی ، مخلصانه هلی ځلی شروع وکړی او په هغه ځایونو کې چې دا ډول هلی ځلی له پخوا شروع شوی وی نوری هم ګړندی کړی ...

اللهم انصر من نصر دین محمد صلی‌الله علیه وسلم وجعلنا منهم

**الهی حاکمیت**

## د سليم عقل په رڼا کې

الهی حاکمیت یوه عقیدوی او ایمانی مسئله ده ، او د یوه مؤمن له پاره اصل دلیل کتاب الله او سنت رسول دی ، خوکه چیری کومه خبره د انسانی عقل د لاری هم ثابته شی نو ایمان کې به نورکلکوالی هم راشی نو په دی خاطر لازمه ده چې دا مسئله د عقل په رڼا کې هم وڅیړله شی .

د قرآنکریم په 49 ځایونو کې د عقل یادونه شوی د دی معنی یا دی ورته معنی قلب [ زړه ] دی چې د قرآنکریم په 135ځایوکې ئی یادونه شوی ده د عقل او زړه په واسطه انسان راکړه ورکړه کوی . خو کله عقل سالم وی او کله ناروغ ، نو په دی خاطر دا د الله جل جلاله د ډیر لوی نعمت سره سره د شیانوپه درک او د ګټی او تاوان ترمنځ په توپیکې په پوره ډول کفالت نه شی‌کولای ، بلکه د الله جل جلاله لارښوونی ته اړوی ، نو ځکه یواځی پدی پوره باورنه شی‌کیدلای .

## د انسانی عقل حقیقت

د عقل کلیمه دعقل یعقل د باب څخه د مصدر صیغه ده ، چې معنای بندول ، تړل او بچ کول دی د اوښ تړلو ته "عقل البعیر" ویل کیږی، قلعی ته معقل وایی‌ځکه چی د دښمن د حملی څخه د بچکیدو ځای دی ، په عقل د قلب اطلاق هم کیږی او په قلب د عقل اطلاق هم کیدای شی 294.

د همدی اساسی مفهوم له نظره د عقل اطلاق د غور ، فکراو د پوهی په هغه قوت کیږی چې الله جل جلاله په فطری ډول د انسان په زړه کې پیدا کړی دی .

حارث بن اسد محاسبی رحمه الله علیه فرمایلی دی : انه عریزه یتهیا بها ادراک العلوم النظریه وکانه نور یقذف فی القلب به یستعد لا دراک الاشیا ... [ عقل هغه فطری قوت دی چې د هغه په واسطه د نطری علومو

---

[294] - د تفصیل په خاطرمفردات القرآن 346 مخ باب العین - لسان العرب 11 ټوک 458 مخ باب اللام وګوری

د درک استعداد پیدا کیږی او دا یوه روښانتیا ده چې په زړه کې اچول کیږی چې د هغی په اساس د شیانو د پیژندنی استعداد را پیدا کیږی [295].

امام ابوالحسن اشعری رحمه الله علیه چی په330 هجری قمری کال کې مړ شوی دی فرمایلی دی چې: العقل تمیز و کیاسه و اصلاح معیشه و فراسه و به یتوجه الخطاب الشرعی [ عقل تمیز او پوهه ده، فراست او زیرکې ده چې د هغی په اساس ژوند اصلاح کیږی او د عقل په اساس انسان ته شرعی حکم متوجه کیږی ]296.

د عقل اطلاق په علم هم کیږی[ پوهیدل ، درک کول ، پیداکول ، پیژندل ]297.

علم په اصل کې د عقل میوه ده لکه څنګه چې د انګور بیخ ته هم انګور ویل کیږی ، نو د هغی میوی ته هم انګور ویل کیږی - په همدی ډول عاقله قوت ته هم عقل وایی او د هغی میوی یعنی علم او پوهی ته هم عقل وایی.

په صراح اللغات کې د عقل معنا " خرد و دانش " هم شوی ده او د " دریافتن " په معنی هم راغلی دی - عاقله قوت ته عقل مطبوع یعنی طبیعی عقل وایی او عقل د علم په معنا ته عقل مسموع یعنی کسبی علم وایی 298.

## د عقل اقسام

### د امام غزالی او مولانا روم رحمه الله علیهم له نظره :

[295]- احیاء العلوم د امام غزالی لیکنه لومړی ټوک 64 مخ د علم باب د 1322میلادی کال د مصر چاپ - مفردات القران 346 مخ

[296] - التمهید فی بیان التوحید د ابی شکور سامی رحمه الله علیه لیکنه 4 مخ د 1309 هجری قمری کال د هندوستان دهلی چاپ

[297] - مفردات القران 346 مخ

[298] - احیاء العلوم لومړی ټوک 64 مخ

امام غزالی رحمه الله علیه د احیاء العلوم د کتاب العلم اوم فصل کې د عقل حقیقت ، اهمیت او د هغې د درجاتو او اقسامو د بیانولو له پاره مخصوص کړی دی . هغه د عقل څلور ډول بیان کړی دی .

ا } طبیعی عقل یعنی د غور ، فکر او ادراک فطری عاقله قوت .

ب } طبیعی عقل یعنی هغه علم چې د هغه د لاس ته راوړو له پاره ډیر غور او فکر ته اړتیا نه وی ، او نه په کې د نظریاتو اختلاف موجود وی لکه وایو چې د دوو عدد د یو له عدد څخه لوی دی .

ج } تجربی عقل یعنی هغه علم چې د تجربی په واسطه لاس ته راځی . تجربه کار سړی ته عاقل ویل کیږی . او هغه څوک چې د تجربو څخه نتایج لاس ته نه شی راوستلی هغه ته غیبی او غافل ویل کیږی .

د } دور اندیش عقل یعنی هغه پوخ عقل چې په خپل نظر انجام انجام یې ساتی، د وخت ګټې او خوند پسې نه ګرځی او نه پری خواهشات او جذبات غالبیدی شی بلکه دی په هغوغالب وی .

د لومړی ډول مثال د ونی د بیخ په څیر دی ، د دوهم او دریم ډول مثال د هغې د څانګو او پاڼو په څیر دی او د څلورم ډول مثال د ونی د میوی په څیر دی 299.

مولانا روم رحمه الله علیه چې په 672 هجری قمری کال وفات شوی دی د عقل دوه ډولونه بیان کړی دی :

ا ] جزوی عقل هغه ماده پرست عقل چې د محسوساتو او مادی پولو پابند وی ، او د تل له پاره د مادی ګټو ، حیوانی غوښتنو او ذاتی اغراضو په فکر کې وی ، د دی عقل میوه اوهام او شکوک وی ، او د ظلماتو[ تیارو] عالم د دی وطن دی او د غتې بدنامی باعث ګرځی

عقل جزوی آفتش وهم است وطن
زانکه در ظلمات شد او را وطن
عقل جز وی عقل را بدنام کرد

299 - احیاء العلوم لومړی ټوک 64 مخ

کام دنیا مرد را بی کام کرد

[مثنوی ]

ب ] ایمانی عقل : هغه عقل دی چې د انبیاء علیه السلام د لارښوونو په رڼا کې غور او فکرکوی – د دی عقل د فکر دائره یواځی حیوانی ، جسمانی او مادی ګټې نه وی بلکه د دی اصلی توجه روحانی ، اخلاقی او د آخرت د همیشنی مصلحت په لور وی ، دا عقل د اطمینان او سکون باعث ګرځی، د نفس د غوښتنو څخه آزاد وی او د زړه له پاره د څوکیدار حیثیت او مقام لری

عقل ایمانی چوشحنه عادل است
پاسبان و حاکم شهر دل است
عقل در تن حاکم ایمان بود
که همیش نفس در زندان بود

[مثنوی ]

مولانا روم رحمه الله علیه پخپل څلورم دفتر کې د انسان دری ډولو نه بیان کړی دی :

ا- پوره عاقل چې د نبوت نور او د رسالت مشال له ځان سره ولری دغه انسان قائد او مشر وی .

ب - نیم عاقل چې د نور خاوند نبی صلیﷲ علیه وسلم د خپلو سترګو نور وګرځوی هرڅه د همغه نور په رڼا کې وګوری او په هره معامله کې په هغه داسی باور وکړی لکه څنګه چې یو ړوند یی په خپل لارښود باندی کوی .

ج - شقی لا شی [ بد بخت او بی کاره ] چې بلکل جاهل او نا پوهه وی نه په خپله څه رڼا ورسره وی او نه بل د رڼا خاوند د خپل قائد په حیث منی .

عاقل آن باشدکه با او مشعل است

او دليل و پيشواى قافله است
د يكرى نيم عاقل آمد او
عاقلى را ديده خود داند او
دست د روى زد چو كور اندر دليل
تا بدو بينا شد و چست و جليل !
و آن خرى كز عقل چو سنكې نداشت!
خود نبودش عقل و عاقل را كذاشت
[ مثنوى څلورم دفتر ]

مولانا روم رحمه الله عليه عقل تمام ته په بل ځاى كې عقل كل ويلى دى او د هغه رڼا يى د لمر سره مشابه كړې ده دا عقل د مشكو په مثال دى او د عامو خلكو عقل د هغى د خوشبو يى په ډول ده.

هست عقلى هم چو قرص آفتاب
هست عقلى كمتراز زهره و شهاب
عقل هاى خلق عكس عقل او
عقل او مشک و عقل خلق بو
عقل كل و نفس كل مرد خدا است
عرش وكرسى را مدان كزوى جداست
مظهر حق است ذات پاک او
زد بجو حق را و از ديكر مجو !!
[ د مثنوى پنځم دفتر ]

## د انسانى عقل اصلى ځاى

د پورتنى تفصيل څخه معلومه شوه چې د غزالى رحمه الله عليه د وينا له مخى " عقل دوراندیش " او د رومى رحمه الله عليه د وينا له مخى" عقل ايمانى" په صحيحو معناو سره سليم عقل دى او د دى دكار صحيحه دائره دا ده چې هغه د الهى وحى په رڼا كې غور او فكر كوى نو كه چيرى عقل په خپله كفالت كولى نو الله جل جلاله به نه انبياء راليږلى وى او نه

به يې کتابونه رانازل کړي وي ، په قرآن کريم کې د دې همدا حيثيت بيان شوی دی د بقره د سورت د236 آيت څخه تر241 آيت پورې د مهر، طلاق او وصيت د ځينې احکامو د بيانولو نه وروسته يې فرمايلي دي چې :

كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ

[ په همدې ډول بيانوي الله جل جلاله تاسو ته خپل احکام ترڅو تاسې فکر وکړې او پوه شي ] .

د نور د سورت د 58 آيت څخه تر61 آيت پورې د پردې اوڅه نورو کورنې قوانينو د بيانولو وروسته يې فرمايلي دي :

كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ

[ په همدې توګه بيانوي الله جل جلاله تاسې ته خپل احکام ترڅو تاسې فکر وکړې او پوه شي ] .

د يوسف عليه السلام په سورت د يوسف کې فرمايي چې:

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ

[ مونږ نازل کړی دا کتاب په عربي ژبه ترڅو تاسو فکر وکړې او وپوهيږې ] .

د دې ډول آيتونو څخه مقصد دا دی ، چې د الهي وحې څخه آزاد انساني عقل معتدل ، برابر او ګټور قانون نه شي معلومولی. د عقل اصلي کار دا دی چې هغه د الله جل جلاله د پولو دننه غور او فکر وکړي ، بلکه د الهي وحې او انبياو عليهم السلام، د لاربښوونو پرته په آزادۍ سره فکرکوونکو او د خپله ځانه کومه لاره پلټونکو ته قرآنکريم سفهاء يعنې بې عقله ويلي دي 300.

په طبيعي علومو کې د عقل او تجربې څخه حقايق تر يوې اندازې پورې را برسيره کيږي ، خو د الهياتو او اخلاقياتو په دائره کې انساني عقل ته هيڅ مستقل حيثيت نه دی ورکول شوی ، بلکه د هغه څخه د

---

[300] - د البقره سورت 13 - 30 - 142 آيتونه

غلطی کیدلو امکانات په هر وخت کې موجود وی ، امام غزالی رحمه الله علیه فرمایی چې کله ما د علم الکلام څخه وروسته د فلسفی مطالعه مستقیما پیل کړه نو د دری کاله ژوری مطالعی څخه وروسته زه دی نتیجی ته ورسیدم چې : حتی اطلعت علی ما فیه من خداع و تلبیس و تحقیق و تخییل اطلاعا لم اشک فیه [ حتی چې زه د فلسفی د هرڅه نه خبره شوم په هغه کې یوڅه فریب او غولول دی ، یوڅه صحیح خبری په کې هم شته اوڅه په کې تخیل دی ما ته د دی داسی معلومات وشو چې په هغه کې هیڅ شک نه شته ] 301.

امام فخرالدین رازی رحمه الله علیه چې په 606 هجری قمر ی کال کې مړ شوی او د فلسفی او منطق استاد وه په دی هکله یی نزدی دوه زره کتابونه لیکلی دی خو آخر دی نتیجی ته ورسیدچې : لقد اختبرت الطرق الکلامیه و المناهج الفلسفیه فلم اجدها تروی غلیلا ولا تشفی علیلا ورئیت اقرب الطرق طریقه القرآن [ ما د علم کلام او فلسفی ټول لاری امتحان کړی چې یوه یی هم نه دکوم تږی سړی تنده ماتولای شی ، او نه د کوم ناروغ علاج کولی شی، ما ولیدله چې نزدی او آسانه لاره د قرآن لار ده ]302.

ابواسحق الشاطبی رحمه الله علیه فرمایی چې : قد علم بالتجارب و الخیره الساریه فی العالم من اول الدنیا الی الیوم ان العقول غیر مستقله بمصالحها استجلابا لها ومفاسدها استدفاعالها [ د دنیا د پیل څخه تر اوسه پوری د تجربو او علم په رنا کې دا ثابته شوی چې عقول د مصالحو د لاسته راوړلو او د مفاسدو څخه د ځان ساتلو په لړ کې مستقل قوت او استعدادنه لری 303].

د علامه اقبال رحمه الله علیه په شان فیلسوف هم په دا رنګه ویلو

---

[301] - المنقذ من الضلال 17 مخ د1971 میلادی کا ل د پاکستان لاهور چاپ

[302] - البدایه و اللنهایه 13 ټوک 56 مخ

[303] - الاعتصام د شاطبی رحمه الله علیه لیکنه

مجبور شوی دی .

عقل بی مایه امامت کې سزا وار نهین
راهبر هو ظن و تخمین تو زبون کار حیات
خرد کې کهتیان سلجها چکا هون
میرے مولا مجھے صاحب جنون کر
پڑھ لیے مین نے علوم شرق و غرب
روح مین باقی ھے اب تک درد وکرب
عالم ھے غلام اس کے جلال ازلی کا
اک دل ھے که هر لحظه الجهتا ھےخرد سے

[ یوازی په نوم او بې‌ګټې عقل د امامت او مشری وړنه دی ، ځکه کله چېلاربشود ګمان او خیال شی نو بیا ژوند د تباهی په لور روان شی، د عقل د ټولو نغښتو او تاوو راتاوو پړاونو څخه تیر شوی یم نو ای زما مولا ما اوس د لیونتوب خاوند زکړه ، ما د ختځ او لویدیځ ټول علوم ولوستل خو زما په روح کې تر اوسه پوری درد او تکلیف پاته دی ، ټول پیدا ایښت د هغه د ازلی جلال غلام دی یوازی زړه دی چې په هر وخت کې د عقل سره په جنګ وی ] .

## د عقلی دلائلو تفصیل

**لومړی دلیل :**

**أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ** [د الاعراف سورت 54 آیت ]

د الهی حاکمیت تر ټولو لومړی عقلی دلیل : هغه څوک چې خالق دی هغه مالک هم دی او څوک چې مالک دی هغه حاکم هم دی نو څرنګه چې دا ټول د الله جل جلاله پیدا ایښت دی نو له دی امله پری دهمغی قانون هم نافذیږی ، عقل هیڅکله دا خبره نه منی چې یو شی دی یو سړی جوړکړی خو هغه دی د بل چا په ملکیت کې وی ، مګرکیدای شی چې د مالک په اجازه بل څوک د هغه په ملکیت کې تصرف وکړی، خو مستقل بالذات مالک همغه دی چې خالق یی دی او دا حقیقت چې په

غلام او مملوک باندی یوائې د هغه د مالک او آقا حکم باید نافذ شی یو داسی حقیقت دی چې د بدیهی عقل څخه ثابت شوی دی ، او د معلومولو له پاره یې ډیر غور او فکر ته اړتیا نه شته ، په انسان باندی د انسانی عقل جوړکړی قانون نافذول د حریت ، آزادی او د انسانی شرف په خلاف کار دی . په اسلام کې د آزادی تصور دا نه دی چې یوقوم دی د بل قوم د غلامی څخه یا یو مملکت دی د بل مملکت د غلامی څخه آزاد شی، بلکه حقیقی او صحیح آزادی دا ده چې یو انسان د بل انسان د غلامی څخه آزاد شی ، او د خپل حقیقی خالق غلام وګرځی .د خپل مملکت او قوم د جوړ شوی قانون پیروی کول غلامی ده .

آزادي خو دا ده چې انسان د مخلوق د غلامی څخه آزاد شی او د خپل خالق غلامی اختیار کړی ، لکه څنګه چې علامه اقبال رحمه الله وایی :

تا نه رمز لا اله آید بدست بند غیر الله را نتوان شکست

[ د لا اله رمز په دی کې دی چې د الله جل جلاله پرته د هر چا د غلامی زنځیرونه وروشکیږی ] .

**دوهم دلیل :**

يَاأَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمْ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ

[د فاطرسورت 15 آیت ]

انسانی عقل مخلوق دی او د مخلوق په فطرت کې فقراو احتیاج شامل دی نو په دی خاطر عقلی قانون د نقص عیب او غلطی څخه پاک نه وی ، خو د الله جل جلاله ذات غنی او صمد دی یعنی د هر ډول احتیاج څخه پاک دی نو له دی امله د هغه قانون هم د هر ډول عیب او نقص څخه پاک دی هغه څوک چې د هری او د الله جل جلاله نه منکر نه وی هغه د دی خبری په منلوکې هیڅ ډول ځنډ نه کوی . الله جل جلاله نه په خپل وجود کې چا ته محتاج دی او نه په خپل علم کې کوم معلم او اسبابو ته ضرورت لری ، خو انسان په خپل وجود کې هم فقیر او محتاج دی او د

خپل فکر او تعقل له پاره هم د علم اسبابوته اړ دی ، د ده د معلوماتو ذریعه پنځه حواس دی چې هغه د غلطی څخه نه شی پاکیدلی ، د همدی حواسو په اساس د عقل ادراک او تفکیر پوره او مستقل نه وی ، او د ناکافی ادراک په اساس د مصالحو قطعی علم لاس ته نه شی لاس ته راتلای ، ډیر تر ډیره گمان او قیاس کیدای شی .

د تجربی او احساس په بنسټ انسانی عقل د طبیعی او ساینسی علومو په چوکاټ کې کار کولای شی،خو د اخلاقیاتو او اجتماعیاتو په چوکاټ کې تجربه او احساس هم کار نه شی کولای ، دا په دی خاطر چېاخلاق او تمدنی قانون د احساس قابل شیان نه دی ، بلکه دا معنوی امور دی ، او تجربات په مادی او حسی امورو کې کیدای شی او که یو څخه معلوم هم کړی نو د غلطیځخه خالی نه وی . نو د دی علتونو په اساس عقل د خپلی بی وسی ، کمزوری او فقیری گواهی وایی ، او دا عرض کوی چې هغه چا چې زه پیدا کړی یم نو همغه دی ووایي چېگته ور څه دی او غیرگټه ور کوم دی؟ په څه کې مصلحت دی او په کوم کې ضرر ؟ او ټولنیز ، اقتصادی او تمدنی اړیکې د کومو موادو په واسطه قایمدای شی ؟ نو د انسانی عقل د دغی فقر او احتیاج په خاطر الله جل جلاله د عقل د لارښوونی له پاره انبیاء علیهم السلام راواستول اوکتابونه ئی رارلیږل .

**دريم دليل** :

وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ [د البقره سورت 216 آیت]

که څه هم انسان د ماضی اوحال په هکله یو څه ناڅه علم لری خو د مستقبل په هکله په هیڅ نه پوهیږی خو د الله جل جلاله علم په ماضی ، حال ، مستقبل دری واړو باندی یو شان محیط دی ، ناقص او ناتمام شیان د پوره شی په مقابل کې نشت گڼل کیږی ، نو په دی اساس د انسان علم د الله جل جلاله د علم په مقابل کې په نشت برابر دی ، چې خپله د عقل گواهی دا ده چې د نیمگړی علم جوړ شوی قانون نیمگړی وی

او د پوره علم جوړ شوی قانون مکمل وی او د کامل په مقابل کې د نیمګړی قانون اختیارول د عقل غوښتنه نه ده . بلکه ډیره لویه بی عقلی او سفاهت دی ،د نمونی په توګه ، سود ، جواری ، شراب ، نښا د انفرادی ملکیت خاتمه یا چا ته د غیری مشروط حاکمیت حق ورکول ، دا هغه امور دی چې په ښکاره ډول عقل ته ګټه ور ښکاری خو د تجربو په واسطه دا معلومه شوه چې دا تباه کونکې شیان دی او نن د هغی د تباهی څخه عقل په تنګ راغلی .

**څلورم دلیل** :

**وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّي**

[د یوسف سورت 53 آیت ]

انسانی عقل د نفسی غوښتنو او د خپل غرضی څخه پاک نه دی پرته د هغه خلکو څخه چې الله جل جلاله پری رحم کړی وی ، نو په دی خاطر د هغوی جوړ کړی قانون هم د خپل غرضی څخه پورته نه وی ، خو الله جل جلاله هیڅ ذاتی غرض نه لری او نه د کومی طبقی یا انسانی نسل سره د خپلوی کومه ریښه لری . نو په دی خاطر د هغه قانون د ټول انسانیت د فلاح ضامن دی چې خالص د انصاف په اصولو جوړ شوی دی د نفس غوښتنه په دوه ډوله ده " بهیمیه او" سبعیه " د بهیمی [ حیوان ] د غوښتنی خاصیت حرص دی او هغه غواړی چې د حلالو او حرامو ، نیکې او بدی بندیزونه لری شی ، خو سبعیه [ څیرونکې ] خاصیت تکبر او غرور دی ، او غواړی چې د ظلم آزادی دی موجوده وی ، نو د داسی شخص له نظره ، قتل ، غلا وهل ټکول یوه تفریح ، بهادری او [ نارینتوب] دی ، د مزدورانو او لاس لاندی کسانو څخه بیګار اخستل اودهغوی په ګټه عیش کول، د دی حیوان صفته انسان له نظره د عزت اوشرافت نښه وی ، دا دواړه مرضونه او یا داسی نور چې په چا تسلط پیدا کړ ، نو د هغه زړه ته د مریض زړه ، د متکبر زړه او د غافل زړه ویل کیږی ، د قرآن کریم په 62 ځایونوکې د عقل او د زړه مرضونو ته

اشاره شوی ، فلاسفو او حکماو هم دا [ د زرہ مرضونه] تسلیم کړی دی د اسلامی شریعت او د انبیاو د تعلیم څخه آزاد فکرکونکې عقل تـه د دی مرضونو څخه د بچیکیدو هیڅ ضمانت نه شی ورکول کیدای ، دا پـه دی خاطر چې د هغه شاو خوا د حرص ، هوا او غرور او تکبر تیـارو نیـولی ده او په دی تیاروکې راګیر شوی عقل څخه دا توقع کول ، چې حقیقی او پـه عدل او انصاف ولاړ قانون به جوړکړی ، یو خام خیال دی او یو بی ځایه او بـی بنیـاده حسـن ظـن دی ،کـه چیـری د سـرمایه لرونکـو پـه لاس کـې اختیارات وی ، نو هغه به د مزدورانو ، زحمت ویسـتونکو ، د هقانـانو او غریبو د استثمار له پاره قانون جوړ کړی او که همدا اختیارات بلی طبقی تـه ورکـړل شـی نـو هغـوی بـه د خلکـو د حلالـی ګټـی د شـکولو لـه پـاره غورځنګو نه شروع کړی .

بیا به پښتون د خپل قوم په فکر کې وی ، پنجابی به د خپلی قـوم ... عرب به عجمی لـه نظره وغورځوی او نـه بـه عجمی د عربـو د ګټـو فکر وکړی خو خداوند قدوس د خپل ټول مخلوق د ګټی او مصلحت لـه پاره احکام را نازل کړی دی .

**پنځم دلیل :**

وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ [د یوسف سورت 53 آیت ]

د انسـانی عقـل جـوړ شـوی قـانون یـوازی د دینـوی مصـالحو لـه پـاره تیاریږی ، خـو د الله جـل جلالـه نـازل کـړی قانونـد دواړو دارینـو د نیـک بختی او د معاش او معاد دواړو د صلاح ضمانت ورکوی. دینوی ژوند د مسلسل ژوند یوائی یوه دوره ده او مـرګ یـو ګـوډ [ مـوړ] یـا پـل دی چې انسان تری په تیریدو سره د ژوند بـل همیشـنی دور کـې داخلیـږی ځرنګه چې دنیا زمونږ د سترګو ترمخ ده نو په دی خاطر مونږ د دی څخه څه ناڅه علم د عقل او تجربی په واسطه لاس ته راوستلی شو ، خو عقل دا نه شی معلومولای چې څه ډول اعمال آخرت ته ګټه رسوی او څه ډول اعمـال هلته د تباهی او بربادی باعث ګرځی ځرنګه چې د الله جـل جلالـه ذات پـه

هرڅه علیم دی او په دی خاطر د هغه نازل کړی قوانین هم د دواړو جهانو د نیک بختی اوکامیابی سبب ګرځی .

**شپږم دلیل**:

وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا [ د البقره سورت 143 آیت ]

عقلی قانون د افراط او تفریط څخه محفوظ نه وی خو د الله جل جلاله نازل کړی قانون په اعتدال او برابری ولاړ دی‌او اعتدال او برابروالی د افراط او تفریط نه غوره اوبهتر دی انسانی عقل اعتدال ته راوړل که نا ممکن نه وی نو مشکل خو ضرور دی ځکه خاطر چې د هغی سره جوش او جذبه خامخا د تشدد په لور میلان لری ، په پخوانی مصری تهذیب او یونانی رومی تمدن کې ماده پرستی او حیوانی غوښتنی او د جسمانی ضروریاتو افراط او د روحانیت تفریط موجود وه، او د هغی زیادت اوکموالی د انسانانو څخه ځناور او ځیرونکې جوړکړی وه، د بلی‌خوا رهبانیت ، بدمت او د جاهلو صوفیانو تصوف د جسم د ازارولو دوهمه انتها وه چې دا د اصلاح په ځای د وژنی او د ظلم دوهم ډول وه . ښکاره ده چې د الله جل جلاله نعمتونه په خپل ځان حرامول ، خپل جسمانی صلاحیتونه تباه کول او د دنیا د تعمیر او جوړونی یو ځای د هغی د ترک کولو رویه اختیارول ، اصلاح نه بلکه ورانیول دی ، عدل نه ، بلکه ظلم دی ، د نفس وژنه او د جسم تباهی ده ، خو د خپل جوړکړی روحانیت توغ جګونکې د لړی مودی وروسته بیا بلی انتها ته ورسیږی ، او په لیدو لیدو کې د فقیری دا ځالی ، شاهی دربارونه وګرځیدل ، د هغوی عبادت ځایونه په قارون خانوبدل شوه په غاړوتلونکې اموخته خلک کله هم منځنی لار نه غوره کوی او نه په غاړوتلونکې خلک د تباهی په کندو کې د لویدو څخه ځان ژغورلا ی شی .

د اوسنی وخت د دوه لویو نظامونو هم همدغه حال دی په سرمایه لرونکې نظام کې ملکیت فرد ته د غیر محدود او غیر مشروط ملکیت حق ورکړ شوی لیکن په اشتراکې نظام کې د وګړی ملکیت او نور ټول

حقوق یې له یوه سره ختم کړې‌شوی دی .

په یوه نظام کې د وګړی په حقوقوکې افراط او په بل کې تفریط دی ، خو علیم او حکیم الله جل جلاله په اسلامی نظام کې د اعتدال او برابری منځنی لار اختیارکړې ده،که عبادات دی یا معاملات ،که سیاسیات دی یا تعزیرات ،که اخلاقیات دی یا د صلح او جنګ قواعد ، د عقائدو څخه تر اعمالو پوری د اسلام هرحکم ، هر قانون او هر هدایت په اعتدال ولاړ دی او معتدل او برابر نظام هیڅکله د ظلم او فساد ذریعه نه ګرځی .

**اوم دلیل** :

**وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا** [د ال عمران سورت 102 آیت ]

عقلی قانون د اتحاد په ځای د افتراق او سبب ګرځی دا ننی نړی د همدی عقلی او وضعی نظامونو په اساس په اختلافاتو او وینی تویونو بوخته ده ، خو د الله جل جلاله نازل کړی قانون د اتحاد ، یووالی او ورور ولی بهترینه او پایښتناکه ذریعه ده . په انسانی فهم او عقل کې توپیر یو لازمی شی دی همدا علت دی چې د اول نه نیولی تر اوسه پوری عقلاء فلاسفه او مفکرین هیڅکله هم یو شوی نه دی. د یونان حکماء سبعه چې د اساطین سبعه په نوم هم یادیږی د هغوی ترمنځ په ځینی بنسټیزو مسائلو کې ډیر زیات اختلاف موجود وه ، علامه شهرستانی رحمه الله علیه د الملل په دوهم ټوک کې د 61 مخ څخه تر95 مخ پوری یعنی پوره 34 مخو کې د هغوی نظریات را اخستی دی ، او د اروپا د نورو فلسفیانو د اختلافاتوڅخه خو نن هر یوه تعلیم یافته وګړی خبر دی د همدی عقلی توپیر په اساس نن بشریت په زرګونو ټوټو ویشل شوی دی بت پرست ، وطن پرست سیکولریست ، سوسیالیست ، فاشست .... هغه ټوټی او طبقی وی چې بنی نوع انسان ئی د همدی عقلیت پرستی په اساس تقسیم کړی دی او که نه نو " کان الناس امه واحده " ټول بشریت په یوی عقیدی وه ، او هغه د الله جل جلاله د حاکمیت عقیده وه ، د اسلامی نظام په بنیادی اصولو کې خو د سر د ویښته په اندازه هم اختلاف نشته او کوم

چې په فروعی مسائلو کې موجود دی ، هغه د [ اختلاف تنوع ] د ډلی څخه دی یعنی په یوه کارکې یی څو طریقی ښوولی دی چې ټولی روا دی د دی فروعی مسائلوپه اساس د افتراق پیدا کول د نفس د غوښتنی پیروی ده نه د اسلام پیروی .

***اتم دلیل*** :

وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ [د البقره سورت 165 آیت ]

د عقلی او وضعی قانون سره د انسان د زړه مینه نه پیدا کیږی ، همدا علت دی چې فلسفیانو دنیا کې نفرت کولو ته ترقی ورکړی وه. مگر تر اوسه یی د خلکو زړونه لاس ته نه دی راوړی ، خو د شرعی او الهی قانون سره د ایمان د خاوندانو د زړه مینه او محبت وی او د هغی پیروی کول عبادت او د ثواب کارگڼی ، هر څوک په دی پوهیږی چې هرهغه څه چې په زړه کېځای پیدا کولی شی نو انسان د هغه د لاسته راوړو په خاطر سر ورکولو ته هم تیاریږی ، نو ښکاره ده چی د قانون د حکمرانی د قایمولو له پاره هیڅ حکومت د چا په کوراو سر د پولیسو پیره نه شی درولای تر هغه پوری چې په زړه کې د قانون احترام موجود نه وی ، نو مجرم په مختلفو قسمونو خپل ځان د قانون د پنجی څخه په څنگ کولی شی ، د امریکې ، انگلستان ، فرانسی او د اروپا د نورو ملکونو پولیس تجربه لرونکې هم دی او د نوی وسایلو خاوندان هم دی خو د دی سره سره بیا هم په دی هیوادونو کې د قانون ماتونی او نورو جرمونو زیاتوالی ورځ په ورځ صورت نیسی ، د قانون سره مینه د قانون جوړونکې سره د مینی نتیجه وی ، څرنگه چې د الله جل جلاله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم سره مینه ، د ایمان نښه ده نو په دی خاطر د هغه د جوړکړی قانون سره مینه هم د ایمان نښه او جز دی ، چې د هغی پابندی د مسلمان د زړه او ایمان سره تینگ اړیکې لری .

### د عقل د حاکمیت اولین مخترع ابلیس دی

کله چې الله جل جلاله حکم وکړ چې آدم علیه السلام ته سجده وکړی

نو ملائکو بی د څه ویلو څخه حکم و مانه او سجده ئی وکړه ځکه چې هغوی عقل او رای ته د حقیقی حاکم په مقابل کې هیڅ اهمیت نه ورکاوه خو ابلیس د الله جل جلاله د حکم د منلو څخه په دی اساس ډډه وکړه چې دا حکم د عقل په خلاف دی ، زه د اورڅخه پیدا شوی یم او آدم د ختی څخه پیدا شوی دی او د خاورو تر مخ تیتیدل د عقل نه لری ده ملائکې د الله جل جلاله منونکې دی او لعین ابلیس د عقل د حاکمیت قائل وه علامه شهرستانی رحمه الله علیه فرمایی چې : په مخلوق کې د ټولو نه لومړی شبه ابلیس لعین را پیدا کړه هغه د الله جل جلاله د حکم په مقابل کې عقل مستقل وګاڼه نو د نفس د غوښتنی پسی ولاړاو د خپلی تخلیقی مادی په اساس یی لویی وکړه 304.

د الهی حاکمیت منونکې د ملائکو تابع دی او د عقل د حاکمیت منوونکې د لعین ابلیس تابع دی .

## دوهم اصل شوری

د اسلامی حکومتی نظام او اسلامی سیاست دویم بنیادی اصل شوری ده ، یعنی د اسلامی ریاست مشربه هم د مسلمانانو د باوری وکیلانو څخه د تشکیل شوی شوری له خوا ټاکل کیږی ، او د ټاکلو وروسته به ټولی مهمی او ارزښتناکه پریکړی د همدی مجلس د تائید وروسته صورت نیسي نن سبا مسلمان سیاست پوهان شورائیت ته اسلامی جمهوریت وایی د عربی ادب ، حدیثو او فقهی په کتابونوکې د جمهورکلیمه د غلبی او اکثریت په معنا استعمالیږی ، د سنن ترمذی په یوه روایت کې هم " فی جمهور من العرب " کلیمه راغی ده 305.

خو د اوسنی وخت د جمهوریت رواج شوی کلیمه د عربی ژبی د ډیکشنری څخه نه ده اخستل شوی بلکه د [ ډیموکراسی ] د

304 -الملل والنحل دریمه مقدمه لومړی ټوک 16 مخ

305 - سنن ترمذی ابواب الفتن باب ماجاء ان الخلفاء من قریش لومړی ټوک 56 مخ

يونانۍکليمی څخه اخستل شوی ، چې د هغې اصول تر پايه د اسلام په خلاف دی ، لکه څنګه چې ترمخه مو ولوستل چې د اسلامی جمهوريت اصطلاح خو حرامه نه ده خو د غلطی څخه د بچکيدو له پاره صحيح اسلامی اصطلاح " شورائيت " ده دا اصطلاح د قرآن او سنتو او همدا ډول د راشدينوخلفاو د سنتو سره مطابق ده چې د دی نه په خلکوکې د مطلق العنان حاکميت او بی قيده آزادی د مشرکانه فکر د پيداکيدو خطره هم نه شته ، سدباب الذريعه [ د غلطيواو بديو دروازی بندول] د شريعت مستقله قاعده ده نو د دی قاعدی له مخی د جمهوريت استعمال پريښودل ورِ دی ځکه شورائيت بهترينه او مناسبه اصطلاح ده .

## د شورئ په هکله قرآنی آيتونه

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنْ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ [د ال عمران سورت 159 آيت]

[ ای پيغمبره ! دا د الله جل جلاله لوی رحمت دی چې ته د دی خلکو له پاره ډير نرم خويه جوړ شوی يي که داسی نه وای او ته توند خويه وی او سخت زړی وی نو دا ټول به ستا له شاو خوا نه خواره شوی وو نو هغوی معاف کړی ، او د هغوی د خطاو وبښنه د الله جل جلاله نه وغواړه ، او د دين په چارو کې هغو ته هم په مشوره کې برخه ورکړه ، بيا چې ستا اراده پر کومه رايه ټينګه شي نو پر الله توکل وکړه ، د الله جل جلاله هغه خلک خوښيږی چې د هماغه په ډاډينه کار کوي ] .

ابن منظور رحمه الله عليه ليکي چې : الامرنقيض النهی .... والامرالحادثه [ امر د نهی په مقابل کې دی او د امرمعنا حادثه او واقعه هم راځی 306].

د لغت د امامانو د دی تشريح څخه معلوميږی چې د امرمعنا حکم او

306 - لسان العرب 4 ټوک 26 مخ

حکومت هم راځی او د مهمو او د[ مهتمم بالشان واقعی] په معنا هم استعمالیږی ، او د آیت مفهوم دا دی چې ای نبی صلی‌الله علیه وسلم د حکومت په چارو کې او د مهمو واقعو په هکله د صحابو رضی الله عنهم سره مشوره کوه .

ابن جریرطبری ،امام جصاص حنفی ، امام بغوی ، امام فخرالدین رازی رحمه ، امام قرطبی ، علامه نسفی ، علاوالدین بغدادی ، قاضی ثناء الله پانی پتی او علامه الوسی رحمه الله علیهم علیه دی ټولو په خپلو تفسیرونو کې لیکلی دی چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ته د مشوری د اخستوحکم په دی خاطر ورکړ شوی وه چې امت ته د شورائیت سلسله سنت پاته شی، ترڅو راتلونکې کې امت د آمریت په لاره ولاړ نه شی ، او د شورائیت په شرعی قاعدی باندی ټینګ او مستحکم واوسی د ذکر شوو مفسرینو رحمه الله علیهم څخه د ځینو اقتباسات را نقل کوو : لیتبعه المؤ منون من بعده فیما حزبهم من امر دینهم و یستنوا بسنته فی ذالک و یتحذوا المثال الذی راوه یفعله فی حیاته [ د مشوری اخستولو حکم له دی امله ورکړل شوی وه چې ترڅو راتلونکې د ایمان خاوندان په مشوری اخستوکې د هغو دینی چارو په هکله چې هغوی ته پرمخ کې راځی، د هغه صلی‌الله علیه وسلم پیروی وکړی او په دی هکله د هغه سنت د خپل ځان له پاره نمونه وګرځوی ، او همدا نمونه چې هغه به خپل ژوند کې پری عمل کړی وه د خپل ځان تګ لاره وټاکې 307].

اراد ان یستن به من بعده [ د حکم ورکولو مقصد دا وه چې د مشاورت په سنت کې امت د هغه پیروی وکړی 308].

د وخت بیهقی قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله علیه فرمایلی دی چې : تمهید لسنه المشاوره للامه [ دغی حکم په امت کې د مشاورت د

307 - تفسیر ابن جریر 4 ټوک 152 مخ د 1954 عیسوی کا ل د مصر چاپ

**308** - زاد المسیر فی علم التفسیر د ابن جوزی لیکنه لومړی ټوک 488 مخ 1964 عیسوی کال د بیروت چاپ – تفسیرکبیر 9 ټوک 66 مخ

..........................
سنت له پاره بنسټ كيښود] 309.

## په نبوي دوركې د شورى تاريخي ځوندى

معاذ بن جبل رضي‌الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه نقل كړى دى چې : انى فيما لم يوح الى كاحدكم [ په كومو چارو كې چې وحى نه وى راغلى نو په هغوى كې زه ستاسى په شان يو انسان يم ] 310.

امام جصاص رحمه الله عليه چې په 370 هجرى قمرى كال كې مړ شو فرمايى : رسول الله صلى‌الله عليه وسلم ته د مشورى حكم د هغه دينى امورو په هكله وركړل شوى وه چې د هغه په هكله د الله جل جلاله له طرفه روښانه لارښوونه نه وه شوى او په هغه دنيا وى او انتظامى اموروهم ورته د مشاورت حكم شوى وه چې د هغه بنياد په راى او غالب گمان ولاړ وى 311.

هغه د هرى غيرمنصوص او مهمى معاملى په هكله مشوره كوله كه څه هم هغه امور دينى احكامو پورى تړلى وه ، جنگ پورى تړلى وه اويا ئى د انتظامى معاملات پورى اړه درلوده ، دلته د مثال په توگه لس تاريخى نمونى وړاندى كيږى چې په كې ځينى داسى مثالونه هم شته چې ور څخه دا په ډاگه كيږى چې رسول الله صلى‌الله عليه وسلم د شورى د راى په مقابل كې خپله راى پرى ايښى ده .

## د اذان شورى

**[ لومړى هجرى قمرى كال ] :**

د انس بن مالك رضي‌الله عنه او ابن عمر رضى الله عنه څخه روايت دى چې د مدنى دور په اولو وختونو كې خلكو د لمانځه وختونه د خپل

---

**309** - تفسيرمظهرى 2 ټوک 153 مخ د هندوستان د هلى چاپ

310 - مجمع الزوائد 9 ټوک 46 مخ ( المناقب ) .

311 - احكام القرآن للحصاص 2 ټوک 20 مخ

خپل فکر مطابق تاکل ،يوه ورځ د دی له پاره مشوره وشوه ځينو د يهودو د بوق تجويز وړاندی کړ او ځينی نورو د نصاراو د ناقوص پيشنهاد وکړ، خو حضرت عمر رضی الله عنه دا پيشنهاد وکړ چې يو کس دی وټاکل شی چې د لمانځه په وخت کې خلک په لوړ غږ سره راوبولی ، هماغه وه چې په همدی پيشنهاد پريکړه وشوه او رسول الله صلی‌الله عليه وسلم د دی کار له پاره حضرت بلال رضی الله عنه وټاکه ،312 بلال رضی‌الله عنه به په لوړ آواز خلکو ته الصلوه جامعه ويل [ای خلکو د جمعی لونځ تيار دی ]، خو وروسته عبدالله بن زيد رضی الله عنه په خوب کې د اذان دا مروجه کليمات د چا څخه واوريدل نو بيا رسول الله صلی‌الله عليه وسلم حضرت بلال رضی‌الله عنه ته په هماغه کليماتو د اذان کولو حکم وکړ، چې وحی ئی هم په تائيد کې راغله .

ابن حجر رضی الله عنه فرما يی چې: مبدا الاذان کان عن مشوره اوقعها النبی صلی الله عليه وسلم بين اصحابه حتی استقر برؤيا بعضهم و فيه مشروعيه التشاور فی‌الامور المهمه [ اذان په مشوری سره شروع شوی دی ، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپلو اصحابو رضی الله عنهم سره کړی وه وروسته بيا د ځينی صحابو د خوب په واسطه [ مروجه ] اذان وټاکل شو313 ].

دا حديث د دی خبری دليل دی چې په مهمو خبروکې مشوره کول شرعی طريقه ده .

## د بدرکبری شوری

### [ دوهم هجری قمری کال ]

حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا عَفَّانُ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاوَرَ حِينَ بَلَغَهُ إِقْبَالُ أَبِي سُفْيَانَ

312 - صحيح بخاری بدء الاذان لومړی ټوک 85 مخ

313 - فتح الباری بدء الاذان 2 ټوک 219 مخ

قَالَ فَتَكَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ تَكَلَّمَ عُمَرُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ فَقَامَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ فَقَالَ إِيَّانَا تُرِيدُ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ نُخِيضَهَا الْبَحْرَ لَأَخَضْنَاهَا وَلَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ نَضْرِبَ أَكْبَادَهَا إِلَى بَرْكِ الْغِمَادِ لَفَعَلْنَا قَالَ فَنَدَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ فَانْطَلَقُوا حَتَّى نَزَلُوا بَدْرًا وَوَرَدَتْ عَلَيْهِمْ رَوَايَا قُرَيْشٍ وَفِيهِمْ غُلَامٌ أَسْوَدُ لِبَنِي الْحَجَّاجِ فَأَخَذُوهُ فَكَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُونَهُ عَنْ أَبِي سُفْيَانَ وَأَصْحَابِهِ فَيَقُولُ مَا لِي عِلْمٌ بِأَبِي سُفْيَانَ وَلَكِنْ هَذَا أَبُو جَهْلٍ وَعُتْبَةُ وَشَيْبَةُ وَأُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ فَإِذَا قَالَ ذَلِكَ ضَرَبُوهُ فَقَالَ نَعَمْ أَنَا أُخْبِرُكُمْ هَذَا أَبُو سُفْيَانَ فَإِذَا تَرَكُوهُ فَسَأَلُوهُ فَقَالَ مَا لِي بِأَبِي سُفْيَانَ عِلْمٌ وَلَكِنْ هَذَا أَبُو جَهْلٍ وَعُتْبَةُ وَشَيْبَةُ وَأُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ فِي النَّاسِ فَإِذَا قَالَ هَذَا أَيْضًا ضَرَبُوهُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمٌ يُصَلِّي فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ انْصَرَفَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَضْرِبُوهُ إِذَا صَدَقَكُمْ وَتَتْرُكُوهُ إِذَا كَذَبَكُمْ قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ قَالَ وَيَضَعُ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ هَاهُنَا هَاهُنَا قَالَ فَمَا مَاطَ أَحَدُهُمْ عَنْ مَوْضِعِ يَدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

انس بن مالک رضی‌الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د بدر د غزا په وخت کې [ په لاره کې ] د خپلو صحابو رضی‌الله عنهم سره مشوره وکړه ، ،حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه خپله خپله رایی ښکاره کړه مگر هغه د انصارو د رای د معلومولو په خاطرچپ ناست وه ، نو په دی وخت کې سعد بن عباده انصاری رضی الله عنه جگ شو او ویی ویل که چیری ته حکم وکړی نو مونږ د ریاب کې ټوپ وهلو ته او د برک الغماد [ یمن ] پوری د خپلو آسونو زغلولو ته تیار یو- د دی خبری د اوریدو وروسته د تلوحکم

وشو،او فوځ د بدر په ځای کې خپلې مورچې سنبال کړې 314.

امام نووی رحمه الله علیه فرمایی چې : و فیه استشاره الاصحاب و اهل الرای والخبره [ د دی نه دا ثابتیږی چې د ملګرو او د رای د خاوندانو او باخبره خلکوڅخه مشوره اخستل سنت دی ] 315.

د شوری د دی غونډی د ګڼونکو صحابو رضی‌الله عنهم وینا وی د سیرت په ټولوکتابونوکې موجودی دی .

## د بدرد بندیانوپه هکله شوری

### [ دریم هجری قمری کال ]

"د بدر د بندیانو په هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله د صحابوسره مشوره وکړه او ورته ئی وویل چې د بندیانو په هکله ستاسی نظر څه دی؟ ابوبکر رضی الله عنه وفرمایل چې فدیه تری واخلی او پریږدی خو حضرت عمر رضی‌الله عنه وفرمایل، زما نظر خو دا دی چې د هغوی څټونه ورپریکړو ځکه چې دا خلک د کفر امامان او د دښمن سرداران دی ، رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د ابوبکر رضی الله عنه د رای مطابق د هغوی څخه فدیه واخسته او خوشی یې‌کړل 316 ".

ابن کثیر رحمه الله علیه د مسنداحمد څخه دا حدیث په ډیرتفصیل سره رانقل کړی دی چې په هغه کې دا الفاظ هم راغلی دی : ناس یاخذ بقول ابی‌بکر رضی الله عنه وناس یاخذ بقول عمر رضی الله عنه ځینی خلکو د ابوبکر رضی الله عنه د خبری تائید وکړ ځینی نورو د حضرت عمر رضی‌الله عنه د خبری تائید وکړ ، لیکن وروسته د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په تائیدکې آیت هم را نازل شو [317]]

---

314 - صحیح مسلم کتاب الجهاد باب غزوه ببدر

315 - نووی په حاشیه د قسطلان 401 مخ

316 - صحیح مسلم الجهاد باب الامداد بالملائکه فی غزوه بدر- سنن ترمذی

317 - تفسیرابن کثیر 3 ټوک 246 مخ

.......................

## د احد شوری

## [ دریم هجری قمری کال ]

د احد د غزا په وخت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نظر دا وه چې د ښار په داخل کې مورچې جوړی کړی او د ځینی مشرانو صحابو رضی الله عنهم رای هم همداسی وه ، خو د ځوانانو رای دا وه چې د باندی ووځی او په ډګر د دښمن مقابله وکړی ، نو هماغه وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلی رائی په ځای د هغوی په رایه پریکړه وکړه او د احد د غره په لمنه کې ئی د جنګ محاذ جوړ کړ 318.

## د خندق شوری

## [ پنځم هجری قمری کال ]

د خندق [ احزابو ] د غزا په وخت کې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم شوری راوغوښتله چې آیا د باندی ووځو او د جنګ محاذ جوړ کړو یا د ښار په داخل کې مورچې جوړی کړو سلمان فارسی رضی الله عنه د خندق د ویستلو مشوره ورکړه او د مسلمانانو دا نظرخوښ شو، نو هماغه وو چې په همدی نظر باندی د عمل کولو حکم صادر شو[319].

## د خندق شوری د مصالحت په خاطر

## [ پنځم هجری قمری کال ]

د خندق د غزا په وخت کې د مسلمانانو محاصره ورځ چې ورځ تنګیده نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د بنو غطفان مشرانو عینه بن حصن او حارث بن عوف سره د مدینی د باغونو د دریمی برخی د میوی په ورکولو د مصالحت او روغی جوړی خبری وکړی ، ترڅو دا دواړه سرداران د قریشو د ملاتړڅخه لاس واخلی د محمد صلی الله علیه وسلم نظر همدا وه

---

318 - صحیح بخاری تعلیقا الاعتصام باب امرهم شوری بینهمم 2ټوک 1095 مخ - طبقات ابن سعد 2 ټوک 38 مخ ابن هشام 3-4 ټوک 63 مخ

[319] - ابن سعد 2 ټوک 66 مخ - ابن هشام 3-4 ټوک 224 مخ - الحلبیه 2 ټوک 640 مخ

چې روغه جوړه دی وشی ، خو د آخری پریکړی ترمخه مشوره اخستل ضرور وګڼل شوه ، د انصارو د مشرانو څخه سعد بن معاذ رضی الله عنه او سعد بن عباده رضی‌الله عنه وویل چې که چیری دا د الله جل جلاله حکم وی نو مونږه منلی دی او که چیری ته د نبی صلی الله علیه وسلم په حیث د خپل حکم مطابق دا پریکړه کوی نو بیا هم زمونږ قبوله ده خوکه چیری حکم نه وی نو بیا مونږ دی روغی جوړی ته تیار نه یو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې که چیری دا د الله حکم وایی نو ما له تاسی سره بیا مشوره نه کوله، نو هماغه وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلی رائی په نسبت د شوری رائی ته ترجیح ورکړه او د روغی جوړی د خبرو څخه تیر شو 320.

## د افک په هکله شوری

## [ شپږم هجری قمری کال ]

د بنوالمصطلق د غزا د سفر په وخت کې د منافقینو مشر عبدالله بن ابی بن سلول ، پر ام المؤ منین حضرت عایشه رضی الله عنها باندی تهمت ولګاوه ، چې په مدینه منوره کې دی تهمت او پروپاګندی د طوفان شکل ونیوه - رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د اسامه بن زید رضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه سره د ام المؤ منین رضی الله عنها څخه د بیلیدو په هکله مشوره وکړه ، او بیا جومات ته ولاړاو په لویه غونډه کې یی وویل : ای مسلمانانو ! څوک به ما معذور وګڼی،که چیری زه د هغه سړی په خلاف څه اقدام وکړم ، چې د هغی څخه ما ته تکلیف رارسیدلی دی [ زما د ښځی په هکله ] حال دا چې، په الله عزوجل قسم چې ما ته د خپلی ښځی په باره کې د خیر پرته نور هیڅ نه دی معلوم - خو وروسته د النور سورت رانازل شو چې په کې د حضرت عایشی رضی الله عنها

320 - ابن سعد 2ټوک69 مخ - ابن هشام 3-4 ټوک 223 مخ - الکامل ابن الاثیر2 ټوک 181 مخ الحلبیه 2 ټوک 640 مخ

پاکوالی بیان شوی وه او په دی توګه تهمت جوړوونکې د سختی ناکامی سره مخ شول321 .

## د حدیبیی شوری

### [ شپږم هجری قمری کال ]

د حدیبیی د غزا په وخت کې کله چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم غدیر الاشطاط ته ورسید نو د مسلمانانو" خبری څانګی" هغه ته اطلاع ورکړه ، چې د مکې قریشو خپل نژدی قبایل را ټول کړی دی او غواړی چې تا بیت الله ته د تللو څخه منع کړی ، په دی وخت کې هغه وفرمایل ای مسلمانانو ! ما ته مشوره راکړی چې اوس باید کوم اقدام وشی آیا دا غوره ده چې د قریشو د دی دوستانو احابیشو په کورونو دی حمله وشی ابوبکر رضی الله عنه رای ورکړه چې تاسو د کعبی [ بیت الله] د زیارت کولو په خاطر راغلی یاست نو د همدی غرض په خاطر مخکې ولاړ شی هرڅوک چې زمونږ مخه ونیسی نو مونږ به د هغه سره جنګیږو خو وروسته صلح وشوه 322.

## د هوازن د بندیانو په هکله شوری

### [ اتم هجری قمری کال ] :

د حنین په غزا کې د هوازن د قبیلی شپږ زره کسان بندیان ونیول شول نوکله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د طائف د محاصری څخه راستون شو نو په [ جعرانه ] کې تر یوه وخته پوری تم شو، په دی خاطر چې دا خلک راشی او ایمان راوړی ، نو د هغوی مال او بندیان به بیرته ورکړل شی ، خو هغو خلکو په راتلوکې ځنډ وکړ، نو د غنیمت مالونه وویشل شوه ، خوکله چې د طائف اوسیدونکې پیښمانه شوه او راغلل نو محمد صلی‌الله علیه وسلم [ عامه شوری ] راوغوښته او ورته ئی وویل

---

321 - صحیح بخاری المغازی غزوه بنوالمصطلق 2 ټوک 595

322 - صحیح بخاری المعازی غزوه الحدیبیه 2 ټوک600

چې زه غواړم چې د دوی بندیان خوشی‌کړم تاسی هرڅوک چې په خپله خوښه خپل بندی آزاد وی آزادی ئی کړی اوکه نه نو هغوی به د معاوضی په بدل کې آزاد کړم خلکو وویل چې مونږ یی په خپله خوښه آزادو و خو محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : بیرته ولاړ شی او خپلو مشرانو [عرفاء] ته دا رای وویاست ، نماینده ګان بیرته راستانه شول اوویی ویل چې ټول په دی خبره خوښ دی بیا نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول بندیان خوشی کړل 323.

## د معاذ بن جبل رضی الله عنه په هکله شوری

### [ لسم هجری قمری کال ] :

کله چې معاذ بن جبل رضی‌الله عنه د یمن والی ټاکل کیده نو شورای وغوښتل شوه ، د شورا غړو خپل خپل نظریات وړاندی‌کړل او د ډیرفکر او تعمق وروسته ئی حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه یمن ته ولیږه .

فَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَى لِلَّذِينَ آمَنُوا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ[]وَالَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ[]وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ [ د الشوری سورت 36 – 38 آیتونه ]

[ هغه څه چی تاسی ته درکړی شوی د دنیا د ژوند سامان دی او هغه څه چې دالله جل جلاله سره دی هغه ډیر غوره او دو امدار دی د هغه خلکو له پاره چې ایمان یی راوړی دي او پر خپل پروردګار توکل کوي ، هغه خلک چې له لوی ګناهانواو بی حیای د کارونو څخه ډډه کوي او کله چی غوسه شي نو عفه کوي ، اد هغه کسان چې د خپل رب حکم مني ، لمونځ قایموي خپلی چاري په خپل منځي مشوري سره سرته رسوي اوکومه روزی چې مونږ دوی ته ورکړی ده له هغی نه لګښت کوي ] .

323 - صحیح بخاری المعازی غزوه الحدیبیه 2 ټوک612 – سنن ابوداود کتاپ الجهاد 3 ټوک 142 مخ

په دی آیت کې د ایمان د خاوندانو اوه ښکاره صفتونه ذکر شوی دی چې د دی له امله دوی د جنت حقدار ګڼل کیږی :
توکل ، د لوی ګناهونو او فواحشوڅخه ځان ساتل ، معافي‌کول، د الله جل جلاله هرحکم منل ، لمونځ کول، مشوره کول ، مال خرڅول .
د مشوری یادوونه د لمانځه او انفاق ترمنځ شویده د کلام د دی وضاحت څخه معلومیږی چې د شورائی نظام جوړول د لمانځه په څیر د فرایضو له ډلی څخه دی چې د ایمان د خاوندانو یو ښکاره صفت دی .
د هغو یولسو مفسرینو ذکر چې ترمخه شوی دی ټولو لیکلی دی چې د " امرهم شوری بینهم " څخه مقصد دا دی چې په غیرمنصوصو معاملاتو کې په مشوری سره پریکړه کول پر مسلمانانو لازم دی ، او دا یو ټینګ اوکلک حکم دی .
ابوبکر رازی جصاص رحمه الله علیه فرمایی چې : یدل علی جلاله موقع المشوره لذکره مع الایمان و اقامه الصلوه و یدل علی انا ماموررون بها [ دا حکم د مشوری په عظمت باندی دلالت کوی ځکه چې ذکر یې د ایمان او لمونځ سره شوی دی ، او دا ددی خبری دلیل هم دی چې مونږ مامور شوی یو چې مشوره به کوو ] .
امام رازی رحمه الله علیه فرمایی چې : اذا وقعت بینهم واقعه اجتمعوا و تشاوروا فاثنی الله علیهم ای لاینفردون برای بل ما لم یجتمعوا علیه لا یقدمون علیه [ کله چې د هغوی ترمنځ کومه معامله را پیدا شی نو بیا هغوی غونډه رابولی او مشوره کوی- په دی خاطر الله جل جلاله د هغوی تعریف کړی، چې انفرادی [ ځانګړی ] رای نه اختیار وی ، بلکه هغې پوری چې اجتماعی پریکړه ونه شی، هیڅ اقدام نه کوی 324.

فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا

[ د البقره سورت 233 آیت ]

[ خو که دواړه خواوی په خپل منځی موافقه او مشوری سره یې له تی

---

324 - تفسیر کبیر27 ټوک 177 مخ - ابن کثیر 6 ټوک 208 مخ

.......................
بيلول غواړی د دی خبری څه باک نشته ] .

که څه هم دا آیت د سیاست البیت پوری اړه لری خو دکوچنی د شیدوڅخه د لری کولو په کار کې ئی هم د شورائیت د اصولو مراعات ضروری ګڼلی دی ، د دی څخه دا خبره را په ډاګه کیږی چې د سیاست البیت [ کورنی حکومت ] په شان د سیاسه مدینه د [ قومی سیاست ] پریکړی هم د اهل الرای په مشوره کول په کار دی لکه څنګه چې دکور په سیاست کې د کوچنیانوګټی په نظرکې دی همدا ډول په ملکې سیاست کې هم د خلکو ګټی او روزل تری مقصد دی ، نو په دی خاطر د شورائیت د حکم پابندی په دواړو کې ضروری ده .

دوهمه خبره د دی آیت څخه هم دا معلومیږی چې د ښځو څخه هم مشوره اخستل کیږی خصوصا په هغه امورو کې چې هغه د اولاد د تربیت او روزنی پوری تړلی وی ، ځکه چې په هغی کې د ښځو تجربه د نارینو څخه زیاته ده .

## د شوری په هکله

### د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم احادیث

**عن علی رضی الله عنه قال قلت یا رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ان نزل بنا امر لیس فیه بیان امر و لا نهی فما تامرونی؟ قال شاوروا فیه الفقهـــاء العابدین و لا تمضوا فیه رای خاصه**

[ حضرت علی رضی الله عنه پوښتنه وکړه ،یا رسول الله صلی‌الله علیه وسلم که چیری زمونږ ترمنځ کومه داسی موضوع را پیدا شی چې د هغه په هکله نه امر وی نه نهی، نو د داسی پیښی په هکله تاسو څه فرمایی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې په دی کله د عابدینو او دیانت لرونکو فقهاو سره مشوره وکړی او ځانګړی رای اختیار نه کړی ] .325

---

325 - مجمع الزوائد لومړی ټوک 178 مخ - کنزالعمال 5 ټوک 812 مخ

د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه د همدا رنګ سوال په ځواب کې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل چې : تجعلونه شوری بین العابدین من المؤمنین و لا تقضونه برائی خاصه [ دا معامله د عبادو مسلمانانو شوری نه حواله کړی او ځانګړی پریکړه مه کوی] 326.

عن ابی هریره رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اذا کانت امراءکم خیارکم و اغنیاءکم سمحاءکم و امورکم شوری بینکم فظهر الارض خیرلکم من بطنها و اذا کانت امراء کم شرارکم و اغنیاء کم بخلاء کم و امور کم الی نساء کم فبطن الارض خیر لکم من ظهرها [ کله چې ستاسی حکمرانان ستاسی د ښو خلکوڅخه وی ستاسی دولتمند خلک سخیان او او ستاسی چاری د مشوری په اساس مخته ځی نو د ځمکې مخ تاسی ته د ځمکې د ګیډی نه بهتر دی ، خوکه ستاسی حکمرانان ستاسی د بدترینو خلکو څخه وی ، او ستاسی دولتمند خلک بخیلان وی او ستاسی چاری د ښځو په غاړه وی [ اصل پریکړه د هغوی په لاس کې وی ] نو بیا د ځمکې ګیډه د هغی ترمخ تاسی ته بهتره ده ] 327.

په دی حدیث شریف کې ئی د آرام ژوند د تر سره کولو له پاره دری شیان ډیر ارزښتناک ښوولی دی او هم دغه دری شیان د اسلامی ریاست او صالحی ټولنی بنستیز شرطونه دی : صالح قیادت - د غریبانوکفالت - شورائیت

عن عایشه رضی الله عنه قالت مارئیت رجلا اکثر استشاره للرجال من رسول الله صلی‌الله علیه وسلم [ حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها فرمایی چې ما داسی څوک نه دی لیدلی چې د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم څخه زیات د خلکو سره مشورکونکو اوسی328.

[326] - مجمع الزوائد لومړی ټوک 178 مخ - کنزالعمال 5 ټوک 812 مخ

[327]- مشکوه کتاب الرقاق باب تغیرالناس

[328] - سنن ترمذی کتاب الجهادد ابی‌هریره په روایت لومړی ټوک 241 مخ - معالم التنزیل ال عمران سورت 159 آیت

عن سهل بن سعد الساعدی رضی‌الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم ماشقی عبد قط بمشوره وما سعد باستغنا رای [ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې مشوره کوونکې سړی هیڅکله د حق څخه نه بی برخی کیږی او خپله رای خوښوونکې او پوره ګڼونکې ، خپل غرضی سړی هیڅکله سعید [ نیک بخت ] نه ګرځی 329.

یعنی ملوکیت او آمریت د شقاوت او بد نصیبی لار ده او شورائیت د سعادت او خوش نصیبی لار ده .

عن ابی هریره رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم المستشار مؤتمن [ د چا څخه چې مشوره اخستل کیږی هغه معتمد او باوری وی ] 330.

د شوری غړی باید هغه څوک وی چې د هغه په دیانت او امانت باندی اعتماد او باور موجود وی ځکه چې مشوره یو ډول امانت دی او په مشوره ورکونکې باندی فرض دی چې په هغی کې خیانت ونه کړی او د پوره غور و تعمق نه وروسته د پوره دیانت او پوره ایمانداری سره صحیح رایی ورکړی .

عن ابی هریره رضی الله عنه قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم من استشاره اخوه المسلم فاشار علیه بغیر رشد فقد خانه و من افتی فیتا ُبغیر ثبت فاثمه علی من افتاه [ د چا څخه چې د هغه مسلمان ورور مشوره وغواړی او هغه ورته د حق په خلاف مشوره ورکړی نو هغه د خپل ورور سره خیانت کړی او کوم مفتی چې د تحقیق پرته فتوی ورکړه نو ګناه به د فتوی ورکونکې په غاړه وی ] 331.

---

329 - تفسیر قرطبی 4 ټوک 251 مخ د 1967 عیسوی کال د مصر چاپ

330 - سنن ابوداود کتاب الادب باب فی المشوره 5 ټوک 345 مخ - جامع ترمذی باب الاستیذن والادب 2ټوک 124 مخ - الادب المفرد د امام بخاری رحمه الله علیه سره د شرح فضل الله الصمد لومړی ټوک 384 مخ د عیسوی کال 1969 د چاپ

331 - الاداب المفرد لومړی ټوک 352 مخ - سنن ابی داود کتاب العلم 4 ټوک 66 مخ

امام محمد بن اسماعیل بخاری ، امام ابوداود ،او امام ترمذی رحمه الله علیهم په خپلوکتابونو کې د مشوری د اهمیت او ضرورت د ثابتولو په خاطر ځانګړی ابواب قائم کړی دی .

دامام بخاری رحمه الله علیه د قایم کړی باب عنوان دا دی [ باب قول الله وامرهم شوری بینهم و شاورهم فی الامر و ان المشاوره قبل العزم و التبین لقوله فاذا عزمت فتوکل علی الله فاذا عزم الرسول الله صلی الله علیه وسلم لم یکن لبشر التقدم علیٰالله ورسوله [ مشوره د پریکړی او د حق د واضح کیدو تر مخه کیږی کله به چې رسول الله صلیٰالله علیه وسلم د مشوری وروسته او یا د وحی په اساس کومه پریکړه وکړه نو بیا هیڅ یو بشرته د الله جل جلاله او د هغی د رسول صلیٰالله علیه وسلم ترمخه کیدو د حق نه شته332] .

جلال الدین سیوطی رحمه الله علیه چې په 911 هجری قمری کال مړی شوی دی په الخصائص الکبری کې یو ځانګړی فصل ترتیب کړی چې عنوان یی دی باب اختصاصه بوجوب المشاوره [ د مشوری وجوب د رسول الله صلیٰالله علیه وسلم خصوصیت وه.

د دی باب څخه مقصد دا دی چې په نبیٰکریم صلیٰالله علیه وسلم باندی په غیرمنصوص امورو کې د خپلو اصحابو رضی الله عنهم سره مشوره کول واجب وه او دا د هغه امتیازی خصوصیت وه ، د دی باب د ثبوت له پاره ډیر روایتونه رانقل شوی دی 333.

د تیرو شوو انبیاو وروسته به نور پیغمبران او رسولان هم راتلل نو په دی خاطر په هغی وختونوکې د مشوری اخستو ته دومره اهمیت نه وه ورکړل شوی خو څرنګه چې د محمد صلیٰالله علیه وسلم څخه وروسته هیڅ پیغمبر نه شی راتلای ، نو په دی خاطرهغه ته د خپلو اصحابو رضی الله عنهم سره د مشوری کولو له پاره تاکید وشو ترڅو راتلونکې امت د ده

332- صحیح بخاری باب الاعتصام 2 ټوک 1095 مخ

333 - الخصاص الکبری 2 ټوک 230 مخ

په اسوه حسنه باندی عمل وکړی او د ورپیښ شوو معاملو په هکله د فقهاو ، عابدینو د مشوری او اجتهاد په واسطه حکم معلوم کړی .

## د شوری په هکله

### د راشدینوخلفاء تلب لاره :

بَاب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ وَأَنَّ الْمُشَاوَرَةَ قَبْلَ الْعَزْمِ وَالتَّبَيُّنِ لِقَوْلِهِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَإِذَا عَزَمَ الرَّسُولُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ لِبَشَرٍ التَّقَدُّمُ عَلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَشَاوَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابَهُ يَوْمَ أُحُدٍ فِي الْمُقَامِ وَالْخُرُوجِ فَرَأَوْا لَهُ الْخُرُوجَ فَلَمَّا لَبِسَ لَأْمَتَهُ وَعَزَمَ قَالُوا أَقِمْ فَلَمْ يَمِلْ إِلَيْهِمْ بَعْدَ الْعَزْمِ وَقَالَ لَا يَنْبَغِي لِنَبِيٍّ يَلْبَسُ لَأْمَتَهُ فَيَضَعُهَا حَتَّى يَحْكُمَ اللَّهُ وَشَاوَرَ عَلِيًّا وَأُسَامَةَ فِيمَا رَمَى بِهِ أَهْلُ الْإِفْكِ عَائِشَةَ فَسَمِعَ مِنْهُمَا حَتَّى نَزَلَ الْقُرْآنُ فَجَلَدَ الرَّامِينَ وَلَمْ يَلْتَفِتْ إِلَى تَنَازُعِهِمْ وَلَكِنْ حَكَمَ بِمَا أَمَرَهُ اللَّهُ وَكَانَتْ الْأَئِمَّةُ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَشِيرُونَ الْأُمَنَاءَ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي الْأُمُورِ الْمُبَاحَةِ لِيَأْخُذُوا بِأَسْهَلِهَا فَإِذَا وَضَحَ الْكِتَابُ أَوْ السُّنَّةُ لَمْ يَتَعَدَّوْهُ إِلَى غَيْرِهِ اقْتِدَاءً بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَأَى أَبُو بَكْرٍ قِتَالَ مَنْ مَنَعَ الزَّكَاةَ فَقَالَ عُمَرُ كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ فَإِذَا قَالُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَاللَّهِ لَأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ مَا جَمَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ تَابَعَهُ بَعْدُ عُمَرُ فَلَمْ يَلْتَفِتْ أَبُو بَكْرٍ إِلَى مَشُورَةٍ إِذْ كَانَ عِنْدَهُ حُكْمُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الَّذِينَ فَرَّقُوا بَيْنَ الصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَأَرَادُوا تَبْدِيلَ الدِّينِ وَأَحْكَامِهِ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ وَكَانَ الْقُرَّاءُ أَصْحَابَ مَشُورَةِ عُمَرَ كُهُولًا كَانُوا أَوْ شُبَّانًا وَكَانَ وَقَّافًا عِنْدَ كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ

د نبي‌اکرم صلی‌الله علیه وسلم وروسته د مسلمانانو حکمرانانو به د هغه خلکو سره مشوره کوله چې په خپل دیانت او امانت کې به د اعتماد وړ وه او د دین په هکله به ورته پوره پوهه حاصل وه ، دا مشورې به په مباحاتو کې کیدلی [ غیرمنصوص ] ، ترڅو د ټولو آسانه او ګټه وره لار اختیار شي خوکله به چې د قرآن یا سنتو واضح حکم پیدا شو نو د هغې څخه بل طرف ته مخ نه اړوه ، د هغوی دا تګ لاره د نبي‌کریم صلی‌الله علیه وسلم د پیروی په اساس وه.

دا الائمه څخه مقصد راشدین خلفاء او صحابه رضی الله عنهم او تابعین رحمه الله علیهم دی، دا د هغوی ځانګړی لار وه چې په ټولنیزو معاملو کې به ئی د خپلی ځانګړی رای په نسبت د شوترجیح او برتری ورکوله ، د دی عباراتو څخه دا هم څرګندیږی چې د راشدینو خلفا رضی‌الله عنهم په دوره کې امناء او د علم خاوندان[ د قوم معتمد و او باوری ] خلک به د شوری په غونډه موجود وو ] 334.

فان اعیاه ای ابابکر رضی الله عنه ان یجد فیه سنه من رسول الله صلی‌الله علیه وسلم جمع روؤس الناس و خیارهم فا ستشارهم فاذا اجتمع رائهم علی امر قضی به ، و فی کنز العمال و کذالک کان یفعل عمر رضی الله عنه [ که چیری ابوبکر رضی‌الله عنه ته به دکومی معاملی د پریکړی له پاره د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم سنت په لاس ورنه غلل نو د خلکو مشران [ وکیلان ] او د هغوی څخه نیک او پوه خلک به ئی راغونډول او بیا به ئی د هغوی سره مشوره کوله ،کله به چې هغوی په کومه خبره متفق شو ، نو د همغی مطابق به ئی پریکړه کوله حضرت عمر رضی الله عنه هم همداسی کول ]335 .

و کان القراء اصحاب مجالس عمر رضی الله عنه و مشاورته کهولا

---

334- - الدرامی لومړی ټوک 58 مخ د 1978 عیسوی کال د مصر قاهره چاپ - کنزالعمال په حاشیه مسند احمد2 ټوک 166 مخ - فتح الباری 17 ټوک 105 مخ

335 - صحیح بخاری کتاپ التفسیر2 ټوک 669 مخ - الاعتصام 6 ټوک 1082 مخ

کانوا او شبانا و فی روایه شبابا [د حضرت عمر رضی الله عنه د مجلس غړی ، زاړه وه او که ځوانان ، ټول د قرآنی علومو پوهان وه ] 336.

حضرت عثمان رضی الله عنه په خپله لومړی وینا کې ویلی وه چې د کتاب او سنتو وروسته به زه د هغی پریکړی پابند اوسم په کومی چې ستاسو رای یو شان وی337 .

قال الحسن البصری رحمه الله علیه ما استشارقوم قط الا هدوا لا فضل ما بحضرتهم ثم تلا و امرهم شوری بینهم [ حسن بصری رحمه الله علیه فرمایی چې هر هغه قوم چې په مشوری یی‌عمل کړی وی نوهغو ته د نیکې او ښه رای توفیق ورکړل شوی دی ] 338.

د پوهانو وینا وی :

ما استنبط الصواب بمثل المشاوره ولاحصنت النعم بمثل المواسات ولا اکتسبت البغضاء بمثل الکبر [ صحیح او ښه رای د مشوری وروسته لاس ته راځی او په نعمتونو کې برکت د انسانانو سره د همدردی په واسطه پیداکیږی او بغض او دښمنی د کبر او غرور نه را پیدا کیږی ] .

## د ریاست مشرته د شوری
## د رائی د رد کولو حق نشته

ځینی خلک په دی ناپوهی کې دی چې امیرالمومنین ته دا حق ورکړل شوی دی چې د شوری رای او پریکړی رد کړی چې دا کار بالکل د شرعی اصولو خلاف دی .

**O** د "امرهم شوری بینهم " د تفسیر په هکله چې د تفسیرد پوهانو او صالحینو سلفو رحمهم الله کومی ویناوی ترمخه نقل شوی دی په هغی کې دا خبره په ډیر وضاحت سره بیان شوی ده چې د ځانګړی رای په مقابل کې د شوری د پریکړی پابندی واجبه ده ، او شورائیت یو لازم الاتباع

336 - تاریخ طبری 5 ټوک 159مخ

**337** الادب المفرد لومړی ټوک 351 مخ

338- زادالمسیر لومړی ټوک 441 مخ

قانون دی ، د حضرت علی رضی‌الله عنه او حضرت ابن عباس رضی الله عنه د روایتونو له مخی حضرت رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د فقهاو او عابدینو څخه د مشوری اخستلو حکم کړی دی او د ځانګړی رای د اختیارولو څخه ئی منع راوړی ده " ولا تمضوا فیه رای خاص ولا تقضونه برای خاصه " د راشدینو خلفاء د سنت ذکرهم شوی دی چې د " روس الناس او خیار الناس او الامناء " [ د قوم د بهترینو او باوری نماینده ګانو پریکړی به ئی عملی‌کولی د ملوکیت او خلافت ترمنځ اساسی توپیر هم دا دی چې خلیفه د شوری پابند وی او پادشاه د شوری پابندی ضروری نه ګڼی اوکه نه مشوری په خپله پادشاه هم وکړی‌که د هغه طبعیت ئی غواړی منی یی اوکه نه د ټول قوم متفق نظر هم ردکولای شی .

O له دی نه پرته ، د ویټو د حق د نه حصول یولوی دلیل دا هم دی چې خلیفه د شوری له خوا ټاکل کیږی او هغه د قوم د وکیل حیثیت لری، چې د هغوی له خوانه د ورکړل شوو اختیاراتو په اساس د مملکت نظم ونسق پرمخ وړی ، د شوری د پریکړی ردکول د هغه اعتماد د لاسه ورکولو سره برابر دی ، کوم چې شوری په ده کړی وه او د اعتماد او اختیار پرته هغه شرعا د حکومت په منصب نه شی پاته کیدای .

O که چیری دا غلطه خبره د یوی مفروضی په طور ومنو چې د ریاست مشر ته د [ ویټو] حق ورکول شوی، نو د دی حق استعمال که شرعا واجب نه وی نو ډیرنه ډیر د یومباح امر درجه خو به ورته ورکړل شوی وی ، او [ سد باب الذریعه] د قاعدی له مخی کله چې یو روا بلکه مستحب کار هم د فساد او خرابی د را پیداکیدو سبب ګرځی، نو هغه کارممنوع کیږی په رسول الله صلی‌الله علیه وسلم او راشدینوخلفاء رضی الله عنهم د مسلمانانو سل په سلوکې باور وه نو په دی خاطرکه چیری هغوی د شوری پریکړی ردکړی هم وی نو خلکو دا خبره قبلوله خو په اوسنی وخت کې به هغسی حکمران له کومه راشی ؟چې په هغی دی د مسلمانانو اعتماد دومره ډیر وی چې هغه دی د شوری پریکړی د قرآن او سنت د دلیل پرته د

خپلی ذاتی رای په اساس ردکړی او بیا دی هم دا همغسی باوری او معتمدوی په اوسنی وختونوکې د خپل غرضی او جاه طلبی مرضونه په عام ډول خپاره شوی دی او د اخلاص ،د الله جل جلاله څخه د ویری ، تواضع او فروتنی صفات کوم شوی دی نو په دی وخت کې د حکمرانانو په لاس کې د ویتو سلاح ورکول د ظالمانه نظام دروازه پرانستل دی ، د شلمی عیسوی پیړۍ او پنځلسمی هجری پیړۍ حکمرانان د راشدینو خلفاء سره مقایسه کول ډیره غلطه خبره ده ځکه چې هغوی ته په خپله رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دجنت زیری ورکړی وه او د راشدین المهدین په لقب ئی یاد کړی وه او د دی زمانی ډیر متقی او عابد سړی هم د دی اسلحی د غلط استعمال نه ځان نه شی ساتلای ، نو که په اوسنی وخت کې د حکومت کوم مشر د شوری د مجلس اتفاقی فیصله رد کړی نو د هغی معزولول ضروری دی ، تر څو پوری چې د معزول کیدو توره د هغه په سر سوره وی نو هغه به هیڅکله د ظلم ، استبداد ، آمریت او مطلق العنانی لار اختیار نه کړی، او د قرآن او سنتو وروسته به د ملت د نمایندګانو د پریکړو پابند اوسی، ملت به هم په پراخه سینه د هغه اطاعت کوی .

قاضی عبدالحق ابن غرناطی رحمه الله علیه چې په 546 هجری قمری کال کی مړی شوی دی فرمایلی دی چې :

الشوری من قواعد الشریعه و عزائم الاحکام من لایستشیراهل العلم والدین عزله واجب هذا ما لاخلاف فیه و قدمدح الله الموئمنین بقوله وامرهم شوری بینهم [ شورائیت د شریعت بنیادی قاعده او لازمی قانون دی،کوم حکمران چې د دینداره علماو څخه مشوره نه اخلی، د هغه عزل کول واجب دی په دی هکله هیڅوک اختلاف نه لری ]339 .

لوی فقهه ابن خویزمنداد رحمه الله علیه فرمایلی‌دی :

حاکم ته په دینی امورو کې د علماو د خاوندانو څخه مشوره اخستل

339 - تفسیرقرطبی 4 ټوک 249 مخ

واجب دی او په جنګی امورو کې د جنګ د ماهرینو څخه مشوره اخستل په کار دی ، او د ملت د ښیګڼو له پاره د ملت د وکیلانو [ وجوه الناس ] څخه مشوره اخستل په کار دی او د مملکت د مصالحویعنی د ترقی او تعمیر په امورو کې د سکرترانو و زیرانو او نورو لاس لاندی حکاموڅخه مشوره اخستل په کار دی 340.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله علیه فرمایی چې : لاغنی لو لی الامر عن المشاوره [ حکمران ته روا نه ده چې خپل ځان د مشوری څخه بی پروا [مستغنی] وګڼی ] 341.

سید جمال الدین افغانی رحمه الله علیه فرمایی چې : هغه ملت چې په خپلوکړو وړوکې په خپله د پریکړې اختیار ونلری او په ولسی امورو او د ملی ښیګڼو په کارونو کې د هغوی مشوری او غوښتنی داخلی نه وی ، یا ملت د داسی یوه حکمران د لاس لاندی وی چې د هغه اراده قانون او د هغه غوښتنه د حکومت نظام وی ، څه چې غواړی کوی ئی او څنګه یی چې زړه غواړی هسی حکم کوی، نو داسی ملت به هیڅکله په یوه حال پاته نه شی او نه به ترقی وکړی 342.

شیخ محمد عبده فرما یی چې : د شریعت د واجباتو څخه یو واجبی امر شورائیت دی ،که مونږ دا حکم ، په شریعت کې واجب ګرځول شوی پریږدو نو مونږ به د ښکاره ګناه مرتکب ګرځیدلی یو .

د بغداد د پوهنتون پروفیسور عبدالکریم زیدان وایی چې : کله چې د ریاست مشر د مشاورت حکم ترک کړی ، نو هغه د قدرت نه لری کول په کار دی ځکه چی مشاورت د دی حقیقت ښکار ندوی دی چې اصل اختیارات د اسلامی ټولنی په لاس کې دی او د حکومت مشر د ټولنی

340 - تفسیرقرطبی 4 ټوک 250 مخ

341 السیاسه الشرعیه 7 فصل 157 مخ

342 - ثلاثه من اعلام الحریه له قدری څخه 134 مخ - نظام الحکم فی الشریعه والتاریخ د طافر قاسمی لیکنه 74 مخ د 1970 عیسوی کال بیروت چاپ

وکیل دی نه چې خپل اختیاره او مطلق العنان343 .

هغه خلک چې امیر ته د ویټو حق ورکوي هغوی د ال عمران 159 آیت دلیل نیسی چې په هغه کې ویل شوی دی چې کله ته پریکړی وکړی نو بیا په الله باندی تکیه وکړه دا خلک وائی چې د" عزمت " څخه دا څرګندیږی چې د شوری د پریکړی په خلاف پریکړه کول او عزم کول هم روا دی حال دا چې د دی آیت مقصد د مشوری څخه وروسته عزم دی حضرت علی رضی الله عنه څخه چا پوښتنه وکړه چې د عزم څخه مقصد څه دی ؟ هغه وفرمایل :

مشاوره اهل الرای ثم اتباعهم [ د رای د خاوندانو سره مشوره کول او بیا د هغوی د پریکړی پیروی کول ] 344.

د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د دی حدیث څخه دا په ډاګه کیږی چې د عزمت څخه مقصد د شوری د پریکړی په نافذولوکې عزم او توکل دی د هغوی د پریکړی رد ول تری مقصد نه دی .

دوهم دلیل دا وړاندی کیږی چې حضرت ابوبکر صدیق رضی‌الله عنه د ذکات د نه ورکونکو په خلاف اقدام وکړ او د حضرت عمر رضی الله عنه او د شوری رای ئی‌مسترد کړه حال دا چې د ابوبکر رضی الله عنه دا اقدام د هغه د ذاتی رائی پوری تړلی نه وه بلکه د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د حدیث مطابق وه او د حدیث په موجودیت کې د شوری رای ته کوم قانونی حیثیت نه پاته کیږی .

امام بخاری رحمه الله علیه فرمایی چې : ابوبکر رضی الله عنه له دی امله د مشوری په لور څه توجه ونه کړه چې د هغه سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم پریکړه د هغه خلکو په هکله چې د لمانځه او د ذکات ترمنځ توپیر راوړی او د دین د احکامو بدلول غواړی موجوده وه 345.

---

343 - اصول الدعوه 169 مخ 197عیسوی کال د عراق بغداد چاپ

344 - تفسیر ابن کثیر 2 ټوک 142 مخ [ ال عمران سورت 159 آیت ]

345 - صحیح بخاری کتاب الاعتصام 2 ټوک 1096 مخ

دریم دلیل دا دی چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه د اسامه رضی الله عنه د لښکر روانیدل ونه ځنډول او مشوری ته یې هیڅ توجه ونه کړه حال دا چې دا پریکړه په خپله رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په خپله ژوند کې کړی وه او د هغی د بدلولو اختیار هیچاته نه وه ورکول شوی ځکه چې په نبوی دور کې د څرګندو پریکړو د بدلولوحق شوری ته هم نه وه ورکړی شوی.

## العرفاء

### [ د ملت نمایندګان ] :

اوس دا پوښتنه را منځ کیږی چې د کومو خلکو څخه مشوره واخستل شی، ښکاره ده چې د ټولو مسلمانانو څخه چې شمیری سلګونو میلیونو ته رسیږی په ځانګړی توګه مشوره نه شی اخستل کیدای او نه ټول غونډی ته رابلل کیدای شی، د دی پوښتنی ځواب دا دی چې د مسلمانانو د باوری او معتمدو نماینده ګانو څخه باید مشوره واخستل شی د ملت دغی نماینده ګانوته په حدیث کې عرفاء ویل شوی دی [ په ملی چارو پوه مشران ] .

قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ان العرافه حق و لابد للناس من العرفاء ولکن العرفاء فی‌النار[ د علاقی نمایندګی ضروری ده او خلکو ته د نماینده ټاکل هم لازمی دی خوخراب او بد نمایندګان به په جهنم کې وی ] 346.

عرفاء د عریف جمع ده چې معنا یی " القیم و السید لمعرفته بسیاسه القوم [ مدبراو منتظم ، سرداراو مشر چې د قوم په سیاسی لارو چارو پوه وی ] .

ابوسلیمان خطابی رحمه الله علیه فرمایی چې : العریف القیم بامرالقبیله والمحله یلی‌امورهم ویتعرف الامیر منهم احوالهم [ عریف

346 - سنن ابوداود 3 ټوک 348 مخ

هغه چا ته ویل کیږي چې د خپلی قبیلی یا محلی منتظم وی او د هغوی د معاملو مسئولیت په غاړه ولری ، امیرالمومنین د دی قبیلی او محلی حالات د همدی په واسطه ځانته معلوموی ] .

لکه چې شاعروائی :

اوکلما وردت عکاظ قبیله    بعثوا الی عریفهم یتوسم

[ د عکاظ میلی ته چې کله کومه قبیله راځی نو هغه خپل عریف یعنی مشر او مسئول نماینده ما ته راستوی او زه د هغه څخه حالات معلوموم ] .347

په صراح اللغات کې د عریف ژباړه په دی ډول شوی ده " شناسنده وکارکذارقوم "

لکه څنګه چې تر مخه مو د هوازن د بندیانو په هکله د صحیح بخاری حواله ذکر کړه چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دعرفاء و یعنی د مسلمانانو د نمایندګانو د رای د اخستلو وروسته ټول بندیان خوشی کړل نو د دی څخه دا معلومیږی چې په هغه وخت کې هم د ملت نمایندګان موجود وه چې هر یو د خپلی خپلی قبیلی معتمد او باوری وه. همدغو عرفاو ته په ننی اصطلاح کې د نمایندګانو غونډه یا پارلمان ویل کیږی او امیرالمومنین د همدوی څخه د مشوری اخستلو پابند وی .

**نقباء :**

عرفاو ته نقباء هم ویل کیږی موسی علیه السلام هم د بنی اسرائیلو له پاره دولس نقباء ټاکلی وه چې د خپلو قبیلو نماینده ګی به ئی کوله .

الله جل وعلی شانه فرمایی چې:

وَلَقَدْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا

[د المائد سورت 12 ایت ]

[ او په یقین سره چې الله جل جلاله د بنی اسرائیلو څخه وعده اخستی

---

**347** - معالم السنن په حاشیه سنن ابوداود 3 ټوک 347 مخ

وه او مونږ د هغوی څخه دولس نقیبان [ سرداران ] ټاکلی وه ] .

په لیله العقبه کې کله چې د مدینی انصار و بیعت وکړ او لکه څنګه چې تر مخه حواله ورکړل شوه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی څخه هم دولس کسه نقیبان وټاکل د نقیب معنا هم د عریف په څیر ده .

و النقیب العریف وهو شاهد القوم و ضمینهم و هو کالعریف علی القوم المقدم علیهم الذی یتعرف اخبارهم و ینقب عن احوالهم ای یفتش [ نقیب عریف ته وائی چې د خپل ملت د معاملاتو ګواه او مسئول وی ... دا د ملت هغه مشر دی چې د هغوی د حالت نه پوره خبر وی او د هغوی دکړو وړو پلټنه او څیړه نه کوی 348].

په صراح اللغات کې د نقیب معنی ده بهتر و داننده قوم [ سردار او د قوم پوه شخص ] .

ابواسحق او زجاج رحمه الله علیهما فرمایلی دی چې النقیب فی اللغه کالامین والکفیل [ نقیب د ملت باوری او مسئول وګړی ته ویل کیږی 349].

**ملاء القوم :**

دمفسرینو امام ابن جریر رحمه الله فرمایی چې د ملاء القوم د پریکړی پابندی په مسلمانانو لازمه ده .

ابن منظور رحمه الله لیکې چې : الملاء الروساء و قیل اشراف القوم و وجوههم و رؤساهم و مقدمو هم الذین یرجع الی اقوالهم [ د الملاء څخه مقصد د قوم مشران او شریف نمایندګان وی چې قوم را منځته کړی وی او د هغوی د خبری په لور رجوع کیږی 350].

څرکنده شوه چې د ملاء القوم څخه مقصد هم لکه د عرفاء او نقباء په څیر د ملت نمایندګان اخستل کیږی .

---

348- لسان العرب لومړی ټوک 769 مخ

349 - زاد المسیرد ابن جوزی لیکنه 2 ټوک 311 مخ

350 - لسان العرب لومړی ټوک 159 مخ

.......................

**اولو الامر:**

د اولو الامر تفسير په مخکې آيت کې بيان شوی دی چې د اولو الامر په مفهوم کې حکام فقهاء او سياسی مشران ټول شامل دی نو له دی امله د امر د خاوندانو اطلاق په ملی او قومی نمايندګانو هم کيدای شی .

ابن کيسان رحمه الله فرمايلی دی چې : هم اولو العقل و الرای الذين يدبرون امر الناس [ د ملت عاقل او پوه خلک د هغه ملت اولو الامر وی او د هغوی د معاملاتو تدبيرکونکې وی351].

امام زجاج فرمايی چې: اولو الامرمن يقوم بشان المسلمين فی امر دينهم و جميع ما ادی اليه صلاحهم [ د اولو الامرڅخه مقصد هغه خلک دی چې د مسلمانانو د دينی امورو ګټو او ټولو نيکوکارونو له پاره ملاتړلی ولاړ وی ] 352.

د پورتنی څيړنی څخه دا څرګنديږی چې د ملت نمايندګانو ته هم اولی الامر ويل شوی چې د هغو د اطاعت حکم ورکول شوی دی د سورت النساء په دری اتياوم آيت کې حکم شوی دی چې هغه امور چې د تحقيق او څيړنی وړ وی هغه دی د اولو الامر په مخ کی کيښول شی ، ترڅو هغو د اجتهاد او څيړنی او تحقيق وروسته مناسبه پريکړه وکړی او همدا خلک د پارلمان [ ملی شورا ] غړی هم ګرځی .

**اهل الحل والعقد:**

د ملت نمايندګانو ته د اسلام پوهان په عمومی ډول " اهل الحل والعقد" وا يی يعنی د قوم مسوولين او نمايندګان چې د خلکو باوری اومرجع وی امام رازی رحمه الله عليه فرمايی چې : المراد بقوله اولی الامر اهل الحل و العقد من الامه [ د اولوالامرڅخه مقصد د اسلامی امت اهل

351 - تفسير قرطبی 5 ټوک 260 مخ

352 - تفسير خازن لومړی ټوک 397 مخ

**حل و عقد** [ د پريکړې کولو خلکدى353 ] .

شيخ محمد عبده رحمه الله عليه فرمايي : د هغه اولو الامر څخه چې ذکر يې په قرآن شريف کې شوى دى ، مقصد ترى هغه د راى او بصيرت خاوندان دى چې د اسلام په اصطلاح کې ورته اهل شورى يا اهل حل و عقد ويل کيږى ، دا د رياست هغه مسئولين دى چې نور قومونه ورته نواب الامه [ د ملت نمايندګان وايى ] او دا ضرورى ده چې ټول قانونى انتظامى او سياسى امور دى همدوى ته په غاړه کې ورواچول شي 354 .

همدا خبره د شيخ محمدعبده شاګرد او د مصر پياوړى محقق سيد رشيد رضا په المنارکې ليکلى ده چې : د راى او بصيرت په خاوندانومشتمله يوه داسى اداره په کار ده چې د هر ډول ټولنيز، قانونى او سياسى امورو فيصلى وکړى .

همدغه العرفاء ، النقباء ، ملاء القوم ، اولوالامر او اهل الحل والعقده ته د اوسنى دور په سياسى اصطلاح کې د ملت نمايندګان ، د قوم نمايندګان يا د پارلمان غړى ويل کيږى او په اسلامى اصطلاح کې ورته د مجلس شورى غړى وايى د رياست د مشر د ټاکلوڅخه نيولى د هرى ارزښتناکې معاملى د پريکړى پورى ټول اختيارات بايد د همدى ادارى سره وى او دا اداره خپلى پريکړى د قرآن ، سنت او د راشدينوخلفاء د سنتو په رڼاکې کوى خو په غير منصوص امورو يعنى مباحات او مصالحو کې به دى ادارى ته د اجتهاد کولو آزادى موجوده وى که څه هم هر او وګړى کولى شى چې مشوره ورکړى وړانديز ورکړى ، تنقيد او محاسبه وکړى خو د مملکت د امورو پريکړى د قوم معتمد او مومن عرفاء او نقباء څخه جوړه شوى شورى کوى چې ددى پريکړى پابندى د

---

**353** - تفسير کبير لسم ټوک 144 مخ

**354**- الاسلام و التجديد فى مصر 167 مخ په حواله د کتاب ثلاثه من اعلام الحريه 160مخ

ریاست په مشر او یا د حکومت په مشر ضروری ده ، مگر دا چې هغه پریکړه د قرآن ، سنتو او د امت د اجماع خلاف وی نو په دی صورت کې د هغی پریکړی رد کول واجب دی ، که چیری د شوری او د ریاست د مشر ترمنځ په کومه معامله کې د نصوصو او اجماع د خلاف کیدو یا نه کیدوکې اختلاف رای پیدا شی نوبیا به دا معامله د عابدینو فقهاء قضا ته وړاندی کول په کار دی .

### د مجلس شوری [ پارلمان] د غړو مواصفات

مشوره یو امانت دی لکه څنگه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې المستشارموتمن [ د چا څخه چې مشوره اخستل کیږی هغه معتمد وی ] او الله جل جلاله فرمایی چې :

ان الله یامرکم ان تودو الامانات الیٰاهلها

[ الله جل جلاله تاسو ته حکم کوی چې امانتونه او مسئولیتونه هغه خلکو ته وسپاری چې د هغه اهل وی ] .

د شوری د مجلس غړیتوب داسی یو حق نه دی چې هغه د حقوقو د برابری تر قاعدی لاندی راشی او بی له کوم شرطه هر وگړی ته د شوری د غړیکیدو او یا هغه ته د کاندیدو حق ورکړل شی، بلکه دا یو فرض دی چې د شوری غړی یی د امت د نمایندگانو او وکیلانو په حیث انجاموی ښکاره ده چې فرض او امانت هر چا ته نه شی ورسپارل کیدای - بلکه هغه ته د اهلیت یو معیار په کار دی ، د اهلیت او د نمایندهگۍ د معیار شرائط دا دی :

**ایمان :**

د اسلامی ریاست مجلس شوری د ریاست د مشر او د وزیرانو د ټاکلو پرته د اسلامی قوانینو تشریح او تعبیر هم په غاړه لری ، په نوو مسایلو کې به اجتهاد هم کوی ، او د اسلامی نظام د نفاذ له پاره د عملی تدبیرونو نیول هم د دوی دنده تشکیلوی ، نو هغه څوک چې بلکل په اسلام باندی عقیده نه لری نو هغه ته به دا ارزاښتناک مسئولیت څنگه

وسپارل شی؟ ځکه د هر فکری ریاست مسئولین باید د ریاست په بنسټیز فکر باندی پوره یقین ولری نو له دی امله د مسلمان امت د نماینده له پاره دا ضروری ده چې هغه په توحید ، رسالت ، ختم نبوت او د قرآن او سنتو په قاطعو احکامو غیرمتزلزل اعتقاد ولری .

البته غیر مسلمانی ډلی کولی شی د جلا انتخاباتو په اساس خپل نمایندګان د ریاست پارلمان ته واستوی .

**فقاهت** :

د هر ریاست د شوری غړو ته لږ تر لږه د هغه ریاست د اساسی قانون په هکله څه معلومات وی ، نو څرنګه چې د اسلامی ریاست اساسی قانون قرآن او سنت دی ، نو هغه څوک چې د هغه په هکله ابتدائی معلومات هم و نه لری هغه څنګه د دی شوری غړی جوړیدی شی ؟ ددی امله دی ته اړتیا ده چې د دی شوری غړی کتاب او سنت او اسلامی تعلیماتو ژوره پوهه ولری ، دا ضرور نه ده چې د کوم دارالعلوم سند دی ولری خو د ضرورت په اندازه علم او فقاهت لرل ورباندی لازمی شرط دی د سورت النساء په 83 آیت کې د اولوالامر صفت په دی ډول بیان شوی دی چې هغه به د اجتهادی بصیرت خاوند وی رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم د فقهاو څخه د مشوری اخیستو حکم کړی دی راشدینو خلفاو به د علم او پوهی د خاوندانو څخه مشوره اخسته ، او د حضرت عمر رضی الله عنه د شوری ارکان علماء وو.

**عدالت او دیانت** :

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د عابدینویعنی عبادت کونکو او دیانت لرونکو خلکو څخه د مشوری اخیستو حکم کړیدی ، او د شوری غړو ته یی امناء ، موتمن ، خیارالناس [ غوره خلک ] ویلی دی د بله طرفه قرآن کریم د مسرفینو- مترفینو – فساقو- فجارو د اطاعت څخه منع راوړی ده – ددی دلایلو له مخی ضروری ده چې د شوری غړی د فرائضو پابند او د کبائرو او فواحشو څخه لری والی وکړی ، څرنګه چې فاسق او

فاجر سړی قاضي او ګواه نه شی کیدای نو د قانون جوړونکې اداری غړی به څنګه جوړشی هغه څوک چې د لمانځه او روژې پابند نه وی په فحاشی او اخلاقی جرمونو عادی شوی وی، قاتل غل وی او په سود ، جواری او داسی نورو کبائرو کې غرق وی نو هغه نه د مسلمانانو معتمد کیدی شی ، او نه د مخلصانه مشوری اهل دا ډول خلک خپل عرضی، نفس پالنی او خپل پالنی په هکله فکرمند وی، د الله جل جلاله څخه نه ویریدونکو خلکو ته د هیواد واګی سپارل په اصل کې د ځان وژنی او ملت وژنی سره برابر دی خو په دی لړکې د ضرورت نه زیاته څیړنه او پلټنه هم په کارنه ده بلکه هغه خلک چې په خپلو منطقوکې په عدالت او دیانت مشهور وی بد نوم ونه لری ، او د منطقی خلک د هغه په پاکوالی ګواهی ورکوی وی نو د دی منصب اهل ګرځیدای شی .

**عاقل اوبالغ وی :**

دماغی مریض او نابالغه په خپل مال کې هم تصرف نه شیکولای

" ولا توتو السفاء اموالکم "

نو د ملی امورو مسئول به څنګه جوړشی ؟ د هغی له پاره دا ضروری ده چې د پوخ ذهن خاوند وی، خپله رای ولری او په معاملو وپوهیږی د ذهنی پخلنی له پاره د لږ تر لږ عمرحد هم ټاکل کیدای شی لکه پنځلس کاله

**د عامو رواجو نو څخه باخبر وی :**

ابن عابد شامی او جلال الدین سیوطی رحمه الله علیهما لیکلی دی چې : عرف او رواج په شریعت کې معتبر دی او په غیرمنصوصو امورو کې د عرف او عادت [ رسم او رواج په اساس پریکړه کیږی ] 355 .

---

355 - رسائل ابن عابدین رحمه الله لومړی ټوک 44 مخ 1976 عیسوی کال د پاکستان لاهور چاپ – الاشیاء والنظائر د جلا الدین سیوطی رحمه الله علیه 29 مخ د 1959 عیسوی کال د مصر چاپ

ابن قیم رحمه الله لیکې چې فتوی او پریکړه د هیواد عرف ، حالت او عادت د بدلون په اساس بدلیږی 356 .

هغه څوک چې نه د خلکو د رسم او رواج او عام عرف څخه خبروی ، نه د حاضره حالاتو په هکله پوهه لری ، او نه په بین المللی چارو کې علم ولری نو دا د ریاست د قانون او پالیسی جوړونکې مهمی اداری فرائض هم نه شی پوره کولای .

**د اسلامی امت معتمد وی :**

په ذکر شوی صفاتو د موصوفو خلکو شمیر زرګونو ته رسی او د ټولو رائی یوځای کول سخت کار دی نو لازمه ده چې د ترجیح او غوره والی له پاره اصول او قواعد جوړ شی هغه اصول داسی کیدای شی چې هغه خلک چې د علم او دیانت په څنګ کې د مسلمانانو د اکثریت معتمد هم وی نو هغه ته به په پاته خلکو ترجیح ورکولی شی ، ښکاره ده چې عرفاء او نقباء هغه خلک کیدای شی چې د اهلیت په څنګ کې معتمد هم وی لکه څنګ چې یو سړی یواځی د اهلیت او قابلیت له پلوه په خپله د چا وکیل نه شی جوړیدی تر څو چې موکل پری اعتماد ونه کړی او خپل وکیل ئی و نه ټاکې ، په همدی توګه د قوم نقیب اوعریف یعنی د قوم نماینده یواځی د ذاتی قابلیت په اساس تر هغی پوری د شوری غړی نه شی جوړیدای ترڅو پوری چې د منطقی د خلکو اعتماد ترلاسه نه کړی ، د اعتماد لاسته راوړل د وټونو په واسطه هم کیږی لکه څنګه چې په اوسنی وخت کې معمول دی او د وټونو پرته هم په عرفی توګه معتمد کیده کافی دی لکه څنګه چې د راشدینو خلفاو رضی الله عنهم په دوره کې د شوری غړو ته د مسلمانانو لخوا د اعتماد رایه ورکړل شوی وه په خاصه توګه انصار او مهاجرین [ لسابقون الاولون ] عملا د اسلامی امت نمایندګان وه او هغوی ته په رواجی شکل د انتخاب شوو وګړو څخه زیاد د ملت اعتماد ور په برخه وه هلته د وټونو د تکلیف ضرورت نه وه ، د مجلس شوری د

[356] اعلام الموقعین 3 ټوک 62 مخ د 1969 عیسوی کا ل د مصر چاپ

غړو حیثیت د اولو الامر په څیر دی او هغه څوک اولو الامر ګرځی چې په خپله مسلمانانو ټاکلی وی د چا له خوا کاندید نه وی د " امرهم شوری بینهم " به عمومی اصولو کې د شوری د غړو ټاکل همه شامل دی خو د دی مطلب هیڅکله دا نه دی چې د غیرو منتخبو خلکوڅخه مشوره او رایی اخیستل او یا د هغوی په پیشنهادونو او تبصرو عمل کول روا نه دی په هر ښه پیشنهاد او مشوری باندی عمل کیدای شی خو په اصل کې د با اختیاره او پالیسی جوړونکې اداری غړی هغه خلک دی چې د اهلیت په څنګ کې ئی د مسلمانانو اعتماد هم تر لاسه کړی وی .

د پورتنیو ذکر شوو شرائطوڅخه دری بنیادی شرطونه امام ماوردی رحمه الله علیه او قاضی ابویعلی هم ذکرکړی دی .

د اهل حل و عقد یعنی د ملت په نمایندګانو کې د دری صفتونو موجودیت لازمی دی : عدالت او دیانت - علم ، فهم اوپوهه ، په معاملی پوه .

امام قرطبی رحمه الله علیه فرمایی چې په دینی او قانونی امورو کې د عالم څخه مشوره اخستل په کار دی داسی عالم چې د یانت لرونکې هم وی او په دینوی او انتظامی امورو کې تجربه لرونکې او د رای خاوند هم وی 357.

## په موجوده زمانه کې
## د مجلس شوری د جوړولو کړنلاره

نن سبا ځینی خلک وائی چې د انتخاباتو لړی په اسلام کې نه شته دا په دی خاطر چې په نبوی دور اود خلفاو راشدینو رضی الله عنهم په دوره کې د بیا بیلټ پیپر [ د رای پاڼه ] طریقه رواج نه وه ، دا خبره په اصل کې د شریعت د اصولو څخه د بی خبری په حالت کې کیږی په دی لړ کې یو څه اصولی قواعد وړاندی کیږی مګر ټولی غلطی یا په دی قواعدو د نه پوهیدو او یا هغی ته د توجه د نه کولو په اساس را پیدا کیږی.

---

[357] - الاحکام السلطانیه د ماوردی لیکنه 4 مخ – ا لاحکام د قاضی ابی یعلی لیکنه 19 مخ

……………………

**لومړی قاعده:**

ټول شیان اصلا مباح او روا دی تر هغه پوری چېکوم دلیل د هغه په حرمت دلالت و نه کړی .

امام احمد رحمه الله علیه فرمایی :

الاصل فی العادات ان لا یحظر الا ما حظره الله تعالی ] عادات او معاملات [ پرته د عباداتو څخه ] اساسا غیر ممنوع دی مگر دا چې الله جل جلاله د کومی معاملی څخه منع راوړی وی ] 358.

ددی شرعی قاعدی د بنیادی دلائلوڅخه د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ځینی‌احادیث هم دی د مثال په ډول :

سکت عن اشیاء من غیر نسیان فلابتحثوا عنها [ الله جل جلاله د ځینی شیانو په هکله [د هیریدونه په غیر ] چپوالی اختیارکړی دی نوتاسو د هغو شیانو په مباح کیدو بحث مه کوی ] 359.

سیوطی رحمه الله علیه په الاشباه کې د مسند بزار، ترمذی، ابن ماجه او معجم طبرانی څخه د دی مضمون په هکله ډیر احادیث را ټول کړیدی لکه چې ملاعلی قاری حنفی رحمه الله علیه لیکې چې:

دل علی ان الاصل فی الاشیاء الاباحه [ دا حدیث په دی دلالت کوی چې په شیانوکې اصل د هغه اباحت او جواز دی ] .

خو دا قاعده یوازی په عباداتوکې نشی جاری کیدای ، بلکه په دی هکله په خپله رسول الله صلی‌الله علیه وسلم یوه قاعده بیان کړی ده او هغه دا چې : من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رد [ چا چې زمونږ په دین کې هغه حکم او طریقه را پیدا کړه چې هغه په دین کې نه وی ، نو هغه مردوده شمیرل کیږی دی ډول حکم ته بدعت ویل کیږی او : کل بدعه ضلاله [ هر بدعت گمراهی ده ] خو [ د رای د پاڼی په ذریعه ] انتخاب

---

358 - اقتضاء صراط المستقیم د ابن تیمیه لیکنه 269 مخ 1950 عیسوی کال چاپ – المشکوه المصابیح باب الاعتصاء

359 مرقات لومړی ټوک 263 مخ د پاکستان ملتان چاپ

کوم شرعی کار نه دی ، شرعی حکم شورایت دی ، چې د قرآن او سنتو او د صحابو رضی الله عنهم د سنتو څخه ثابت وی ، انتخاب [ الیکشن ] یوازی د اعتماد د لاسته راوړلو یو وسیله ده چې د عرف او رواج د بدلیدو په سره بدلیږی .

د مجلس شوری جوړل په هغه اصلی مباحاتوکې شامل دی چې د هغی په اساس شریعت مونږ ته آزادی راکړی چې د حالاتو مطابق هره لاره چې غوره گڼی اختیار ولای شی ، او په اوسنی وخت کې د قوم د اعتماد د لاسته راوړلو یواځی لار همدا ده چې د وټونو په اساس دی اصلی اداره جوړه کړای شی ، د بیلټ پیپر[ د رای کاغذ] د انتخاب په هکله که کوم شرعی دلیل وی نو هغه رامخته کړی ، او که نه نو اصلا په عاداتو، معاملاتو او آلاتو کې اباحت شته او دا د عباداتوله ډلیڅخه نه دی ترڅو د ثبوت نشتوالی د جواز د نشتوالی د پاره دلیل وگرځوی ، لکه څنگه چې په قتال فی سبیل الله کې د نوی اسلحی استعمال په دی خاطرمنع کیدای نه شی چې دا خو په نبوی دورکېمروج نه وه ، نو په همدی توگه د رای کاغذ هم په دی اساس نا روا نه شوگڼلای چې په هغه دورکې مروج نه وه .

**دوهمه قاعده :**

و العرف فی الشرع له اعتبار و لذا علیه الحکم قد یدار[ عرف عام په شریعت کې معتبر دی ، نو له دی امله په ځینی وختوکې د هغی په پریکړی عمل کیږی ] 360.

و فی المبسوط الثابت بالعرف کا لثابت بالنص [ د عرف په اساس ثابت شوی شی داسی وی لکه څنگه چې د نص څخه ثابت شوی وی ] 361.

تغیرالفتوی بحسب تغیرالازمنه والامکنه والاحوال والعوائد [ د

360 - رسایل ابن عابدین دویمه رساله لومړی ټوک 44مخ

361 - رسایل ابن عابدین دریمه رساله دوهم ټوک 155مخ

زمانی، علاقی ، حالاتو او عاداتو د بدلیدو په اساس فتوی بدلیدای شی ] 362.

جلال الدین سیوطی سبړمه قاعده دا بیان کړی ده العاده محکمه [ عادات فیصله کوونکي حیثیت لری 363.

خو عرف ، عادات ، رسم او رواج هلته معتبر دی چې د قطعی نصوصو او اجماع په خلاف نه وی او که نه نو بیا ورته د فقهاو په اصطلاح فاسد عرف وائی چې د هغی د منځه وړل په کار دی ، همدا ډول په تعبدی احکاموکي هم عرف ته څه مقام نه دی ورکول شوی ، خو الیکشن [ انتخابات ] یوه انتظامی معامله ده ، د راشدینو خلفاو په وخت کي انتخاب د [رای د کاغذ] په اساس رواج نه وه او نه دهغه وخت په عام عرف کي ورته اړتیا لیدل کیده- خلک لږ وه او په لویو صحابوکرامو رضی الله عنهم د خلکو په سلو کي سل باور او اعتماد وه او هغوی عملا او عرفا د خپل ملت نمایندګان او د حل و عقد خاوندان وه ، خو په اوسنی وخت کي عرف بدل شوی دی نو په دی اساس په دی دور کي د انتخاباتو همدا مروجه لاره ګټوره ده .

**دریمه قاعده :**

"سد الذرائع" د فساد او خرابی د زرائعو مخنیوی کول دی که چیری کوم روا او نیک کار د فساد او غیر شرعی ناروا کار ذریعه ګرځی نو بیا هغه کار ناروا او د پریښو د لو وړ وی ، ترڅو د خرابی دروازی ورو تړلی شی.

حافظ ابن قیم رحمه الله د دی قاعدی 99 مثالونه وړاندی کړی دی او امام بخاری رحمه الله د دی قاعدی ذکر داسی کړیدی باب من ترک بعض

---

362 - اعلام الموقعینی 3 ټوک 5 مخ

363- الاشیاه والنظائر د جلال الدین سیوطی لیکنه 89 مخ الاشباه د ابن نجیم جنفی رحمه الله علیه لیکنه

الاختيار مخافه ان يقصر عنه فهم بعض الناس فيقعوا فى اشد منه [ په دى باب كې د هغه چا دليل بيان شوى چې ځينى ښه شيان ترک كوى، دا په دى خاطر چې ځينى خلک به هغه مصلحت ونه ګڼى او د دى نه په لويه خرابى كې به ونښلى ، كه چيرى د كانديدى په اساس د وټونو اچولو پرته د شورى جوړول روا هم وى نو بيا هم په اوسنى دور كې د دى لارى په اساس د آمريت او ظالمانه نظام د دروازى د پرانستلو ډيره خطره احساس كيږى ، د حضرت ابوبكر ، حضرت عمر ، حضرت عثمان او حضرت على رضى الله عنهم په څير حكمرانانو له خوا نامزد كړل شوى خلک مسلمانان د خپل نماينده په توګه په آسانى سره منى خو په اوسنى دوركې د داسى حكمران پيدا كيدل هم سخت دى چې د هغوى په منتخب شوو خلكو قوم راضى او مطمئن اوسى، او د قوم د اطمينان او اعتماد نه پرته منتخب كړى شوى خلكو ته د حل و عقد مستحق نه شى ويل كيداى او نه د هغوى پريكړى قوم په پوره اعتماد منلاى شى، نو له دى امله دى ته اړتيا ده چې د دى خطراتو څخه د ځان ساتلو په خاطر د وټونو په اساس پارلمان جوړكړل شى ځكه چې خلک دا درک كړى چې پارلمان د دوى د منتخبو وكيلانو څخه جوړه شوى دى نو د هغوى په منځ كې د رياست په چارو كې د ګډون احساس را ژوندى كيږى او ملى يووالى به نور هم ټينګښت پيدا كړي ، د ښوونى او روزنى د كم والى په اساس په دى وخت كې په انتخاباتو كې هم تر يوى اندازى پورى د خطر د راپيدا كيدو امكان شته ، خوكه د كانديدانو له پاره پورتنى معيارى شرائط وضع شى ، نو دا خطره به تر ډيره حده پورى لږه شى د كانديد تاوان په دى دوركې د هغه د ګټى څخه ډير دى او په اوسنو شرائطو كې د انتخاباتو ګټه د هغه د نقصان څخه ډيره ده ، نو په دى خاطر " اثمهما اكبر من نفمهما - اختيار اهون البليتين او دفع المضره مقدم على جلب المنفعه ، د مسلمه قاعدى په رڼا كې د انتخاباتو لاره لږه خطرناكه لاره ده .

## د انتخاباتو د مروج نظام

**اصلاح کولو ته اړتیا ده**

غربی جمهوریت او د هغی د انتخاب تګ لاره د اسلامی فکر سره کوم مناسبت نه لری، خو د یوه سره د انتخاباتو د پریښولو په ځای د هغه په نظام کې دا لاندی اصلاحات راوړل ضروری دی :

په کاندیدکې د مخکی ذکر شوو صفاتو موجودیت شرط وګڼل شی : مسلمان وی ، د دین د پوهی څخه بـه د ضرورت پـه اندازه خبر وی ، دیانت لری ، عاقل او بالغ وی او عرفیاتو[ رسم او رواجونو] څخه خبر وی .

هغه سړی د کاندید په حیث را مخ ته کړی شی چې هغه د کوم ګوند یا علاقی د مشهورو خلکو د پیژندګلوی په اساس کاندید شوی وی ، هیچا ته په آزاد او شخصی ډول په انتخاباتو کې د ودریدو او کاندیدو اجازه ورنه کړل شی .

په انتخاباتو کې د کاندید د شخصی سرمایی د مصرف څخه مخنیوی وشی او د هغه د انتخابی هلوځلو ټول مصارف د همغه ګوند یا خلکو لـه خوا چې دا یی د کاندید په حیث پیشتهاد کړی دی صورت ونیسی خو د اعانت اوکومک پـه توګه دی خپل توان په اندازه څه سرمایه ګوند تـه ورکولای شی

کـه چیری ګوندیز سیستم نافـذول مقصد وی نـو بیـا هغـه ګوندونـه پابندکړی شی چې د داسی نماینده‌ګانو فهرست راوړاندی کړی چې پورتنی شرائط په کې په پوره ډول موجود وی .

رسمی یا غیر رسمی ماموریت د شرعی پارلمان منافی نه دی خو د ماموریت د مسئولیت پـه څنګ کې د پارلمان مسئولیت سرته رسول ډیرګران کار دی نو په دی خاطر د داسی شخص دکاندیدو څخه مخنیوی وکړی شی خوکه ماموریت داسی وی چې د هغه په څنګ کې د ملت د نمایندګی مسئولیت هم ترسره کولای شی نو بیا پـه شرعی لحاظ کوم بندیز نه شته

دا هغه بنسټیز شرطونه دی چې که چیری کوم کاندید ئی پوره نه شی کړی نو د کاغذونو اخیستونکې مسئولین دی د هغه کاغذونه بیرته ورکړی خو دا کاغذ اخیستونکې مامور به داسی شخصیت وی چې د شرعی قضاء د قاضی کیدو اهل وی ،، پاتی قواعد او ضوابط همغه پوهان جوړوی چې د انتظامی‌امورو پوری تړلی وی .

## د ښځو د نمایندګی مسئله

څرنګه چې د غربی‌جمهوریت بنسټ د [ ملی‌حاکمیت ] په اساس ایښودل شوی دی نو ددی امله هلته د نارینو په څیر ښځی هم د دولت او حکومت مشری‌کولای شی ، او د لومړی و زیر [صدراعظم ] په حیث هم ټاکل کیدلی شی خو په اسلامی نظام کې د ښځو اوړی د عملی سیاست یعنی حکومت د نظم و نسق د چلولو څخه خالی دی ، څرنګه چې پارلمان [ د شوری مجلس ] یوه مشوره ورکونکې انتخابی اداره ده چې د حکومت مشر ټاکې او هغه ته مشوری ورکوی ، قانون جوړه وی ، نو آیا د دی اداری له پاره کومه ښځه د غړی په حیث انتخابیدای شی؟ ښه خو دا ده چې په دی هکله د عابدینو فقهاوکومه ګډه پریکړه منځ ته راشی، خوهغه رای چې ما د شریعت د اصولو په رڼا کې وړاندی کړی ده هغه دا ده چې ښځه د مشوری ورکولودحق څخه په شرعی توګه نه ده منعه کړی شوی ، د قرآن او سنتو څخه خو دا خبره په ډاګه ده ، چې ښځی په عمومی ډول د نارینو په مقابل کې د ناقص عقل خاوندانی دی او همدا علت دی چې نارینه ئی په ښځو باندی حاکمان ټاکلی دی. خوما ته ددی خبری کوم دلیل په لاس رانغی چې ګویا ښځه نه شی‌کولای چې مشوره ورکړی او یا د هغی په مشوری عمل کول ناروا دی ، کله کله د ناقص عقل مشوره صائبه هم وی او ځینی ښځی د نارینو په نسبت ډیری ذهینی، پوهه او فقیهی وی ، خو په عمومی ډول د نارینه ذهانت په ښځی ډیر دی ، همدا علت دی چې د دوه ښځو ګواهی ئی یو سړی د ګواهی سره برابره کړی ده ، د امام ابوحنیفه رحمه الله د نظر په اساس ښځی د حدود و او قصاص د

پرته په نورو ټولو چارو کې قاضيه جوړيداى شى364.

د امام ابن جرير رحمه الله د نظرئى په اساس د حدود و اوقصاص په شمول په ټولو چارو کې ښځه قاضيه ټاکل کيداى شياو د نورو څلورو امامانو له نظره ښځى فتوى ورکولاى شى365.

امام ابن حزم رحمه الله د شلو داسى ښځو نمونه راخيستى دى چې د صحابو رضى الله عنهم په وخت کې ئى فتوى ورکولى366 .

نوکله چې ښځه قاضى او مفتى ټاکل کيداى شى نو د مجلس شورى غړې څنگه نه شى ټاکل کيداى ځکه چې د دى ادارى کارونه هم مشوره او فتوى ورکول دى ، د پاليسى جوړولو او قانون جوړولو کارونه هم د فتوى يو برخه ده . کله چې په محکمه کې د دواړه گواهانو د بيانونو د اوريدلو وروسته پريکړه کولى شى او يا د گواه په ډول محکمى ته حاضريدلاى شى، نو بيا خو هيڅ داسى معقوله وجه نشته چې په شرعى پردى کې دى د شورى په غونډه کې گډون ونه کړى شى او يا دى مشوره ورنکړى شى د ابوهريره رضى الله عنه په حديث کې د اموركم الى النساءكم څخه مقصد دى " مفوضه الى نساءكم " يعنى کله چى ستاسى چارى ښځو ته وروسپارلى شى او يوازى د هغوى په مشوره او پريکړى عمل وکولاى شى، نارينو په مقابل کى د هغوى پريکړى پوره اوکافى وگڼلى شى، نوپه هغه وخت کى د ځمکى خيټه تاسى ته د هغه د مخ څخه غوره ده په دى حديث کى د ښځو څخه مشوره اخيستل او يا د هغوى په کوم صحيح نظر د عمل کولو څخه منع نه ده راغلى بلکه په ټولو پريکړو او تصاميمو کى د هغوى د آزادو پريښولو څخه منع راغلى ده په همدى ډول " الرجال قوامون علىالنساء ( سړى په ښځوحاکمان دى ) يا " لن يفلح قوم ولوا امرهم امراه

[364] -هدايه کتاب القضاء - بدائع الصنائع 7 ټوک3 مخ 1974 عيسوى کال د بيروت چاپ

[365] - المغنى د ابن قدامه ليکنه 2 ټوک 36مخ بدايه المجتهد 2 ټوک 420 مخ

[366] - جوامع السير د ابن جزم ليکنه 332 مخ

.... ( هغه ملت به هيڅکله کامياب نه شي چي هغوی د خپلو چارو واګی د ښځوپه لاس کی ورکړی وی ) په دی آيت او حديث کی ئی ښځی د مشوری ورکولو، فتوی او تحقيق کولو يا پيشنهاد ورکولو څخه نه دی منع کړی بلکه د حکومت نظام د ښځو په لاس کی د ورکولو څخه ئی منع راوړی ده په دی لړ کی يو روايت په خلکو کی ډير مشهور شوی چی شاوروهن وخالفوهن ( د ښځوڅخه مشوره خو اخلی ليکن د هغه مخالفت کوی او د هغوی په مشورو عمل مه کوی ) .

د دی روايت په هکله ملا علی قاری حنفیچی په 1014 هجری کال کی مړ شوی دی د علامه سخاوی 903 هجری کال کی مړ شوی د کتاب المقاصد الحسنه فی بيان کثير من الاحاديث المشتهره علی الا لسنه په حواله ليکی چی: لايثبت بهذ المعنی ... و قال السخاوی رحمه الله لم اعرفه مرفوعا.... و قال السيوطی رحمه الله باطل لا اصل له ( دا حديث پدی الفاظوثابت نه دی ، سخاوی رحمه الله فرمايی چی د دی په هکله د رسول الله صلیالله عليه وسلم وينا ما ته معلومه نه ده، سيوطی رحمه الله فرمايی چی دا د دروغو روايت دی چی هيڅ بنسټ نه لری [367].

د حضرت انس رضی الله عنه څخه په همدی هکله يو حديث رانقل شوی چی الفاظ يی دا دی : لايفعلن احدکم امرا حتی يستشير فان لم يجد من يستشير فليسنشر امراه ثم ليخالفها فان فیخلافها البرکه ( تاسو هيچ يو دی د مشوری پرته څه کار نه کوی که چيری بل کوم مشوره کونکی په لاس ورنشی نو بيا د د ښځی سره مشوره وکړی خو په هغه عمل نه کړی دا په دی خاطر چی د ښځی د مشوری په مخالفت کی برکت وی )[368] .

شمس الدين سخاوی رحمه الله د دی روايت د نقل کولو وروسته

---

[367] - موضوعات کبيرد ملاعلی قاری ليکنه 222 مخ 1921 عيسوی کال بيروت چاپ

[368] - موضوعات کبيرد ملاعلی قاری ليکنه 322 مخ 1921 عيسوی کال بيروت چاپ

لیکلی دی چی فی سنده ضعف و انقطاع ( د دی سند ډیرضعیفه او په منځ کی ئی لړی غوځه شوی ده ) .محمد بن عراق رحمه الله په خپل کتاب تنزیه الشریعه 2 ټوک 308 مخ کی لیکلی دی چی دا حدیث ابن لال د حضرت انس رضی الله عنه څخه رانقل کړی دی خو عیسی بن ابراهیم الها شمی یی په سند کی راغلی او دی په دروا‌غو ویلومتهم دی [369].

د صحیح احادیثوله پاره د ثقه او عادلو راویانو موجودیت شرط دی چی حافظی او یادښت یی هم ښه او درست وی او د سند د لړی اتصال هم یو لازمی خبره ده څنگه چی د پورتنی حدیث یو روایت کونکی په دروا‌غو متهم دی او سند ئی هم اتصال نه لری یعنی غوځ او منقطع دی ، نو دا حدیث هم د منلو وړ نه دی او " شاورهن و خالفوهن " په هکله خو دا هم ځرگنده نه شوه چی دا چا رانقل کړی دی ملاعلی قاری دا په مرقات کی د سند پرته " و قد ورد " ( روایت راغلی دی ) په کلیمو را نقل کړی دی ) [370].

خوله خپل دوهم کتاب موضوعات کبری کی ئی دی روایت ته بی اصله او باطل ویلی دی لکه څنگه چی ترمخه حواله ورکړل شوه .

په دی هکله یو بل حدیث هم را وړاندی کولای شی چی هغه سخاوی رحمه الله علیه په خپل کتاب مقاصد حسنه او سیوطی رحمه الله علیه په " اللالی المصنوعه فی الاحادیث الموضوعه کی د حضرت عایشی رضی الله عنها او حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه څخه د ابن عدی رحمه الله علیه ، ابن لال او الدیلمی رحمه الله په حواله رانقل کړی دی چی طاعه النساء اوطاعه المراه ندامه ( د ښځو خبره منل د پیښمانی سبب گرځی ) خو سخاوی رحمه الله علیه او سیوطی رحمه الله علیه دی حدیث ته

---

[369] - دابن لال څخه مقصد ابوبکر احمد بن علی بن علی .. بن لال الهمدانی چی په 398 هجری قمری کال مړ شوی دی چی د مکارم الاخلاق تر عنوان لاندی یی یو کتاب هم لیکلی دی .

[370]- مرقات 10 ټوک 98 مخ د پاکستان ملتان چاپ

ضعیف ویلی دی [371] .

ابن جوزی رحمه الله علیه چی په 597 هجری قمری کال کی مړ شوی دی د حضرت عایشی رضی الله عنها او حضرت زید بن حارث رضیالله عنه د روایتونو د رانقل کولوڅخه وروسته ویلی دی : هذان حدیثان لایصحان اما حدیث زید ففیه عنبسه قال یحیی لیس بشیء و قال ابن حبان هو صاحب اشیاء موضوعه لایجوز الاحتجاج به و لا بعثمان بن عبدالرحمن و اما حدیث عائشه رضی الله عنها فقال العقیلی محمد بن سلیمان یحدث عن هشام بواطیل لا اصل لها منها- هذا الحدیث قال ابن عدی ماحدث بهذا الحدیث عن هشام الاضعیف( دا دواړه حدیثونه صیحیح نه دی د زید بن ثابت رضیالله عنه روایت په سندکی عنبسه بن عبدالرحمان راغلی دی یحیی وایی چی د هغه هیڅ حیثیت نه شته ابن حبان وائی چی نوموړی د درواغو او افواهاتو خپرونکی وه، نو په دی اساس د هغه روایت هم دلیل نه ګرځی، او نه د هغه د شاګرد عثمان بن عبدالرحمان روایت دلیل کیدای شی ، د حضرت عاشی رضیالله عنها د روایت په سندکی محمد بن سلیمان بن ابیکریمه راغلی دی چی هغه به هشام بن عروه ته د درواغو حدیثونه منسوبول چی هیڅ بنسټ به ئی نه درلوده – دا حدیث د همغوی له ډلی څخه یو دی - ابن عدی رحمه الله علیه فرمایی چی د هشام څخه د دی حدیث رانقلوونکی ټول راویان ضعیف دی ) .

د دی ډول ضعیفو او موضوعی روایاتو په مقابل کی، قرآن کریم او صحیح احادیثوکی د ښځو څخه مشوره اخستل ،اوکه چیری رائی او نظرئی صحیح وی نو په هغه د عمل کولوجواز ثابت دی .1

کله چی د حضرت شعیب علیه السلام لور هغه ته مشوره ورکړه او پیشنهاد ئی ورته وکړ چی حضرت موسی علیه السلام د خپل ځان سره نوکر کری ځکه چی هغه قوی او امانت دار دی نو پیشنهاد معقول وه او

---

[371]- موضوعا ت کبیر 223 مخ

حضرت شعیب علیه السلام نوکر ته اړهم وه نو هغه د خپلی لور په مشوره عمل وکړ او موسی علیه السلام ئی د څه شرائطو په اساس د خپل ځان سره نوکر ونیوه ." د دی دواړوڅخه یوی وویلی چی ای پلاره هغه له ځان سره نوکر ونیسه داسی نوکر چی ته ئی غواړی ځکه هغه قوی هم دی او امین هم ...

2- د بقری د سورت په 233 آیت کی د کوچنی د شیدو څخه د غوڅولو په معامله کی د ښځی او میړه دواړو د ترمنځ یوه د بل سره د مشوری حواله ورکړل شوی ده او دا هم د ښځی په مشوری د عمل کولو یو ښکاره مثال دی .

3- د حدیبی د صلحی د تړون وروسته چی کله رسول الله صلی‌الله علیه وسلم حکم وکړ چی پورته شی او د قربانی ځناور حلال کړی او د سرونو ویښتان و تراشی او احرامونه پرانیځی نو هیڅ څوک د خپل ځای څخه پورته نه شول د دی خبری د دری واری تکرارولو وروسته رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د خپلی میرمنی ام المومنین ام سلمه رضی الله عنها خیمی ته تشریف یوړ هغه ورته مشوره ورکړه او پیشنهاد ئی ورته وکړ چی تاسو د چا سره د خبرو پرته د باندی ولاړ شی او خپل د قربانی اوښ حلال کړی او سر ویښتان مو وتراشی کله چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په دی مشوره عمل وکړ، نو صحابه کرام رضی الله عنهم پورته شوو او قربانی ئی وکړه ځاروی ئې حلال کړه او یو د بل د سرونو په تراشلو بوخت شو[372].

ابن حجر رحمه الله علیه فرمایی : و فیه فضل المشوره و...و جواز مشاوره المراه الفاضله ( د دی حدیث څخه د مشوری فضیلت معلومیږی او دا هم را په ډاگه کیږی چی د فاضلو، رای او نظرد ښځتنو او په معامله پوهو ښځو څخه مشوره اخستل روا دی ) [373].

---

- صحیح بخاری کتاب الشروط لومړی ټوک 380 مخ
- فتح الباری 6 ټوک 275 مخ الشروط.

4 - دوهم مثال ئی دا دی چی کله چی د حضرت علی رضی الله عنه او حضرت معاویه رضی الله عنه په منځ کی دروان جنګ د پای ته رسولو او د مسلمانانو ترمنځ د یووالی د را پیدا کولو له پاره حکمین وټاکل شوه نو د حکمینو د پریکړی د اوریدو له پاره بی طرفه صحابه کرام رضی الله عنهم هم راوبلل شوه ترڅو چی ټول مسلمانان په یوه خبره متفق شی حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه ته هم د راتللو بلنه ورکول شوه ( چی بی طرفه وه ) هغه د ام المومنین حضرت حفصه رضی الله عنها څخه چی د ده خور وه مشوره وغوښته چی ولاړ شی اوکه نه ؟ په خپله ابن عمر رضی‌الله عنه د تګ اراده نه لرو ده خو حضرت حفصه رضی الله عنها ورته مشوره ورکړه چی سمدلاسه ولاړ شه کیدای شی چی ستا د نشتوالی په اساس په مسلمانانو کی بیا بیلتون را پیدا شی " فلم تدعه حتی ذهب حضرت حفصه رضی الله عنها حضرت ابن عمر رضی الله عنه ترهغی پوری پری نښود ترڅو پوری چی هغه نه وه تللی" [374].

دا دواړه پیښی‌په صحیح بخاری کی رانقل شوی دی دا ښکاره خبره ده چی د ام سلمه رضی الله عنها او ام حفصه رضی الله عنها مشوره د کورنیو چارو په هکله نه وی رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم د ام سلمه رضی الله عنها په مشوره عمل وکړ حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه د ام حفصه رضی الله عنها په مشوره عمل وکړ او حضرت شعیب علیه السلام د خپلی لور په مشوری عمل وکړ نو د دی ډول مستندو روایاتو په پرتله به هغه روایاتوته څه ځای پاته وی چی ضعیف یا موضوعی وی او په هغه کتابونوکی راخستل شوی دی چی د محدثینو له نظره معتمد او متداول نه دی .

5- امیر المؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه به هم د ښځوڅخه مشوره اخسته [375].

---

- صحیح بخاری المغازی غزوه خندق 2 ټوک 589 مخ

375- تفسیرمظهری په حاشیه 2 ټوک 153 مخ

6- حضرت عمر رضی‌الله عنه بـه د شفا بنت عبدالله قرشيه رضی الله عنها د رای او نظر ډيره قدردانی کوله د هغه رای به ئی مقدمه ګڼله کله کله به حضرت عمر رضی الله عنه دی ښځی ته د بازار د نګرانی کارونه هم ورسپارل[376] .

7- سمره بنت نهيک اسديه رضی الله عنها چی يوه صحابيه وه او د ډير عمره پوری ژوندی وه دی به د بازارونو دوری کولی ، خلکو تـه بـه ئی په نيکی حکم کاوه او د بدی څخه به ئی منع کول او جرم کونکی به ئی په دورو وهل چی له دی سره به موجوده وه[377]

8 - په نبوی دورکی بـه ښځو پـه غزاګانو کی شرکت کـاوه د زخميـانو علاج به ئی کولو، د شهيدانو لاشونه به ئی راپورته کول او مدينی تـه بـه ئی راوړل او مجاهدينو ته به ئی اوبه ورکولی[378] .

خوځرنګه چی د ښځو اوړی د حکومت د چلولوڅخه خالی دی نو پـه دی خاطر غوره خو دا ده چی د انتخاباتو په عمومی مقابلوکی د ودريدو په ځای ورته يوڅو چوکی خاص کړای شی،د دی نه پرتـه د نـارينو لـه پـاره چه کوم شرايط پورته ذکر شول ، هغه دوی ته هم په نظر کی نيـول ضـروری دی او همدا راز ښځوته د شرعی پردی پابندی هم لازمی وګرځول شی، او د غونډی پـه وخت کـی د هغـوی د کښيناستو ځايونـه د ټولووروسـته وی. داهـم کيـدای شـی چـې د ښځـو جداګانـه شـوری وی چـه حکومـت تـه د ضرورت په وخت کی د مشـوری ورکولـو او يـا د خپلـو غوښتنـو د وړانـدی کولو له پاره جدا غونډی وکړی شی .

---

[376] - الاصـابه ابـن حجـر4 ټـوک 341 مـخ - الاستيعاب د ابـن عبـدالبر پـه حاشـيه الاصابه 2 ټوک 241 مـخ واسدالغابه5 ټوک مـخ 487 پـه حوالـه د ابـن عبـدالبر او ابونعيم اصفهان

[377] - الاستيعاب به حاشيه الاصابه 4 ټوک 335 مخ

[378]- صحيح بخاری کناب الجهاد د لومړی ټوک 403 مخ

......................

وخت کې د مشوری ورکولو او يا د خپلو غوښتنو د وړاندی کولو له پاره جدا غونډې وکړی شی .
دا خو زما نظر وه لیکن مولا نا سید ابوالاعلی مودودی رحمه الله علیه د سورت احزاب د ایت " قرن فی بیوتکن ." او بعضواحادیثو په رڼا کې داسی استدلال کوی .
د قران مجید د دغه روښانه او څرگند حکم په مو جودیت کې ددی خبری څه گنجایش دی چې مسلمانې ښځې د شوراگانو ا وپارلمانونو غړې شي ، له کور نه د باندی ټولنیزو او اولسي فعالیتونو کې برخه واخلی په دولتی اداروکې له نارینو سره یو ځای کاروکړي ، په پوهنتونونو کې له هلکانو سره گډ تحصیلات وکړی ، د نارینو په روغتونو کي د نرسانو وظیفی اجراء کړي ،الو تکو او اورگاډو کې مسافر پالو نکې وټاکل شي ، د زده کړې او تحصیلاتو لپاره اروپا ، امریکا ... ته ولیږل شی .
دکور نه د باندی د ښځو د فعالیتونو د روا والی په با ب چې کوم غټ دلیل وړاندې کیږ ي هغه دا دی چې حضرت عائشی رضی الله عنها د جمل په جگړه کې برخه اخیستی وه خو کوم خلک چې دغه استدلال وړاند ی کوي هغو ته ښایې دا نه وې معلومه چې په دی باب پخپله د حضرت عایشی رضی الله عنها مفکوره څه وه .
عبدالله بن احمد بن حنبل رحمه الله علیه په زوائد الزهد کې او ا بن المنذر ابن ابی شیبه او ابن سعد په خپلو کتابونو کې د مسروق روایت نقل کړی دي چې حضرت عائشه رضی الله عنها به کله دقران کریم د تلاوت په ترځ کې دغه [ دقرن فی بیوتکن ] ایت ته ورسیده نو بې اختیاره

به یې ژړل تر دی پوری چې د هغه پړونی به لمدیده ، ځکه چې په دی سره به هغې ته خپله هغه غلطی وریادیدله چې د جمل په جګړه کې ورڅخه صادره شوې وه379.

د جمل په جګړه کې دام المومنین دګډون دلاملونو او مقاصدو تفصیل زما په کتاب [ عورت کې حکمرانی قرآن و سنت کې روشنی مین ] د مستندو کتابونو د حوالو سره لیدلی شی - لیکن پدی ګډون دام المومنین د پیښمانی او خفګان کومه حواله چې مولا نا سید ابوالاعلی مودودی رحمه الله علیه ورکړې مناسب بولم چې د هغی دعربی متن د احادیثو له کتابونو څخه وړاندی کړی .

ابن سعد چې په 230 هجری کال کې وفات شوی په خپل کتاب کې لیکلی عایشی رضی الله عنها به چې کله د " وقرن فی بیوتکن بکت حتی تبل خمارها " آیت ولو سته دومره به ئی ژړل چې پړونی به لمدیده380 .

ابن ابی شیبه چې په کال 235 هجری قمریکال کې وفات شوی دی د حضرت عائشه رضی الله عنها قول داسی نقل کړی دی : وددت انی کنت غصنا رطبا و لم اسر مسیری هذا [ زه بنه بولم چې دونې شنه لخته وی خو چې دا سفر می نه وای کړی {د جمل د جګړی سفرته اشاره کوی } ] 381

" قالت عائشه لما حضرتها الو فاه ادفنونی مع ازواج النبی فانی کنت احدثت بعده حدثا [ کله چې حضرت عایشه رضی الله عنها ته مرګ راغی نو وي ویل ما درسول الله صلی الله وعلیه وسلم د نورو ښځو سره په عامه هدیره کې دفن کړی [ کوم امتیاز حیثیت مه راکوی ] ځکه چې ما د رسول الله علیه وسلم د وفات څخه وروسته یو نو ی کار ایجا د کړی یعنی د جمل په جګړه کې ګډون 382.

---

[379] - تفهیم القرآن 4 ټوک 90 مخ حاشیه 48 سورت الحزاب

[380] - طبقات دابن سعد لیکنه 8 ټوک 81 مخ دبیروت چاپ کال 1958 م .

[381] - دابن ابی شیبه مصنف 15 ټوک مخ ، مستردک دحاکم 3 ټوک 119 مخ

[382] - طبقات ابن سعد 8 سعد ټوک 84 مخ مصنف ابن ابی شبیه 10 ټوک 360 مخ

دام المومنين حضرت عايشه رضی الله عنها پدی کار ډيرو صحابياتو نيوکه کړی وه خو د هغی يادونه له دی امله ضروری نه ښکاری چې هغوی دی کار ته غلط وايه او پری پيښمانه وه بلـه دا چې د قـران او سـنت د ښکاره حکم په مقابل کې د صحابی قول يا عمل حجت نه دی .

ځينی خلک د رضيه سلطانه ، چاند بی بی د بهوپال د شهزادګيو حکومتونه د ښځو د سياسی فعاليت لپاره د دليل او حجت په توګه وړاندی کوی خو پوښتنه دا ده چې دام المومنين حضرت عايشه رضی الله عنها غمل او کړنه دليل نه شی کيدی نو د بادشاهانو او شهزاده ګيو کړنه څنګه دليل کيدا شی. ددی شهزادګيو او ښځو د حکومتونو د جواز فتوی خو علماؤ هم نه ده ورکړی ،که علامه نواب صديق حسن خان بهوپالی د دی ښځو د حکومت مخالفت نه وی کړی د هغی به څه خاص حالات او مصالح په نظر کې وه خو هغی هم دد ی حکومتونو د جواز فتوی نه ده ورکړی .

همدا راز په پاکستان کې د جنرال ايوب خان د دکتاتوری او امريت څخه د خلاصون په خاطر محترمه فا طمه جناح د صدر اعظمی لپاره کانديد کړای شوی وه او مفتی محمد شفيع صاحب نظر ورکړی وه چې د دوو بديو څخه دی کوچنی اختيار کړی شی ، اوکله چې مولا نا سيد ابوالاعلی مودودی رحمه الله عليه د زندان څخه راخلاص شو د مفتی صاحب د رای تائيد ئی وکړ خو دوی دواړو هم د ښځی د حکومت د جواز فتوی نه وه کړی بلکه د عدم جواز فتوای ئی ورکړی وه چې په ليکلی ډول موجوده ده .

ښکاره خبره ده چې د لوی بدی څخه د خلاصون په خاطر په موقت ډول کوچنی بدی برداشت کول خو ممکن دی مګر د هغی څخه د جواز دليل او مستقل اصول جوړول پکار نه دی اګر چې زما رائی دا ده چې په هغی وخت هم زمونږ داهون البليتين په اختيارولو مجبورنه وو ځکه چې د خپل کانديد د ودرولو لاره هم خلاصه وه اوبی طرفه پاتی کيدل هم ممکن وو

،او له دی پرته د فاطمه جناح د عظمی صدارت د اهون البلیتین په رابطه هم اختلاف رای کیدی شی .
ځینی خلک په نبوی عهد کې د صحابیاتو د جماعت د لمانځه د اداء کولو جوماتونو ته وتل د ښځو د سیاسی فعالیت او اولسی ښیگڼو کې د برخی اخستیلو لپاره د دلیل په توګه نیسی مګر دا قیاس مع الفاروق دی چې د نرو او ښځو د ګډو مجالسو او دکورڅخه د باندی د اولسی فعالیتونو او په محلی حکومتونو کې ګډون لپاره د جواز دلیل نه شی جوړیدی .
په دی خبره کې د هیڅا اختلاف نه شته چې په نبوی دور کې امهات المومنین او نوری صحابیاتی جوماتونو او عیدګاه ته تللی او د سړو د صفونو شاته به ئی صفونه جوړول او لمونځ به ئی اداء کاوه ، او د سلام د اړولو نه سملاسی وروسته کورونو ته تللی ، مسجد نبوی کې د ښځو د تلو راتلو لپاره جدا لاره او دروازه وه چې تر اوسه پوری د باب النساء په نامه یادیږی ، مګر په بل طرف کې داسی احادیث روایت کړی شوی دی چې دا ورڅخه ثابتیږی چې د ښځو لپاره په کورونو کې لمونځ اداء کول افضل دی .
او هغو ی ته جوماتونو ته د تللو اجازه ورکړی شوی ، حکم ندی شوی ، او دا اجازه هم په څه شرائطو مشروطه ده .
د دواړه ډوله احادیثو په رڼا کې امام نووی رحمه الله علیه ددی موضوع په رابطه لیکلې دی چې : ښځې جوماتونو ته د تللو څخه منع کول روانه دی مګر دا اجازه هم په لاندی شرائطو مشروط ده چې علماؤ د نورو احادیثو په رڼا کې بیان کړی دی :

- عطر ئی باید نه وی استعمال کړی .
- ډول اوسینګا ر بې نه وی کړی .
- په لاسونو او پښو کې ئی داسی زیور او ګانه نه وی اچولی چې اوآز کوی .

- ښکلي او ښایسته لباس ئی نه وی اغوستی .
- په صفونو او لارو کې د سړو سره اختلاط او ګډون نه وی .
- ماحول او محیط داسی وی چې په فتنی او فساد کې د مبتلا کیدو خطراو ویره نه وی[383].

حنیفی فقها و دهمدی لاملونو په اساس لیکلی چې اوس د فساد او فتنی خطره ډیره ده نو جوماتونو ته د ځوانو ښځو تلل مکروه دی [384].

د مالکې ، حنبلی او شافعی فقهاؤ رائی هم دا ده چې ښه خبره دا ده چې ښځی په کورونو کښی لمونځ اداکړی ، خوکه د فتنی خطره او ویره نه وی نو جوماتونو ته تللی شی ، خو د فتی د موجودیت په صورت کې جوماتونو ته د ښځو تلل مکروه دی[385].

مولا نا سید ابوالاعلی مودودی رحمه الله علیه د موضوع په اړه د احادیثو د بیان څخه وروسته لیکلی : د اسلام د مزاج او طبیعت سره ځومره مخالفت لری تردی چې د الله جل جلاله په کورکې د عبادت په وخت هم دواړه جنسونو د اختلاط او ګډون اجازه ورکړی

نو د اسلام په باره کې ددی تصور هم نه شی کیدای چې په تعلیمی ادارو، دفترونو ،و کلبونو او غونډو کې د ښځو او سړو اختلاط او ګډون اجازه ورکوی [386].

جوماتونو ته د ښځو د تللو په رابطه د احادیثو او احکامو تفصیلات زما په کتاب تفهیم المسائل دریم ټوک 317 – 324 مخونو کې وګوری .

---

[383] - شرح نووی په صحیح مسلم باب خروج النساء الی المساجد

[384] - هدایه مع فتح القدیر .لومړی ټوک 529 مخ ، در مختار مع رد المختار لومړی ټوک 529 مخ

[385] - المغنی لابن قدامه حنبلی 2 ټوک 202 مخ - الفقه الاسلامی د ز حیلی لیکنه 2 ټوک 100 مخ

[386] - تفهیم القران سورت نور حاشیه 49 ټوک 3 مخ 390- 396

## نیو لیك

آیا دا احادیث د محلی حکومتونو، د اولسی فعالیتونو او بلدیاتی مخلوطو او گډو مجالسو او غونډو کې دشرکت او برخی اخستی له پاره د دلیل په حیث نیول او را وړل کیداشی ؟ هر څوک چې دخپل ضمیر دقناعت او حق طلبی په روحیه پدی سوال غوروکړی جواب به یی منفی وی ،د مولانا سید ابوالاعلی مودودی رحمه الله علیه او نورو راسخینو علماو جواب د سوال په اړوند هم منفی دی مگر ځان ته قناعت ورکولو ا ویا د جواب ورکولو په خاطر خو یو ویونکي ویلی شي چې ښځی دی په غونډو کې شرکت نه کوی ، او که کله دانتخاباتو وخت راځی اویاکومه مهمه خبره تر بحث لاندی نیول کیږی نو برقعه به پرسر اچوی او د غونډی په کوم کنج کې کښینی او په بحث کې برخه نه اخلی ، خو دا صرف یو تصور دی نوعیت به له لاسه نه ورکړی ، او د مسئولیت دقبلولو غوښتنه او تقاضاهم دا ده چې په غونډو او فعالیتونو کې فعالانه ونډه واخلی .

مولانا سید ابوالاعلی مودودی رحمه الله علیه دکتاب " اسلامی ریاست " په اتم باب کې د اسلامی دستور لس بنیاد ی اصول بیا ن شوی دی چې په هغوی کې شپږ م اصل د " ښځو منصبونه " ترعنوان لاندی داسی بیان شوی دی .

الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ [سورت النساء 34 آیت ]

[سړی په ښځو باندی قیمومیت لری ] .

لن یفلح قوم ولوا امرهم امراه[صحیح البخاری ]

[هغه قو م به هیڅکله کامیابی ونه مومی چې خپل کارونه ئی ښځی ته سپارلی دی ] .

دا دواړه نصونه پدی اړه غوڅ او قاطع دی چې په هیواد کې د غړیتوب وی او یا د کومی اداری مدریت وی ] ښځو ته نشی سپارل کید ، ځکه چې د اسلامی حکومت په دستورکې ښځو ته د احیثیت ورکول او په هغی د گنجائش راویستل د صریحو نصوصو خلاف کار دی ، ا ود الله او رسو ل تابع حکومت ا وریاست ددی مسئلی دمخالفت مجاز نه دی

د دی تفصیلی تشریح د اسلامی ریاست په یولسم باب کې د [ داخلی سیاست کې دښځو رول ] ترعنوان لاندی په 506 – 517 مخونو کې راغلی ده .

مولانا سید ابوالاعلی مودودی رحمه الله علیه وایی، په اوسنی عصر کې دقانون جوړونکې مجلس [پارلمان ] کار یوازی د قانون جوړول نه دی بلکه په عملی ډول همدا [پارلمان ] د ټول هیواد کنترول په لاس کې لری ، همدا کابینه جوړه وی او ورانوی ، د نظم انضباط او امنیت سیاستونه وضع کوی ، ا وهمدا د هیواد اقتصادی او مالی قانون جوړوی دجنګ او صلحی ټول واک د پارلمان په لاس کې وی ، له دی حیثیت[387] څخه د پارلمانونو مقام صرف د یو فقیه او مفتی نه بلکه د ټول هیواد داقوام او واکدار مقام لری . لدی څخه ورسته مولانا سید ابوالاعلی مودودی رحمه الله علیه د قرانی آیاتونو او نبوی احادیثو څخه ثا بته کړی چې دقیومیت مقام او دهیواد دسیاست او نظم مسئولیت ښځو ته سپارل داسلام خلاف کار دی ، د مولانا سید ابوالاعلی مودودی رحمه الله علیه له نطره قانون جوړونکې مجالس [ پارلمانونه ] قوام [ واکدار ] دی ا ود قرانی ایاتونو او نبوی احادیثو له رویه په هغی کې د ښځو ګډون غیر اسلامی دی .

مولانا سید ابوالاعلی مودودی رحمه الله علیه په خپله رای ډیر اصرار کوی او وایی : پاتی شو هغه خلک چې دهغی په وړاندی دحق معیار یواځی د دنیا دغالبو قومونو طرز عمل او تګ لاره ده او په هر حال هغوی همغه طرف ته ځی کوم طرف چې اکثریت ځی نو هغوی ته چا ویلی دی چې اسلام هم دځان سره وران کړی ، چیرته چې دهغوی زړه ځی په شوق سره دی همغه طرف ولاړشی مګر لږ ترلږه باید دومره رشتینی وی چې دچاپسی روان وی دهغه نوم په جرات سره واخلی ، او اسلام ته هغه خبری

---

[387] - اسلامی ریاست 8 باب ، 379 مخ چاپ کال 1985 م

منسوب نه کړی چې د الله کتاب او د هغه د رسو ل سنت او د صحابه کرامو او تابعینو تاریخ له هغی څخه په زغرده انکار کوی388 .

د همدی کتاب [ اسلامی ریاست ] په 515 صفحه کې لیکې : اسلام په اصولی ډول د مخلوطی اوګډی ټولنی مخالف دی . او هیڅ داسی نظام چې دکورنۍ وجود او استحکام ته اهمیت نه ورکوی دا نه خوښوی چې د نرو او ښځو ګډه اومخلوطه ټولنه دی وی ، په غربی هیوادونو کې د دی [ ګډی ټولنی ] ناوړه نتایج ښکاره شوی ، او که زمونږ ټولنی د هغی ناوړه نتائجو د برداشت له پاره تیاری وی برداشت کړی ، خو ددی څه ضرورت دی چې په اسلام کې د هغه کارونو له پاره په زور ګنجایش پیدا کړی چې اسلام په قوت سره هغه منع کړی دی ، که اسلام د جنګ په وخت کې د ښځوڅخه د پرستاری [ مرهم پټی کوونکې ] کاراخیستی دی نو د دی دا مطلب نه دی چې د صلحی په وخت کې دی هغوی دفترونو ، کارخانو ، کلبونو او پارلمانونو ته رواستلی شی .

ښځی د سړو د کار په دائره او ډګر کې د سړو په مقابل کې نه شی کامیابیدی ځکه چې هغوی ددی کارونو له پاره پیدا شوی ندی .

ښځی خو لا پریږده چې د موجوده پارلمانونو نارینه غړی هم د اهلیت په شرعی معیارونو برابر نه دی ، ددی پارلمانونو ټول نظام د غربی جمهوریت په اصولو ولاړ دی ، او مونږ ددی پارلمانونو په ځای د اسلام شوارئی نظام راوړل غواړو ، خو زما په نظر د شرعی احکامو او شرعی پردی پابندی ښځی د مجلس شوری او قانون جوړونکې پارلمان غړی جوړیدای شی ، ځکه چې اسلام ښځی د مشوری ورکولو او قانون جوړولو څخه ندی منع کړی ، پاتی شوه د مخلوط او ګډو مجلسو او غونډو خبره نو د ښځوله پاره د سړو په غونډه کې د پردی او نقاب پرته ګډون کول حرام دی ، د اسلامی حکومت په مجلس شوری [ پارلمان ] کې دښځو دګډون لپاره دپردی او حجاب کول په قانونی ډول ضروری دی او همداراز داهم

388 - اسلامی ریا ست 11 باب 513 مخ

ضروری ده چې دښځو لپاره دناستی دځايونو انتظام دسړو دنشتونو شاته وشی . زماپدی رای ډيرعلما ومخکې هم تنقيد کړی او هم نن يې هم کوی

مولانا سيد ابوالاعلی مودودی رحمه الله عليه خو ټول پارلمان ته قوام [ واکدار ] وايی ، زما د ناقصی رای په اساس پارلمان پخپله قوام نه بلکې د قوام له پاره ټاکونکې اداره قوام هغه چا ته ويل کيږی چې د هيواد د چارو د سمبالولو لپاره د حکومت مشر ټاکې او دهغی احتساب هم کوی خو په عملی لحاظ د ملک د نظم او نسق چاری نه سمبالوی بلکې د هغی قوانين لپاره او قواعد جوړوی چې اسلام ښځی په هغی دبرخی اخستلو څخه ندی منع کړی زه د مولانا مودودی په وړاندی د خپلی کم علمی احساس کوم ځکه پخپله رای اصرار نه کوم . خو ضلعی حکومتونه [ اولسواليو حکومتونه ] چې دپويزيانو پلان او تحظيظ دی په پارلمان [ اولسی جرګی ] او ولايتی جرګو نشی قياس کيدی ځکه چې دا اداری او حکومتونه دقانون جوړونی او مشوری پور ی محدود نه دی بلکې دادګډی ټولنی او مخلوط تهذيب او کلتور د منځ ته راوړلو لپاره يو پلان او منصوبه ده ، بلدياتی او اولسی فعاليتونه په مشاورتی او قانون جوړونکو ادارو قياس کول قياس مع الفارق دی دا د سړو ډګر دی د ښځو دکار دائره نده .

## په اسلامی پارلمان کې د غيرو مسلمانو د نمايندګی ورکولو مسئله

په اسلامی نظام کې د غيرو مسلمانود حقوقو د ساتنی سخت ډير تاکيد شوی دی او اسلامی رياست د مسلمانانو په څير د هغوی د مال او ابرو د ساتنی مسئول دی ،حکومت مکلف دی چې د مسلمانانو په څير د غيرو مسلمانو بنيادی ضرورتونه رفع کړی ، هغوی ته د خپل دين په اساس د تلنی پوره اجازه ورکړی شی خو په دی شرط چې د اسلام او اسلامی شعائرو توهين به نه کوی او نه به د هغی په خلاف پروپاګنده کوی ~ هيڅ يو مسلمان ته به د مرتد کولو

اجازه ورنه کړی شی همدا راز د حکومت په لوړو او مهمو پوستونو باندی د غیر مسلم ټاکل هم نه کیږی ، دا په دی خاطر چې هغه د ریاست په نظریی یعنی د اسلام په سپیڅلی دین باندی یقین نه لری او په هیڅ ریاست کې د هغه ریاست په نظرئی باندی یقین نه کونکوته د غټ مسئولیت منصب نه شی ورسپارل کیدای - اسلام د سیکولر جمهوریت قائل نه بلکه د اسلامی سیاسی نظام قائل دی ، خو اقلیتونه په خپلو خاصو مسائلو او عامو انتظامی امورو کې د خپلی رای د ورکولو له پاره د ځانګړی انتخاباتو له لاری څه نمایندګان پارلمان یعنی اولسی جرګی ته استولی شی ، چې هغوی به د مالی امورو په بحث کې برخه اخلی او د عامو انتظامی امورو په اړوند د خپلی رای اظهار کوی .

خو د شرعی امورو په پریکړو او یا د حکومت د مشر په انتخاب کې هغوی ته د رای د اظهار او ووټ ورکولو حق ندی حاصل او د غیر مسلمانو په غټو منصبونو ټاکل روا نه دی ، خو په انتظامی معاملاتو کې ورڅخه مشوره اخستلای شی ، لکه د هر مزان څخه د حضرت عمر رضی الله عنه د مشوری اخستلو روایت چې په صحیح بخاری کې موجود دی ، چې هغه د تستر په جنګ کې بندی نیول شوی وه او هغه د ایرانی جنرالانو څخه یو تجربه لرونکې جنرال وه.

### سیاسی ګوندونه

په اروپا کې چې د سیاسی ګوندونو کوم نظام رائج دی هغه د ځواک د لاسته راوړو یوه لوبه ده چې په اسلام کې ورته ځای نه شته ، مسلمان امت د یوه بدن په څیردی چې په مستقل ډول هغه د ځواکمن او مخالف ترمنځ ویشل نه د شریعت غوښتنه ده او نه د عقل او پوهی غوښتنه ، په اسلامی نظام کې د احتساب او محاسبی ګوند ګټه ور او ضروری دی خو اختلاف د اختلاف په خاطر یا اختلاف د ځواک په خاطر ته په اسلام کې ځای نه شته که څه هم په اسلام کې د تنظیم یا انجمن جوړول منع نه دی ~

د دین د بلنی، د اسلام د تبلیغ د ښوونی او روزنی او نورو ټولنیزو خدمتونو د  تر سره کولو له پاره ډلی او ګوندونه جوړول بی له شکه روادی، داسی ګوندونه د هیواد پر مشر د راټولیدو او اتحاد په صورت کې د یوه واحد بدن د مختلفو اعضاو په څیرکارکوی ، دا ډول ډلی او ګوندونه د امت دیوالی سره منافی نه دی  لکه څنګه چې  په فقهی او قانونی مسائلو کې د امت د فقهاو فکرونه او نظریات مختلف دی. ځکه ځنی مسلمانانو په یوه امام ډیر اعتماد کړی او ځینی نورو پربل ډیر اعتماد کړی ، خو دی فروعی او فقهی اختلافاتو ته ، د وحدت او یووالی منافی نه شو ویلای ، په دی شرط چې  د تعصب او کینی په اساس دغه اجتهادی اختلافات د ډلئیزو شخړو ذریعه ونه ګرځوی په همدی توګه په سیاسی او ملی معاملاتو کې  هم د غیری  منصوصو احکامو په اړه مختلف سیاسی فکرونه او نظریی کیدای شی ، او د هری نظریې خلک خپل سیاسی ګوند جوړولای شی ، د دی د ممنوعیت له پاره هیڅ دلیل نه شته ، دا ډول ګوندونه د ملی ادارو له پاره موزون او پوه نمایندګان کاندیدولای شی ! د لومړی خلیفه د ټاکلو په وخت کې د اسلامی امت یوی ډلی یعنی د مهاجرینو له طرفه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د حضرت عمرفاروق رضی الله عنه یا حضرت ابوعبیده رضی الله عنه نوم وړاندی کړی وه. او د بلی ډلی یعنی انصارو لخوا حضرت سعد بن عباده رضی الله عنه راوړاندی شوی وه خو اخر دواړه ډلی د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خلافت متفقی شوی ، څرګنده شوه چې مختلفی ډلی مختلف کسان د کاندید په توګه د قوم او ملت مخی ته وړاندی کولای شی .

سیاسی ګوندونو ته دا ضروری ده چې اساسنامی یی د اسلام مطابق وی ، او د هر ګوند د انتظامی [ اداری ] ، اقتصادی ، او ټولنیزو اصلاحاتو له پاره ځانته بیل منشور جوړولائی شی، او د نورو ډلو څخه مختلفی مادی په خپلی اساسنامه کې  ځای پر ځای کولای شی ، خو که

چيرى د اسلامى نظام د اصولى ~ قطعى ، او اجماعى احكامو په خلاف كومه ماده د كوم ګوند په اساسنامه يا مرامنامه كې ځاى په ځاى كړل شوه ، نو بيا داسى ګوندته د كار كولو اجازه نه وركوله كيږى، په همدى توګه دايو لازمى شرط دى چې د دى ډلو د كار طريقه فساد فى الارض يا افتراق و انتشار پيدا كول نه وى د هغوى مشر به د اسلام د ښوونو مطابق د ملت سياسى روز نه كوى ، او د هغوى نمايندګان به هم د اسلام په معيار پوره برابر وى. كه چيرى د ملت سياسى شعور د پخلنى مرحلى ته ورسيږى نو هغه به پخپله دا اوسنى سياسى لوبغاړى مسترد كړى .

## مركزى موحد طرز حكومت

دا يوه انتظامى مسئله ده چې د مصالحو مرسلو څخه شميرل كيږى په شرعى توګه دا هم روا دى چې يو واحد مركزى حكومت دى وى او هغه دى يوه شورى ولرى ، په ټول هيواد كې دى سياسى يو والى موجود وى . د حكومت يو مشروى، چې د شورى د پريكړو او مشورو په اساس نور مسئولين او منطقوى حكام ټاكې ، او دا هم روا ده چې حكومت فدرالى شكل او جوړښت ولرى يعنى هيواد د انتظامى اسانتياو په خاطر په څو ولايتونو وويشل شى، ولايتى شوراګانى او حكومتونه دى موجوده وى ، چې هغوى ته د هيواد د اساسى قانون په اساس ولايتى ازآدى وركول شوى وى په همدى ترتيب سره د ولاياتو ترمنځ د معاملاتو د تصفيى او حل له پاره د سنا مجلس او لوړه اداره جوړول هم جائز دى . او دهغى پرته د كار كول او د چارو پر مخ وړل هم روا دى ، د لومړى قاعدى ترمخه وويل شوه چې په مباحاتو كې عرف او رسم ورواج معتبر او مهم دى ، خو د مصلحت مطابق هر هغه نظام چې اهل حل و عقد يې مناسب وګڼى جوړولاى شى، په نبوى دور او د خلفائى راشدينو په دوروكې په مختلفو علاقوكې بيل بيل واليان مقرر كړى شوى وه چې د كتاب او سنتو د پولو په داخل كې ورته خپلو خپلو علاقو كې پوره آزادى وركړل شوى وه، د مركزى حكومت سره د دى واليانو د عزل كولو اختيارات موجود وه.، خو

هغوی به د کوم معقول علت یاد علاقی د خلکو د شکایت پرته هغوی نه عزل کول . په اوسنی وخت کې د ریاست مسئولیتونه زیات شوی دی نو په دی خاطر که د حکومت طرز مرکزی وی نو ډیره غوره ده ، د ولایتی پارلمانو او ولایتی حکومتونو جوړول د پاکستان د اوسنی حالت ترمخه ضروری معلومیږی[389].

## د مجلس شوری
## له پاره د مودی ټاکل

د شوری [ پارلمان ] له پاره د مودی ټاکل نه ممنوع دی او نه لازم~ بلکه د مباحاتو له مصالحو مرسلو له جملی څخه دی ، په اوسنی وخت کې د پارلمانو نوله پاره د مودی ټاکل یوه معروفه او مروجه طریقه ده چې د امت د مصالحو له پاره ګټه وره ده . ځکه چې د نفس د غلبی په اساس په ننی وخت کې د شوری او پارلمان غړو ته د اوږدی مودی پوری اختیارات ورکول د فساد او خرابی سبب ګرځی ، کیدای شی چې د پنځوکالو یا لږی ډیری مودی د تجربی څخه ځرګند شی چې د شوری د موجوده ارکان غړو پرته ډیر اهل او غوره وګړی نور هم پیدا کیدی شی ځکه په دی موده کې به نوی خلک د ملت مخی ته راشی او خلکو ته به د راتلونکې انتخاب په وخت کې د خپلی رای صحیح استعمال او د اهلو او خلکو د غوره کولو فرصت په لاس ورشی~ د دی عمل په واسطه د خلکو په سیاسی شعور کې پخلنی راځی او د قیادت خلاهم نه را منځ کیږی دا په دی خاطر چې نوی خلکوته د تجربی وخت په لاس ورځی. البته په وار وار یو شخص انتخابول بدی نه لری خو د شوری د غړی د دیانت او صلاحیت د داغدار کیدو په صورت کې د شوری څخه عزل

[389] - لیکوال داکتاب د پاکستان د وضعی مطابق لیکلی دی نو ځکه ئی په بیابیا د خپل مملکت نوم یاد کری مترجم

کیدی شی . خو دا پریکړه باید د کوم داسی قاضی په واسطه وشی چې هغه د شرعی عدالت د قاضی کیدو اهل وی .

دریم اصل

## د امام سره بیعت کول

## [د حکومت د مشر انتخاب]

د اسلامی سیاست دریم اصل دا دي چې د ریاست مشر یا خلیفه او امیر باید د مسلمانانو معتمد شخص وی . موروثی پادشاهی ، امریت او د یکتا توری په اسلامی نظام کې ځای نه لری. قران کریم اسلامی امت د احکامو د تنفیذاو د دین اقامی مکلف کړی دی او امیرالمؤمنین د امت دوکیل په حیث دا فرض سرته رسوی ~ ښکاره ده چې وکیل او نائب ته دا منصب نه په میراث په لاس ورځی او نه ئی په زور لاس ته راوړی شی ، بلکه دا منصب په خپله د موکل د ازادی غوښتنی په اساس تر لاسه کولی شی ، په اسلام کې د مسلمانانو د اعتماد د لاسته راوړو لاره [ بیعت الامام ] دی ، یعنی د ملت له خوا ځنی د حکمران سره د اطاعت تړون او د

امير له خوا څخه د خدمت کولو تړون ~ چې همدی ته بیعت یا مبایعه ویل کیږی ، ابن قدامه رحمه الله علیه فرمایی چې [ ان من اتفق المسلمون علی امامته و بیعته وجبت معونته [ د چا په حکومت چې مسلمانان اتفاق وکړی ا د هغه سره کومک واجب شو] .[390]

، ابن منظور افریقی رحمه الله د بیعت مفهوم په دی ډول بیان کړی دی : عباره عن المعاقده من صاحبه و المعاهده کان کل واحد منها باع ما عنده من صاحبه و اعطی خالصه نفسه و طاعته ودخلیه امره و قد تکرر ذکر هافی الحدیث [ بیعت عبارت له دوه طرفه پیمان او تړون څخه دی چې ګویا هریو د دواړو خواو څخه یو په بل خپل هر څه خرڅ کړی دی هغه ته ئی خپل زړه او نفس ورکړی وی او خپله تاج داری او مخصوص امورئی هغه ته ورسپارلی وی د بیعت ذکر په حدیثونو کې په وار وار راغلی دی ] .[391]

دغی بیعت ته د خلیفه انتخاب یا د خلیفه اختیار یعنی د خلیفه ټاکل اودهغه غوره کول ویل کیږی په پخواینو وختونوکې انتخاب یا د رای د ښکاره کولو طریقه د لاس ورکول ؤ چې په هغه به حکمران ته د ملت له خوانه د کومک او اطاعت وعده ورکول کیده او د حکمران له خوا به د قران او سنتو د پیروی د عوامو خیر خواهی د عدل د قیام او د حکومت د نورو فرائضو د ښه ادا کولو وعده ورکول کیده د لاس ورکول د همدی دوه اړخیز تړون او کومک او ورور ولی ښکاره او څرګنده ښنبه وه په اوسنی وخت کې د بیعت شکل د رای ورکولو کاغذ [ بیلټ پیپر ] دی ، کله چې یو رای ورکونکې خپل ووټ یو چاته ورکوی ~ نو دا دده له طرفه په هغه باندی د اعتماد او د هغی اطاعت ښنبه ده ، او کله چې انتخاب شوی شخص قسم خوری نو داد هغه له خوا نه د قانون د پابندی او د خپلو فرائضو د ادا کولو پیمان او تړون دی ~ څنګه چې د لاس ورکول اصل

---

[390] - المغنی ابن قدامه لیکنه 52 مخ 1969 عیسوی کال چاپ

[391]- لسان العرب 8 ټوک 26 مخ .

مقصد نه دی بلکه اصل مقصد د اعتماد او باور ښکاره کول دی ، نو په همدی توګه د ووټ کاغذ هم په خپل ځای کوم مقصد نه دی چې ثبوت يې د قران او سنتو له لاری ضرور شی. بلکه دا پخپله د اعتماد د ښکاره کولو او ياد اعتماد دلاسته راوړلو ذريعه ده. څرګنده ده چې د مقصد د لاس ته راوړلو له پاره مختلفی ذرائع استعماليدی شی او همدا راز د عرف او عاداتو د بدلون په صورت کې بدليدلائی هم شی ، د اوسنی وخت عرف او رواج [پټه رای] او [بيلټ پيپر] دی ، نو له دی امله د همدی طريقه اختيارول په کاردی ، د هيواد د مشر او رئيس ټاکل خو د عمومی انتخاباتو په واسطه هم کيدای شی لکه څنګه چې د صدارتی نظام طريقه ده ، او داسلام د روح سره همدا طريقه ډير اړخ لږ وی او د هغه [رئيس] انتخاب پارلمان [شوری] هم کولی شی چې د مسلمانانو لخوا معتمده وی. لکه څنګه چې د پارلمانی نظام معروفه طريقه ده ، څرنګه چې مجلس شوری [ پارلمان ] د قوم اعتمادی اداره وی، نو له دی امله د هغوی پريکړه هم د ټول قوم پريکړه وی، صدارتی نظام او پارلمانی نظام دواړه د مرسله مصالحو له جملی څخه دی . اوشرعاً دواړه روا دی ، اهل حل و عقد د همدی دواړو نظامونو څخه د ملی او بين المللی حالاتو او شرائطو د غوښتنی سره سم يو نظام اختيار وی ، ځکه چې دا يوه انتظامی مسئله ده ~ په هر صورت د بيعت له لاری د خليفه ټاکل يعنی د مشر ټاکل او باوری کيدل د اسلامی سياست يو اساسی اصل دی . چې د ملوکيت او خلافت تر منځ بيلونکې بنيادی اصل همدا دی .

## د بيعت او انتخاب د لازميدو د لايل

ا - د دوهم اصل يعنی شوری په څيړنه کې چې کوم قرآنی آيات او نبوی احاديث ذکر شو د هر غيری منصوصی مسئلی سره اړيکې لری او د هيواد د مشر ټاکل هم غير منصوص مسئله ده ، او هغه د " امرهم شوری بينهم " د عام حکم او قانون لاندی راځی ، او د ايت صحيح مفهوم همدا

دی ، چې د مسلمانانو خلیفه به هم منتخب وی او دهغه د دولت ټول نظام به هم شورائی وی او په ذاتی رای به ولاړ نه وی.

2 - د حضرت عایشی رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ماغوښتل چې ابوبکر او د هغی زوی را وغواړم او یوه وصیت نامه ولیکم ، ځکه چې ماته داویره ده چې خلک به خبری کوی او خواهش به کوی، بیا ما فکر وکړ چې الله جل جلاله او مسلمانان به نور خلک منع کړی [392].

د صحیح مسلم په روایت کې صراحت شوی دی چې هغه د خلافت په هکله د وصیت نامی د لیکلو اراده کړی وه. نو څرګنده شوه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نظر کې تر ټولو اهل حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وه ، همدا علت وه چې د وفات کیدود مرض په وخت کې ئی هغه د لمانځه امام ټاکلی وه . خود وصیت نامی او ولیعهد کولو اراده ئی ځکه پریښوده چې د شوری په واسطه چې د خلیفه ټاکل یو سنت جوړ شی ، هغه په دی باور وه، چې مسلمانان به د اصلح د انتخاب د توفیق څخه نه بی برخه کیږی .

3 - په 23 هجری قمری کال کې چې حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د اخری حج نه بیرته مدینی ته راستون شونو په خپله لومړی خطبه کې ئی خلکو ته وویل : چا چې د مسلمانانو د مشوری پرته د چا سره بیعت کړی وی [هغه ئی خپل مشر ټاکلی وی] نو د هغی تابعداری دی ونه کړی شی دا ویره ده چې دا دواړه به قتل کړل شی [393].

4 - حضرت عمر رضی الله تعالی عنه فرمایلی دی چې : من تامر منکم من غیر مشوره من المسلمین فاقتلوه [ څوک چې د مسلمانانو د مشوری پرته امیر شو نو هغه قتل کړی ] [394].

---

392- صحیح بخاری کتاب المرضی 2 ټوک 846 مخ کتاب الاحکام 2 ټوک 1072 مخ

393 - صحیح بخاری المحارین لومړی ټوک 1002 مخ باب رجم الجلی

394 - المنصف عبدالرزاق 5 ټوک 481 مخ 1972 عیسوی کال بیروت چاپ

5 - په یو بل روایت کې د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه وینا داسی را نقل شوی چې : چاچې د مسلمانانو د شوری پرته چاته د حکومت د منلو بلنه ورکړه نو دا بلنه او دا حکومت حلال نه دی [395].

6 - د حضرت علی رضی الله تعالی عنه څخه روایت شوی دی چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی دی : که چیری ما د چا د مشوری پرته خپل خلیفه ټاکلی نو د ام عبد زوی ابن مسعود رضی الله تعالی عنه به می خپل خلیفه ټاکلی وایی [396].

د دی حدیث څخه دامعلومیږی چې د مسلمانانو د مشوری پرته یوڅوک خپل ولیعهد ټاکل د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په نظر غوره کارنه وه.

7 - رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې په شپږ ډوله خلکو زه هم لعنت وایم او الله جل جلاله پری هم لعنت رالیږلی دی د هغوی څخه یو سړی هغه دی چې په زور په حکومت قبضه وی [397].

8 - حضرت علی رضی الله تعالی عنه د جمل په جنګ کې فرمایلی وهچې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم مونږ ته د خلافت په هکله کوم وصیت نه وه پری ایښی ، بلکه د دی پریکړه مونږه په خپله خوښه کړی وه،ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه چې خلیفه شو نو هغه هم خلک په دین کلک کړه او په خپله هم په دین کلک ولاړه وه. بیانو حضرت عمر رضی الله تعالی عنه خلیفه کړی شو نو هغه هم خلک په دین کلک وساتل او په خپله هم په دین کلک ولاړ وه . ان تر دی پوری چې خلکو خپلی غاړه و غزولی او په ارام سره شو [398].

---

[395] - فتح الباری 15 ټوک 140مخ

[396] - مسند احمد ټوک 95 د مجمع الزوائد الخلافه 5 ټوک 445.

[397] - مشکوه باب الا یمان بالقدر.

[398] - مجمع الزوائد کتاب الخلافه 5 ټوک 975 و کنز العمال 5 ټوک 655.

9- ابو موسى اشعرى رضى الله عنه فرمائى چې : ان الاماره ما او تمر فيها و ان الملک ما غلب عليه با السيف [ امارت [ اسلامى حکومت ] هغه دى چې په مشوره جوړ شوى وى او بادشاهت هغه چې د تورى په تورى زور ئى لاس ته راوړى وى [399] .

10 - د مدينى حاکم مروان بن الحکم د يزيد بن معاويه صفت د مدينى د مسجد په منبر د دى له پاره شروع کړ چې خلک ورسره بيعت وکړى نو عبدالرحمن بي ابى بکر رضى الله عنه څه خبره وکړه د اسماعيل په روايت کې راغلى دى چې عبدالرحمن وويلى : ماهى الاهر قليه سنه هرقل و قيصر و لابن المنذر اجئتم بها قليه تبايعون ابناء کم [ دا خو د هر قل او قيصر لاره ده ، تاسو د حکومت څخه قيصريت جوړ کړى دى چې د خپلو زامنو له پاره به ئى بيعت اخلى[400] .

11 - ذو الکلاع او ذو عمر د يمن د تجربه لرونکو حکمرانانو څخه وه کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم جرير بن عبدالله البجلى رضى الله عنه يمن واستاوه نو دا دواړه مسلمانان شوخو يو ورځ ذوعمر حضرت جرير رضى الله عنه ته په خطاب کې وويل [ ستا پرما ډير احسان دى چې ستا د نبى په اساس ماته د ايمان دولت په برخه شو" زه تاته يو ضرورى خبره ښايم او هغه داده چې د عربو حالت به تر هغه پورى صحيح وى ترڅو چې د هغوى حکومت د مشورى په اساس جوړيږى خو کله چې دا حکومت د تورى په زور جوړ شى نو بيا به ستاسى حکمران پادشاه وى چې د نورو پادشاهانو په څير به په رښتيا خبره په غصه کيږى او ناراضه کيږى او په چاپلوسى باندى به ډير خوشحاليږى [401].

---

[399] - طبقات ابن سعد 4 ټوک 113مخ

[400] - صحيح بخارى کتاب التفسير 2 ټوک 715 مخ سورت الاحقاف - فتح البارى 10 ټوک 197 ~198 مخونه

[401] - بخارى المغازى 2 ټوک 625 مخ - فتح البارى 2 ټوک 138 باب ذهاب جرير الى المين

## د بیعت او د خلیفه د ټاکلو
## په هکله د فقهاو وینااوی

د پورته ذکر شوو احادیثو څخه دا په ډاګه کیږی چې په اسلام کې د خلیفه د ټاکلو طریقه بیعت او انتخاب دی او انتخابی خلافت د اسلامی سیاست یو نه تغیر کونکې اصل دی ،د همدی دلیل په رڼا کې د اسلام فقهاو رحمه الله علیهم هم د دی اصل ذکر په خپلو خپلو کتابونو کې کړی دی.

۱- امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله علیه د عباسی خلیفه په وړاندی دیوه سوال په ځواب کې فرمایلی وه چې : ستا په خلافت باندی د فتوی د خاوندانو د دوه خلکو اجتماع هم نه ده شوی حال دا چې خلافت د مسلمانانو د اجتماع او مشوری په اساس جوړیږی [402].

2 - شیخ عبدالقاهر بغدادی رحمه الله چې په 429 هجری کال کې مړ شوی د جمهورو اهل سنتو مسلک په دی توګه بیان کړی دی : ان طریقه ثبوتها الاختیار من الامه باجتهاد اهل الا جتهاد منهم و اختیارهم من یصلح لها [ د خلیفه د ټاکلو لاره دا ده چې امت هغه انتخاب کړ و د امت د اجتهاد خاوندان له تحقیق او اجتهاد په اساس هغه څوک وټاکې چې دی د منصب اهمیت او صلاحیت ولری ] [403].

د [اهل اجتهاد] څخه مقصد د پوهی او د رای خاوندان دی یعنی اهل حل و عقد او د قوم مسئول نمایندګان.

3- امام ابو الحسن ماوردی بغدادی رحمه الله علیه چې په 450 هجری قمری کال مړ شوی دی د خلیفه د انتخاب او ټاکلو د بیان په هکله ځانګړی فصل جوړ دابنوولی ده " باختیار اهل حل والعقد " یعنی اهل حل

---

[402] - مناقب الامام الاعظم دکردری لیکنه 2 ټوک 15 مخ په حواله د خلافت او ملوکیت د مولانا سید ابوالاعلی مودودی رحمه الله علیه

[403] - اصول دین 279 مخ پاکستان لاهور چاپ

و عقد [د ملت نمايندګان] چې څوک خوښ کړی هغه به د خلافت منصب په غاړه اخلی.

په بله صفحه کې د انتخاب د طريقې و ضاحت ئی په ځانګړی فصل کې په دی تو ګه کړی دی ، کله چې اهل حل و عقد په يوه ځای کې راټول شی ، نو د خلافت د منصب له پاره دی د موزونو خلکو پلټنه وکړی ، هر چا کې د خليفه د جوړيدو د اهليت د شرائط موجود وی. نو د بيعت له پاره همغه ته ترجيح ورکوله کيږی، يعنی هغه څوک چې په فضيلت او د شرائطو د اهليت په لحاظ په ټولو غوره وی. او د هغه د اطاعت له پاره خلک ډير ژر اماده کيږی [ مشهور وی] د داسی شخص سره په بيعت کولو کې ځنډنه دی په کار ، اهل حل و عقد د انتخاب څخه وروسته د خلافت منصب د داسی سړی ترمخ وړاندی کوی چې هغه ئی غوره کړی وی خو که چيری هغه د دی منصب د قبلولو څخه انکار وکړ نوبيا به هغی پسی اهل منتخبوی [404].

4 - قاضی ابويعلی حنبلی رحمه الله عليه چې په 458 هجری قمری کال مړ شوی دی فرمائی چې : فلا تنعقد الابجمهور اهل الحل و العقد قال احمد رحمه الله عليه الامام الذی يجتمع قول الحل و العقد عليه كلهم يقول هذا امام و ظاهر هذا انها تنعقد بجماعتهم [ د خلافت او امامت انتخاب دملت د نمايندګانو د اکثريت لخوا کيږی امام احمد رحمه الله عليه فرمايلی دی چې په چا چې اهل حل و عقد متفق شی نو همغه به امام او حکمران وی نو د دی څخه دا معلوميږی چې د خلافت جوړيده دملت د نمايندګانو د اجتماعی پريکړی په واسطه کيږی ] [405].

5 - قاضی فضل الله توريشتی رحمه الله عليه حنفی په خپل کتاب المعتمد فی المعتقد کې ليکې کوم چې په 620 هجری قمری کال کې چاپ شوی وه :

---

[404] - الاحکام السلطانيه د ماوردی ليکنه 706 مخ 1973 عيسوی کال چاپ

[405] - الاحکام السلطانيه د ابی يعلی ليکنه 23 مخ 1960 عيسوی کال چاپ

کله چې40 کسه د رای ، مشورې ، بصیرت او دیانت خاوندان ، په داسې یو سړي په متفقه توګه د حکمران په صنعت وټاکي چې ددې منصب اهلیت ولري. او د دې څلویښتو کسانو څخه لږ تر لږ داسې دیني عالم وي چې د قاضي کیدو اهل وي ~ نو د دې سړي حکومت جوړیدای شي او په مسلمانانو ئې اطاعت واجیږي[406].

6 – ابن الهمام حنفي چې په 681 هجري قمري کال کې مړ شوی دی فرمايي چې : د خلیفه ټاکل د علماء، د رائې د خاوندانو او په معاملاتو پوه د یو ټولګي د بیعت سره کیږي خو د دې له پاره کوم خاص شمیر ضروري نه دی[407].

ځینې کتابونوکې د اهل سنت د ائمو او ځینې علماو دا وینا هم رانقل کړې ده چې د پنځه یا درې کسو بیعت هم کافي دی بلکه د دې مفهوم دادی چې که چیرې څوکسو بیعت کړی وي [ووټ ئې ورکړی وي] او پاتې خلکو مخالفت و نه کړ نو سکوت او چپوالی او د مخالفت نه کول دوی له خوا څخه بیعت ګڼل کیږي .

ابن حجر رحمه الله علیه د الماور دې څخه را نقل کړی دی چې د ټولو اهل حل و عقد بیعت اخستل ضروري نه دي په خپله د مخالفت نه کول کافي ګڼل کیږي[408].

ابن قدامه حنبلي رحمه الله علیه چې620 هجري قمري کال وفات شوی ، امام قرطبي رحمه الله علیه چې671 هجري قمري کال وفات شوی ، شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله علیه چې728 هجري قمري کال وفات شوی حافظ عماد الدین بن کثیر رحمه الله علیه چې774 هجري قمري کال وفات شوی ، ابن خلدون رحمه الله علیه چې 808 هجري قمري کال وفات شوی ، او شاه ولي الله رحمه الله علیه چې1176 هجري قمري کال وفات

---

[406] المعتمد هندي نسخه د امامت بحث 176مخ

[407] - فتح الباري المغازي غزوه خیبر

[408] - فتح الباري المغازي غزوه خیبر

شوی کې هم همدا ډول ليکلی دی چې خلافت د اهل حل و عقد [ يعنی د ملت د نمايندګانو ] د بيعت پرته نه شی جوړيدلای[409] .

## د راشدينو خلفاو رضی الله عنهم سره بيعت

د ابو بکر صديق رضی الله عنه سره بيعت :

د بنو ساعده د چوتری د انتخاباتی غونډی راپور او د ابوبکر صديق رضی الله عنه د بيعت تفصيلات تاريخ طبری ، الکامل د ابن اثير ، طبقات ابن سعد ، البدايه د ابن کثير رحمه الله عليهم کې بيان شوی دی ، چې ما د دی کتابونو پوره مطالعه کړی ده. خود تاريخ او مغازی په کتابونو کې صحيح او ضعيف دواړه ډوله روايات راغلی دی. نو له دی امله می دا کوښښ وکړ چې د احاديثو د مشهورو او مستندو کتابونو روايت رانقل کړم ، په دی هکله د صحيح بخاری د رواياتو لنډيز په دی توګه دی .

د بنو ساعده په چوتری کې د انصارو او مهاجرينو ترمنځ د خليفه د ټاکلو له پاره په ډيره ازاده توګه بحث وشو، خود حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د پيشنهاد په اساس د مدينی خلکو [ چې په هغی وخت کې يې عملاً د ټول قوم د معتمدو او باوری نمايندګانو حيثيت درلوده] په

---

409 - المغنی لابن قدامه 8 ټوک 526 مخ 1969عيسوی کال د مصر چاپ - تفسير قرطبی لومړی ټوک 268مخ د البقره سورت - منهاج السنه د ابن تيميه ليکنه 1ټوک 140 مخ 1321 هجری قمری کال د مصر چاپ - تفسير ابن کثير 1 ټوک 125 مخ د البقره سورت - مقدمه ابن خلدون 152 مخ - ازاله الخفاء د شاه ولی الله رحمه الله عليه ليکنه لومړی ټوک لومړی فصل 1976 عيسوی کال لاهور چاپ - جامع الاصول د ابن الاثير چی606 هجری قمری کال کې مړ شوی ليکنه 4 ټوک 101 مخ ان البيعه حقها ان تقع صادره عن المشوره و الاتفاق

خپله خوښه او رضا ابوبکرصديق رضیالله تعالی عنه غوره او د هغه په لاس ئی بيعت وکړ " فبايعه الناس "[410]

په بل ځای کې داکلمات داسی راغلی دی: وبايعه المهاجرون ثم بايعه الانصار[ مهاجرينو د حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه سره اول بيعت وکړ او بيا ور سره انصارو بيعت وکړ ] [411].

دا خاص بيعت وه چې د مرکز ټولو مسلمانانو په کې ګډون ونه شو کړای خو په دوهمه ورځ په نبوی مسجد کې عمومی بيعت وشو او په هغی کې ټولو مسلمانانو ګډون وکړ" فبايعه الناس عامه " [412].

د حضرت ابوبکرصديق رضی الله تعالی عنه سره د بيعت تفصيلات په مسند احمد رحمه الله عليه ~ منصف عبدالرزاق او مجمع الزوائد کې هم رانقل شوی دی ، په دی کتابونو کې هم همدا خبره راغلی ده چې د مدينی انصارو او مهاجرينو ټولو د هغه سره بيعت کړی وه [413].

د سعد بن عباده رضی الله تعالی عنه په هکله په تاريخ طبری کې دوه روايتونه راغلی دی : لومړی دا چې هغه هم د حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه سره بيعت کړی وه او دوهم داچې هغه د خپل مرګ تروخته پوری بيعت ونه کړ [414].

دا روايت ډير مشهور دی ، خو حضرت سعد بن عباده رضی الله عنه کوم مخالف قدم پورته نه کړ ښکاره ده چې د غالب اکثريت درايو د اتفاق

---

[410] - صحيح بخاری المناقب 1 ټوک 518 مخ 1961 عيسوی کال اصح المطابع مطبعی کراچی پاکستان چاپ

[411]- بخاری المعاربين 2 ټوک 1010 باب رجم الجنلی

[412] - بخاری الاحکام باب الاستخلاف 2 ټوک 1072 مخ - جامع لاصول 4 ټوک 102مخ 1970 عيسوی کال چاپ

[413] - مسند احمد 1 ټوک 55 مخ بيروت چاپ - منصف عبدالرزاق 5 ټوک 439 مخ 1972 عيسوی کال د بيروت چاپ - مجمع الزوائد 5 ټوک 182 ~ 183 مخونه 1967عيسوی کال د بيروت چاپ

[414] - تاريخ طبری 3 ټوک 21مخ

ځکه وروسته د هغه چپوالی او د بیعت نه کول کوم قانونی حیثیت نه درلود ، د حضرت علی رضی الله عنه په هکله ابن حجر رحمه الله علیه د صحیح ابن حبان په حواله د ابوسعید خدری رضی الله عنه روایت رانقل کړی دی چې : ان علیاً بایع ابابکر فی اول الامر " حضرت علی رضی الله عنه د حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه سره د ټولو لومړی بیعت کړی وه. خو د بخاری په یوه روایت کې راغلی دی چې د حضرت فاطمی رضی‌الله عنها د وفات تروختته پوری [ پوره شپږ میاشتی ] هغه عملاً او ښکاره بیعت نه وه کړی خو کوم مخالفانه اقدام ئی هم ونه کړکیدای شی چې د هغه لومړی بیعت مشهور شوی نه وی او د خلکو د غلط فهمیو د لری کولو په خاطر ئی دوباره په نبوی مسجد کې بیعت کړی وی ترڅو عام خلک هم پری وپوهیږی [415].

د صحیح مسلم او صحیح بخاری د روایتونو لنډیز په دی توګه دی : تر هغه وخته پوری چې حضرت فاطمه رضی الله عنها ژوندی وه نو خلکو به د حضرت علی رضی الله عنه ډیر فکرساته ، خود حضرت فاطمه رضی الله عنها د وفات ځخه وروسته حضرت علی رضی الله عنه ولیدل چې د خلکو توجه هغه طرف ته کمیږی نوهماغه وه چې د ابوبکر رضی الله عنه سره ئی د مصالحت او بیعت کولو پریکړه وکړه او حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته ئی خبر ولیږه چې ته یوازی زمونږ کورته تشریف راوړه ، ابوبکر رضی الله عنه تشریف وروړ، د صحیح مسلم روایت دی چې حضرت علی رضی الله عنه بنو هاشم را ټول کړی وه حضرت علی رضی الله تعالی عنه سوګند یاد کړ او وئی ویل چې قسم په الله جل جلاله مونږ ستا په فضیلت پوهیږو او مونږ له تا سره څه کینه نه کوو تاسی په خلافت کې مختار یاست ، حال داچې په مشوره کې مونږ هم باید برخی لرودای ، حضرت ابوبکر رضی الله عنه ځواب ورکړ وی ویل : چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلوانو سره نیک سلوک کول زه په خپلو خپلوانو مقدم

415- فتح الباری 9 ټوک 36 مخ الغازی غزوه خیبر

شميرم ، حضرت على رضى الله عنه ورته وفرمايل چې زه د زوال څخه وروسته له تا سره بيعت کوم، د ماسپښين د لمانځه وروسته لومړی حضرت ابوبکر رضى الله عنه په ممبر وخوت او د حضرت علی رضی الله عنه تعريف ئی وکړ او د بيعت د ځنډيدو چې کوم علت هغه ويلی وه هغه ئی توضيح کړ [ د اهل بيت د مشوری پرته د خلافت مسئوليت په غاړه اخستل ] بيا حضرت علی رضی الله عنه د شهادت کليمه ولوسته ، بيائی د ابوبکر صديق رضی الله عنه فضيلت بيان کړ او وئی فرمايل چې زمونږ د مشوری پرته د خلافت پريکړه شوی وه . په دی اساس مونږ په خپل زړه کې لږ غمجن شوی غوندی وه- د مسلم شريف په روايت کې راغلی چې بيا راپورته شو او د حضرت ابوبکر صديق رضی الله تعالی عنه سره ئی بيعت وکړ[416] .

د حضرت ابوبکر رضی الله عنه لومړی وينا:

په الله جل جلاله سوګند يادوم چې زه له تاسی څخه غوره او بهترنه يم ، او نه د خلافت له پاره زه خپل ځان له تاسی بهتر ګنم ، زما خواهش وه چې ستاسی څخه کوم يو دا مسئوليت په غاړه واخلی تاسو به دا اميد لری چې زه به د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سنتو مطابق عمل وکړم ~ رسول الله صلی الله عليه وسلم معصوم او پاک وه او د هغه سره ملا ئکې موجودی وی ، خو زما سره شيطان هم دی چې زما د صحيح لاری څخه دبی لاری کولو کوښښ کوی په دی اساس تاسی ټول خلک به زما محاسبه کوی : ان استقمت فاعينونی وان زغت فقومونی [که چيری زه په نيغه لار روان وم نوما سره کومک وکړی او که چيری زه بي لاری شوم نو بيا ما نيغی لاری ته راواړوی ] .

په يوبل روايت کې دا وينا په دی توګه رانقل شوی ده :

---

[416] - صحيح بخاری المغازی غزوه خيبر2 ټوک 609 مخ صحيح مسلم الجهاد باب قول النبی صلی الله عليه وسلم لا نوث – جامع الاصول 4 ټوک 104 مخ

ای خلکو ! زه ستاسی خلیفه جوړکړای شوی یم حال دا چې زه ستاسی څخه بهتر نه یم ، که چیری زه صحیح کارونه کوم نو زما سره کومک وکړی او که چیری غلطی را څخه وشوه نو ما ته نیغه لاره وښایاست ، رښتیا ویل امانت دی او درواغ ویل خیانت دی ، ستاسی کمزوری او ضعیفه شخص به زما په وړاندی قوی او طاقت وروی ، ترهغه پوری چې زه هغه ته حق ونه سپارم او ستاسی طاقت لرونکې او قوی شخص به دلته کمزوری او ضعیفه وی تر هغه پوری چې زه د هغه څخه د مظلوم حق وانه خلم ، هغه قوم چې د خدای په لاره کې جهاد پریږ دی نو الله تعالی هغه په فقر او ذلت اخته کړی او په کوم ملت کې چې بی حیائی وده وکړی او ډیره شی ، نو الله تعالی په هغوی غمونه او مصیبتونه رانازلوی ، تر هغه پوری زما اطاعت کوی ترڅو پوری چې زه د الله جل جلاله او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت کوم ، خو کله چې ما د هغو نافرمانی وکړه نو بیا په تاسو زما اطاعت واجب نه دی ، پورته شی لمونځ وکړی چې الله جل جلاله په تاسی خپل رحم وکړی [417].

د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه سره بیعت

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه د خپل وفات په مرض کې د حضرت عبدالرحمان بن عوف ، عثمان بن عفان ، سعید بن زید ، سید بن حضیر رضی الله عنهم او نورو مهاجرینو او انصارو رضی الله عنهم څخه د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په هکله مشوره وغوښته ، د مشوری او د دی لویو صحابه کرامو رضی الله عنهم درای د معلومولو وروسته ئی حضرت عثمان رضی الله عنه ته ویل چې د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په باره کې زما وصیت ولیکه هغه ولیکه او مهرئی پری ولګاوه او بیا بیرون ولاړ او د خلکو [اهل حل وعقد] څخه ئی پوښتنه وکړه

---

[417] - المصنف د عبدالرزاق لیکنه 11 ټوک 336 مخ – مجمع الزواید 5 ټوک 183 مخ - طبقات ابن سعد 3 ټوک 212 مخ – تاریخ طبری 3 ټوک 203 مخ - البدایه 5 ټوک 248 مخ – کنزالعمال 5 ټوک 601 مخ د 1979 عیسوی کال بیروت چاپ

: اتبايعون لمن فی هذا الکتاب فقالوا نعم فاقروا بذلک ورضوا وبایعوا[ ايا تاسی د هغه شخص سره بیعت کوی چې نوم ئی په دی خط کې ليکلی دی ؟ ټولو وویل هو - هغه وه چې ټولو د حضرت ابوبکر رضی الله عنه پیشنهاد ومانه ، راضی او مطمئن شو او د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه سره ئی بیعت وکړ[418] ] .

ابن جریر رحمه الله علیه او ابن الاثبر رحمه الله علیه د ابوالتفسیرڅخه رانقل کړی دی چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه د خپل ځای څخه ښکته شو او په خپله ئی د خلکو څخه وپوښتل چې :اتر ضون بمن استخلف علیکم [ ایا تاسی په هغه چاراضی یاست چې زه ئی خپل خلیفه ګرځوم ] ، په الله زما سوګند چې ما په دی هکله په خپل غور او فکرکې څه کمی نه دی کړی او خپل کوم خپلوان نه ، بلکه عمرفاروق رضی‌الله عنه می خلیفه ټاکلی دی ، خلکو وویل : سمعنا واطعنا[ مونږ یی اورو او اطاعت ئی کوو [ .

ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خپل وصیت لیک د لیکو ترمخه د مهاجرینو او انصارو رضی الله عنهم د ممتازو او باوری نماینده ګانو رای لاس ته راوړی وی ، او بیائی د هغوی د رای مطابق وصیت لیک ولیکه ~ او د مدینی د عامو خلکو څخه یې پوښتنه وکړه،او خلکو په خپلی ازآدی خوښی سره د حضرت عمر رضی الله عنه سره بیعت وکړ او وروسته له هغی د فاروق خلافت ته قانونی حیثیت حاصل شو، د ابوبکر صدیق رضی الله عنه وصیت په اصل کې یووړاندیز وه چې هغه خلکو مسترد کولائی هم شو . خو مسلمانانو هغه قبول کړ[419].

ابن الاثیر مجدالدین جزری رحمه الله علیه چې606 په هجری قمری کال کې مړ شوی په جامع الاصول فی احادیث الرسول کې یو بل روایت

[418] - طبقات ابن سعد 3 ټوک 199 مخ - منتخب کنزالعمال په حایشه د مسند احمد 2 ټوک 177 مخ

[419] - طبری 4 ټوک 51 مخ – الکامل 2 ټوک 426 مخ

رانقل کړی دی چې وایی : د ابوبکر رضی الله تعالی عنه د تدفین څخه وروسته حضرت عمر رضی الله عنه خلکو ته وویل چې زه تاسی ته د خپل ځان په هکله داسی کومه خبره نه شم کولای چې تاسوته د پخوا څخه معلومه نه وی زه یوازی عمر یم او په تاسی د حکومت کولو هیڅ حرص نه لرم. خو دا امانت دکوم نا اهل په غیږکې هم نه شم وراچولی. خو هغه څوک چې د مسلمانانو د قوت باعث وی هغه د دی منصب ډیر حق داره دی[420].

تاسی بیا هم غور وکړی او کوم بل کس ددی کار له پاره وټاکې خو خلکو دوهم ځل بیا همدی غوره کړ.

د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه لومړی وینا :

د عربو مثال لکه د پیزاون تړلی اوښ دی چې د خپل قا ئد مشر پسی وروسته روان وی نو مشرته ئی غور کول په کار دی چې هغه دوی چیرته وړی ؟ پاتی شوم زه د کعبی په رب می دی سوگند وی چې زه به دا خلک په نیغه لاره روان کړم[421].

ابن سعد رحمه الله علیه د ابوبکر رضی الله تعالی عنه د تدفین څخه وروسته په همغه ځای کې د شوی وینا متن داسی رانقلوی : د حمد اوثنا وروسته زه ستاسی له پاره امتحان یم ،او تاسی زما له پاره امتحان یاست زه تیرو دوه ملگرو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ابوبکر رضی الله عنه نه وروسته خلیفه شوی یم - هغه خلک چې د مرکز څخه لری دی زه په هغوی پوه ، دیانت دار او قوی امیران ټاکم ، هغه څوک چې نیکې کوی مونږ د هغوی سره احسان کوو او هغه خلک چې د جرائمو ارتکاب وکړی

---

[420]- جامع الاصول 4 ټوک 109 مخ کتاب الخلافه ولااماره الباب الثانی فی ذکر الخلفاء الراشدین بیعتهم

[421]- طبری 4 ټوک 51 مخ - الکامل 2 ټوک 427 مخ

هغو ته به سزا ورکوم الله جل جلاله دی ما ته او تاسی ټولو ته ښښنه و کړی[422] .

د حضرت عثمان رضی الله عنه سره بیعت :

د زخمی کیدو وروسته حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه وویل : زما په نظر د هغو شپږو کسانو څخه ډیربل هیڅوک اهل او موزون نه شته ، د چا څخه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات ترنیتی پوری خوشحاله وه یعنی حضرت عمر حضرت عثمان حضرت زبیر حضرت طلحه حضرت سعد او حضرت عبدالرحمن رضی الله عنهم په مشوره کې زما زوی عبدالله هم شریکولای شی خو هغه په خلافت کې هیڅ حق نلری [ ترڅو چې د دی په اساس خلافت موروثی ونه ګرځی] که چیری سعد بن ابی قاص رضی الله عنه ته خلافت ورپه لاس شی نو ډیره به ښه وی‌او که نه نو بل هرڅوک چې خلیفه شونوورته په کاردی چې د هغه کومک ترلاسه کړی...د دی نه وروسته ئی راتلونکې خلیفه ته د مهاجرینو او انصاور رضی الله تعالی عنهم ، کلیوالو خلکو او غیر مسلمانو ډلو سره د حسن سلوک وصیت وکړ دغه شپږ رکنی انتخابی هیئت د خلیفه د وړاندیز اختیار عبدالرحمن بن عوف رضی الله تعالی عنه ته ور په غاړه کړ [ هغه ئی د انتخاب ناظم وټاکه ] هغه د مدینی د خلکو سره اوږ دی مشوری وکړی . د بخاری شریف په کتاب الاحکام کې راغلی دی چې خلک تردری ورځو پوری د عبدالرحمن رضی الله تعالی عنه کورته د خپلو رایو د ښکاره کولو په خاطر راتلل، د رای ګیری وروسته د حضرت عثمان او حضرت علی رضی الله تعالی عنهما د د واړو څخه د قرآن او سنتو د تابعداری وعده واخسته او وی ویل چې د مدینی وګړی عثمان رضی الله عنه خوښوی ~ نو په دی خاطر د هغه سره بیعت وکړی ، هماغه وه چې حضرت علی رضی الله عنه او د مدینی ټولو خلکو د هغه سره بیعت وکړ " فبایعه علی رضی الله عنه وولج اهل الدار فبایعوه " .

---

**422**- طبقات ابن سعد 2 ټوک 427 مخ

د صحيح بخاري په کتاب الاحکام کې د حضرت عبدالرحمن رضی الله عنه وينا را نقل شوی ده :فلم ارهم يعدلوا بعثمان رضی الله عنه ... فبايعه عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه و بايعه الناس و المهاجرون و الانصار و امراء الاخبار و المسلمون [ ما وليدل چې خلک د حضرت عثمان رضی الله عنه سره هيڅوک نه برابروی او د خلافت له پاره د هغه څخه زيات اهل بل څوک نه ګڼی ...عبدالرحمان بن عوف د حضرت عثمان رضی الله عنهما سره بيعت وکړ عامو خلکو او مهاجرينو رضی الله عنهم ورسره بيعت وکړ او عسکری مشرانو [ چې په هغی وخت کې د حج د پاره راغلی وه ] هم ورسره بيعت وکړ[423].

د حضرت عثمان رضىالله عنه لومړی وينا :

د حمد او ثنا څخه وروسته په ما د خلافت بار اچول شوی دی او ما دا بار پورته کړی دی، زه د سنتو پيروی کوونکې يم او د بدعاتو د منځه وړونکې يم ښه پوه شی چې د قرآن او سنتو د پيروی څخه وروسته زه د دری اصولو پابند يم :

لومړی دا چې د ابوبکر صديق رضی الله عنه او عمر فاروق رضی الله عنه پيروی به کوم او د هغوی د پريکړې پابند به يم په دی شرط چې تاسی پری اتفاق کړی وی .

دوهم دا چې په کومه موضوع کې چې ستاسی د اجتماعی مشوری په اساس کومه پريکړه و نه شی نو د هغی د پاره به زه د ښه او نيکو خلکو سنت اختيار وم .

دريم دا چې زه به په تاسی لاس پورته نه کړم مګر هغه سزا چې تاسی يې وړ وګرځی .

423- بخاری المناقب ټوک 523 ~ 525 الاحکام 2 ټوک 1070 - جامع الاصول 4 ټوک 124 ~ 128مخونه

ښه پوه شی ! چې دا وینا د خلکو له پاره ښایسته او غوره جوړه کړل شوی ده تاسی د دی په لور مه ښکته کیږی او نه پری اعتماد وکړی ځکه دا د اعتماد وړ شی نه دی .

پوه شی ! چې دا وینا تاسی نه پریږی تر هغو چې تاسی یې په خپله پری نه ږدی [424].

د علی بن ابی طالب رضی الله عنه سره بیعت :

حضرت عثمان رضی‌الله عنه د شهادت څخه وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابو رضی الله عنهم د حضرت علی رضی‌الله عنه څخه وغوښتل چې د خلافت مسئولیت په غاړه واخلی ، هغه وویل چې ما ته د وزیر په حیث پاته کیدل ډیر غوره دی ، خلکو ورته وویل چې مونږ ستا سره بیعت کوو ، په دی خبره حضرت علی رضی‌الله عنه ورته وفرمایل چې زما سره بیعت به په جومات کې وی او په پټه به نه وی او د مسلمانانو د ازآدی رای پرته به مکمل نه شی، کله چې هغه جومات ته تشریف یوړ نو مهاجرینو او انصارورضی‌الله عنهم او عامو خلکو په اتفاق سره ورسره بیعت وکړه .

د علی بن ابی طالب رضی الله عنه لومړی وینا :

الله جل جلاله د هدایت او لارښوونی کتاب رانازل کړی چې په هغه کې یې نیکې او بدی بیان کړیدی نیک کارونه کوی او له بدو کارونو څخه ځان وژغوری او د فرائضو پابندی کوی، الله جل جلاله د څو شیانو حرمت بیان کړی دی چې نامعلوم نه دی خو هغه په ټولو حرمتونو د مسلمان حرمت بیان کړی دی چې نامعلوم نه دی خو هغه په ټولو حرمتونو د مسلمان حرمت ته فضلیت ورکړی دی او مسلمانانو ته یې د اخلاص او یووالی په اساس قوت وربخښلی دی مسلمان هغه دي چې د هغه د ژبی او

---

[424] - تاریخ طبری 5 ټوک 149 مخ

د لاس د ضرر څخه خلک خلاص وی د حق پرته کوم مسلمان ته تکلیف ورکول روا نه دی , پرته دهغه سزا څخه چې هغه ته یی ورکول واجب وی ، څه خلک له تاسی څخه مخته ولاړل او مرګ ستاسي پسي هم روان دي خپل بارونه کم کړی ، دا په دی خاطر چې مخکې تلوونکې د وروسته راتلونکې انتظار کوی، د خدای بندګانو،د خدای نه ویرېږی ، د هغی د بندګانو د حق تلفی به له تاسی څخه پوښتنه وشی حتی چې د ځناورو په هکله به هم له تاسی څخه پوښتنه وشی ،د خدای اطاعت ورکړی او د هغه د نافرمانی څخه ځان وژغوری- نیکې او خیر چې هر چیرته وی هغه تر لاسه کړی،او بدی چې په هر ځای کې ګوری، هغه نه لری والی اختیار کړی ، هغه وخت رایاد کړی چې تاسی ډیر لږ وی او په ځمکه کې کمزوری ګڼل کیدلی [425].

د خلفائی راشدینو رضی الله عنهم د بیعت په هکله د دی مستندو حوالو څخه دا ثابیتیږی چې د هغوی انتخاب خو د عمومی انتخاباتو له لاری نه وه شوی خود مسلمانانو د اهل حل و عقد یعنی ملت د نمایندګانو لخوا په اصولی توګه شوی وه ، او همدا لاره ډیره غوره ده ، چې د حکومت مشر د ملت د نمایندګانو لخوا انتخاباتو شی، خود ملت نمایندګان باید د ملت معتمدین اوباوری وګړی وی ترڅو د هغوی پریکړه د ملت پریکړه وبلل شی .

د ولی عهد تګاکل

فقهاو او سیاست پوهانو د خلیفه دټاکلو یوه لاره دا هم ښوولی ده چې مخکینی خلیفه څوک خپل ولی عهد او خلیفه وټاکې . ابن خلدون ، ماوردی رحمه الله علیهما او ځینی نورو پوهانو همدا ټاکل کافی

[425] - تاریخ طبری 5 ټوک 157 مخ – الکامل د ابن اثیر 3 ټوک 194 مخ – البدایه د حافظ عمادالدین بن کثیر 7 ټوک 227 مخ

ګڼلی دی، البته د ماوردی رحمه الله  په نظر خلیفه خپل پلار یا زوی ولی عهد نه شی ټاکلی [426].

قاضی ابو یعلی رحمه الله علیه یوازی ولی عهدی او ټاکل کافی نه ګڼی بلکه د اهل حل و عقد بیعت کول ورسره ضروری ګڼی: لان الا مامه لا تنعقد للمعهود له بنفس العهد وانما تنعقد بعهد المسلمین.... ان امامه المعهود الیه تنعقد بعد موته با اختیار اهل الوقت [ د ولی عهد حکومت یوازی د پخوانی خلیفه د عهد او وصیت  په اساس نه شی نه جوړیږی بلکه د مسلمانانو د عهد او اطاعت او د وخت د اهل حل عقد د انتخاب او خوښی په اساس جوړیږی شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله هم ویلی دی چې : د بیعت پرته یوائی ولی عهدی کافی نه ده ] [427].

په قرانکریم او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې  د شورائیت اصول ذکر شوی  دی  چې په هغی کې  د ولی عهد او نامزد کولو طریقه نه ده ښوول شوی ، موسی علیه السلام د طور غره ته  د تللو په وخت کې حضرت هارون علیه السلام  خپل نائب مقرر کړی وه او همدا راز کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په سفر تللو ، نو کوم صحابی به ئی په مدینه کې  خپل  نائب  او سرپرست ټاکه ، خو هغه د بحث لاندی [ ولی عهدی ] د موضوع  سره کوم اړیکې نه لری ،د دی نه یوائی دا را په ډاګه کیږی  چې خلیفه د خپلی غیر حاضری په وخت کې یو څوک د قایم مقام امیر یا نائب امیر په حیث ټاکلی شی
.

که څه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابوبکر رضی الله عنه  له پاره د وصیت لیک د لیکو اراده کړی وه خو بیا دا اراده پریښوده، تر څو د شوری په واسطه د خلیفه د ټاکلو اصل پا تی شی، ابوبکر رضی

[426] - الاحکام د ماوردی لیکنه 10 مخ
[427]- الاحکام د قاضی ابویعلی لیکنه 25 مخ د  1966 عیسوی کال د مصر چاپ

الله عنه چې د حضرت عمر رضی الله عنه په هکله کوم وصيت کړی وه - نو هغه يوازې پيشنهادی شکل لروده خو کله چې د مدينې خلکو هغه قبول کړ او د هغه په لاس ئې بيعت وکړ نو وروسته له هغې د حضرت عمر رضی الله عنه خلافت جوړ شو .

ابن تيميه رحمه الله فرمائي چې: انما صار اماما لما با يعوه [ حضرت عمر رضی الله عنه هغه وخت عملا خليفه شو چې صحابو رضی الله عنهم ور سره بيعت وکړ[428].

تغلب يا په زور حکومت نيول :

د اسلام فقهاو د حکومت د جوړيدو يو ډول دا بيان کړيدی ، چې که څوک د زور له لاری په حکومت قبضه وکړی او خپل حکومت جوړ کړی ، د هغې احکام نافذ يدی شی په دی شرط چې د شريعت مطابق وی ، ځينی خلک ددی فقهی مسئلی څخه غلط مقصد اخلی- حال داچې دفقهاو مقصد دادی چې که څه هم د قبضه کونکې دا قبضه شرعا ناروا کاردی . خو کله چې هغه عملا خپله پنجه کلکه کړی نو په هغه وخت کې که د هغه حکومت په رسميت ونه پيژندل شی، نو کورنی شخړی ، فتنه او فساد به جوړشی او په ملت کې به ګډوډی را پيدا شی او دا کارونه د قبضی [ غلب] په مقابل کې ډيره خرابی منځ ته راوړی " الضرورات تبيح المحظورات [ د مجبوری په وخت کې ځينی ممنوع شيان د ضرورت په اندازه روا کيږی ] ، سد باب الذريعه [ د فساد او خرابی دروازه بندول ضروری دی ] ، او اختيار اهون البليتين [ د دوه بلاګانو څخه کوچنی بلا اختيار کيدای شی ] ، شرعی قواعدو په اساس د ضرورت د قانون لاندی د متغلب او غاصب حکومت به د مجبوريت په اساس منل کيږی - د فقهاو هيځکله دا مقصد نه دی چې ګويا د متغلب حکومت روا او په حق جوړ شوی حکومت وی ، د هغوی په نظر دايو بالفعل او عملی حکومت خودی

---

428 - منهاج السنه لومړی ټوک 142 مخ

مګر په حق نه دی. همدا علت دی چې هر چیرته چې د فقهاو په کتابونو کې دا موضوع یاده شوی ده نو ورسره د " للضروره " یا د " خوفاً من قهره و جبرو ته " ... کلماتو ذکر شوی دی د هغوی څخه په ډاګه دا څرګندیږی چې د زور او غلبی حکومت کوم نیک کار نه دی خو یوازی د ضرورت او مجبوری په اساس منل کیږی .

مشهور حنفی فقیه فخرالدین حسن بن منصوراو زجندی چې په قاضی خان مشهور دی او په 592 هجری قمری کال کې وفات شوی لیکي چې: قال علماء نا رحهم الله السلطان یصیرسلطانا بامرین بالمبایعه معهم و تعتبر فی المبایعه مبایعه اشرافهم و اعیانهم و الثانی ان ینفذ حکمه فی رعیته خوفا من قهر و غلبته [ زموږ علماو ویلی دی چې د یو حاکم حکمرانی له دوه لارو جوړیږی، یو ډول دا چې د ملت شریف او معتمد خلک ور سره بیعت وکړی ، [ د ملت د نمایندګانو] بیعت دی، او بل دا چې عملاً د هغه حکم د هغه د قهر غلبی او ویری په اساس جاری شوی وی ][429] .

د امام قاضی خان د دی وینا څخه څرګنده شوه چې د حکومت جوړیدو صحیح او درسته او قانونی لاره خو داده چې د اسلامی امت پوه او شریف خلک یعنی د ملت نمایندګان یو څوک منتخب کړی، او بیعت ورسره وکړی خو که چا په زور په حکومت قبضه وکړه او د هغه احکام عملا په رعیت کې جاری شول ، نو دا یوازی په دی خاطر حکمران دی چې د ده د قهر ، جبر، ظلم او ویره ده او هغه عملاً غالب شوی دی ،دا په دی خاطر چې دا کومه روا او قانونی لاره نه ده، قانوناً خودا غاصب او په زور مسلط شوی دی ، اوداسی حاکم ته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لعنتی ویلی دی - په قران او احادیثو کې د

[429] - فتاوی قاضي خان په حاشیه د عالمګیری 3 ټوک 584 مخ – کتاب السیر تنویرالابصار متن درمختار په مجموعه شامی باب البغات 3 ټوک 428 مخ – بحرالرایق شرح د کنزالدقایق باب البغاه 5 ټوک 152 مخ د بیروت چاپ

شورائيت حکم راغلی دی. د تغلب او په زور د حکومت واګی په لاس کې داختسو حکم نه دی راغلی .

په در مختار کې دی " و تصح سلطه متغلب للضروره[430] "

په زور لاس ته راوړی حکومت د ضرورت په اساس صحیح ګڼل ګیږی ابن عابدین شامی رحمه الله علیه په دی هکله په خپله حاشیه کې لیکلی که څوک د خلیفه کیدو په شرائطو او اوصافو برابر هم وی خو د اهل حل و عقد د بیعت نه پرته په حکومت قبضه وکړی نو د هغه حکومت به د ضرورت او مجبوریت په اساس صحیح وګڼل شی، او که نه نو صحیح لاره خوداده چې خلیفه باید د اهل حل و عقد له طرفه ټاکل شوی وی. او د ضرورت څخه مقصد د فتنی او کورنی شخړو مخه نیول دی [431].

حنفی فقهاو رحمهم الله په دی نظر دی چې که چیری دا متغلب ظالم او فاسق وی نو د توان په اندازه د هغه څخه سر کش کول او د قوت په زور د هغه حکومت ړنګول روادی ، او مسلمانانو ته د داسی حکومت په خلاف د مسلح مقاومت په وړاندی ودریدل او د ظالم حاکم مرسته کول روا نه دی [432].

په فقه کې د باغیانو تعریف داسی شوی دی الخارجون علی الامام الحق بغیر الحق [ باغیان هغه څوک دی چې د یو برحق او عادل حاکم په خلاف یی بی حقه او ناروا پاڅون او خروج کړی وی [433].

---

430 - شامی 512 مخ لومړی ټوک والمسائره د ابن همام 170 مخ نهم ا صل

431- شامی باب الا مامه لومړی ټوک 512 مخ

432 - حکام القران للجصاص لومړی ټوک 70 مخ بیروت - فتح القدیر 6 ټوک 102 مخ 1970د عیسوی کال چاپ - عالمګیری 2 ټوک 384 مخ - بحرا لرائق 5 ټوک 151مخ

433 - مجموعه شامی 3 ټوک 426 مخ - فتح القدیر د ابن الهام لیکنه 6 ټوک 99مخ

نیو لیك

.....................

## خګلورم اصل

### د خلیفه صفات او شرطونه

د اسلامی سیاست ځلورم اصل دادی چې د ریاست مشر یعنی خلیفه به د خپل علم، عمل ، عدالت، دیانت، قابلیت او صلاحیت له نظره په ټول امت کې ممتاز شخصیت وی، ځکه اسلامی ریاست د خپل طبیعت له رویه یو اصولی فکری ریاست دی نو شرعاً او عقلاً لازمه ده چې دده مشر د اسلام عملی‌نمونه وی، او د خپل دینی فکر او عمل په اساس ښکاره او ممتاز وګری وی، او یا لږ ترلږه د یوه صالح مؤمن بنیادی شرائط خو پوره کړی ، د اسلام پوهانو د شرعی دلا ئلو

په رهناکې دا شرائط او اوصاف بیان کړی، چا لږ ډیر تفصیل ورکړی او چا په مختصره توګه راخستی دی - امام قرطبی رحمه الله علیه دا شرطونه د نورو علماو په نسبت په ډیر تفصیل سره بیان کړی دی. چې په لاندی توګه ئی وړاندی کوو .

ا{ مسلمان وی :

په قرانکرم کې ئی د او لو الامر مسلمانی شرط ګرځولی ده

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ

[د النساء سورت 59 ایت ]

[ ای مؤمنانو د الله او د رسول اطاعت وکړی او د خپلو هغه مشرانو چې ستاسی څخه وی " مسلمانان وی " اطاعت وکړی ] .

او په خپلو رازونو او معاملا تو کې ئی د غیر مسلمانانو داخلول او شریکول نا روا ښودلی دی

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ [د ال عمران سورت 118 ایت ]

[ای مؤمنانو ! د خپلی ټولنی له وګړونه پرته نورو سره خپل رازونه مه وایی ، هغوی ستاسی د ورکاوی له هیڅ یو فرصت څخه ګته اخیستل له لاسه نه ورکوی ، تاسی ته چې په هر څه زیان اوړی د هغوی خوښیږی ، د هغوی د زړه دښمنی د هغوی له خولې نه راووځي او څه چې هغوی به خپلو سینو کې پټ ساتلی دی هغه هغه له دی نه زیات دی ، مونږ تاسی ته په ډاګه څرګنده لارښوونې کړیدی که تاسی پوهه لری [ نو له هغو سره به په ارتباط ساتنه کې له پاملرنې څخه کار واخلئ ] ] .ا

اَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تُتْرَكُوا وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَا رَسُولِهِ وَلَا الْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ

[ د التوبه سورت 16آیت ]

[ ایا تاسی دا ګنلی ده چې همداسې به پرېښودل شی پداسی حال کې چې تر اوسه پوری خو الله دا دنده لیدلې چې له تاسی نه څوک هغه کسان دی چې هغوی [د هغه په لاره کې ] سرښندنه وکړی او له الله او له پیغمبر او مؤمنانو څخه پرته یې څوک صمیمی دوست ونه نیوه ] .

مؤمنانو ته حکم ورکړی شوی چې کافران خپل دوستان و نه نیسی

او په خپلو رازونو او معاملا تو کې ئی د غیر مسلمانانو داخلول او شریکول ناروا ښودلی دی

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ [ د النساء سورت 144 ایت ]

[ ای مؤمنانو ! د مؤمنانو په ځای له کافرانو سره ملګرتیا مکوئ ]

.

نو کله ئی چې په راز کې شریکول او دوستان نیول روانه دی نو څنګه به د هغه مشری روا شی، د اسلامی حکومت مقصد د اسلام د دین جاری کول دی نو هر هغه څوک چې په دی دین ایمان نه لری نو هغه به دا څنګه نافذ او جاری کړی هیڅ ملت او ریاست د بنسټییزی نظرئی او اساسی قانون نه منونکې ته د مسئولیت منصب نه شی ورسپارلی .

2{ نارینه وی :

په قرانکریم کې راغلی چې نارینه په ښځو حاکم دی

الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ [ د النساء سورت 34 آیت ]

[ نارینه پر ښځو مسلط اداره چیان دي ، له دې امله چې الله د هغو ځینو ته پر ځینو نورو لوړتیا ورښلیې د ه، او له دې کبله چې نارینه خپل مالونه لګوي ] .

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې هغه قوم به هیڅکله کامیابه نه شی چا چې ښځه خپله حاکمه وګرځوله [ صحیح بخاری او صحیح مسلم ] .

په همدی ډول نبی صلی الله علیه و سلم فرمایلی دی چې هر کله ستاسی معاملی د ښځو په غاړه شوی نو بیا تاسی ته مرګ ډیر ښه دی [ جامع ترمذی ] .

د اسلام د فقهاو په دی خبره اجماع ده چې ښځه د حکومت مشره او خلیفه نه شی ګرځیدلای .

3{عادل او صالح وی :

په قرانکریم کې راغلی دی چې ظالم خلک د مسلمانانو د امامت او قیادت وړ نه دی:

قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ

[د البقره سورت 124 آیت ]

[ نو الله جل جلاله وویل " زه تا د ټولو خلکو قائد ټاکم ، ابراهیم علیه السلام عرض وکړ " او ایا زما له اولادې سره هم همدا وعده ده ؟ هغه وویل " زما وعده له ظالمانو سره نشته ] .

د الله جل جلاله نه د غافلو مسرفېنو او مفسدينو اطاعت روانه دی

وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا .........

[د الکف سورت 28 آیت ]

[ د هغه چا اطاعت مه کوه چې مونږ یې زړه د خپل اطاعت څخه غافل کړی دی او د خپل خواهش تابع دی او د هغه کار او طبیعت د حد څخه تجاوز دی ] .

وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ الَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ

[د الکهف سورت 28 آیت ]

[ تاسی د حد څخه تیریدونکو خبره مه منئ هغوی چې په ځمکه کې فساد کوی او د اصلاح کارنه کوی ] .

يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ

[د الحجرات سورت 13 آيت ]

[ ای خلکو ! مونږ تاسې له يوه نارينه او يوې ښځې نه پيداکړئ او بيا مو تاسې قومونه او قبيلې وګرځولی ترڅو چې تاسی يو تر بله سره وپيژنئ ، په حقيقت کې د الله په نزد له تاسې نه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوک دی چې په تاسې کې تر ټولو زيات پرهيزګار وي . په باوری ډول الله په هر څه پوهيدونکې او باخبره دی ] .

نو کله چې د فاسق او نافرمانه له سره اطاعت روا نه وی او هغه د عزت او احترام وړهم نه دی نو هغه د ټول ملت د رياست او مشری مستحق څنګه ګرځی د اسلام د فقهاو په دی خبره هم اجماع او اتفاق دی چې فاسق مشر ټاکل روانه دی .

4} د د ين عالم و ی :

په قرانکريم کې ئی د اولوالامر له پاره د استنباط او اجتهادی بصيرت لرل ضروری ګڼلی دی :

وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوْ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُوْلِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ

[د النساء سورت 83 آيت ]

[دوی چې کله کوم د ډاډ يا ويری خبر اوری هغه خپروی ، پداسی حال کې چې که دوی هغه پيغمبر او د خپلی ډلی مسئولو کسانو ته ورسوی نو پر هغه به داسی ډول خلک وپوهيږی چې د دوی په مينځ کې د دی خبری صلاحيت لری چې له هغی څخه سمه نتيجه واخيستلی شی ]

.

د قيادت له پاره علم و جسم دواړه ضروری دی :

قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ [د البقره سورت 247 آيت ]

••••••••••••••••••••••

[الله پر تاسی هماغه غوره کړی دی او هغه ته یې روحي او جسمی داوړه ډوله پراخ اهلیت وربښلی دی ] .

عالم او غیر عالم برابر نه وی :

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ [ د الزمر سورت 9 آیت ]

[ووایه آیا هغه خلک چې پوهیږی او هغه چې نه پوهیږی سره برابر دی] .

په دی خبره د فقهاو اتفاق دی چې لږترلږه علم کول ډیر ضرور دی خو په سختو او بغرنجو مسائلو کې د عابدینو فقهاو مشوری ته رجوع کولی شی ، لکه څنګه چې د راشدینو خلفاو دوره وه، خو په هر وخت کې د نورو څخه په پوښتنه کار نه روانیږی. د اسلامی ریاست مقصد د دین جاری کول دی. نو هغه څوک چې د ضرورت په اندازه هم د دین په هکله علم ونلری نو هغه به ئی جاری څنګه کړی؟ هیڅ ملت داسی شخص خپل مشر نه شی ټاکلی چې د ریاست د اساسی قانون څخه بالکل ناخبره وی .

5} آزاد وی :

یعنی د چا غلام ، د ټول وخت نوکر او بندی نه وی او د فرائضو د اداء کولو له پاره فارغه وی.

6} بالغ وی :

نا بالغه هلک خو دا بار د خپلی جسمانی او ذهنی کمزورتیا په اساس نه شی پورته کولی، د بلی خوا څخه ناپوهه او نابالغه کوچنیان په خپل مال کې د تصرف څخه هم منع کړل شوی دی

وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمْ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَعْرُوفًا

[ د النساء سورت 5 آیت ]

[ او خپل هغه مالونه چې الله جل جلاله هغه ستاسی له پاره د ژوندد سمبالښت وسیله ګرځولی ده ناپوهانو ته مه سپارئ البته د هغوی د خوراک او اغوستن له پاره یې ورکړی او هغوی ته سمه لارښونه وکړی ] .

7} عاقل وی :

ښکاره ده چې په ذهنی توګه مریض شخص دملت دومره دروند بار نه شی پورته کولی.

8} د بد ن غړی ییګ روغ وی :

په جسمانی ډول بی کاره شخصیت دومره لوی خدمت نه شی سرته رسولی او نه حدود جاری کولای شی .

9} زړه و ر او شجاع وی :

دکمزوری زړه خاوند بزدله شخص نه د هیواد دفاع کولای شی نه امن راوستلای شی او نه حدود جاری کولای شی .

10} په معامله پوه او د رای خاوند وی :

د حالاتو څخه بی خبره شخص چې په معاملاتو باندی نه پوهیږی هیڅکله نظم او ضبط نشی راو ستلای [434].

د امام د شرائطو ذکر په نورو کتابونو کې هم شویدی چې په ځینو کې په لنډ ډول او په ځینوکې په مفصل ډول بیان شوی دی[435] .

دخلافت له پاره د قریشی توب شرط

د اهل سنت و الجماعت جمهورو علماو د خلافت له پاره قریشی توب شرط ټاکلی دی. د دی شرط دلیل هغه احادیث دی چې په هغه

[434] - تفسیر قرطبي لومړی ټوک 270 مخ

[435] - الاحکام د ماوردی رحمه الله لیکنه 6 مخ - الا حکام د قاضي ابي یعلي رحمه الله لیکنه 30 مخ - اصول الدین د شیخ عبدالقادر بغدادي رحمه الله لیکنه 277 مخ - المسا ئره د ابن الهمام رحمه الله لیکنه 169 مخ ازاله الخفاء د شاه ولي الله رحمه الله لیکنه لومړی ټوک 3 مخ خلافت او ملوکیت اسلامي ریاست مولانا سید ابوالاعلی مودودي رحمه الله لیکنه 379 مخ

کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې ائمه او خلفاء به د قریشو له جملی څخه وی [436].

خو که چیری قریشی د دین د اقامی، عدل او انصاف څخه مخ واړوی نو بیا د هغه په مقابل کې د غیر قریشی خلیفه ټاکل روادی. په دی د ټولو فقهاو اجماع شوی ده چې یوازی قریشی توب کافی نه دی. بلکه ایمان ، علم، دیانت، زړه ورتیا او شجاعت ته د اولیت حق حاصل دی ، د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیث کې قریشی خلفاو ته د اولیت ورکولو حکم د دی شرط سره تړلی دی چې هغه به دین جاری کوی " ما اقاموا الدین " [437].

په یوه بل روایت کې راغلی دی چې امراء به د قریشو څخه وی، تر هغه پوری چې هغوی په عدل پریکړې کول " ماحکموا فعدلوا "

په یو بل روایت کې ویل شوی دی چې کله قریش د صحیح لاری څخه و ښوویږی او په حق ولاړ نه شی ، نو تاسی بیا خپلی توری را پورته کړی " رجاله ثقات الا ان فیه انقطاعا " [438].

همدا د امام ابوحنیفه رحمه الله علیه مشهور مسلک او د حنفی فقهاو فتوی ده چې قریشی توب شرط دی خو علامه انور شاه کشمیری رحمه الله د التحریر المختار په لومړی ټوک 68 مخ په حواله لیکلی دی چې د امام ابو حنیفه رحمه الله علیه څخه یو روایت دا هم را نقل شوی دی چې قریشی توب ضروری نه دی [439].

خو دا روایت ډیر کمزوری دی چې د پورتنی قول په مقابل کې د منلووړ نه دی .

---

**436** - بخاری الانبیاء باب مناقب قریش وسلم کتاب الاماره باب الناس

**437** - بخاری الانبیاء باب مناقب قریش وسلم کتاب الاماره باب الناس

438 - فتح الباری 16 ټوک 233 مخ

**439** - معارف السنن د جامع ترمذی شرح 2 ټوک 322 مخ

ابن خلدون رحمه الله علیه د قریشی توب د شرط علت ، د قوت خاوند او موثر توب بیان کړی دی هغه لیکې چې اصل مقصد د نسب او قبیلی برتری نه ده. بلکه مقصد تری ، قوت ، موثر توب او د قوم ډیر اعتماد لاس ته راوړل دی ، خو ابن خلدون رحمه الله علیه د ممتاز مورخ او تولن پوهنی په څنګ کې په فقه او حدیثو کې هغه ځای نه لری چې دهغه په اساس د ده په توجیه باندی اطمینان حاصل شی ، په دی خاطر که چیری صحیح النسب قریشی موجود وی او قوم پری اعتماد وکړی او په نورو شرائطو هم برابر وی نو هغه ته په غیر قریشی برتری ورکول په کار دی .

دظالم او فاسق حکمران په هکله
د امام ابو حنیفه رحمه الله علیه مسلك

د فقهی په کتابونو کې یوه مسئله ذکر شوی ده. چې د فاسق او ظالم حکمران په واسطه د ټاکل شوی قاضی پریکړی قانونا جاری کیږی خو په دی شرط چې قاضی په خپله عادل وی او دهغه پریکړه د شریعت په خلاف نه وی، د دی څخه ځینی خلکوته اشتباه پیداشوی وه چې شاید امام ابوحنیفه رحمه الله علیه د خلیفه لپاره د عدالت شرط ضروری نه ګڼی ، نو د دی اشتباه دلری کولو له پاره مشهور حنفی فقیه امام جصاص رحمه الله علیه چې په 370 هجری قمری کال کې مړی شوی دی فرمایی چې : ولا فرق عند ابی حنیفه رحمه الله علیه بین القاضی و الخلیفه فی ان شرط کل واحد منهما العداله وان الفاسق لایکون خلیفه ولایکون حاکما کما لا تقبل شهادته وخبره [ د امام ابو حنیفه رحمه الله په نظر د خلیفه او قاضی ترمنځ په دی هکله کوم تو پیر نه شته دواړو له پاره عدالت او دیانت شرط دی فاسق نه خلیفه جوړیدی شی او نه قاضی لکه څنګه ئی چې شهادت او روایت نه قبلیږی [440]] .

440 - احکام القران لومړی ټوک 70 مخ

د امام ابو حنيفه رحمه الله له نظره د فاسق حكمران په خلاف بغاوت كول او د قوت استعمالول روا دى، په دى شرط چې د هغه پرځاى عادل او صالح حكمران منځ ته را وستلاى شى، او په نتيجه كې د كورنى شخړو او د بى نتيجى وينى تويدلو او نفسونو د ضايع كيدلو خطره او ويره موجوده شى .

جصاص رحمه الله عليه فرمايي چې : وكان من قوله وجوب الامر بالمعروف و النهى عن المنكر فرض بالقول فان لم يوتمر فبالسيف.

ابو حنيفه رحمه الله عليه به ويل چې په ژبه امر بالمعروف او نهى عن المنكر فرض دى خو كه چيرى حكمران د نيكې حكم نه منى او په نيغه لاره نه ځى، نو بيا امر بالمعروف د تورى په واسطه واجبيږى[441] ]
.

ابن الهمام رحمه الله عليه فرمايلى دى چې كه چيرى خليفه په اوله كې عادل وه، خود تاكلو وروسته ئى د ظلم او فسق لاره ونيوله په دى حالت كې خو په خپله نه شى معزو ليدلاي خو د هغه حكومت چپه كول روا دى. په دى شرط چې د دى حكومت د چپه كولو په وجه د دى نه بله لويه فتنه را پيدا نه شى[442].

Comment [P1]:

علامه ماوردى رحمه الله عليه او قاضى ابو يعلى رحمه الله عليه ليكلى دى چې : د خليفه اهليت د هغه د عدل او ديانت د مجروح كيدو ياپه جسمانى تو ګه د بى كاره كيدو په اساس له منځه ځى ، او هغه بيا د خلافت وړنه ګرځى[443] .

امام ابو حنيفه رحمه الله عليه د زيد بن على رحمه الله عليه د بغاوت او محمد بن عبدالله او ابراهيم بن عبدالله د بغاوت په دوران

441 - احكام القران لومړى ټوک 70 مخ
442 - المسائر 5 ټوک 170 مخ - شامى 1 ټوک 514 مخ
- الاحكام الموردى 17 مخ - الاحكام للقا ضى ابى يعلى 28 مخ

کې د هغوی سره مالي کومک کړی او خلکو ته ئی هغوی سره د کومک کولو فتوی ورکړې وه [444].

## د خليفه منصبی فرائض

د خلیفه اصل منصبی فرض د دین اقامت او د شریعت جاری کول دی، د خلکو د حقوقو ساتنه او دهغوی ښیګڼی له پاره تدبیرونه نیول د هغه د مسئولیتونو څخه دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم امیر ته راعی ویلی دی، نو په دی خاطر د رعیت دبنیادی انسانی اړتیاو تنظام او دهغوی د مال، ځان او ابرو ساتنه او د هغوی د بنیادی انسانی حقوقو رعایت کول دهغه منصبی فریضه او مسئولیت دی .

ماوردی رحمه الله علیه او ابویعلی رحمه الله علیه د دی فرائضو او مسئولیتونو لنډیز په لاندی تو ګه بیان کړی دی.

د دین ساتنه ، [د دین تعلیم عام کول او له دین څخه دفاع کول] - د شرعی قوانینو جاری کول ، عدل او انصاف منځ ته راوړل ، د مال ، ځان او ابرو ساتنه او د امن وامان راوستل، د فوځ او اسلحی انتظام کول ، او د دارالاسلام څخه دفاع کول ، د جنګیدونکو کفارو په خلاف قتال کول، د رسمی خزانی ساتنه، د اسلامی مال سیستم رواجول ، په قومی خزانی باندی امانتدار پوهان ټاکل ، د معاش منصفانه نظام جوړول او د هغه په وخت ورکول ، د خلکو د حالت څخه په مستقیمه تو ګه ځان خبرول [445].

## د خليفه حقوق

عادل حکمران ته په اسلامی کې لوړه درجه ورکول شوی ده او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د هغه خیر غوښتنه د دین مهم جز ګڼلی ده.

---

- احکام القران لومړی ټوک 70 مخ

[445] - الاحکام الموردی 17 مخ - الاحکام للقا ضی ابی یعلی 27~28 مخونه

ماوردی او ابويعلی رحمه الله عليهما ويلی دی : کوم حاکم چې د خپل رعيت د هغه حقوقو پاملرنه کوی د کومو يادوونه چې مونږ تر مخه و کړه نو په رعيت د هغه دوه ډله حق واجبيږی.

لومړی دا چې د هغه تا بعداری به کوی

دوهم دا چې د هغه سره به کومک کوی ترڅو پوری چې د هغه په حالت کې بدلون را نه شی[446] .

بدر الدين ابن جماعه رحمه الله عليه چې په733 هجری قمری کال کې مړ شوی دی په خپل کتاب تحرير الاحکام فی تدبير اهل الاسلام کې ليکلی دی چې خليفه په امت باندی لس ډوله حقوق لری چې د هغو اداء کول په ملت واجب دی :

په پټه او په ښکاره دواړو حالاتو کې د خليفه د خبر غوښتنه ، د هغه سره کومک کول، د زړه له کومی د هغه تابعداری کول ، د هغه احترام کول، په ښه خبره يې پوهيدل اوريدل او د بدی خبری او غلطيو په لورئی متوجه کول، هغه د ټولو سازشونو څخه خبرول ، هغه د حکامو او عمالو د کړونو څخه خبرول ، د ملت د بهبود په کارونو کې د هغه لاس نيوی کول ، خلک د هغه د مرستی له پاره تيارول ، په ژبه ، مال او عمل سره د هغه څخه دفاع کول[447] .

د خليفه د وحدت او تعدد مسئله

څرګنده ده چې ديموکراسی [غربی بی دينه جمهوريت ] د ملت په حاکميت قايل دی نو په دی خاطر په هغی نظام کې نسل و قوم او د هری علاقی خلکوته د بيلو بيلو حکومتونو د جوړولو حق ورکول شوی دی ، خو اسلامی رياست کوم قومی، نسلی يا وطنی حکومت نه دی ، بلکه خالص اصولی او فکری حکومت دی. د ټولی نړی مسلمانان

---

[446] - الاحکام الموردی 17 مخ - الاحکام للقا ضی ابی يعلی 28 مخ

[447] - نظام الحکم فی الشريعه - تاريخ د ظاهر قاسمی 358 مخ 1974 عيسوی کال د بيروت چاپ

خداي خپل حاکم گڼی ، قران او سنت د خپل اساسی قانون په څير پيژنی ، محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل رسول او قائد پيژنی د يوی قبلی په لور لمونځ کوی ، او د حج په وخت کې ټول يوه مرکز [مثابه للناس] کې راټوليږی او د حج مناسک اداء کوی ، مسلمان د رنګ ، نسل، رسم، رواج ، او جغرافيائی پولو د اختلاف سره سره يو قوم او ملت دی چې د اسلامی امت ، منځنی امت او د خيرامه [غوره امت] نوم ورکړل شوی دی، نو د يو ملت غوښتنه همدا ده، چې د هغه خليفه او سياسی مشر هم يووی.، په اسلام کې د ازآدی تصور هغه نه دی کوم چې د سيکولريزم او نيشنليزم د توغ جګونکو سياستمدارانو دی ، هغوی د خپل نسل او وطن د اوسيدونکوحکومت منل ازادی بولی ، د فکر او خيال په څير نه وی ، په اسلام کې د غلامی څخه مقصددا دی چې په انسان د بل انسان حاکميت جوړشی ، او يو انسان د بل انسان د جوړکړی قانون غلام او وفادار وګرځی ، د ازادی حقيقی مفهوم دا دی چې انسان د انسان د غلائ نه ازاد او د خپل خالق غلام جوړ شی يعنی توحيد ازادی ده او شرک غلامی ده .

د نسل او وطن په لحاظ راشدين خلفاء رضی الله عنهم عرب وه خو کله چې په ايران، شام خراسان، افغانستان، ترکستان د هغوی حکومت جوړ شو. نو هغوی د عجمو خلک د عربو غلامان نه کړل او نه ئی پر هغوی د عربو جوړ کړی قانون جاری کړ~ بلکه د هغی هيوادنو او سيدونکې ئی د پادشاهانو او سردارانو د غلامی څخه ازاد کړل او د خدای نازل کړل شوی قانون ئی پری جاری کړ ~ که چيری دا غلامی وه خود عربو غلامی نه وه بلکه د کائناتو د خالق غلامی وه.

اسلامی فتوحات او اسلامی خلافت استعمار او استثمار نه ، بلکه د توحيد او عقيدی په بنسټ ولاړ اسلامی نظام وه کله چې د مسلمانانو د متحد خلافت نظام له منځه تللی د هغوی سياسی قوت هم په کموالی شروع کړی او نن چې د مسلمانانو شمير په نړۍکې

زرميلونو ته رسيږي ~ بيائی هم خپل وقار په نورو ملتونو کې بايللی دی د پورته حقايقو څخه دا ثاتيږی چې د مسلمانانو له پاره په کاردی يو خليفه و لری ، د مسلمانانو په تاريخ کې په يوه وخت کې د ډيرو ازادو حکمرانانو د موجوديت مثالونه شته او نن ، هم دمسلمانانو 42 ازاد هيوادنه موجود دی ، خو د مسلمانو پادشاهانو طرز عمل کوم شرعی دليل نه دی اصل دليل قران او سنت او د راشدينو خلفاو رضی الله عنهم سنت دی .

په دی سلسله کې څو احاديث د نمونی په ډول وړاندی کوو:

و حَدَّثَنِي وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ الْوَاسِطِيُّ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ الْجُرَيْرِيِّ عَنْ أَبِي نَضْرَةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الْآخَرَ مِنْهُمَا

[ د ابی سعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله عليه وسلم فرمايلی دی چې کله دوه کسه خليفه ګان شی او د دواړو سره بيعت شوی وی نو هغه چې وروسته خليفه شوی وی هغه قتل کړی که چيری هغه خپل بغاوت څخه لاس نه اخلی ] [448].

و حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ أَبِي يَعْفُورٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ فَاقْتُلُوهُ

[ هغه څوک ووژنی چې ستاسی يووالی د منځه يوسی او ستاسی په ډله کې بيلتون او افتراق راولی په داسی حال کې چې تاسی د يوه شخص تر قيادت لاندی متفق شوی نو داسی شخص و وژنی[449]].

---

[448] - صحيح مسلم الاماره باب اذا بويع الخليفتين

**449** - صحيح مسلم الا ماره باب من فرق بين المسلمين

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ فُرَاتٍ الْقَزَّازِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ قَالَ قَاعَدْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ خَمْسَ سِنِينَ فَسَمِعْتُهُ يُحَدِّثُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمْ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ تَكْثُرُ قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ وَأَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ

[ د ابی هریره رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې زما څخه وروسته به ډیر خلفاء [په یوه وخت] کې راشی صحابه رضی‌الله عنهم ورڅخه پوښتنه وکړی چې په داسی وخت کې ستا څه حکم دی ، هغه ورته وویل د هغه چا په بیعت وفا وکړی کلک شی چې لومړی خلیفه جوړ کړای شوی دی ][450] .

د دی احادیثو څخه دا ثابتیږی چې کله د امت اهل حل و عقد د داسی سړی سره بیعت وکړ چې د خلیفه کیدو له پاره په ضروری شرطونو متصف وی نو دا بیا د ټولو مسلمانانو خلیفه ګرځی .

امام نووی رحمه الله علیه فرمایی : واتفق العلماء علی انه لایجوز ان یعقد لخلیفتین فی عصر واحد سواء اتسعت دارالاسلام ام لا [ د اسلام علماو په دی خبره اتفاق کړی دی، چې په یوه وخت دوه کسه خلیفه ګان جوړول روا نه دی که د دارالاسلام پولی پراخه وی اوکه نه وی[451]].

ماوردی او بویعلی رحمه الله علیهما دواړه لیکې چې: لایجوز ان یکون للامه امامان فی وقت واحد وان شذ قوم فجوزوه [ امت ته په یوه وخت کې د دوه حکمرانانو ټاکل روا نه دی ځینی خلکو دا روا ګڼلی ده خو دا قول شاذ [ ډیرکم ] دی یعنی د اکثریت د رای خلاف دی

450 - صحیح بخاری‌الانبیاء ذکر بنی اسرائیل
- نووی په حواله د صحیح مسلم

قاضی ابوبکر الباقلانی چې403 په هجری قمری کال کې مړ شوی دی او مام ابن حزم چې456 په هجری قمری کال کې مړ شوی دی دوی دواړو هم په یوه وخت کې د مسلمانانو له پاره دوه حکمرانان ټاکل ناروا ګڼلی ~ ابن حزم رحمه الله علیه په الملل و النحل کې د دی د نه روا کیدو په هکله عقلی او نقلی دلایل په ډیره ښه توګه راغونډ او بیان کړی دی د سقیفه بنو ساعده په انتخاباتی غونډه کې د دوه امیرانو د ټاکلو بحث راغی ، خو هغه صحابو رضی‌الله عنهم په اجماع سره رد کړ او یواځی د یوه خلیفه ابوبکر رضی‌الله عنه سره یې بیعت وکړ، د امام الحرمین او شیخ عبدالقادر بغدادی رحمه الله علیهما تحقیق دادی چې په یوه ځای کې د دوه امیرانو ټاکل په اجماع سره ناروا ګڼل شوی دی خو په دوه لری ځایونوکې چې د هغوی په منځ کې دریابونه او یا غرونه حائل وی نو په دی صورت کې د دواړه علاقو خلک د خپلو ځانونو له پاره بیل بیل امیر ټاکې شی[452] .

شیخ عبدالقادر رحمه الله علیه چې کوم علت بیان کړیدی هغه نن موجوودیت نه لری~ د سائنس د پرمختګ په اساس نن د نړی د یوه کنج څخه تربل ګنجه پوری په څو دقیقو یا سانیوکې اطلاعات او لاربښونی رسیږی او مرسته هم که په دقیقو کې نه وی په ساعتونو کې ورسیدلی شی .

امام نووی د جواز قول ته فاسد ویلی دي :وهو قول فاسد مخالف لماعلیه السلف والخلف ولظواهر الا حادیث والله اعلم [ دا یو غلط او فاسد قول دی چې د پخوانیو او اوسنیو ټولو علماود وینا‌و څخه مخالف دی او د احادیثو د ظاهری حالت څخه هم مخالف دی [453].

متحده اسلامی خلافت

- اصول الدین 274مخ
- نووی د مسلم شرح په حاشیه د قسطلانی 8 ټوک 39 مخ

پـه اوسـنی وخـت کـې چـې د اسـلامی متحـده ریاسـت یـا اسـلامی خلافت کومه عملی لار نقشه زما په فکرکې راځی هغه داده چې :

ا] دټولـو اسـلامی هیوادونـو نړیـوال اسـلامی کـانفرانس پـه مکـې مکرمـی یـا مـدینی منـوری کـې جوړکړ شـی، د دی کـانفرانس بلـونکې بايد د اسلامی حکومتونو د مشرانو څخه کوم ممتاز او مقبـول شـخص وی . د دی مقصـد لـه پـاره دی د اوسـنی اسـلامی کـانفرانس اضـطراری غونډه هم راغوښتـل کیـدای شـی ، پـه کـانفرانس کـې هیـئت بـه د دیـن عـالمـان ، سیاسـی مشـران او انتظـامی پوهـان شـامل وی ، دا کـوښښ کول په کار دی چې په کانفرانس کې د ټولی اسلامی نړی هیئتونـه هـم ګډون وکړی ، خو که چیری اکثریت په کې ګډون وکړی نو دا بیا هم پـه شرعی توګه د نړی د مسلمانانو د نماینده په حیث ګڼل کیږی

2 ] دا کـانفرانس دی د ټولـو اسـلامی ملکونـو لـه پـاره یـو مرکـز جوړکړی او د "الخلافه الاسلامیه المتحد" په نوم دی ئی یاد کړی ، ښه خوداده چې د خلافت مرکز مدینه منوره وی خود انتظـامی امـورو او نورو مصالحو په نظر کې نیولو سره کوم ځای چې مناسب وی نـو هغـه د خلافت مرکز جوړیدلی شي

3 ] یوه نړیواله اسلامی شوری دی جوړه کړای شی چې پـه کـې د هر اسلامی هیواد لس کسه نمایندګان غړیتوب په دی مرکز شوری کې باید د هر اسلامی هیواد مشر یاد هغه نماینده ضرور ګډون وکړی ،د شوری په ټولو غړو کې هغه صفات چې تر مخه ذکر شو بایـد موجـود وی د مرکزی شوری د هر هیواد د شوری د اعضاو څخه انتخابولی شی او همدا د منطقوی شوری غړی یې باید انتخـاب کړی، مرکـزی شـوری باید د " مجلس الشوری للخلافه الاسلامیه المتحده" په نوم یاد شی .

4 ]. د مرکزی مجلس شوری بایـد د ازادی او پټـو رایـو پـه اسـاس د خلافت داسی شخص غوره کړی چې د خلافت پـه شـرایطو پـوره وی ، د مرکزی حکومت د مشر نوم باید خلیفه المسلمین یا امیرالمؤ منیـن وی

او د مرکز پوری د ټرلو اسلامی هیوادنو مشرانو ته باید په خپلو خپلو مملکتونو کې امیران وویل شی لکه د پاکستان امیر د ایران امیر او نور ...خو هیځ مشر باید د پادشاه - شاهنشاه په نوم یاد نه کړل شی ځکه چې دی نوم ته رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیر بد نوم ویلی دی .

5 ~ د مسلمانانو خلیفه د ضرورت مطابق خپل ځان ته مجلس جوړه وی چې هغه به دمرکزی مجلس شوری د دپریکړو پابند وی .

6 ~ مرکزی مجلس شوری به یو اساسی قانون جوړوی چې ټول اسلامی هیوادونه به دهغه پابند وی د دی اساسی قانون تفصیلات به دمرکزی شوری او یا د هغی له خوا د فقهاو، عابدینو او پوهو خلکو څخه جوړه شوی کمیسون ترتیبوی ، خو ځینی اصولی مادی په هغه کې ځای په ځای کول ضروری دی چې په لاندی ډول دی .

ا : حاکمیت او اقتدار اعلی یواځی یوه الله جل جلاله لره خاص دی او د خلکو مقام د عبدیت [ بندګی] دی .

ب : د قانون ماخذ قران او سنت دی د مرکز پوری ترلی هیڅ هیواد په خپل ځای کې داسی قانون نه شی جاری کولای چې د قران او سنتو د صریحو نصوصو او د هغه د اجماعی تعبیر په خلاف وی یعنی هیڅ هیواد داسی قانون نه شی جوړولای چې د راشدینو خلفاء صحابه کرامو رضی‌الله عنهم او د امت د اجماع په خلاف وی او د قران او سنتو د نصوصو هغه تعبیرونه وکړل شی ، چې د اسلامی امت د اجماعی تعبیر خلاف نه وی .

ج : په اجتهادی او اختلافی مسائلو کې دی هر هیواد د مجلس شوری قانون جوړوی خود دی قانون پابندی دمرکز پوری ټولو ترلو هیوادونو باندی ضروری نه ده. اجتهادی مسائلو کې یو مجتهد ته بل مجتهد اود یوه قاضی ته د بل قاضی تقلیدشرعاً ضروری نه دی ځکه د راشدینو خلفاو په وخت کې د قاضیانود پریکړو او د مفتیانو د فتوی ترمنځ ځینی وخت اختلافات پیداکیدل، خو دی اختلافاتو د

اسلامی امت دوحدت او دمتحده خلافت په لارکې خنډونه نه پیدا کول .

د : په هغه مسائلو کې چې د قران او سنتو نصوص موجود نه وی او بنسټ ئی په عرف اینبودل شوی وی، د هغی په هکله هر هیواد مجلس شوری د خپل ملت د عرف ، رواج او رسم سره سم قانون جوړوی ځکه چې د یوه هیواد عرف د بل هیواد د عرف سره کله کله ډیر توپیر لری.

ه : څرنګه چې اداری تشکیلات او حکومتی هیکل د مباحاتو او مرسله مصالحو له جملی څخه دی ، نو هر هیواد باید په دی هکله پوره داخلی آزادی ولری چې د خپلی محلی شوری د پریکړی مطابق د هیواد د ضرورت په رڼا کې مناسب او صحیح اداری چوکاټ اختیار کړی .

و : د متحد خلافت رسمی ژبه باید عربی وی او که د مرکز پوری تړلی ملکونه هم خپله رسمی ژبه عربی کړی نو دا به ډیره غوره او بهتره وی په دی کې کوم شرعی بندیز نه شته ، هر هیواد خپله خپله ژبه رسمی ژبه ګرځولائی شی خو هغه ژبه به چې د غیر مسلمانانو خاصه ژبه وی په خپل هیواد کې نه شی رسمی کولای .

ر : د غیر اسلامی هیوادونو سره په تجارتی او اقتصادی اړیکو ټینګولو کې هر هیواد ته ازادی ده خو هیڅ اسلامی هیواد د غیر اسلامی هیوادونو سره سیاسی او عسکری تړونونه د مرکزی شوری د پریکړو پرته نه شی کولای .

ح : متحد خلافت او په هغی پوری تړلی هیوادونو د هیڅ غیر اسلامی هیواد سره بطانی [ رازداری ] او ولیجی په توګه یو ځای کیدای نه شی یعنی هیڅ غیر اسلامی هیواد په خپلو رازونو او کارونو کې نه شی شریکولای. په بین المللی موضوعاتو او شخړوکې به د حق پیروی کیږی. او د باطلو مخالفت به کیږی ، د یوه بلاک دهری خبری مخالفت او د بل بلاک دهری خبری تائید به د متحدخلافت او

هغې پورې دټرلو هیوادونو پالیسې نه وی بلکه دوی به د"امت وسط" په توګه خپله ازاده خارجې پالیسې ولری .

ط : په متحد خلافت کې هر هیواد خپل ځانګری عسکری نظام او ځانګړی دفاعی نظام جوړولای شی، خو د دی په څنګ کې به یو مرکزی عسکری مجلس جوړیږی چې د هر هیواد یویو عسکری جنرال به په کې ګډون کوی چې د ضرورت په وخت کې به دګډ دفاع پلان جوړوی او د عسکری اړتیاو له پاره به وړاندیزونه ترتیبوی .

ق : د ساینس او تیکنالوژی د پوهانو یوه ګډه غونډه دی جوړه شی ترڅو د اسلامی هیوادونو د تیکنالوژی ، زراعت او صنعت د پرمختګ له پاره پروګرامونه او پلانونه جوړکړی او په دفاعی لحاظ ئې په خپلو پښو ودروی .

ی : یوه مرکزی محکمه به موجوده وی چې د خلافت هغه پوری تړلو هیوادونو ترمنځ د شخړو د را پیدا کیدو په صورت کې د خلافت د مرکزی اساسی قانون په رڼا کې د هغوی تر منځ فیصلې کوی د دی محکمې پریکړی به په مرکز پوری تړلو هیواد ونو د محکمو د پاسه وی او په دی محکمه کې به د هر هیواد څخه یو یو ممتاز عالم شامل وی .

ل : متحد خلافت باید یوه خپروندویه اداره ولری چې د اسلامی خلافت د ترجمان حیثیت به لری .

م : په متحد خلافت کې دګډون کونکو هیوادونو ترمنځ باید دویزی بندیز له منځه ولاړشی ترڅوخلک یو د بل هیواد ته په اسانی سره سفروکړی ، خو پا سپورت دی اوس موجودوی څکه د دی په وا سطه په معرفت کې اسانتیاوی راپیدا کیږی .

نیو لیك

.......................

پینحگم اصل

وزارت

ابن منظورافریقی رحمه الله علیه د وزیر دکلیمی په هکله دری قوله رانقل کړی دی :

د علامه جوهری رحمه الله علیه وینا دا ده چې دا د وزر څخه اخستی شوی کلیمه ده او معنا ئی پناهګاه او یا هغه غردی چې هلته د

ويری په وخت کې پناه اخستل کيږی و زير هم د حکومت د يومشرله پاره د پناه ګاه حيثيت لری، چې د ده په لور د هيواد په امورو کې رجوع کوی - دوهم دا چې د وزير کليمه د وزر څخه اخستل شوی ده او د بار په معنا راځی ځکه وزير هم د هيواد د مشر بار په اوږ واخلی - خو صحيح خبره هغه ده چې ابن سيد او نورو محقيقنوکړی ده، چې دا کليمه د ازرڅخه اخستل شوی ده او معنا ئی تقويت او اعانت دی ، ځکه چې وزير هم د هيواد د مشر ممد اومعاون وی ، کله کله په عربی ژبه کې همزه په واو بدليږی د وزيرتعريف داسی‌کيږی : حباء الملک الذی يحمل ثقله و يعينه برايه [ وزير د حکمران خاص ملګری وی چې د هغه بار په اوږ واخلی او د خپل نظر په اساس د هغه سره کومک کوی[454] .

وزير د قرآن او سنتو له نظره

ځينی خلک وائی چې عربو د وزيرکليمه د ايران د ساسانی پادشاهانو څخه اخستی ده. خودا خبره غلط ده ځکه د اسلام نه ترمخه په عربی ژبه کې دا کليمه مروجه وه د خالد بن زهير د يو شعردوهم بند دا دی : و انت نفسه وزيرها ~ په قرانکريم کې د وزير کليمه په دوه ځايو کې راغلی ده :

وَاجْعَلْ لِي وَزِيرًا مِنْ أَهْلِي هَارُونَ أَخِي اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي
[د طه سورت 29 آيت ]

[ موسی عليه السلام و ويلی ای زما خدايه : زما د کورنی څخه ما ته يو وزير راکړی زما د ورور هارون عليه السلام په واسطه زما ملا ټينګه کړه او هغه زما په کارونو کې له ما سره شريک کړه] .

د دی آيت څخه معلوميږی ، چې وزير بايد د حکمران د هم فکره او هم مسلکه خلکو څخه وی ، دوهمه خبره د دی ايت څخه دا معلومه شوه چې وزير د حاکم د رياست د نظم و نسق د چلولو مسئول اود هغه

---

لسان العرب 5 ټوک 283 مخ ماده وزرا

په کارکې شريک وی ، يوازې نوکر نه وی الله تعالى جل جلاله د حضرت موسى عليه السلام د عا قبوله کړه او ورته ئی و ويل :

وَجَعَلْنَا مَعَهُ أَخَاهُ هَارُونَ وَزِيرًا [د القرقان سورت 53 آيت]

[او مونږ ګرځولی وه د هغه سره د هغه ورور هارون عليه السلام وزير ]

.

د محمد صلی الله عليه وسلم وزيران

د عبدالله بن مسعود رضی‌الله تعالى عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی : ثم نظر فی قلوب العباد بعد فاختار له اصحاباً فجعلهم انصار دينه و وزراء نبيه [ بيا نو الله جل جلاله د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم څخه وروسته د خپلو بندګانو زړونو ته وکتل نو د هغه له پاره ئی داسی ملګری منتخب کړه چې د دين کومک کوونکې وه او د هغی د نبی صلی الله عليه وسلم وزيران وه ] [455].

د مسند احمد رحمه الله عليه ، بزار او معجم کبير د طبرانی په يو روايت را غلی دی چې : ان اصحاب النبی وزراء ه " يعنی د حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه رضی الله عنهم د هغه وزيران وه د ابوسعيد خدری رضی الله عنه څخه روايت شوی دی چې : فاماً وزير ای من اهل الارض فابوبکر و عمر [ د ځمکې د اوسيدونکو څخه زما وزيران ابوبکر او عمر دی ] [456].

ابن ابی الحديد نهج البلاغه په شرح کې ليکلی دی چې " ان علياً وزير النبی صلی الله عليه وسلم [ حضرت علی رضی الله عنه هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم وزير دی ] .

---

**455** - شرح السنه د بغوی لومړی ټوک 214 مخ مسند احمد - مجمع الزوايد لومړی ټوک 177 مخ

**456** - مشکوه المصابيح 56 مخ مناق عمر فاروق رضی الله عنه

د طبرى په تاريخ کې د بنوتميم د هيئت په سلسله کې د زيد بن ثابت رضى الله عنه دا وينا رانقل شوى ده : نحن انصار الله و وزراء رسوله : مونږ د الله جل جلاله د دين کومک کونکې او د هغه د رسول و زيران يو ] .

د طبرى په تاريخ کې دى چې : وکان عثمان يدعى فى اماره عمر رديفا [د حضرت عمر رضى الله عنه په خلافت کې حضرت عثمان رضیالله عنه درديف يعنى د وزير په نامه يا ديده] .

ابن ابى الحديد د نهج البلاغه په شرحه کې ليکلى دى چې حضرت عثمان بن عفان د عبدالله بن سعيد بن ابى سرح ، معاويه ، سعيد بن عاص عمرو بن عاص ، عبدالله بن عامر رضى الله عنهم ته په يوه خط کې وليکل چې: لکل امير وزراء و نصحاء و انکم و زراء ى و نصحائى واهل ثقتى [ هر امير وزيران او خيرخواهان مشوره ورکونکې لرى او تاسو زما وزيران ، خير غوښتونکې مشاورين او باورى ملګرى ياست ] .

د سقيفه بنو ساعده په غونډه کې ابوبکر رضى الله عنه انصارو ته په وينا کې وويل : نحن الامراء و انتم الوزراء [ مونږ قريش اميران يو او تاسى انصار زمونږ وزيران ياست ] .

حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَامِرٍ الْمُرِّيُّ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِالْأَمِيرِ خَيْرًا جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ صِدْقٍ إِنْ نَسِيَ ذَكَّرَهُ وَإِنْ ذَكَرَ أَعَانَهُ وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهِ غَيْرَ ذَلِكَ جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ سُوءٍ إِنْ نَسِيَ لَمْ يُذَكِّرْهُ وَإِنْ ذَكَرَ لَمْ يُعِنْهُ

[ کله چې الله تعالى د کوم امير په هکله د خير اراده وکړى نو هغه ته پاک او مخلص وزير ورکوى ، که چيرى امير د خپلو فرائضو د اداء کولو څخه غفلت کوى نو دا وزيرى ئى ورته ور په ياد وى او کله چې

هغه خپل فرض نوبيا دهغه سره كومک كوی خو كه چيری الله جل جلاله د هغه امير په هكله بده اراده وكړی نو هغه ته بد وزير وركوی چې نه هغه ته د خپل فرض د اداء كولو ياد اوری كوی او د فرضو په اداء كولو كې د هغه سره مرسته او تعاون كوی ] [457].

د دی رواياتو څخه دا په ډاگه كيږی چې په نبوی دوری او د راشدينو خلفاو په د وری كې دوزيرانو غونډه په ساده توگه موجوده وه چې دبنو اميه په زمانه كې ئی پرمختگ وكړ او دعباسيانو په زمانه كې ورته اصول او قوانين جوړ شو، د وزير كليمه په رسمی اصطلاحاتوكې نن سبا ډيره استعماليږی او په اوسنی وخت كې دوزارتونو پوری تړلی خبری د هيواد د اساسی قانون يوه برخه ده.

د حكومت په جوړښت كې د وزيرانو اهميت

مملكت د نظم په جوړولو كې وزيران لكه د انسانی جسم د اعضاو په څير اهميت لری لكه څنگه چې انسانی جسم د غړو پرته كار نه شی كولای ~ په همدی ډول د حكومت مشر هم د وزيرانو او انصارو د كومک پرته د حكومت نظم و نسق پر مخ نه شی بوتلای .

عبدالله بن المقفع چې په 143هجری قمری يا 142هجری قمری كې په قتل ورسيد كه څه هم په د ينی فكر كې تر يوی اندازی پوری مشكوک وه خو د سياست او وزارت په موضوعاتو ئی د پوهی او حكمت نه ډكې جملی ليكلی دی - نوموړی د وزارت د اهميت په هكله ليكي چې : لا يستطاع السلطان الا بالوزراء و الاعوان ولا ننقع الوزراء الا بالموده و النصيحه [ د وزراء او اعوانو پرته د حكومت نظم و نسق پرمخ نه شی تلای او و زيران د مننی او خير غوښتنی پرته حكمران ته هيڅ گټه نه شی رسولای[458]].

---

- سنن ابوداود الاماره باب في اتخاذ الوزير – سنن نسائی البيعه باب وزيرا الامام - جامع الاصول الخلافه 4 ټوک 73 مخ - مشكوه الاماره و القضاء الباب الاول 23 مخ

**458** - رسائل البغاء الادب الصغير 23 مخ د نظام الحكم په حواله 224 مخ

په بل ځای کې ليکي چې د حکمران سره يو ځای ناسته د غونډی ښاسيت او د رعيت ژبه وی .

ابن الربيع چې په 272 هجری قمری کال د سلوک المالک فی تدبير المالک تر عنوان لاندی يو کتاب ليکلی دی په دی کتاب کې هغه د وزارت د موضوع په هکله ليکلی چې : که چيری ځوک د وزارت څخه بی پرواه وی نو محمد صلی الله عليه وسلم او موسی عليه السلام به تری بی نيازه او بی پرواه وی - وزير د خليفه په کارکې شريک وی د حکومت د نظم تدبيرونه جوړوی او هغه په خپل وينا او عمل کې لوی مدبر وی ] [459].

علامه ماوردی او قاضی ابويعلی رحمه الله عليهم دواړو په يو ډول الفاظو کې ليکلی دی چې کله چې د نبوی فريضی په اداء کولو کې وزير نيول روا دی ، نو په امامت او خلافت کې خو بالکل روا دی ، خلفيه د امت چاری په ځانګړی توګه د نائب پرته سرته نه شی رسولای ، د ځان ته د کار کولو په نسبت د کار شريک يو کس د وزير په توګه جوړول ډير ګټه ور دی چې د دی په کومک سره به احکامو نفاذ په ښه توګه صورت نيسی د خليفه بڼو به سپک وی ، وزارت د غلطيو څخه د لری والی له پاره ډيره ښه ذريعه ده [460].

مشهور مورخ محمد بن علی ابن طباطبی رحمه الله عليه چې په 709 هجری قمری کې وفات شوی او د ابن الطقطقی په نوم ئی شهرت مندلی وه وزير ته د اړتيا په هکله فرمايی : وزير د حکمران او رعيت ترمنځ واسطه وی نو دی ته اړتيا ده چې د هغه يو اړخ داسی وی چې د حکمرانانو سره مناسب

**459** - سلوک المالک 123 مخ په حواله د نظام الحکم 423 مخ

**460** - الا حکام السلطانيه د ماوردی 22 مخ - الاحکام السلطانيه د القاضی ابويعلی 29 مخ

ولری او بله اړخ د رعیت سره، ترڅو هغه په مقبولیت ، امانت او محبت کې د دواړو اړخو سره په ښه طریقه کار وکړی [461].

علامه ابن خلدون رحمه الله علیه چې په 808 هجری قمری کال کې مړشوی دی لیکلی چې : الوازره هی ام الخطط السلطانیه و الرتب الملوکیه [ وزارت د حکومت په ټولو څانګو او منصبونو کښی مرکزی مقام لری ] [462].

د تفویض وزارت او د تنفیذ وزارت

ماوردی او ابویعلی رحمه الله علیهما وزارت په دوه برخو ویشلي دی او دواړه ئی روا ګڼلی : وزارت تفویض او وزارت تنفیذ

فاما وزاره التفویض فهو ان یستو زر الامام من یفوض الیه تدبیر الامور برائه او امضاها علی اجتهاده [ د تفویض د وزارت [صدر اعظمی ] څخه مقصد دا دی چې امام دی هغه سړی خپل وزیر وټاکي ، چې هغه ته د ټولو چارو او د نظم او نسق پوره واک ورکړل شوی وی. نوموړی د خپل رای او اجتهاد په اساس څه مناسب تدابیر نیولای شی او هغه تدابیر نافذ کولای هم شی ].

د تفویض د وزیر په واک کې، د احکامو جاری کول ، د ښکته مامورینو ټاکل ، محکمی جوړول ، عسکری تنظیم راوستل او د هغوی مسخ کول ، او د هغوی مشری په غاړه اخستل، یود هغوی د ډلی څخه د قوماندان په صفت ټاکل ،د انتظامی امورو په هکله پریکړی کول شامل دی خو په دی ټولو کارونوکې خلیفه د وروستی پریکړی واک لری ، هغه د تفویض وزیر عزل کولای شی او جاری کړل شوی احکام ئی منسوخ کو لای شی د تفویض وزیر د خپلو پریکړو او د مامورینو د ټاکلو څخه خلیفه با خبره ساتی،او په هر کار کې په د هغی څخه منظوری اخلی ~ ترڅو چې

461 - الفخری فی الاداب السلطانیه و الدول الاسلامیه اردو ترجمه د مولانا محمد جعفر شاه 182 مخ 1962 عیسوی کال چاپ لاهور پاکستان چاپ

462 - مقدمه ابن خلدون فصل فی مراتب الملک و السلطان و القابها 186مخ

دی په عملی تو ګه مطلق العنان و نه ګرځی، خلیفه به د خپل وزیر د تدبیرونو او پریکړو پوره نګرانی کوی او د هغه صحیحی او قانونی پریکړی به د اجراء وړ بولی غیر قانونی پریکړی به یې منسوخ کوی[463] .

جلال الدین سیوطی رحمه الله علیه چې په 911 هجری قمری کال وفات شوی دی د تفویض د وزیر د اختیاراتو په هکله داسی تشریحات ورکړی دی :" په حقیقت کې وزیر د خلیفه هغه نائب وی چې د هیواد ټولی چاری ورته سپارل شوی وی ، د قاضیانو او والیانو مقررول د عسکرو منظمول، تنخواه ګانو او وظیفو ورکول، تنخوا ګانو کې کموالی او ډیر والی، رتبه لوړول یا رتبه ټیټول ، پریکړی کول یا د پریکړی منسوخول، د چا سره اریکې ټینګول یا غوڅول او په خزانه کې واک کول او دهغی خرځول د وزیر له مسئولیتتو او اختیاراتو څخه دی " [464].

نن ورځ وزیر تفویض ته صدر اعظم وائی او د تفویض د وزارت ذکرشوی جوړ ښت ته پارلمان جوړښت وائی په پارلمان نظام کې صدر اعظم د ریاست د مشر لخوا ټاکل کیږی خو هغه باید د پارلمان او شوری مجلس له خوا نه د اعتماد رای واخلی چې د اکثریت د اعتماد د لاس ته راوړلو پرته هغه د خلیفه یا د حکومت د مشر لخوا عزل کیدای شی ، صدر اعظم په عملی تو ګه د انتظامی امورو مشری په غاړه لری چې د خپل ځان له پاره د ضرورت په اندازه کابینه جوړو لای شی ترڅو د هغوی په کومک د ملت چاری پر مخ بوزی - دی ډول نظام ته ماوردی ، ابویعلی او ابن خلدون رحمه الله علیهم د تفویض د وزارت نوم ورکړی دی.

صدر اعظم تګاکل:

[463]- الا حکام السلطانیه د ماوردی 22 مخ - الاحکام السلطانیه د القاضی ابویعلی 29 مخ

**464** - حسن المحاضره د سیوطی رحمه الله علیه 2 ټوک 121 ~123 مخونه

د عباسی دوری په ملوکیت کې به صدر اعظم د پادشاه لخوا ټاکل کیده د ابوالعباس سفاح او منصور په حکومتونو کې صدر اعظم خپل واکې او د ډیر قوت خاوند نه وه .

ابن طباطبائی لیکلی دی چې خپله د منصور دبدبه دومره ډیره وه چې د هغه په مقابل کې د وزیرانو د بدبه ډیره کمه پاتی شوی وه ځکه په خپله وزیران به د هغه څخه هر وخت په لړزان او ویره کې وه [465].

د وزارت ظالمانه تګ لاره د هارون الرشید په حکومت کې شروع شوه - ابو عبدالله محمد بن عیدوس الجهشیاری رحمه الله علیه چې په 311 هجری قمری کال وفات شوی دی په خپل کتاب الوزراء و الکتاب کې لیکې چې : کله چې هارون الرشید د حکومت مسئولیت په غاړه واخست نو یحی بن خالد بن برمک ئی دربار ته راوغوښت [ چې پلار به ئی ورته وایه] ورته ئی وویل ای پلارجانه : تا د خپل نیک تدبیر په اساس زه دی منصب ته راورسولم ~ له دی امله ما د خپل رعیت ټولی چاری تا ته در وسپارلی ~ قلد تک امرالرعیه ... [ زه به ستا په هیڅ معامله غور او فکر هم و نه کړم ] او په دی ډول ټول دفترونه د ابن خالد په لاس کې ورواچول شوه .

ابن خلدون لیکلی چې : د عباسیانو د ظالم حکومت مرکز کې به کله صدر اعظم بدل شواو کله به پادشاه، د ځواک له پاره هلی ځلی کیدی او د واک او اختیاراتو مرکز به بدلیده را بدلبده [466].

په اسلامی حکومت کې خلیفه د ورځنی عامو کارونو د پریکړو څخه پرته به په ټولو مهمو چارو کې د شوری د پریکړی پابند وی . څرنګه چې د وزیرانو او نورو مهمو منصونو له پاره د اهل کسانو ټاکل د مهمو امورو څخه دی. نو په دی خاطر د "امرهم شوری بینهم " د شرعی قاعدی لاندی خلیفه مکلف دی چې د صدر اعظم او د وزیرانو د تقرر او کابینی د

---

465- الفخری اردو ترجمه 208مخ

466 - مقد مه د ابن خلدون 188 مخ

انحلال منظوری د شوری دغوندی څخه د اخستلو پابند دی او وزارت د پریښول له پاره هم د شوری د غونډی پریکړه اساسی شرط باید وی. څرنگه چې صدر اعظم په عملی تو گه حکمران دی . نو باید د اسلامی ټولنی له خوا منتخب او د هغی اعتمادئی تر لاسه کړی وی غیر معتمد وگری ته د حکومت ورکول شرعاً روانه دی. لکه څنگه چې د " الشوری " په څیړنه کې د هغه د دلا ئلو یادونه شوی ده .

د صدر اعظم صفات:

ویعتیر فی تقلید هذه الوزارء شروط الامامه [ د صدر اعظمی ( وزارت تفویض ) د منصب له پاره د اهمیت همغه شرائط دی چې د امامت او خلافا له پارهدی[467]].

یعنی ایمان ، علم،تقوی په معامله پو هیدل ، جسمی قوت ، د دی شرائطو موجودیت په صدر اعظم کې ، همداسی ضروری دی لکه څنگه چې د خلیفه له پاره ضروری وه ځکه چې صدر اعظم په عملی ډول د مملکت چاری په غاړه لری .

علامه ماوردی رحمه الله علیه د صدر اعظم دا صفتونو په هکله داسی تشریحات ورکوی : وزیر تفویض [ صدارعظم ] په اخلاقی توگه پاک او سپیڅلی وی د تدبیر له پلوه ئی کار پوخ وی. تجربی او روزنی هغه مهذب کړی وی ، د حکومت د اسرارو امین وی ، د مسائلو د حل له پاره ملا تړلی دلاړ وی ،د پراخی حوصلی او علم وذهانت خاوندوی ، د یو حکمران په څیر رعب ولری ، او د پو هانو په څیر سنجیده وی ٔ د علماو په څیر تواضع د فقهاو په څیر پوهه ولری ، نیکې پیژندونکې او صابر وی ، سمدستی گټی ته په را تلونکې تاوان ترجیح نه ورکوی ، او د خپل خواړه بیان او وینا په اساس د خلکو زړونه لاس ته راوړی شی [468] ].

---

467 - الا حکام السلطانیه د ماوردی 22مخ - الاحکام السلطانیه د القاضی ابویعلی 30 مخ

468 - الا حکام السلطانیه د ماوردی 22 مخ

ابن طباطبائی رحمه الله علیه لیکې چې : دیانت لرل، رینښتونی ، پوخ کاره ، پوهه ، ویښ فکره او سیاسی پوهه د صدراعظمی لازمی عناصر دی د صدر اعظم له پاره ، نرمی ، وقار ، متانت ، حریت ، حلم، پراخه حوصله ، میړنی ، زړورتوب ... دا ټول صفتونه ضروری دی [469] .

علامه ماوردی رحمه الله علیه د آداب الوزیر په نوم یو کتاب لیکلی دی د دی کتاب په شروع کې هغه یوه اوږده سریزه لیکلی ده ، د هغی سریزی لنډیز په دی توګه دی : ای وزیره !: ته حاکم هم ئی او محکوم هم ئی " سائس و مسوس " د رعیت سیاست ستا په لاس کې دی خو په خپله ستا سیاست دهیواد د مشر په لاس کې دی ، د دی له پاره دی ته اړیتا ده چې ستاسی د فکر یوه خوا د هغه رعیت د بهبود په لور وی چې ته پری حکمرانی کوی او بله خوا د هغه حکمران په لور وی چې د هغه پیرو ی په تا فرض دی ، د هیواد نظم او نسق ستا په لاس کې دی او د هر قسم خرابی مسئولیت ستا په غاړه دی ددی له امله ته د وینا د ژبی په ځای د عمل د ژبی څه کار واخله .

ای وزیره ! ته ته د دی هیواد نظم او نسق درسپارل شوی چې بیناد یی داسلام سپڅلی دین دی ، ددغه سپڅلی دین قائد وګرځوه او حق خپل لار ښود وګرځوه نو هر قوی شخص به ستا تر مخ کمزوری شی ، او هر سخت کار به درته اسانه شی، د اسلام د دین انصار او کومکونکې موجود دی ... د دی انصارو زړونه لاس ته راوړل ستا له پاره یو توخه ده ، د ځینی پوهانو څخه پو ښتل شوی . چې د دفاع له پاره کوم ډول لښکر په کار دی ، هغوی ځواب ورکړ چې دین ، بل پوښتنه ئی ورڅخه ورکړه چې د ټولو څخه ډیر قوی فوج کوم یو دی پوهانو ځواب ورکړ عدل او انصاف .

حکمرانی په حقیقت کې دین ته ورکول شوی نو دا دین خپل کومکونکې و ګرځوه ، نو د خلکو زړونه به ستا په مقابل کې نرمی اختیار کړی ، د مملکت استحکام د دین جاری کولو پوری ترلی دی. د

---

[469]- الفخری 182 مخ

عدل مثال د يوى شنى ميوه لرونكې ونى په څير دى خو ظلم هغه و نه ده چې د هغى بيخ او جرړى پرى كړل شوى دى ] [470].

د تنفيذ وزارت :

د تنفيذ وزير د خليفه او رعيت په منځ كې يواځى د يوى واسطى حيثيت لرى ، هغه د حاكم فرمانونه تعميلو لاندى مامورينو ته د هغه احكام رسوى د عسكرو له پاره د سامانونو د برابرى كوښښ كوى ، او حل غوښتنونكې مسئلى د حكمران څخه د احكامو د اخستلو وروسته نافذ وى .

كه څه هم په شخصى ډول د تنفيذ وزير ته د حكومت د نظم ونسق ټول واک نه وى ركول شوى بلكه د هغه كار د حاصل شو و احكامو اجراء كول او په هغى عمل كول دى .

نن سبا داسى وزير ته منشى [سكرتر] وائى ، د تنفيذ د وزارت نظام ته صدارتى نظام هم كيږى ، چې په هغى كې ټول انتظامى واک د رياست د صدر [ رئيس جمهور] په لاس كې وى او د هغه د وزيرانو غونډى ته صدارتى كابينه ويل كيږى .

ماوردى او ابويعلى رحمه الله عليهما د تفويض وزير او تنفيذ وزير د اختياراتو او صلاحيتونو توبير داسى بيان كوى : د تفويض وزير ته پوره اختيارات لرى او تنفيذ وزيرپوره اختيارات نه لرى ، د تفويض وزير د والايانو ټاكل او عزل كولاى شى او تنفيذ وزير ې نه شى كولاى، د تفويض وزير پوځ ته هر ډول هدايت كولاى شى او د تنفيذ وزير پوځ ته هر ډول هدايت نه شى كولاى ، د تفويض وزير د مالى چارو كې هر ډول اختيار لرى او د تنفيذ وزير په مالى چارو كې هيڅ ډول اختيار نه لرى ، د تفويض وزيران دوه په يو وخت نه شى ټاكل كيداى او تنفيذ وزير دوه بلكه بى شميره ټاكل كيداى [471].

---

ادب الوزير 3 مخ په حواله د نظام الحكم 432 مخ

- الا حكام السلطانيه د ماوردى 27 مخ - الاحكام السلطانيه د قاضى ابويعلى 32 مخ

علت دا دی چې د تفویض وزیر په عملی توګه حکمران وی او په یوه مملکت کې په یوه وخت کې دوه حکمرانان نه ځایږی .

د تنفیذ د وزیر صفتونه

څرنګه چې د تنفیذ وزیر خپل واکې حکمران نه وی ، نو په دی خاطر د هغه د اهمیت شرائط د صدراعظم د دی شرائطو څخه لږ څه نرم دی . خود ځینی صفتو نو موجودیت په ده کې هم د ضروری شرطونو له دلی څخه دی او هغه دا چې [امانت لرونکې او رښتیا ویونکې به وی] تر څو اعتماد پری وشی ، لالچې او حریص به نه وی تر څو د رشوت اخستو په مقابل کې احکام ردو بدل نه کړی ، ښه یاد داشت او قوی ذهن ولری ، ذهن او د خلکو پیژندونکې وی ،د دی نه پرته ښځه نه د تفویض وزیره کیدی شی او نه د تنفیذ وزیره دا په دی خاطر چې د ریاست د نظم و نسق چلول د سړو کار دی .

ولائتیی وزارتونه

که خلیفه ولایتی امیران مقرر کړی وی نو د هر ولایت والی یا امیر د تفویض وزیر ( لومړی وزیر ) او د تنفیذ وزیران مقررولی شی او د د دی دواړو وزیرانو احکام همغه احکام دی چې خلیفه د مرکزی وزیرانو له پاره ټاکلی وی د مرکزی [وفاقی ] حکومت طریقه همداسی ده .

شپږم اصل

د قضاء نظام

د اسلامی ریاست شپږم اصل قضاء بالعدل او القیام بالقسط یعنیعدل د انصاف قیام او قانونی برابر والی دی ، په قرانکریم کې د دی اصل یادونه د عدل د کلیمی سره په 17 ځایونوکې او د قسط ( انصاف )

ذکرد قرآن کریم په 23 ایتونو کې راغلی ، د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په حدیثونو ، د صحابه رضی الله عنهم او تابعینو رحمه الله علیهم په ویناووکې د عدل او عادل صفت او د ظلم او ظالم بدی په سلګونو واری یاده شوی ده ~ څرنګه چه د خلافت په بحث کې د دی مضمون احادیث رانقل شوی نو په دی اساس دلته د قرانکریم د ایتونو نقشه وړاندی کوو :

هغه ایتونه چی د عدل کولو حکم په کې راغلی :

د البقره سورت 282 آیت - د النساء سورت 3 آیت - د النساء سورت 58 آیت - د النساء سورت 135 آیت - د المائده سورت 8 آیت - د المائده سورت 95 آیت - د المائده سورت 106 آیت - د الانعام سورت 152 آیت - د الاعراف سورت 159 آیت - د الاعراف سورت 181 آیت - د النحل سورت 76 آیت - د النحل سورت 90 آیت - د الشوری سورت 15 آیت - د الحجرات سورت 9 آیت - د الطلاق سورت 2 آیت

هغه ایتونو چې په کې قسط د انصاف په معنی راغلی دی :

د البقره سورت 282 آیت - د ال عمران سورت 18 آیت - د ال عمران سورت 21 آیت د النساء سورت 127 آیت - د النساء سورت 135 آیت - د النساء سورت 3 آیت - د المائده سورت 8 آیت - د المائده سورت 42 آیت - د الانعام سورت 152 آیت - د الاعراف سورت 29 آیت - د یونس سورت 4 آیت- د یونس سورت 47 آیت - د یونس سورت 54 آیت - د هود سورت 85 آیت - د انبیاء سورت 47 آیت – د الاحزاب سورت 5 آیت - د الحجرات سورت 9 آیت - د الرحمن سورت 9 آیت - د الحدید سورت 25 آیت - د الممتحنه سورت 8 آیت

ددی نه پرته د ظلم بدی په قرانکریم کې په 287 ځایونو کې بیان شوی دی څو آیتونه د نمونی په توګه وړاندی کوو:

وامرت لاعدل بينكم (او ماته حکم شوی دی چې ستاسی ترمنځ انصاف وکړم [472]) ، و اذا حکمتم بين الناس ان تحکموا بالعدل ( اوکله چی د خلکو ترمنځ پریکړه کوی نو په عدل سره ئی وکړی[473]) و لا يجرمنكم شنان قوم على ان لا تعدلوا اعدلوا هو اقرب للتقوى ( او د کوم قوم سره د دښمنی په اساس هیڅکله د عدل څخه لاس وانخلی عدل وکړی ځکه همدا عدل تقوی ته ډیر نژدی دی[474]) ، و ان حکمت فاحکم بينهم بالقسط ( اوکه چیری ته پریکړه وکړی نو پریکړه وکړه د دوی ترمنځ په انصاف سره[475]) ، قل امر ربی بالقسط ( او ووایه چی زما الله جل جلاله ما ته د انصاف کولو حکم راکړی دی [476]) ، يا ايهاالذين امنواکونوا قوامين بالقسط ( ای د ایمان خاوندانو د تل له پاره په عدل و انصاف ولاړ اوسی[477]) .

شیخ الاسلام ابن یتمیه رحمه الله علیه فرمایلی دی چی د شرعی سیاست مانۍ په دوه ستنو ولاړه ده : لومړی دا چی منصبونه او مسئولیتونه د هغه اهل خلکو ته سپارل او دویم د عدل او انصاف په اساس د خلکو ترمنځ پریکړی کول [478].

حافظ ابن قيم رحمه الله علیه فرمائی چی: ان مقصوده اقامه العدل بین عباده وقیام الناس بالقسط ( د الله جل جلا له د دین مقصد دا دي چی د هغه د بندګانو ترمنځ انصاف قایم کړل شی او خلک د انصاف په کولوکې کلک ولاړ وی ) .

---

**472** - د الشوری سورت 15 آیت

**473** - د النساء سورت 58 آیت

**474** - د الاعراف سورت 29 آیت

**475** - د الاعراف سورت 29 آیت

**476** - د النساء سورت 135 آیت

477 - الطرق الحکمیه 17 مخ - اعلام الموقعین 3 ټوک 5 مخ

**478**- السیاسته الشرعیه 7مخ

……………………

د عدل او قسط معنا:

لغت پوهانو د عدل معنا( القضاء بالحق) کړی ده ، یعنی د حق په اساس پریکړې کول او قسط ئی په (النصیب) یعنی برخه او حق معنا کړیدی ، نو ددواړو مقصد دا دی چی : حق لرونکې ته د هغه حق راخستل او ورکول .

د عدل غوښتنه ، برابر والی او مساوات نه دی بلکه د هغه غوښتنه ده چی یوه شخص سره د لړوالی او کموالی پرته داسی کړنه کول چی هغه ئی مستحق وی ، د عدل او انصاف تله داسی برابرول پکار دی چه د ډیرنه ډیر محبت او سختی نه سخته د ښمنی د هغه د تلی پله بل لور ته درنه نه کړی ، اود ظلم معنی ده [وضع شی فی غیر محله ] یوشی د خپل اصل ځای ځخه پرته په بل ځای کې ایښوول.

یعنی د حق لرونکې حق خوړل ، د یو چا حق ځنډول ، او بیا په چا زور او فشار اچول ، دا ټول د ظلم شاخونه دی. او د یوه حق بل ته ورکول دا هم ظلم دی . او د حق په ورکړی کې ځنډ کول دا هم ظلم دی .

د قضاء مفهوم :

د قضا کلیمه ، د قضی یقضی ځخه د مصدر صیغه ده ، دا کلیمه په اصل کې قضای وه ، د عربی ژبی د یوی قاعدی په اساس (یا) ئی په همزه بدله کړه . د لغت په کتابونوکې د دی کلیمی ډیری معنی ګانی ذکر شوی ، خو د دوه ډلو ترمنځ د کومی شخړی هوارول د دی عمومی مفهوم دی ، (قضی بین الخصمین وعلیهما ای حکم بینهما و علیهما) هغه د دوه ډلو ترمنځ پریکړه وکړه او په هغوی ئی خپله پریکړه عملی کړه ،د همدی اساسی مفهوم په بنسټ فقهاو دقضاء قانونی او اصطلاحی تعریف په ډیرو ډولو کړی دی خو د ټولو مفهوم یو دی القضاء هو الحکم بین الناس بالحق و الحکم بما انزل الله عزوجل (د قضاء معنا د خلکو ترمنځ د حق په

اساس پریکړه کول او د هغې قانون په اساس پریکړه کول چې الله جل جلاله را لیږلی دی [479]).

فصل الخصومات و قطع المنازعات ( په نښتو او شخړوکې پریکړه کول[480]) .

الاخبار عن حکم شرعي علی سبیل الالزام ( د شرعي پریکړې او رول په دې توګه چې د هغه نافذول لازم شي[481] ) .

د قضاء او فتوی ترمنځ یو توپیر دا دی چې د قاضي سره د خپلې پریکړې د نافذولو واک او قوت موجود وي ، خو مفتي یوازې د شرعي حکم بیانوونکې دی ، د هغه سره د نافذولو قوت نه شته )

دوهم توپیر ئې دا دی چې د قاضي پریکړې د همغه دائر کړل شوې معاملې په هکله وي، د هر چا له پاره نه وي ، قاضي د بحث لا ندې قضیې نوع او قسم معلوموي ، د دواړو ډلو خبرې او دګواهانو ګواهي اوري او هغه وروسته د شرعي حکم مطابق پریکړه کوي ، هغه یوائې مسئله نه ښيي ، نو په دې خاطر د هغه د دې پریکړې انفاذ په نورو قضیو نه کیږي خودمفتي فتوی عامه وي ، یوائې د مستفتي ( فتوی غوښتونکې ) پورې نه وي تړلې.

د قاضیانو تګاګل فرض دی

الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حکم کړی دی چې د خلکو تر منځ د الله جل جلاله د نازل کړي قانون مطابق پریکړه وکړه[482])

- داود علیه السلام ته ئې حکم ورکړی وه چې د خلکو تر منځ د حق

---

**479**- بدائع الصنائع دکاشانی حنفی 2 ټوک 7 مخ 1974 عیسوی کال د بیروت چاپ

**480** - البحر الرائق نقل له محیط شخه 6 ټوک 277 مخ بیروت چاپ

**481** - معین الحکام د شیخ علاوالدین طرابلسی لیکنه 6 مخ

**482** د المائده سورت 48 آیت

مطابق پريکړه وکړه[483] ) - اسلامی ټولنی ته ئی حکم کړی دی چی انصاف قائم کړی او په هغه کلک اوسی[484]) .

دا ايتونه او د عدل او قسط پوری تړلی مخکې ياد شوی څلويښت آيتونه د دی خبری دليل دی چی د عدل قيام فرض دی څرګنده ده چی د عدل قيام او د حکم بالحق فريضه د قاضيانو د ټاکلو پرته ممکنه نه وه، نو په دی خاطر د دی فرض د پوره کولو له پاره نظام القضاء يعنی د عدليی منځ ته راوړل او د قاضيانو ټاکل هم فرض دی .

علامه کاشانی حنفی رحمه الله عليه چی په 587 هجری قمری کال کې مړ شوی دی د پورتنی آيتونو په اساس استدلال کوی او فرمايی چی : فنصب القاضی فرض لانه ينسب لاقامه امر مفروض و هوالقضاء ... و لان نصب الامام الاعظم فرض بلا خلاف بين اهل الحق ... و معلوم انه لا يمکنه القيام بما نصب له بنفسه فيحتاج الی نائب يقوم مقامه فی ذلک و هو القاضی و لهذا کان رسول الله صلی‌الله عليه وسلم يبعث الی الا فاق قضاه... و قد سماه محمد رحمه الله عليه فريضه محکمه ( د قاضی ټاکل فرض دی له دی امله چی د هغه ټاکل د بل فرض د ادا کولو له پاره کيږی او هغه قضاء ده ، د خليفه (الامام الاعظم) ټاکل د اهل الحق تر منځ د اختلاف پرته فرض دی او ښکاره ده چی خليفه خپل ورسپارل شوی فرائض په ځانګړی توګه سرته نه شی رسولائی ~ او نائب ته ضرورت لری چی د دی فرض په ادا کولو کې د هغه قائم مقام دی ، او دا نائب قاضی دی همدا علت دی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم به مختلفو ځايو ته قاضيان ليږل ، امام محمد رحمه الله عليه قضاء ته د يوی کلکې او ټينګی فريضی نوم ورکړی دی [485]).

483- د ص سورت 26 آيت

484 - د النساء سورت 135 آيت

485 - بدائع الصنائع 7 ټوک 2 مخ

ابن الهمام حنفی چی په 681 هجری قمری کال کې مړ شوی دی لیکي چی : و اما وصف القضاء ففرض کفایه ... و علیه اجماع المسلمین ( قضاء یو کفائی فرض دی چی په دی باندی د مسلمانانو اجماع ده [486]) .

امام بابرتی حنفی چی په 786 هجری قمری کال کې مړ شوی دی فرمایي چی : لاشک ان القضاء بالحق من اقوی الفرائض و اشرف العبادات بعدالایمان ( په دی کې هیڅ شک نه شته چی د حق مطابق پریکړه کول ( قضاء ) د ایمان څخه وروسته ډیر قوی فرض او ډیر پاک عبادت دی [487]) .

ابن قدامه حنبلی رحمه الله علیه چی په 334 هجری قمری کال کې مړ شوی دی فرمایي چی: و القضاء من فروض الکفایه لان امر الناس لایستقیم بدونه فکان واجب علیهم کالجهاد والامامه ( قضا کفائی فرض دی دا په دی خاطر چی د دی پرته د خلکو حالت نه ښه کیږی نو دا د جهاد او امامت په څیر واجب دی ) [488].

## د عادل قاضی غوره والی

په ځینو احادیثو کې د قاضی فضیلت بیان شوی او په ځینی نورو کې د هغه مذمت راغلی په همدی توګه د اسلافو رحمه الله علیهم څخه هم دواړه ډوله وینا وی او تګ لاری را نقل شوی دی ، چا د قاضی کیدو څخه انکار کړی دی ، او ځینو دا منصب قبول کړی دی .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیثونو او اسلافو رحمه الله علیهم دا اختلاف د ( تضاد اختلاف ) نه دی بلکه د ( تنوع اختلاف ) دی ، یعنی قاضیان په دوه برخو ویشل شوی دی :

لومړی هغه قاضی دی چی د اهلیت خاوند وی په خپله ئی د دی منصب غوښتنه او خواهش نه وی کړی. خو کله چه دا مسئولیت هغه

---

**486** - فتح القدیر 7 ټوک 152 مخ 1970 عیسوی کال د مصطفی البابی چاپ
**487** - العنایه علی الهدایه للبابرتی مع فتح القدیر 7 ټوک 151 مخ
**488** - المغنی دابن قدامه لسم ټوک 32مخ 1970 عیسوی کال چاپ

ته وروسپارل شی نو بیا هغه د عدل او انصاف او پوره تحقیق په اساس پریکړې کوی . دا ډول قاضی یو ډول عبادت کوی ، او ښکاره ده چی کفائی فرض د عبادت یو شکل دی په خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم به پریکړې کولی او صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم ئی هم په دی منصب ټاکلی دی . په همدی ډول راشدینو خلفاو هم رضی الله عنهم د خلکو ترمنځ پریکړې کړې دی او نور صحابه کرام رضی الله عنهم ئی هم په نورو ښارونو او ځایونو کې د قاضیانو په نوم لیږلی دی.

دوهم هغه قاضی دی چی د اهلیت د نه لرلو سره سره ئی دا منصب منی ، یا هغه سره دا ویره وی ، چی حکمران او دهغی نور حاکمان ما ازاد قضاوت او انصاف کولو ته نه پریږ دی او د قضا په کارونو کې به مداخلت کوی او یا دا قاضی ښکاره په ظلم لاس پوری کوی نو بیا د دی ډول قاضی بدی ویلی شوی ده .

د نیکې او ستایل شوی قضاء او د بدی او مذمومی قضا دا ویش په خپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هم را نقل شوی لکه چی فرمائی :

حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنِي يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْهَادِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي قَيْسٍ مَوْلَى عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ فَأَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ فَأَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ

( قاضیان په دری ډوله دی . چی یو ئی جنت ته درومی او دوه نور ئی دوزخ ته، جنت ته به هغه قاضی ځی ، چی حق پیژنی او د هغی مطابق پریکړې کوی، مگر هغه قاضی چه حق پیژنی او د هغه په اساس پریکړې نه کوی هغه به جهنم ته ځی ، او بل هغه چی د ناپوهی سره ئی

دا وظیفه په غاړه اخیستی وی او د خلکو ترمنځ پریکړی کوی هغه به هم دوزخ ته ځی[489] .
د اسلام فقهاو د همدی حدیث په رڼاکې د قضا د مذمت او د هغه د فضیلت په هکله همدا ډول تطبیق کړی دی :
ملک العلماء فرمایی چی : و الحدیث محمول علی القاضی الجاهل و العالم الفاسق و الطالب الذی لا یامن علی نفسه الرشوه فیخاف ان یمیل الیها توفیقا بین الدلائل ( د قضا د مذمت حدیث د هغه قاضی په هکله کې دی چی جاهل وی یا فاسق عالم وی یا دهغه قاضی په هکله کې دی چه د دی منصب غوښتوونکې وی. خو په ځان ئی دا باور نه وی چی زه به د رشوت اخستلو څخه په څنګ شم او دا ویره ورسره وی چی هغه به د رشوت اخستوته تیارشی ، د دلائلو ترمنځ دغه تطبیق دی ) .
د دی څخه وروسته فرمایی چې : که چیری په کوم ځائی کې د یوه شخص پرته بل څوک اهل موجود نه وی نو په دی وخت کې په دی شخص د قضا د منصب قبلول فرض عین ګرځی [490].
شیخ الاسلام میرغنیانی رحمه الله علیه چی د هدایه کتاب لیکوال چی په 593 هجری قمری کال کې مړ شوی دی لیکې چی : په قضا کې کومه بدی نه شته ، خو د هغه چا له پاره چه په خپل ځان دا باور ولری چه زه دا مسئولیت تر سره کولای شم ، خو هغه چا ته قضا ورکول مکروه تحریمی دی چی د هغه څخه دا ویره وی چې زه دا مسئولیت نه

489 - ابوداودالاقضیه باب فی القاضی یخطئی – جامع ترمذی باب ماجاء فی القاضی – سنن ابن ماجه الاحکام باب ذکر القضا - جامع الاصول 10 ټوک 167 مخ – کنزالعمال 6 ټوک 91مخ 1979 عیسوی کال د بیروت چاپ
**490** - بدائع الصنایع 7 ټوک 4 مخ

شم ترسره كولای او نه ورسره د ظلم څخه د ځان د ژغورلو قضاوت كومه ډا ډگيرنه وی[491] .

په عالمگيری فتاوی كې راغلی دی : قضا يوه كلكه فريضه او د اتباع وړ سنت دی .... خو هغه چا تا د قضاوت د مسئوليت قبولول حرام دی ، چی هغه ته د خپل نفس دا كمزوری معلومه وی ، چی زه د انصاف راوړلو او قائمولو څخه عاجزه يم ، او د نفس د پيروی او غوښتنی څخه ځان نه شم ژغورلی [492].

علامه علاوالدين طرابلسی رحمه الله عليه فرمائی : هغه احاديث چی په كې قاضی ته د عذاب و عده وركړل شوی هغه ټول د ظالمانو قاضيانو په هكله دی. يا د هغه ناپوهانو په هكله دی. چی د علم او قابليت پر ته ئی دا مسئوليت په غاړه اخيستی وی د دغه دوه ډوله قاضيانو په هكله وعيد راغلی دی [493].

شيخ الاسلام ميرغنيانی رحمه الله عليه دا هم وايی چې كله حاكم د حق او انصاف په اساس د پريكړې د كولو ازآدی نه وركوی نو په دی حالت كې د قضا د منصب قبلول روانه دی .

اوس نو د ترغيب او ترهيب په هكله څو احاديث رانقلوو ترڅو د موضوع په دواړو اړخونو ښه وپوهيږو[494].

د ترغيب حديثونه :

حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ إِسْمَعِيلَ عَنْ قَيْسٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ و حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا أَبِي وَمُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ قَالَا حَدَّثَنَا إِسْمَعِيلُ عَنْ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

---

491 - هدايه كتاب آداب القاضی

492- فتاوی عالمگيری 3 ټوک 306 مخ

**493** - معين الحكام 877 مخ

**494** - الهدايه آداب القاضی

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا فَسَلَّطَهُ عَلَى هَلَكَتِهِ فِي الْحَقِّ وَرَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ حِكْمَةً فَهُوَ يَقْضِي بِهَا وَيُعَلِّمُهَا

( رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د هيچا سره کينه کول مناسب نه دي مګر د دوه کسانو سره رشک جائز دی يو هغه چې الله جل جلاله هغه ته مال ورکړی وی او د هغه په څنګ کې ئی په نيکو لارو کې د دی مال د خرڅ کولو توفيق هم ورکړی وی او دوهم هغه چې هغه ته الله جل جلاله د شريعت علم ورکړی وی او د هغی په اساس ....د خلکو د شخړو پريکړی او فيصلی کوی او د هغه ښونه خلکو ته کوی [495]) .

په دی حديث کې ئی قضا بالحق د رشک وړښوولی ده او دا د قضا د فضيلت له پاره څرګند ثبوت دی .

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ الْمَكِّيُّ حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْهَادِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْحَارِثِ عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي قَيْسٍ مَوْلَى عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ

( کله چې کوم قاضی د پريکړی په وخت کې اجتهاد کوی ، که چيری هغه حق معلوم کړ نو هغه ته به دوه برابر اجر ورکړی شی ، او که چيری غلطی تری وشوه او حق يی معلوم نه شو کړای نو هغه نه به يو اجر ورکول شی[496] ) .

امام خطابی رحمه الله عليه فرمايي چې : اجتهاد کول عبادت دی نو له دی امله هغه ته د حق د معلومولو پرته د تحقيق او کوشش اجر ورکول کيږی .

---

495- صحيح مسلم کتاب العلم

496 بخاری الاعتصام باب اجرالحکم کتاب الاقضيه.

خو دا حکم د هغه چا له پاره دی چه د اجتهاد اهلیت ولری او که نه د قابلیت او صلاحیت پرته اجتهاد کونکې ته د هغی د غلطی په اساس د عذاب ورکولو ویره هم شته ، لکه څنګه چی القضاه ثلاثه په حدیث کی راغلی دی .

د خلافت په بحث کې د بخاری او مسلم شریف هغه حدیث هم زمونږ تر مخه دی چی په هغی کې راغلی وه. چی عادل او انصاف کونکې قاضی او حاکم به د قیامت په ورځ د رڼا په ممبرونو کښینول شی.

د ترهیب حدیثونه :

حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ أَخْبَرَنَا فُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ أَبِي عَمْرٍو عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ وَلِيَ الْقَضَاءَ فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ

( هغه څوک چه د خلکو قاضی جوړکړای شو د چاړه پرته حلال کړل شوی دی[497] ) .

امام خطابی رحمه الله علیه او ابن الاثیر رحمه الله علیه لیکلې دی چی د چاړه پرته حلالول څخه دوه ډوله مقصد اخستل کیږی .

لومړی دا چی د چاړی په واسطه جسم حلالیږی ، خو دلته تری جسمانی حلاله مقصد نه دی بلکه روحانی او اخلاقی حلاله تری مقصد دی .

دوهم دا چی د چاړی پرته د بلی کومی پڅی الی په واسطه حلالول ډیر تکلیف ورکونکې دی .

دلته د دواړو معنا ګانو په اساس د ظالم او جابر قاضی مذمت کړل شوی دی کوم چی د دی منصب حریص او غوښتونکې وی -

---

497 - ابوداود فی الاقضیه ، سنن ترمذی فی الاحکام ، سنن ابن ماجه فی الاحکام ، جامع الاصول 10 ټوک 165 مخ ، کنزالعمال 2 ټوک 95 مخ 1979 عیسوی کال د بیروت چاپ

محدیثونو رحمه الله علیهم د دی همدا مفهوم بیان کړی دی چی دا د مذمت او ترهیب حدیث دی [498].

د معین الحکام خاوند او ځینی نورو فقهاو د دی حدیث مقصد په دی توګه بیان کړی دی. چی د قضا مسئولیت په غاړه اخستل ډیر لوی او دروند بار دی. چه نفس سره د مجاهدی او ریاضت پرته ئی څوک نه شی پورته کولای هغه څوک چه دا بار پورته کوی نو هغه د چړی پرته حلال شوی دی یعنی هغه ته باید ذبیح الله وویل شی ، ځکه دا د الله جل جلاله د رضا له پاره خپل نفس د قربانی له پاره وړاندی کوی .

خو قاضی شوکانی رحمه الله علیه فرمایلی دی : چی صحیح مفهوم هغه دی چی محدیثونو تری راخستی دی .

څرنګه چی د قضاء د ترغیب او فضیلت په هکله نور هم ډیر احادیث موجود دی نو بیا په را ښکلو او د تکلف په واسطه د دی حدیث ته ترغیبی شکل ورکول څه ضرورت دی ؟ [499].

عن عبدالله بن ابی اوفی رضي الله تعال عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله مع القاضی مالم یجر فاذا جار تخلی عنه و لزمه الشیطان وفی روایه تبرء الله منه ( د عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی الله جل جلا له د قاضی ملګری وی تر هغه پوری چه هغه ظلم و نه کړی ، کله چه هغه ظلم وکړی نو بیا د الله جل جلاله کومک د هغه څخه واخستل شی او شیطان ئی په پنجه کې ونیسی[500] ) .

---

498 - معالم النبین په حاشیه د ابو داود 4 ټوک 4 مخ و جامع الاصول 10 ټوک 166مخ

499 - نیل الاوطار 164 مخ د 1973 عیسوی کال د بیروت چاپ

500 - ترمذی کتاب الاحکام - مستدرک للحاکم کتاب الاحکام و کنزالعمال 6 ټوک 92 مخ

په دی احادیثو کې چه کومه ( تنوع ) ده نو همدا تنوع د قاضیانو په حالت کې هم شته د ترغیب حدیثونه د عادل قاضی په هکله راغلی دی او د ترهیب احادیث د ظالم او نا اهل قاضی هکله په راغلی دی .

د قاضی د اهلیت شرطونه

د عدل د راوستولو په خاطر د قاضی اهلیت لازمی شرط دی ځکه چه د نا اهله قاضی څخه د انصاف امید لرل ډیره بی عقلی ده د اسلام فقهاو د کتاب او سنتو په رڼاکې چه د قاضی د اهلیت له پاره کوم شرائط وړاندی کړی ، د هغه لنډیز په دی ډول دی :

مسلمان وی : د مسلمانانو د معاملا تو د پریکړی له پاره غیر مسلمان قاضی ټاکل په اجماع سره باطل دی ، ځکه د هغه پریکړه کوم شرعی حیثیت نه لری ، لیکن د احنافو په فکر د غیر مسلمانانو له پاره د غیر مسلمان قاضی ټاکل روا دی [501].

بالغ وی ، عاقل وی آزاد وی : دا شرطونه د نورو مسئولیتونو دور سپارلو له پاره هم شرعاً ضروری دی .

نارینه وی : د امام شافعی رحمه الله علیه امام مالک رحمه الله علیه امام احمد رحمه الله علیه او نورو ، جمهورو ، فقهاو همدا مسلک وه چی په قصاص او حدودو کې ښځه قاضی نه شی جوړیدای خود ابن جریر طبری رحمه الله علیه ته دا قول منسوب دی چی په هر ډول مقدماتو او قضایاو کې ښځه قاضیه جوړیدای شی [502].

په دی لړکې د جمهورو علماو رای صحیح معلومیږی الله جل جلا له فرمایلی چه نارینه په ښځه حاکم دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هغه قوم به هیڅکله کامیابی ته ونه رسی چی هغوی خپلی چاری ښځو ته ورسپارلی وی [503].

---

501 - مجموعه شامی القضاء 4 ټوک 415 مخ

502 - بدائع الصنائع 7 ټوک 3 مخ - الغنی د ابن قدامه 10 ټوک 36 مخ هدایه المجتهد

503 - صحیح بخاری فی الفتن و المغازی

لا تكون المراه حكما تقضى بين العامه ( ښځه د خلکو ترمنځ د شخړو هوارولو له پاره نه شي حاکمه کیدای ) [504].

د قران کریم او نبوی احادیثو په عموم کې د قضاء منصب هم شامل دی او ابن قدامه په دی هکله ډیر قوی دلیل راوړی چی : رسول الله صلی الله علیه وسلم خلفای راشدینو رضی الله عنهم او د نورو امراو څخه هیڅ یوه ښځه قاضی نه ده ټاکلی او نه ئی کوم ځای ته د حاکمی په صفت لیږلی ده که چیری دا روا وی نو ټول دور به د دی څخه خالی نه وه پاتی شوی [505].

عادل او صالح وی : امام شافعی ، امام مالک ، امام احمد رحمه الله علیهم د حنفی فقهاو څخه امام طحاوی رحمه الله علیه او د نورو اسلامی فقهاو په نظر د فاسق قاضی ټاکل روانه دی او نه د هغه پریکړه جاری کیدای شی .

خو د احنافو عام مسلک دا دی چی فاسق د قاضی په حیث ټا کل گناه ده لیکن د هغه پریکړی جاری کیږی په دی شرط چی د هغه پریکړه د قران ، سنتو او اجماع په خلاف نه وی .[506]

دلته د فاسق څخه مقصد هغه شخص دی چی د کبیره گناهونو او فواحشو څخه ځان نه ژغوری او نه د فرائضو او واجباتو پابندی کوی .

عالم او فقهیه وي : امام شافعی ، امام مالک ، امام احمد رحمه الله علیهم او د ځینو حنفیه و مسلک دا دی چه قاضی باید فقهیه او مجتهد وی ، خو د عامو احنافو رای یو نظر دا دی چی که څه هم د غیر مجتهد شخص قاضی ټاکل مکروه دی خو پریکړه ئی نافذ کیدای شی[507] .

---

**504** - کنز العمال 6 ټوک 79 مخ

**505** - المغنی د ابن قدامه رحمه الله علیه لیکنه 2 ټوک 36 مخ

**506** - بدایع الصنایع 7 ټوک 3 مخ - مجموعه شامی 4 ټوک 415 مخ - بحر الرائق 6 ټوک 283 مخ

**507** - المغنی د ابن قدامه رحمه الله لیکنه 10 ټوک 37 مخ - بدایع الصنایع 7 ټوک 3 مخ

ابن الهمام حنفی رحمه الله علیه فرمائی : که چیری په رعیت کې عادل او عالم موجود وی نو د غیر عادل او غیر عالم قاضی ټاکل روا نه دی ، خو که چیری و ټاکل شو نو بیائی پریکړه نافذیږی [508].

د هدایه او د فقهی په نورو کتابونو کې چی ویل شوی دی چی" تقلید الجاهل صحیح عندنا " څخه جاهل مطلق مقصد نه دی ، بلکه هغه شخص تری هدف دی چه په مستقیمه توګه اجتهاد ونه شی کولای خود مجتهدینو د ویناو' د پوهی او درک صلاحیت ولری هغه ته دا روا ده چی د مجتهدینو وینا له مخی پریکړی وکړی [509].

انګریزی قانون پوه ته مجتهدنه ویل کیږی او نه هغه ته ویل کیږی چی د قران یا حدیثو او فقهی د کتابونو انګریزی یا اردو ترجمه یی لوستی وی بلکه یو مجتهد ته په لاندی علومو پوهیدل ضروری دی .

د قران پوهه ، د حدیثو علم ، په شرعی مسائلو کې د سلفو ( صحابه رضی الله عنهم ، تابعین ، امامان او مجتهدین رحمه الله علیهم د اقوالو پوهه ، د عربی ژبی پوهه ، صرف او نحوی د قواعدو سره - د اجتهاد او شرعی قیاس د قواعدو پوهه .

سلیم الاعضا وی : ښکاره ده چی ګونګ او کوڼ سړی د دی منصب غوښتنی نه شی ترسره کولای .

دا هغه بنستیز صفتونه دی چی ذکر ئی د دلائلو سره د فقهی په ټولو کتابونو کې شوی دی څوک چی په دی صفاتو لږ تر لږه هم متصف نه وی او هغه قاضی و ټاکل شی نو دا به ډیر لوی خیانت وی ، د داسی قاضی په واسطه نه شرعی قانون نافذیدلای شی ، او نه تری د انصاف غوښتنه کیدای شی .

## د پریکړی کولو شرعی طریقه

508 - فتح القدیر 7 ټوک 253 مخ

509 - عنایه علی الهدایه مع فتح القدیر 7 ټوک 257مخ

د شرعی قضاء لار داده چی د ټولو ترمخه په قران کریم کې چی حکم معلوم کړی شی او بیا د هغه وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیثو مطابق پریکړه وکړی شی د هغه وروسته د امت اجماع او د صحابو رضی الله عنهم سنت مخ ته کېښودل ، که چیری په دری واړو کې کوم ښکاره حکم موجود نه وی ، نو بیا به قاضی اجتهاد کوی د هغی په رڼاکې به پریکړه کوی .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه ، یمن ته دلیږلو په وخت کې ، پوښتنه وکړه چی ته به په څه ډول پریکړی کوی ؟ معاذ رضی الله عنه ځواب ورکړ چی د قرانکریم مطابق به پریکړه کوم ، که چیری په هغه کې کوم حکم په لاس رانغی نو بیا به رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو په مطابق پریکړه کوم، خو که چیری په دی دواړو کې کوم صریح حکم په لاس رانغی نو بیا به اجتهاد کوم ، د ده په دی خبرو رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله شکر ادا کړ چی هغه حضرت معاذ رضی الله عنه ته د صحیحی لاری د مندلو توفیق ورکړی دی [510].

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه چه د قاضی شریح رحمه الله علیه په نوم چه کوم مشهور خط لیږلی وه په هغی کې هم همدا لار ورښوول شوی وه .

( کله چی تا ته د الله په کتاب کې کوم حکم پیدا شی نو د هغی په اساس پریکړه وکړه او بل لور ته هیڅ توجه ونه کړی ، خو که چیری د الله جل جلاله په کتاب کې کوم حکم در معلوم نه شو نو بیا د خدای جل جلاله د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو پریکړه وکړه ، که چیری د قرآن او سنتو دواړو څخه حکم په لاس درنغی نو بیا همغه

510- سنن ابو داود الاقضیه باب اجتهاد الرای فی القضاء - سنن ترمذی الاحکام باب ماجاء فی القاضی - جامع الاصول لابن الاثیر 10 ټوک 177 مخ القضاء فصل فی کیفیه الحکم

پريکړه وکړه چې د صالحينو رحمه الله عليهم اجماع پرې شوې وي ، خو که چيرې ستا تر مخ داسې يو معامله راشي چې د هغه حکم نه په قرآن کې وي او نه په سنتو کې ، او نه د هغه په هکله د صالحينو د اجماع کومه پريکړه موجوده وي ، نو په دې حالت کې که ته د خپل نظر مطابق اجتهاد کوې ، نو و ئې کړه او د معاملې په هکله پريکړه اعلان کړه خو که چيرې د معاملې ځنډول غوارې نوويې ځنډ وه زما په نظر ځنډول به ئې تا ته غوره وي ( ترڅو د نورو علماء سره په کې د مشورې کولو وخت په لاس درشي ) [511].

په اجتهادی امورو کيګ
د قاضی پريکوه نافذيدای شی

که چيرې قاضي د قران او سنتو ياد امت د اجماع په خلاف څه پريکړه وکړه نو هغه پريکړه يې له منځه ځي او نه نافذيږي خوکه چيرې دا پريکړه اجتهادي او اختلافي وي نو بيا د قاضي پريکړه نافذيږي ،بل کوم قاضي ئې د خپل شخصي نظر په اساس له منځه نه شي وړای ، او نه د دواړو خواو څخه کوم يو په پريکړه اعتراض کولائې شي چې دا پريکړه زما د فقهي مسلک خلاف ده نو د دې امله زه دې ته غاړه نه ږدم البته په نورو معاملاتوکې بل قاضي د دې قاضي خلاف پريکړه کولای شي .

د هدايه ليکونکې شيخ الاسلام مرغيناني رحمه الله عليه ليکلي چې: کله چه د يوه قاضي په مخ کې د بل قاضي پريکړه د عملي کولو له پاره کينښوول شي، نو هغه به ئې عملي کوي ، پرته له هغه وخته چې دا پريکړه د قرآن ، سنتو او اجماع په خلاف وي ... جامع صغير کې چې د امام محمد رحمه الله عليه کتاب دی راغلي په هغه مسئله کې چېد فقهاو اختلاف وي، او قاضي د کوم يو فقيه د راى مطابق د نظر پريکړه واوروله ، نو بل قاضي به (که څه هم د راى مخالفت ورسره ولري ) هغه عملي کوي

511 - النسائی القضاء باب القضا باتفاق اهل العلم 1 ټوک 305 مخ دهلی چاپ - دا رامی 1 ټوک 60 مخ د مشق چاپ - جامع الاصول 10 ټوک 180مخ

، قاعده همدا ده ، چې د اجتهادی او اختلافی مسائلو په هکله کله چې د قاضی پریکړه اعلان شی ، نو هغه به عملی کیږی بل قاضی ئی منسوخ کولی نه شی - د دی علت دا دی چې بل قاضی هم اجتهاد کوی او لومړی قاضی هم اجتهاد کړی وه چې د هغه سره فیصله هم تړل شوی ده نوله دی امله هغه ته ترجیح ورکول کیږی [512].

شمس الائمه سرخسی رحمه الله علیه فرمایلی دی چې : ان الاجتهاد لاینقض باجتهاد مثله ( یو اجتهاد د بل اجتهاد په واسطه له منځه نه شی تلای [513].

قضاء د قاضی په علم

د ګواهانو د کره والی او عدالت په هکله قاضی د خپل شخصی نظر په اساس بالاجماع پریکړه کولای شی ، خو که چیری ګواهی د محکمی تر مخ شوی وی نو په دی صورت کې په دی اتفاق شوی دی چه قاضی د خپل ذاتی معلوماتو په اساس د ګواهی په خلاف پریکړه نه شی کولای ، او اختلافی صورت یی دا دی چې د مدعی په حق کې هم ګواه موجود نه وی ، او مدعی علیه هم اقرار نه وی کړی ، خو قاضی ته په شخصی ډول معلوم وی چه د مدعی یعنی دعوه کونکې په رښتونی وی ، نو ایا په دی صورت کې قاضی د خپلی شخصی پوهی او معلوماتو په اساس پریکړه کولای شی ؟

1- امام شافعی رحمه الله علیه په دی هکله وائی چه قضا د قاضی په علم روا ده ،ځکه چې د ګواهی څخه مقصد هم دا دی چې قاضی ته د دعوی د رښتیاوالی پوهه په لاس ورشی ،نوکه چیری هغه ته د خپلی شخصی پوهی په اساس دا معلومه شی ، نو بیا هیڅ دلیل نه شته چې د هغه د خپلی ذاتی پوهی په اساس دی پریکړه کول روا نه وی

---

**512** - الهدایه ادب القاضی مع فتح القدیر 7 ټوک 300 مخ _ البدائع 7 ټوک 14 مخ - قاضیخان په حاشیه عالمګیری 2 ټوک 453 مخ

**513**- المبسوط للسرخی رحمه الله علیه طبع بیروت 16 ټوک 84 مخ

. شریعت هر مدعی باندی د (بینی) وړاندی کول لازم گرځولی دی، خوبینه یواځی د گواهی نوم نه دی . بلکه د هغه څخه مقصد دلیل او ثبوت دی ، که څه هم دا دلیل گواهی وی . یا د مدعی علیه اقرار وی . یا د قاضی خپل معلومات وی دا دری واړه حالات د بینی په تعریف کې شامل دی .

2 - امام مالک د امام احمد رحمه الله علیهم مشهور مسلک ، د قاضی شریح ، اسحق بن راهویه ، ابو عبید قاسم بن سلام ، حافظ ابن قیم رحمه الله علیهم او د ډیرو صحابه رضی الله عنهم او تابعینو رحمه الله علیهم نظر او مسلک همدا دی چی قضاء د قاضی په علم روانه ده ځکه چه د هغی د شخصی معلوماتو د پریکړی په اساس د هغه دیانت او امانت په شک کې لویږی ، او د دی تهمت په اساس د خلکو اعتماد او باور پری باقی نه پاته کیږی ، د یوه قاضی له پاره ضروری دی چی د تهمت څخه ځان وژغوری .

3- د امام ابوحنیفه رحمه الله علیه مشهور مسلک او لار دا ده چی په حدودو کې قضاء د قاضی د خپل علم په اساس روانه ده ، خو په حقوقی او مالی معاملو کې قاضی د خپل شخصی معلومات او پوهی په اساس پریکړه کولای شی [514].

خو ورستنیو احفنانو اوس په حقوقی او مالی معاملوکې هم د عدم جواز( نه روا) فتوی ورکړی ده .

په درمختارکې راغلی دی : ان المعتمد عدم حکمه بعلمه فی زماننا ... [الاشباه] ( باوری وینا همدغه ده چی په دی زمانه کې د قاضی د شخصی پوهی په اساس پریکړه باید ونشی ) .

علامه شامی رحمه الله علیه په دی هکله لیکې چی: دا د ورستنو نظر دی او علت ئی دا دی چی د دی وخت د قاضیانو په حالت کې خرابوالی پیدا شوی دی. په اوسنی وخت کې فتوی همدغه ده چه قضاء ( فیصله ) د

---

514 - المغنی 10 ټوک 48 مخ - بدایه المجتهد 2 ټوک 470 مخ - بدائع 7 ټوک 6 مخ - مسبوط سرخسی 16 ټوک 104 مخ - الطرق الحکمیه 383 مخ

قاضی د شخصی پوهی په اساس روانه ده په جامع الفصولین کې هم په همدی توګه ویل شوی دی [515].

امام بخاری رحمه الله علیه فرمائی چی : هغه خلک چه قضاء د قاضی د ذاتی پوهی په اساس روا ګڼی نو هغوی سره دا یو شرط دی قاضی باید په خپل ځان د بدګمانی او تهمت ویره ونه لری [516].

امام بخاری رحمه الله علیه په بل ځای کې د ( قضاء د قاضی د پوهی) په هکله د مختلفو نظریاتو د را نقلولو وروسته لیکې چی : قاسم بن محمد بن ابی بکر رضی الله تعالی عنه ویلی دی چی قاضی ته دا مناسب نه ده چی هغه د خپلی شخصی پوهی په اساس پریکړه وکړی ځکه چی د دی په اساس دی خپل ځان د مسلمانانو په منځ کې متهم او مشکوک ګرځوی او خلک به پری بدګمانی کوی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د بدګمانی او د تهمت درا پیدا کیدو کار خوښ نه دی [517] .

د امام بخاری رحمه الله علیه شیخ الکرابیسی فرمایی چی : زما په نظر ( قضاء د قاضی د پوهی په اساس ) له پاره یو شرط دادی چه قاضی په پا کوالی ریښتینوالی او امانت کې داسی مشهور شوی وی چی هغه ته د ګوتی نیولو یا تهمت واردولو له پاره هیڅوک زړه ښه نه کړی [518].

امام ابن قیم رحمه الله علیه فرمائی چی: که چیری دی ډول قضاء ته لار خلاصه شوه ، نوقاضیانو ته به د خپلو دښمنانو د وژلو ، سنګسارولو ، فاسقولو ، او حتی چی د هغوی د ښځو د بیلولو لار پرانستل شی خاصاً په دی وختوکې .... که چیری قاضی ته د خپلی پوهی په اساس پریکړه روا هم شی ... بیا هم د دی وخت قاضیان تری منع کول په کار دی [519].

---

**515**- شامی 4 ټوک 478 مخ

**516**- بخاری الاحکام باب من رائی القاضی ان یحکم بعلمه

**517** - بخاری الاحکام باب الشهاده تکون عند الحاکم

**518** - فتح الباری الاحکام 16 ټوک 259مخ

**519** - الطرق الحکمیه لابن القیم **211**مخ

سد الذريعه د شريعت يومهم اصل دی ، يعنی د فساد د دروازو بندول لازمی دی په اوسنی وخت کې د قضاء بعلم قاضی ( د قاضی د علم په اساس فيصله ) روا ګڼل د ظلم دروازه خلاصول دی ، نن د دی ډول قضا دروازی بندول ضروری دی دبله طرفه د څلورو واړو مذهبونو د پوهانو فتوی هم د جواز نه ورکول دی .

د قرائنو په اساس ګګواهی پريکوړه کول

د صحاح سته يو صحيح حديث دی چی رسول الله صلی‌الله عليه وسلم فرمايلی دی. چی مدعی به بينه وړاندی کوی او که نه نو مدعی عليه به سوګند يادوی، د بينه په مفهوم کې د سترګو ليدلی ګواهانو ګواهی يقيناً شامله ده خو ايا په هغی کې د قرائنو ، علائمو او حالاتو ګواهی هم شامله ده يا نه؟ د قرائنو څخه مقصد هغه د حالاتو او چاپيرال هغه ګواهی او علامات دی چه د هغی په واسطه قاضی ته د دعوی صحت او ريښتنولی ثابتيږی په دی موضوع حافظ ابن القيم رحمه الله عليه په الطرق الحکميه کې او شيخ علاوالدين طرابلسی حنفی رحمه الله عليه په معين الحکام کې اوږد او مدلل بحث کړی دی. ابن قيم رحمه الله عليه ته د طرابلس څخه يو استفتا راغلی وه ، چی ايا قاضی ته دا روا دی چی هغه دی د قرائنو او علاماتو په اساس پريکړه وکړی يوازی د ګواهانو په ګواهی دی باورنه کوی بلکه حالات او واقعات او قرائن او علامات دی هم په نظر کې نيسی .

حافظ ابن القيم رحمه الله عليه د هغه په ځواب کې وليکل چی : دا يوه ډيره مهمه موضوع ده چی ښه پری پوهيدل په کاردی که چيری قاضی قرائن له نظره باسی ، نو د ډيرو داسی خلکو حقوق به د منځه ولاړ شی چی هغه سره ليدلی کتلی ګواه موجود نه وی ، خو قرائن او د حالاتو او چاپيريال ګواهی د هغه په حق کې وی نو که چيری قاضی بی احتياطی کوی ، او د قرائنو د قطعيت او ظنيت په نظرکې د نيولو پرته

پریکړه کوی، نو د دی کار څخه د ظلم او فساد د واقع کیدو ویره ده ، که چیری قاضی په شرعی احکامو پوهیږی خود واقعاتو او شواهدو په هکله فقیه النفس او په معامله پوه نه وی ، نو هغه به داسی پریکړه کوی چی د هغی په غلطوالی کې به هیڅوک هم شک ونه کړی ، په دی خاطر ضروری ده چی قاضی په احکامو او واقعاتو دواړو کې فقیه النفس او په معامله پوه او تجربه لرونکې وی[520] .

د بینی معنی او مفهوم :

ابن قیم رحمه الله علیه د بینی په تشریح کې دارنګه لیکې: بینه هر هغه دلیل ته ویل کیږی چی حق را په ډاګه کوی او دا ثابتوی چی هغه خلک چی دا د دوه ګواهانو یا څلور ګواهانو یا یوه ګواه سره مخصوص کوی نو هغه د دی کلیمی حق پوره نه ادا کوی ، د قرانکریم په هیڅ ځای کې هم بینه د ګواهانو په معنی نه ده راغلی ، بلکه د حجت ، دلیل او برهان په معنا ګانو راغلی ده که څه هم یو شی په ځانګړی توګه دلیل وی یا څوشیان یوځای شوی او دلیل ئی جوړ کړی وی د " البینه علی المدعی" څخه مقصد دا دی چه مدعی به دا رنګ دلیل او ثبوت وړاندی کوی چه د هغه په واسطه د هغه د دعوی صحت او صداقت ثابت شی ، دوه ګواهان هم د (بینی) په مفهوم کې شامل دی لیکن په دی کې هیڅ شک نه شته چه کله د شاهدانو پرته نور دلایل ډیر قوی وی ، مثلاً د حالاتواو واقعاتو ګواهی ، چی دمدعی د رښتنوالی ثبوت ورکوی ځینی وختونه د ګواه د ګواهۍ څخه قوی دلیل ګڼل کیږی [521].

---

ا - الطرق الحکمیه لابن القیم رحمه الله علیه 4 مخ

**521** - الطرق الحکمیه 1977 عیسوی کال د مصر قاهره چاپ - اعلام الموقعین لومړی ټوک 90 مخ د 1977 عیسوی کال د بیروت چاپ- معین الحکام 78 مخ

علامه علاوالدین طرابلسی حنفی رحمه الله علیه د معین الحکام په 51 باب کې په دی هکله اوږد بحث کړیدی هغه لیکې چی : ولا خلاف فی الحکم بها و قد جاء العمل بها فی مسائل اتفق علیها الطوائف الاربع من الفقهاء ( د قرائنو د ګواهی [ د حالاتو ګواهی ] په اساس په پریکړه کولوکې هیڅ اختلاف نه شته په ډیرو مسائلوکې د قرائنو په اساس د عمل کولو داسی مثالونه شته چه د ځلور ګونی مذاهبو فقهاو پری اتفاق کړی دی .

له دی وروسته طرابلسی علامه 25 داسی مسائل او مثالونه او موضوعات راخستی چی په هغی کې فقهاو د قرائنو په اساس پریکړه کړیده د نمونی په توګه د واده په وخت کې چی کومه ښځه سړی ته ورسپارلی کیږی نو د هغه سره یوځای والی په اتفاق سره روادی ، که څه هم دوه سړو یا ښځو ګواهی یا خبرتیا نه وی کړی چی دا هغه ښځه ده چی د ده سره یی نکاح شوی او سړی هغه تر مخه لیدلی هم نه وی نو په دی صورت کې قرینه حال ته د ګواهی درجه ورکوله شوی یا مثلاً کله چی مدعی علیه د سوګند یادولو څخه مخ واړوی نو بیا پریکړه د مدعی په حق کې کیږی ، څرګنده ده چه دا ډول قضاء دقرینی په اساس پریکړه کوی ځکه چه د مدعی علیه د سوګند څخه انکار کول په خپله د مدعی د ریښتنولی ثبوت او د دعوی صحت دی چه د هغی په اساس پریکړه کیږی [522].

په دی لړکې ابن قیم رحمه الله علیه او نورو فقهاو دوه څرګند مثالونه ورکړی دی چی هغه دا دی :

لومړی دا چې یو سړی د یوه کور څخه په وینو ککړ چاقو ، چاړه یا توره په لاس د راوتلو په حال کې ولیدل شو او بیا د دی کور په داخل کې مړی پیدا شو ، چی د همداسی چاقو یا چاړه یا توری په واسطه وژل شوی وی، په کورکې بل څوک هم داسی نه وی ، نو په دی صورت کې همدا

[522] - معین الحکام 203 مخ

سړی قاتل شمیرل کیږی ځکه چی دا داسی قاطع ثبوت او قرینه ده چی د سترګو لیدلی ګواهی څخه قوی ګواهی شمیرلی کیږی .

دوهم مثال دا چی یو سړی پګړۍ په لاس کې نیولی یا ئی په اوږو پرته ده او منډی وهی او دی خپله پګړی په سر تړلی ور پسی سړی لوڅ سر منډی وهی او خلکو ته چیغی وهی چه هغه منډی وهونکې زما څخه پګړی غلا کړی یا ئی زما د سر څخه اخستی ده نو په دی وخت کې منډی وهونکې غل ګڼل کیږی ځکه چی د هغی دا حالت پخپله د دی خبری ګواهی ورکوی چی د سترګو لیدلی ګواهۍ څخه که قوی نه وی ، نو کمه تری هم نه ده .

خو د قرینی او د حالاتو د ګواهی په اساس د حد په ځای تعزیری سزا ورکول د احتیاط غوښتنه ده ځکه چی حد هغه دی چی د قرآن ، سنتو او اجماع د امت په واسطه ټاکل شوی وی ، اصل دا دی چی حدود د شک په اساس ساقط کیږی ، او د حالاتو ګواهی د شکوکو څخه خالی نه وی او تعزیری سزا هغه ده چی د محکمی له خوا ټاکل کیږی خو تعزیری سزا د لږ شک په واسطه نه ساقط کیږی .

یو طرفه پریکړه

څلور امامانو او د اسلام فقهاو په دی خبره اتفاق کړی دی چی که چیری مدعی علیه په محکمه کې حاضر وه ، او یا د هغه حاضرول ممکن وی. نو په دی وخت کې یو طرفه پریکړه ( په غائب فیصله ) روانه ده ، که څه هم مدعی ګواهان راوړی وی ، د انصاف غوښتنه خو دا ده چی مدعی علیه ته د خپلی پاکې د ثبوت له پاره په ګواهانو د انتقاد کولو موقع په لاس ورشی ، او دا کار د هغه په غیر حاضری کې ممکن نه دی .

همدا راز څلورو امامانو په دی هم اتفاق کړی دی چی که چیری د مدعی علیه وکیل یا وصی د هغه قایم مقام ګڼل کیږی خو په دی شرط چی وکیل ته ئی یو ره اختیار ورکړی وی په دی حالت کې د وکیل یا وصی بیان اوریدل او هغی ته د خپل موکل د دفاع حق ورکول او په ګواهانو د

انتقاد کولو وروسته قاضی پریکړه کولای شی او دا په غیاب کې قضاء اویو طرفه پریکړه نه شمیرل کیږی .

اختلافی صورت ئی دادی چه مدعی علیه کوم لری ځای کې وی یا په خپل ښارکې چیرته پټ شوی وی، نه په خپله حاضریږی او نه کوم وکیل ځانته ټاکی ، او قاضی ئی هم نه شی را حاضرولای نو په دی کې د امامانو اختلاف دی :

امام ابو حنیفه رحمه الله علیه قاضی ابن شبرمه ، قاضی ابن ابی یعلی ،او د قاضی شریح رحمه الله علیهم مسلک همدا دی چی په غائب حکم او فیصله روا نه ده [523].

دوی یومشهور دلیل لری او وایی چی کله رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت علی رضی الله تعالی عنه په یمن کې قاضی وټاکه نو هغه ته ئی د لیږلو په وخت کې داسی لارښوونه وکړه : فاذا جلس بین یدک الخصمان فلا اتقضین حتی تسمع من الاخر کما سمعت من الاول فانه احری ان یتبین لک القضاء (کله چی ستا په وړاندی دواړه مخالفی ډلی حاضری شی نو تر هغه وخته پوری پریکړه مه اوروه ترڅو چی دی د بلی ډلی بیان هم داسی وانه وری لکه څنګه دی چه د لومړی ډلی بیان واورید صحیح پریکړی ته درسیدو په خاطر دا غوره لار ده) [524].

د احنافو اصل مسلک خو همدادی چه قضاء په غیاب کې روانه ده خوکه چیری قاضی د مدعی د ثبوت د وړاندی کولو وروسته د نورو امامانو د رای مطابق یوطرفه پریکړه واوروله نو دشمس الائمه سرخسی رحمه الله علیه په نزد پریکړه عملی کیږی د دی امله چه دا یوه اجتهادی او اختلافی مسئله ده ، او په دی ډول موضوع کې د قاضی پریکړه نافذ یږی .

---

**523** - هدایه سره د فتح القدیر 7 ټوک 308 مخ – بحرالرئق 7 ټوک 17 مخ – المغنی د ابن قدامه 95 مخ

[524] - سنن ابوداود فی الاقضیه باب کیف القضاء – جامع ترمذی فی الاحکام باب لایقضی القاضی بین الخصمین حتی کلا مهما

د متاخرینو احنافو فتوی هم همدا ډول ده ، او هم دغه اظهر الروایتین دی .[525]

د دی نه پرته د متاخرینو احنافو ویلی دی چی که چیری مدعی علیه پټ شوی وی نو قاضی به تر دری ورځو پوری د خپل باوری نفر په واسطه د هغه په دروازی اعلان کوی چی که چیری محکمی ته حاضر نه شوی نو یو طرفه پریکړه به و اورول شی که د دی اعلان څخه وروسته بیا هم حاضر نه شو ، نو بیا دی قاضی د خپله طرفه یو وکیل وټاکې چی د مدعی علیه له خوا څخه بحث وکړی ، په داسی توګه د موضوع د اوریدو وروسته قاضی یوطرفه ( په غیاب کې ) پریکړه کولای شی؟ امام ابو یوسف رحمه الله علیه په اوله کې په دی قائل نه وه خو وروسته د مطلق جواز قائل شوی وه د دی لپاره چه د خلکو د حقوقو ساتنه وشی [526].

امام شافعی ، امام مالک ، امام احمد ، امام اوزاعی ، امام بخاری ، لیث بن سعد امام ابن حزم او ابو عبید قاسم بن سلام رحمه الله علیهم د دوی مسلک دا دی چی د حدودو او قصاص په موضوعاتو کې یوطرفه ( په غیاب کې فیصله) پریکړه روانه ده، خو په نورو موضوعاتو کې که چیری مدعی د اعتماد وړګواه وړاندی کړی نو بیا د هغه په حق کې یوطرفه پریکړه کیدای شی، د دی علت دادی چی که چیری قضا په غیاب کې روانه وی ، نو د خلکو حقوق به له منځه ولاړ شی ، مدعی علیه به پټیږی او د مدعی حق به خوړل کیږی [527].

**525** - فتح القدیر 7 ټوک 311 مخ - شامی 4 ټوک 470 مخ

**526**- فتح القدیر 310 مخ - شامی 4 ټوک 471 مخ - عمده القاری د صحیح بخاری شرح 24 ټوک 255 مخ

527- المغنی 10 ټوک 95 مخ ملخص - عمده القاری 4 ټوک 254 مخ - فتح الباری 16 ټوک 294 مخ

احنافو چی په کوم حدیث استدلال کړی دی امام خطابی رحمه الله علیه د جمهورو له خوا د هغه داسی توجیه کړی ده : د دواړو ډلو د بیانونو د اوریدو پابندی په دی خاطر ده چه کله دواړه محکمی ته حاضر شوی وی لکه څنگه چی " اذا جلس بین یدک الخصمان " څخه ثابتیږی خو کله چی قاضی ته دا جوته شی چه مدعی علیه د بدنیت په اساس د کوم شرعی عذر پرته د مدعی د حق د خوړلو په خاطر قصداً پټ شوی دی. نو په داسی حالت کې یوه طرفه پریکړه کول د دی حدیث خلاف نه دی .[528]

هغه خلک چه قضا په غیاب کې روا بولی هغوی وایی چی که چیری د یوطرفه پریکړی وروسته مدعی علیه راغی او د مدعی په گواهانو انتقاد وکړی او یا د بلی کومی لاری څخه دا ثابته کړی چه د مدعی دعوه د دروا‌غو ده ، نو بیا قاضی خپله پریکړه بیرته اخستی شی[529].

په اوسنی وخت کې د قاضی په لاس کې ډیر وسایل موجود دی. چه د هغی په اساس قاضی کولای شی د پولیسو په واسطه مدعی علیه محکمی ته حاضر کړی. خو د دی وسایلو د ډیر والی سره اوس د هیواد په دننه او د باندی د مجرمانو پټیدل ، فرار کیده د پخوا څخه ډیر شوی دی ، د دی علت د الله جل جلاله څخه د خلکو په ویره کې کموالی او د مسئولیت نه احساسول دی. بل عامل ئی د وگړو ډیر والی او د تلوراتلو د وسائلو پر اخوالی دی. نو په دی خاطر قاضی ته په کار دی چی لومړی مدعی علیه ته اطلاع ورکړی او د هغی څخه به کفیل بالنفس یعنی حاضر ضمانت واخلی اویا ئی د ضرورت د پیدا کیدو په صورت کې هغه د شخړی تر پریکړی پوری په بندی خانه کې واچوی چی فقها ورته ( حبس تفتیش) وائی. خو که د دی ټولو تدابیرو سره سره بیاهم مدعی علیه حاضر نه کړی شو، نوبیا یوطرفه ( په غیاب کې فیصله) پریکړه روا ده .

د قاضی آداب

528- معالم السنن برحاشیه سنن ابو داود 4 ټوک 12مخ

529 - المغنی لابن قدامه 1 ټوک 96مخ

## نیو لیک

دآدابو څخه مقصد نیک اخلاق دی. خو دلته تری هغه قواعد او ضوابط مقصد دی چی د هغی پابندی د قاضی له پاره قانوناً ضروری ګڼل کیږی. په دی هکله د حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه هغه خط بنسټیز حیثیت لری چی هغه د عراق قاضی ابوموسی اشعری رضی الله تعالی عنه ته لیکلی وه چی مسبوط سرخسی رحمه الله علیه او بدائع الصنایع دی لیک ته د "کتاب السیاسه القضاء" نوم ورکړی د خط د حدیثو او فقهی په ډیرو کتابونو کې رانقل شوی دی. د هر وخت قاضیانو ، علماء او فقهاء دا لیک د خپل ځان له پاره یو قانونی سند ګرځولی دی او د حکم او قضاء د اصولو په ټاکلو کې ئی بنسټ ګرځولی دی د دی لیک پوره متن د (سنن دار قطنی) څخه نقل شوی دی چی په لاندی توګه دی :

د قاضی د ادابو په هکله د عمر فاروق رضی الله عنه<br>لیك د ابو موسی اشعری رضی الله عنه په نوم

من عمر بن الخطاب الی ابی موسی الاشعری رضی الله تعالی عنه اما بعد فان القضاء فریضه محکمه و سنه متبعه ~ فافهم اذا ادلی الیك بحجه ~ و انفذ الحق اذا وضح فانه لاینفع تکلم بحق لانفاذله و اس بین الناس فی وجهك و مجلسك و قضاءك حتی ییاس الضعیف من عدلك ولایطمع الشریف فی جیفك ~ البینه علی المدعی و الیمین علی من انکر ~ والصلح جائز بین المسلمین الاصلحا احل حراماً وحرم حلالا لایمنعك قضاء قضیته راجعت فیه نفسك و هدیت فیه لرشدك ان تراجع الحق فان الحق قدیم و مراجعه الحق خیر من التمادی فی الباطل الفهم الفهم فیما یختلج فی صدرك مما لم یبلغك فی الکتاب او السنه اعرف الامثال و الا شباه ثم قیس الامور عند ذالك فاعمد الی احبها عندالله و اشبهها بالحق فیما تری ~ و اجعل لمن یدعی بینه املا ینتهی الیه فان احضر بینه اخذبحقه و الاوجهت القضاء علیه فان ذلك اجلی للعمی و ابلغ فی العذر المسلمون عدول بعضهم علی بعض الا مجلود فی حد او مجرب فی

شهاده زور او ظنين فى ولاء او قرابه ان الله تولى منكم السرائر و دراء عنكم بالبينات ~ و اياك و القلق و الضجر والتاذى بالناس و التنكر للخصوم فى مواطن الحق الذى يوجب الله بها الاجر و يحسن بها الزخر( او الذكر) فانه من يصلح نيته فيما بينه وبين الله ولو على نفسه يكفه الله فيما بينه و بين الناس ومن تزين للناس بما يعلم الله منه غير ذلك يشنه الله فما ظنك بثواب غير الله عزوجل فى عاجل رزقه و خزائن رحمته والسلام عليك

( قضا یوه کلکه فریضه او مسلمه دینی لاره ده- کله چه تاته کومه معامله راشی نو په هغه د ټولو اړخونو له پلوه ددلیلونو په واسطه ځان پوه کړه او کله چه حق راڅرګند شی نو بیا هغه نافذ کړه ، د دی امله چی په ژبه دحق دویلو څخه کومه ګټه نه شته تر هغو چی هغه په عملی ډول جاری نه شی- په خپله غونډه کې د کښینولو، د نیغ په نیغه خبرو کولو، او د انصاف په اساس په پریکړی کولوکې ، د خلکو سره یو رنګ سلوک کوه ترڅو چی بی اثره کمزوری خلک ستاد انصاف کولو څخه مایوس نه شی او باثره قوی خلک له تا څخه د مراعات او طرفداری امید ونه کړی- د مدعی په ذمه د ثبوت وړاندی کول دی او منکر ته به سوګند ورکول کیږی- د مسلمانانو ترمنځ صلح کول روا دی ، پرته د هغی صلحی څخه چی حلال حرام او حرام حلال وکړی یعنی چی د هغی په واسطه د شریعت د کوم حکم خلاف ورزی وشی - په هیڅ یوه معامله کې د پرون پریکړه نن حق رجوع په لاره کې خنډ جوړول نه دی په کار ، مګر کله چی د پوره تحقیق او څیړنی وروسته د صحیح پریکړی کولو توفیق تاته په برخه شی ، داپه دی خاطر چه حق ازلی دی او د هغه په لور راګرځیده په غلطی باندی د ټینګیدو څخه ډیر غوره دی - په هغه معاملو کې د ډیر غور او فکرڅخه کار واخله، د کومو حل چی تا ته د قران او سنتو څخه په لاس درنه شی او هغه ستا په زړه کې څوړنده وی ، مثالونه او نظائر په ذهن کې کیښنوه هغه حل اختیار کړه چی ستا د څیړنی مطابق د الله جل جلاله ډیر

خوښ او حق ته ډير نژدې وي - مدعی ته تریوی ټاکلی مودی پوری مهلت ورکړه که چیری هغه تر ټاکلی وخت پوری شاهدان راوړل نو بیا هغه ته د هغه حق وروسپاره ، اوکه نه نو بیا د همغه په خلاف پریکړه وکړه د دی په اساس شک وشبه هم له منځه ځی او مدعی ته اعتراض هم نه پیدا کیږی ، ټول مسلمانان یو په بل باندی د ګواهی په ورکولوکې عادل دی. پرته له هغه شخص څخه چی هغه ته د دورو سخته سزاوار کول شوی وی ، د دروغو په ګواهی کې مشهور وی اووربانډی دا شک وی چی دی دمدعی سره د دوستانه اړیکو د لرلو په اساس د درواغو بیان ورکوی الله جل جلاله به ستاسو د پټو خبرو پریکړه په خپله کوی او هغه د ګواهانو په واسطه ستاسی شخړی پای ته رسولی - د قضا په غونډه کې دشور ، د خلکو د خفه کولو او هغوی ته ضرر رسولو او د ډلو ترمنځ د تریویدو څخه ځان وژغوره ، په دی ځایونو کې د حق د قائمولو په واسطه خدای اجر او ثواب ورکوی. او دهغه یادونه په خیر سره کوی یا د هغه له پاره ذخیره جوړ وی د چا نیت چی په هغه معاملو کې چی د ده او د الله جل جلاله ترمنځ ښه وی نو خدای تعالی به د خلکو سره د ده معاملی سمی کړی ، او هغه چا چی خپل ځان د خلکو ترمنځ په هغه صفاتو متصف ښکاره کړ په داسی حال کې چی هغه صفت په هغه کې موجود نه وی نو الله جل جلاله به هغه د خلکو ترمنځ بد نام کړی - نو د الله جل جلاله د ورکول شوی رزق او د هغه د رحمت د خزانو په مقابل کې ته د بل چا څخه امید څه ته کوی ) [530].

حافظ ابن قیم رحمه الله علیه د فاروق رضی الله عنه د دی لیک تشریح په اعلام الموقعین کې په ډیر تفصیل سره کړی ده [531].

---

530 - سنن الدار قطنی معی التعلیق المغنی فی الاقصیه و الاحکام 4 ټوک 206 مخ السنن الکبری للبیهقی کتاب الشهادت 10 ټوک 150 مخ - کنز العمل 5 ټوک 806 مخ - الخلافه نصب الرایه فی تخریج احادیث الهدایه 4 ټوک 81 مخ - اعلام الموقعین د ابن قیم رحمه الله علیه 1 ټوک 85 مخ

531 - اعلام الموقعین لومړی ټوک 86 مخ

د دی خط و کتابت او سنتو په رڼاکې د اسلام فقهاو ځينی نور مفصل آداب بيان کړی دی ، چې لنډيزئی په دی توګه دی :

د قضا دمنصب د غوښتلو څخه لری والی : رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی چې هغه څوک چه د قاضی کيدو فکر ولری او د هغه له پاره عريضه ورکوی ، او د دی منصب دلاس ته راړلو له پاره واسطی او سفارش راوړی نو هغه خپل نفس ته ورسپارل کيږی ، او هغه څوک چه د هغه د غوښتنی او خواهش پرته قاضی وټاکل شو ، نو هغه ته په صحيح لاره د ثابت پاتی کيدو په خاطر الله جل جلاله ملائکې راليږی [532].

د دی روايت څخه معلوميږی چې‌د قضا د منصب غوښتل او يا خواهش کول منع دی خو د ابوداود شريف په يوه بل روايت کې راغلی دی : من طلب قضاء المسلمين حتی ينا له ثم غلب عدله جوره فله الجنه و من غلب جوره عدله فله النار ( چاچی د قضاء غوښتنه وکړه او دا منصب ئی لاس ته راوست او بيا د هغه عدل د هغه په ظلم غالب شو نو هغه ته جنت دی او که د هغه ظلم د هغه په عدل غالب شو، نو هغه ته د دوزخ اوردی [533] ).

د دی حديث څخه خو په ښکاره توګه د قضاء د طلب جواز ثابتيږی ددی امله چی په دی کې عادل قاضی ته د جنت زيری ورکړی دی يعنی هغه چا چی د دی منصب د لاس ته راوړلو کوښښ کړی وی ځينی محدثينو دی حديث ته ضعيف ويلی دی .

---

532 - سنن ابو داود فی الاقضيه باب فی طلب القضاء – سنن ترمذی الاحکام باب ماجاء فی القاضی - جامع الاصول 10 ټوک 169مخ

533 - ابو داود فی الاقضيه باب فی القاضی يخطی

خو قاضی شوکانی رحمه الله علیه فرمائی چی: ابو داود اوالمنذری رحمه الله علیهم دا روایت د څه انتقاد پرته رانقل کړی دی او د هغه په سند کوم اعتراض نه شته دی [534] .

علامه ماوردی ، قاضی ابو یعلی ، مجدین الدین ابن تیمیه رحمه الله علیهم ( د مشهور ابن تیمیه نیکه وه) علاوالدین طرابلسی او قاضی شوکانی رحمه الله علیهم چی د دواړو حدیثونو ترمنځ چی کوم تطبیق کړی دی هغه زما د نظره ډیره ښه توجیه ده

او هغه د اختلاف تنوع او اختلاف الحالتین مسئله ده ، په یوه حالت کې د قضا غوښتنه منع شوی ده او په بل حالت کې روا ده ، که چیری با اهلیته علماء او فقهاء موجود وی ، نو په دی حالت کې د دی منصب غوښتل روانه دی ، دا دحکومت فرض دی ، چی د هیواد د علماو او فقهاء څخه غوره او اهل کسان وټاکې او دامنصب ورته وروسپاری. خو که په کوم ځای کې د یوه کس پرته بل څوک اهل موجود نه وه. نو په دی حالت کې دغه اهل کس ته د قضا غوښتنه روا ده بلکه د ځینو په نظرمحتسب او یا واجب ده [ الله جل جلاله ډیرښه پوهیږی ][535].

د اجتهاد او تحقیق وروسته د پریکړی کول :

د قاضی له پاره ضرور ده چه هغه د ارام غوښتنی ، تنبلی او بی پروائی څخه کار وانخلی بلکه د معاملی څرنګوالی ، د دواړو خواو ویناوی او د ګواهانو په ګواهی د پوهیدو، شرعی حکم معلومولو او په وړاندی کړی شوی دعوی باندی ئی د منطبق کیدو له پاره خپل ټول امکانی تحقیق او صلاحیت په کار اچولو څخه وروسته پریکړه وکړی ، که چیری هغه په خپل ځان کې د دی له پاره عملی قابلیت نه وینی ، یا ددعوی په څرنګوالی او نوعیت پوه نه شی او یا د محکمی په کارونو کې د حکومت

534 - نیل الاوطار9 ټوک 159 مخ 1973بیروت چاپ

535- منتقی الاخبار سره نیل الاوطار 9 ټوک 161 مخ – معین الحکام 11 مخ – الاحکام ملخصا د ماوردی لیکنه 74 مخ

له خوا څخه د بی ځایه مداخلی ویره وه ، نو بیا د قضاء د منصب قبلول یا د دائر شوی دعوی د پریکړی څخه لاس واخلی .

د غصی او خفکگان په حالت کیگ د پریکوی نه کول :

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى ابْنِهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْضِي الْحَكَمُ بَيْنَ اثْنَيْنِ وَهُوَ غَضْبَانُ

( رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چی هیڅکله دی یو پریکړی کونکې د غصی په حالت کې د دوو تر منځ پریکړه نه کوی ) [536].

فقهاو لیکلی دی چی د دعوی اوریدل او د هغه په هکله پریکړه کول د اطمینان او سکون په حالت کې کول په کاردی په جذباتی او د غصی نه په ډک وخت کې نه ده په کار ( هر هغه حالت چی په هغه کې طبیعت پر خپل حال نه وی او زړه ته اطمینان او ډاډ پیدا نه وی ) لکه ( لوږه - تنده - مرض - اړتیا ، غم او تکلیف او یا ذهنی پریشانتیا) [537].

دواړو ألو ته برابره درجه ورکول
او په یوه حگای کشگینول :

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ ثَابِتٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ الْخَصْمَيْنِ يَقْعُدَانِ بَيْنَ يَدَيْ الْحَكَمِ

( رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم کړی دی چی د دعوی دواړه ډلی باید د قاضی په مخکې برابر کښینول شی ) [538].

---

**536** - صحیح بخاری فی الاحکام باب هل یقضی القاضی وهو غضبان – صحیح مسلم فی الاقضیه – جامع ترمذی فی الاحکام - سنن ابو داود فی القضیه - سنن نسائی فی القضاء - جامع الاصول 10 ټوک 175مخ

537- المغنی 10 ټوک 45 مخ - بدائع الصنائع 6 ټوک 9مخ

**538**- سنن ابو داود فی الاقضیه - جامع الاصول 10 ټوک 174مخ

هغه دا هم فرمایلی دی چی : هغه څوک چی قاضی وګرځیده نو هغه ته د دواړو ډلو په کښینولو ، اشاره کولو او د خبرو په طرز کې برابر والی په کاردی [539].

د تحفو او رشوت د اخستو خګخه لری والی
حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
رشوت اخستونکې پریکړه کونکې او په رشوت ورکونکې دواړو باندی رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت ویلی دی [540].
رسول الله صلی‌الله علیه وسلم و فرمایل د امیرانو او حاکمانو له پاره د تحفو اخستل خیانت دی [541].

دعلم دخاوندانو او شریعت پوهانو
خګخه مشوره اخستل

عمر بن عبدالعزیز رحمه الله علیه فرمایلی دی چی پنځه شیان دی ، که چیری د هغو څخه یو هم د قاضی څخه پاته شو نو په هغه کې به عیب او خرابوالی پیداشی :
لومړی دا چی هغه باید پوهه او دانش ولری او په معاملو وپوهیږی .

دوهم دا چی هغه نرم زړی ، بردباره ، او دپراخی سینی خاوندوی .
دریم دا چی پاک لمنی ، سپیڅلی او د لوړو اخلاقو خاوند وی .

539 - دارقطنی ملتان چاپ 4 ټوک 205 مخ - کنزل المعال 6 ټوک 102مخ - المغنی 10 ټوک 71 مخ
540 - ترمذی فی الاحکام – سنن ابو داود فی الاقضیه - جامع الاصول 10 ټوک 172مخ
541 - مجمع الزوائد 5 ټوک 249 مخ - کنز العمال 6 ټوک 111مخ

ځلورم دا چی د قوانینو په جاری کولو کې د کلک زړه خاوند وی .
پنځم داچی د دین عالم وی او د علم د خاوندانو سره مشوره کونکې وی [542].

د امام شافعی رحمه الله علیه شاګرد ابو علی الکرابیسی رحمه الله علیه په خپل کتاب ادآب القضاء کې لیکلی دی قاضی ته په کار دی چی د علم د خاوندانو سره همیشه مشوری کونکې او خبری کونکې اوسی [543] .

د اسلام فقهاو لیکلی دی چه په مشکل او نغښتو معاملو کې قاضی باید د دیانت لرونکې شریعت پوهانو څخه مشوره واخلی او ضرور ده چه د قاضی په غونډه کې د فقهاو یو ډله موجوده وی ترڅو د ضرورت په وخت کې په ټولنیزه توګه مشوره وکړی شی[544].

د عادل او پوه لیکونکیګ تګاکل

د قاضی له پاره دا هم ضروری ده چی هغه د خپلی محکمی له پاره داسی کاتبان و ټاکې چی مسلمان وی ~ دیانت لرونکې وی او د اسنادو او دسیو د ښه ساتنی او حفاظت ښه صلاحیت او تجربه ولری په ملحد ، کافر او فاسق باندی باور نه شی کیدای ، په قرانکریم کې د کتابت بالعدل حکم شوی دی چی له دی څخه معلومیږی چیکاتب ته د ښه لیکوال په څنګ کې عدالت هم یو ضروری امر دی - امام بخاری رحمه الله علیه لیکلی دی چي د کاتب له پاره په کاردی چي امانت ساتونکې او دیانتدار وی ، عاقل او ذهین هم وی[545] .

542 - صحیح بخاری فی الاحکام 2 ټوک 161مخ تعلیق.
543 - فتح الباری ج 16 ټوک 266 مخ
544 - کتاب الام للشافعی 7 ټوک 203 مخ 1973 عیسوی کال چاپ - المغنی 10ټوک 47 مخ - بدائع صنائع 7 ټوک 11مخ
545 - صحیح بخاری فی الاحکام باب ما یستجب للکاتب ان یکون امیناً و عاقلاً

ابو موسى اشعرى رضی‌الله عنه يو عيسوى د خپل ځان له پاره کاتب ټاکلی وه نو حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ورته وفرمايل چی ايا په مسلمانانو کې کوم ليکونکې نه پيداکيده ؟ په داسی خلکو اعتماد ونه کړی ، چا ته چی الله جل جلاله خائن ويلی دی[546] .

د عادل او يوه ژباؤونکيگ تگاکل

کله کله د ترجمانی له پاره هم اړتيا پيدا کيږی ، نو په دی اساس قاضی ته په کارده چی د خپلی محکمی له پاره عادل امين او ديانت لرونکې ژبارن وټاکې ، امام بخاری رحمه الله عليه په خپل کتاب کې د ژباړونکې د اړتيا د ثابتولو له پاره مستقل باب (باب ترجمه الحکام) په نوم جوړکړی دی ، امام ابوحنيفه ،امام مالک ، امام ابو يوسف ، محمد بن المنذر او د امام بخاری رحمه الله عليهم مسلک دا دی چی د قاضی له پاره يو ژبارن کافی دی ، په دی شرط چی هغه امين او عادل اوسی ، خو د امام شافعی ، امام احمد ، او امام محمد رحمه الله عليهم نظر دا دی چه ژباړن ته د گواهی درجه ورکول شوی، له دی امله د يوه شخص ترجمانی کافی نه ده ، بلکه د دوه کسو ترجمانی ضروری ده [547].

د دلائلو څخه دا خبره صحيح څرگنديږی چه يو ژباړن کافی دی که چيری چا انتقاد کړی وی ، يا په خپله قاضی ته شک پيدا شو نو بل ژباړن راغوښتلای شی، او که نه نو همدا يو کافی دی .

امام بخاری رحمه الله عليه ديوه ژباړن دکافی کيدو له پاره دری دلائل راوړی دی :

---

**546**- فتح الباری الاحکام 14 ټوک 207مخ

**547** - المغنی 7 ټوک 88 مخ - عمده القاری الاحکام 24 ټوک 266 مخ - نيل الاوطار 9 ټوک 179 مخ

لومړی  دا چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او یهودو ترمنځ د ترجمان کار حضرت زید بن ثابت په ځانګړی ځان کاوه .

دوهم دا چی د حضرت عمر رضی الله عنه غونډی ته یوه عجمه ښځه راغلی وه چی ترجمانی یی یوازی عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه کړی وه .

دریم دا چی د حضرت علی رضی الله تعالی عنه د خلافت په دوره کې عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه د بصری قاضی وه ، د هغه محکمی او عدالت ته به دایران او فارس ځینی دا ډول خلک راتلل چی هغوی به فارسی ویله دا چی ابن عباس رضی الله عنه په فارسی نه پوهیده نو د دی امله د ترجمانی دنده حضرت ابوحمزه سرته رسوله او هغه یو ترجمان کافی ګڼل کیده [548].

د عدالت د روازی خلاصی پری شګوول

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ حَدَّثَنَا إِسْمَعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ الْحَكَمِ حَدَّثَنِي أَبُو الْحَسَنِ قَالَ قَالَ عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ لِمُعَاوِيَةَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ إِمَامٍ يُغْلِقُ بَابَهُ دُونَ ذَوِي الْحَاجَةِ وَالْخَلَّةِ وَالْمَسْكَنَةِ إِلَّا أَغْلَقَ اللَّهُ أَبْوَابَ السَّمَاءِ دُونَ خَلَّتِهِ وَحَاجَتِهِ وَمَسْكَنَتِهِ فَجَعَلَ مُعَاوِيَةُ رَجُلًا عَلَى حَوَائِجِ النَّاسِ قَالَ وَفِي الْبَاب

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هغه حاکم چی خپلی دروازی د خلکو پرمخ وتری نو الله تعالی جل جلاله هم د هغه د حاجت له پاره د اسمان دروازی تړی (د رحمت دروازی) [549].

**548** - بخاری کتاب الاحکام باب ترجمه الحکام وهل یجوز ترجمان واحده

**549** - ابوداود فی الخراج و الاماره - ترمذی فی الاحکام مسند احمد 5 ټوک 238 - جامع الاصول 4 ټوک 51 مخ

د دی حدیث څخه دا راڅرګندیږی ، چی قاضی ته په داسی ځای کېکښینا ستل په کار دی چی هلته خلک په اسانی او په خپل وخت سره انصاف لاس ته راوړی او دعوه کونکي ته د دفترنو اوکاتبانو د نازونو د وړلو تکلیف پیدا نه شی ، بلکه پرته د کوم ځنده دوسیه خپل ځای ته ورسی او مقدمه درج کړی .

دروازه چی تګاکل

په بخاری کتاب الاحکام کې یو باب اینښودل شوی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلی دروازی له پاره کوم دروازه چی نه وه ټاکلی. ددی دثبوت له پاره د یوښځی یادونه شوی ده چي هغی د حضور صلی الله علیه وسلم ځای ته تشریف راوړ ~ نو په دروازی کې هیڅ دروازه چی نه وه خود امام بخاری په خپل کتاب المناقب کې په یوه فصل کې راغلی دی ~ چی یو وخت رسول الله صلیٰذالله علیه وسلم د یوه باغ په داخل کې د کوهی په غاړه ناست وه ، او ابو موسیٰاشعری رضی الله تعالی عنه د باندی په دروازه پهره دار ولاړ وه او د اجازی د اخستلو وروسته به یی ملاقات کوونکو ته د راتلو اجازه ورکوله ، په همدی توګه د بخاری په کتاب النکاح کې دایلاء د قصی په لړ کې یو روایت راغلی دی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دروازی به یو رباح رضی الله عنه نومی دروازه چی ولاړ وه.

حضرت عمر رضی الله عنه هم یو دروازه چی (حاجب) لروده چی نوم ئی یرفاء وه کله چی حضرت علی رضیٰالله تعالی عنه او حضرت عباس رضی الله تعالی عنه د بنو نضیر د مالونو په سلسله کې تشریف راوړ ، نویرفا حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ته خبر ورکړه او د اجازی ورکولو وروسته د عمررضی الله تعالی عنه په خدمت کې حاضر شول - محدثینو په ښکاره ډول د دغه مختلفو روایتونو ترمنځ د موافقت او

تطبیق دوه صورتونه بیان کړی دی ، لومړی دا چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او دراشدینو خلفاو دروازو ته مستقل دروازه چیان نه وه ټاکل شوی خو د ضرورت په وخت کې به ځینی صحابو رضی الله عنهم څخه په دی لارکې خدمت اخستل کیده او دوهم حالت دا چی د اوسیدو په ځای او خلوت ځای کې به کله کله دروازه چی موجود وه ، خو په عدالتی او تعلیمی غونډو کې هیڅ دروازه چی نه وه موجود [550].

حقیقت دا دی چه د دروازه چی د ټاکلو اصل مقصد د حاجت لرونکو څخه پټیدل نه وه ، بلکه (ترتیب الخصوم) وه، یعنی خلک د ترتیب او نظم سره محکمی ته وړاندی کول ، ترڅو په محکمه کې غیر ضروری ازدحام او شور او غال مغال جوړ نه شی ، اګر چی په نبوی صلی الله علیه وسلم دور او دراشدینو خلفاو په دور کې د دعوو شمیر هم کم وه او د خلکو تر منځ هم د سکون، متانت او د نیکو اخلاقو غلبه چی وه نو د دی امله په دروازه کې د دروازه چی ټاکلو ته اړتیانه لیدل کیده. خو کله چه د ابادی د زیاتوالی په اساس نفوس زیات شو نو د شخړو او دعوو شمیر هم زیات شو او په خلکو کې هم د پورته ذکر شوو صفاتو کمی راغی ، نو فقهاو او محدثینو فتوی ورکړه چی اوس د دروازه چی ټاکل مستحب دی . خود فریاد لرونکې د فریاد څخه بی د عذره پټیدل او د عدالت او محکمی دروازی تړل مکروه بلکه حرام دی [551].

مشهور حنفی فقیه قاضیخان لیکې کله قاضی په مسجد یا خپل کور ( یاپه بل کوم ځای کې ) کښینی نو یو دروازه چی دی وټاکې چی

---

550 - فتح الباری 16 ټوک 252مخ
551 - فتح الباری 16 ټوک 252مخ

خلک د ازدحام څخه منع کړیځو دروازه چی ته یو څه د رشوت په ورکولو داخل ته تلل روانه دی[552] .

تګول وخت د قضاء د کار ورکول

دقاضی او دهغه د اولاد نفقه د ټولنی په غاړه ده- امام بخاری رحمه الله علیه په صحیح بخاری کتاب الاحکام کې لیکلی دی چی د حکامو او قاضیانو اقتصادی اړتیاوی پوره کول د ملت مسئولیت دی قاضی شریح رحمه الله علیه به د ملت د خزانی څخه تنخواه اخسته ، حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه او حضرت عمر رضی اله تعالی عنه به هم د خلافت په وخت کې دبیت المال څخه تنخواه اخسته .

ابو علی الکرابیسی رحمه الله علیه فرمایی چی : په قضاء تنخواه اخستل روا دی ما ته د صحابه رضی الله عنهم او د هغوی څخه وروسته د علماء د هیڅ یوه څخه دا معلومه نه ده چی‌دی ته ئی حرام ویلی وی هغه خلکو چی په قضا تنخواه نه ده اخستی هغوی یوازی د تورع او احتیاط په اساس دا کار نه دی کړیاو نه ې ده اخستی بلکه په دی خاطر یی کړی چی ځینی وخت کې بیت المال ته مشتبه مالونه هم راځی د بلی خواکه چیری دبیت الملل مال په حرامه لاره لاس ته راغلی وی. په هغه حالت کې تری تنخواه اخستل هم حرام وی [553].

د حنفی فقهاو فتوی هم دا ده چی قاضی په خپله قضا ء تنخواه اخستی شی [554].

---

552 - قاضی خان په حاشیه د عالمګیری 2 ټوک 265 مخ - عالمګیری 3 ټوک 420 مخ - عمده القاری 24 ټوک 232مخ

553 - فتح الباری 16 ټوک 271 مخ

554 - هدایه فی القضاء وبدائع 7 ټوک 13~ 14 مخونه

کله چی د قاضی کفالت د بیت المال په غاړه دی نوهغه ته بیا په کار دی چی د شخصی تجارت څخه ځان وژغوری.
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چی تجارت لرونکې قاضی او حاکم په عدل ټینګ نه شی پاته کیدای[555] .
حنفی فقهاو لیکلی دی چی : قاضی ته په خپله اخستل او پلورل په کار نه دی بلکه هغه ته په کار دی چه داکار دنورو په واسطه وکړی امام محمد رحمه الله علیه او ( د مبسوط لیکونکې ) څخه روایت دی چی قاضی د عدالت او محکمی څخه د باندی په بل ځای کې داخستلو او خرڅولو کار کولی شی - خو صحیح داده چی په بل ځای کې هم باید دا کار ونه کړی له دی امله چی خلک به د خپل ځان په حق د پریکړی کولو په خاطر د ده سره دراکړی ورکړی په معامله کې مراعات وکړی ( چی دا د رشوت کار ورکوی ) [556].

د محکمی آزادی او د قانون پورته والی

د عدل د قائمیدو له پاره په کار دی چی قضائیه او اجرائیه قوی یو د بل څخه بیلی وی او قانون په ټولو پورته او لوړ وی د اسلامی نظام په عدل کې د هیواد د ولس مشر د ریس څخه نیولی تر یو عام او سیدونکې پوری او د یو لوی عسکری صاحب منصب څخه نیولی تریو کوچنی عسکر پوری ټول برابر او هر یو د پوښتنی ځواب په خاطر راغوښتل کیږی او دوی ته د قانون مطابق سزا هم ورکول کیږی خو د قضائیه قوی په کارکې د اجرائیه قوی هیڅ شخص ، کوچنی دی اوکه غټ د مداخلی کولو هیڅ حق نه لری . دا د قاضی پورته والی نه دی ، بلکه د قانون هسکوالی دی چی

---

555 - المغنی **10** ټوک **69 ~ 70** مخونه

**556** - قاضیخان په حایشه د عالمگیری 2 ټوک 364 - کتاب الام للشافعی 6 ټوک 204مخ

خپله په قاضی هم نافذیږی ، که چیری چا په قاضی القضات باندی هم دعوه وکړه نو بل قاضی به د هغی دعوی اوری او بیا د قانون په مطابق پریکړه کوی .

د یهودیانو کوُنلاره

د اسلام څخه ترمخه د قوی او طاقت لرونکې له پاره یو ډول قانون وه او د کمزوری او ضعیف له پاره بل ډول قانون وه ، لکه څنګه چی نن هم په ځینی تش په نامه پرمخ تللو هیوادونو کې د تور او د سپین ترمنځ قانون بیل دی ، په مدینی کې دیهودو دوه ډلی بنو نضیر او بنو قریظه اوسیدل ، چی بنو نضیر د قوت او دولت له پلوه په بنو قریظه باندی قوی وه د بنو نضیر ډلی بنو قریظه په دی ظالمانه تړون باندی واداره کړی وه ، چی که چیری د بنو نضیر د ډلی څخه کوم سړی د بنو قریظه څوک قتل کړی ، نو هغه ته به د قصاص ( بدلی) د اخستلو حق نه وی ، بلکه یوازی70 وسق[557] کجوری به د هغه د وینی په بدله کې ورکوی وسق نژدی 32 منه کیږی او 70 وسق نږدی 2240 منه کیږی .

خو که چیری معامله د دی په خلاف وی نو بیا قانون دا وه چی د بنو قریظه د وینی د تویولو دوه برابره یعنی 140 وسقه کجوری به هم ورکوی او قصاص به هم ورځنی اخلی او یوازی دا نه چی قصاص او دوه چنده دیت به ورڅخه اخستل کیږی بلکه دا هم وه چی که چیری یی د بنو نضیر د قبیلی ښځه ووژله نو د هغه په بدل کې به د بنو قریظه نارینه وژل کیږی او که چیری مقتول سړی وی ، نو د هغه به بدل کې به بنو قریظه دوه کسه سړی به وژل کیږی، او که چیری د بنو نضیر غلام

557- وسق د پاکستان په حساب پنځه منه او لس سیره کیږی چی 70 وسقه نږدی 348 منه او شل سیره کیږی چی د افغانستان د من په حساب تقریبا 2240 منه کیږی [ ژباړن ] .

ئی وژلی وی نو د هغه په بدل کې به بنوقریظه ازاد سړی به په قتل رسیږی ، که چیری د بنو نضیر قبیلی د چا لاس پریکړل شو ، نو د بنو قریضه څخه به د یوه کس دوه لاسه پری کیږی او که یو غوږ پری شوی وی نو هغوی څخه به دوه غوږونه پری کړل کیږی [558]

په تورات کې د واده کړی ښځی سره زنا کولو سزا قتلول یا په تیگو ویشتل وه "[559] " نو د یهودو د زنا د یوه معاملی په وخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی یو ستر عالم ته وویل چی زه تا ته د هغه الله جل جلاله په نوم سوگند دریادوم او پوښتنه در څخه کوم ، چه هغه په موسی علیه السلام تورات رانازل کړی وه چی په تورات کې د زنا سزا یوازی مخ تورول دی چی ستاسی په منځ کې ئی رواج موندلی دی ، هغه وویل ریښتیا خبره خو دا ده چی په تورات کې د دی جرم سزا رجم ( په تیگو ویشتل ) ښوولی شوی ده ، خو کله چه زمونږ شهزاده گانو په منځ کې زنا ډیره شوه . نو مونږ هغوی ته سزا ورکول پری ښوه مگر په کمزوریخلکو هماغسی سزا جاری کیدله. وروسته مونږ مشوری وکړه چی داسی سزا ټاکل په کاردی چه په ټولو یو ډول جاری کویی شی ، نو هماغه وه چی مونږ د وهلو ټکولو او د مجرم د مخ تورولو او هغه پسی د ډلی خلکو د ویستلو سزا و ټاکله او رجم مو پر یښوده . په دی خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ای خدایه زه هغه ړومبنی شخص یم چه ستا دا حکم می را ژوندی کړ ، کوم چی هغو خلکو ځنډ کړی وه او بیائی هغه یهودی زانیانو ته د

**558** - مظهری ج3 ټوک 111 ~ 112 نقل د معالم التنزیل څخه المائده 41- سنن ابو داود مختصراً فی الایات باب النفس بالنفس و نسانی مختصراً القامه باب تاویل قوله تعالی وان حکمت ...

**559** اخبار باب 20 – استثناء باب 22. 23 .**24**

سنگسار کولو سزا و اورولـه د کومو د عوه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم عدالت او محکمی ته راوړل شوی وه او د همدی واقعی په باب د المائدی سورت 44 آیت څخه تر 47 آیت پوری را نازل شوی وه .

د نبوی صلی الله علیه وسلم
او راشدینو خلفاو د دورو تګګ لاری

د انسانیت ستر لار ښود محمد صلی الله علیه وسلم راغی او ټول توپیرونه ئی له منځه یوړل او د آدم علیه السلام د اولاد د حقوقو د برابری اعلان ئی وکړ د قانون لوړ والی یی وساته او د کمزوری او قوی له پاره ئی یو ډول احکام جاری کړل .

1 - د قریشو د بنو مخزوم د قبیلی د یوی ښځی فاطمه اسود څخه د غلاکولو جرم وشو ، د قریشو د ټینګار په اساس حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه د سزا بخښولو سپارښته وکړه په دی خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ایا تاسی د الله جل جلاله د ټاکلی حد بخښل غواړی او بیا ودریده او خلکو ته ئی په وینا کې وویل :

یا ایها الناس انما ضل من کان قبلکم انهم کانوا اذا سرق الشریف ترکوه و اذا سرق الضعیف فیهم اقاموا علیه الحد وایم الله لو ان فاطمه بنت محمد سرقت لقطع محمد یدها

( ای خلکو ! له تاسو پخوا چی کوم امتونه تیر شوی دی هغوی په دی اساس گمراه او بی لاری شوی وه چی کله به د هغوی د لوړی کورنی چا غلا وکړه نو هغه به ئی پری ښوولو او کله به ئی چی د ښکته درجی چا غلا وکړه نو په هغه به یی حد جاری کړ او زه په الله جل جلاله سوگند کوم

چی که چیری د محمد صلی الله علیه وسلم لور فاطمی غلا کړی وای نو محمد صلی الله علیه وسلم به خامخا د هغه لاس ورپری کړی وه ) [560].

2 - د فوت کیدو د مرض په وخت کې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د فضل بن عباس رضی الله تعالی عنه په مرسته مسجد ته تشریف یوورِ او د لمانځه وروسته په ممبر وخوت او وئی فرمایل :که چیری ما چا ته ښکنځل کړی وی نو هغه دی خپله بدله له ما څخه واخلی او که چیری ما د چا مال اخستی وی نو هغه دی هم خپل حق له ما څخه وغواړی او یا دی راته بخښنه وکړی څو چی زه رب العالمین ته په ډاډه زړه ورشم ، ټول مسجد کې د خلکو د ډلی څخه یوازی یو شخص پورته شو او وئی ویل چی تا په هغه ورځ زما څخه دری روپی پور کړی وی هغه ماته راکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل کاکا زوی فضل بن عباس رضی الله تعالی عنه ته وویلی چی زما له خوا نه هغه ته دری روپی ورکړه [561].

3 - عبدالله بن جبیر خزاعی رضی الله تعالی عنه فرمائی چی یو وخت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس کې د کجورو یوه لښته وه او یا مسواک وه چی د هغه په واسطه د یو سړی په ملاکې داغ وشو، هغه وویل (ما ته دی درد ورسا وه) نو په دی خاطر ما ته د بدلی اخستلو اجازه راکړی ، هغه هماغه لښته ده ته ورکړه او ورته ئی وفرمایل : بدله واخله ، هغه د ده شاه مبارکه ښکل کړه او ویی ویل ما ته بخښلی یی او امید لرم چی ته به د قیامت په ورځ زما شفاعت وکړی[562] .

---

**560** - بخاری فی الحدود باب کراهیه الشفاعه فی الحدود - مسلم فی الحدود باب قطع السارق الشریف ...

**561** - المصنف د عبد الرزاق 9 ټوک 469 مخ 1972عیسوی کال بیروت چاپ

**562** - المصنف د عبد الرزاق 9 ټوک 467 ~ 466 - مجمع الزوائد 6 ټوک 289مخ

4 - همدا سی یوه بله واقعه ده چی د ازدحام په اساس د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لاس مبارک په واسطه د یوه سړی په ملاکې درد پیدا شو~ هغه ورته وویل چی راشه او بدله واخله ، هغه سړی د هغه نوم مبارک ښکل کړ او هغه لبنته ئی و غورځوله او ویی ویل یا نبی الله زما اراده او مقصد همدا وه چیمونږ ستا څخه وروسته ظالمان و ټکوو او د هغوی څخه بدله واخستی شو[563].

5 - ابو سعید خدری رضی الله عنه چی یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم کور څخه ووت نو یو سړی د هغی د اوښی رسی ونیوله او وئی ویل چی زما یو کار دی هغه ورته وویل چی پریږده ستا کار کیږی ، دری ځلی ئی همداسی وویل ، لیکن هغه سړی اوښه تللو ته پری نه ښووه، په دی خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم لبنته پورته کړه او هغه ته ئی یو شړق ورکړ، کله چی د لمانځه څخه فارغه شو نو وئی ویل هغه سړی چیر ته دی چی ما همدا اوس یو شړق وواهه هغه سړی د اخر صف څخه راپورته شو او راغی او وئی ویل زه حاضر یم د الله جل جلاله او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د غضب څخه پناه غواړم رسول الله صلی الله علیه وسلم همغه لبنته هغه ته وروغورځوله او ورته ئی وویل : نزدی راشه او خپله بدله واخله ، هغه ورته وویل چی ما بخښلی ئی ، په دی وخت کې هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم حاضرینو ته په وینا کې وویل په هغه الله سوګند یادوم چی زما نفس د هغه په اختیار کې دی چی کوم مسلمان چی پر بل باندی ظلم وکړی او د هغی بدله یی نه وی ورکړی نو د قیامت په ورځ به په خپله الله تعالی جل جلاله د هغه د ظلم بدله تری واخلی[564] .

**563** - مجمع الزوائد فی الدیات 2 ټوک 289مخ
**564** - المنصف عبدالرزق 9 ټوک 465 – سنن ابی داود فی الدیات باب القود بالضربه

د همدی واقعاتو په لور په اشاره کولوکې حضرت عمر رضی الله تعالی عنه فرمایلی وه: و قد رائیت رسول الله صلی الله علیه وسلم اقتص من نفسه ( ما په خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم کتلی دی هغه د خپل ذات څخه هم بدله ورکوله ) [565].

سعید بن مسیب رضی الله عنه فرمایلی دی : رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د خپل ذات څخه د بدلی اخستو حق ورکړی دی ، ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه هم یو سړی ته د خپل ذات څخه بدله ورکړی وه او حضرت عمر رضی الله عنه هم حضرت سعد رضی الله تعالی عنه ته د خپل ذات څخه بدله ورکړی وه .

6 - د حضرت عایشه رضی الله عنها څخه روایت دی چی د ابوجهم بن حذیفه رضی الله تعالی عنه د یوه سړی سره د زکات د اخستو په وخت کې څه شخړه راغله او ابوجهم رضی الله تعالی عنه د کوتک په واسطه هغه سړی زخمی کړ د وهل شوی سړی خپلوان د رسول الله صلی الله علیه وسلم عدالت ته راغله او د قصاص غوښتنه ئی وکړه ، هغه ورته فرمایل چی تاسو د وینی تویولو دومره بدله واخلی او راضی نامه وکړی هغوی په دی خبره راضی نه شو ، هماغه وه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د توی شوی وینی بدله ډیروله تر دی پوری چی هغوی راضی شول او بیا ئی خلک را وبلل او په عامه ټولنه کې د هغوی څخه بیا پوښتنه وکړه چی تاسو راضی یاست هغوی وویل چی هو اوس راضی یو [566].

---

**565**- ابو داود فی الذیات - سنن النسائی فی القسامه - مسند احمد 1 ټوک 41 المنصف 9 ټوک 468 مخ

**566**- سنن ابو داود فی الدیات باب العامل یصاب علی یدیه - سنن النسائی فی القسامه – سنن ابن ماجه فی الدیات و المنصف باب القود من السلطان 9 ټوک 462 مخ

7 - د ابو فراس حارثی رحمه الله علیه څخه روایت شوی دی چه یو ځل حضرت عمر رضی الله عنه په خپله عامه وینا کې و ویل چی : انی لم ابعث عمالی لیضربوا ابشارکم و لالیا خذوا اموالکم فمن فعل به ذالک فلیر فعه الی اقصه منه قال عمرو بن عاص رضی الله تعالی عنه لوان رجلاً ادب بعص رعیته اتقصه منه؟ قال ای و الذی نفسی بیده اقصه و قد رئیت رسول الله صلی الله علیه وسلم اقص نفسه ( ما خپل حکام د دی له پاره نه دی ټاکل چی هغوی دی تا سو بی د کوم علته ووهی او وټکوی ستاسی په مالونو په ناروا ډول قبضه وکړی د هر هغه چا سره چی دا ډول ظلم شوی وی نو هغه دی ما ته خبر را کړی چی تر څو زه ورته د هغه حاکم څخه بدله واخلم ، حضرت عمرو بن عاص ورته وویل چه که چیری کوم حاکم خپل رعیت ته ادآب ښی ، نوایا ته په د هغه څخه هم بدله اخلی ؟ حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ورته وفرمایل ، بلی په خدای سوګند چی زما روح د هغه په لاس کې دی ، زه به ضرور تری بدله واخلم ، د دی امله چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدلی دی چی د خپل ذات (وجود مبارک) څخه به یی بدله ورکوله ) [567].

8 - حضرت عمروبن عاص چه د فاروق رضی الله تعالی عنهما د خلافت په دوران کې د مصروالی وه وائی چه زه په خپل کورکې ناست وم. چه د عمر فاروق رضی الله تعالی عنه ځوی عبدالرحمان ابو شحمه رضی الله تعالی عنه او ابو سروعه عقبه بن حارث رضی الله تعالی عنه دواړه ځنګیدلی راغلل ، او وئی ویل چی مونږ شراب څښلی دی او مونږ نشه کړی - پر مونږ حد جاری کړی ما په هغوی د خپل کور په انګړکې حد نافذ

---

567 - سنن ابو داود الدیات باب قص الامیر من نفس – سنن النسائی القسامه باب القصاص من السلاطین - مسند احمد 1 ټوک 41 مخ - طبقات ابن سعد 1 ټوک281مخ

کړ . په خدای جل جلاله سوگند چه ما ددی واقعی خبر حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ته نه وه ورکړی . خو نا څا په د هغه یو لیک ما ته را ورسید

او په هغه کې ئی په دی ډول لیکلی وه چی : د لوی الله په نوم چی بخښونکې او مهربانه دی دا لیک د الله جل جلاله د بنده عمر له خوا د عاصی بن عاصی په نوم دی د عاصی زویه، حیرانتیا ده ستا په جرئت باندی چی تا څنگه زما د حکم مخالفت کړی دی ، زما زړه غواړی چه تا عزل کړم څکه چه تا زما د حکم مخالفت کړی دی (د عمر رضی الله تعالی عنه په دوره کې په دوری به عامه ټولنه کې وهل کیدی ) عبدالرحمان ستا درعیت یو فرد وه، د هغه سره همغسی کار کول په کار وه لکه څنگه ئی چی ته د نورو عامو خلکو سره کوی . خو تا فکر کړی دی چی دا د امیرالمومنین زوی دی ، نو په دی خاطر د هغه سره امتیازی سلوک په کاردی . حال دا چی تا ته ښکاره ده ، چه زما لاره دا ده چه د حق په معامله کې له هیچا سره رعایت ونه کړی شی . زما د دی لیک د دررسیدو څخه سمدستی وروسته عبدالرحمان ته د غټی او ډبلی ټوټی کمیس اروا غونده. او د ( عبا) غوندی په سپرلی ئی مدینی ته راولیږه چه په هغه د زین په ځای یو وړه کجاوه وی تر څو چی د هغه مجرموالی مشهور شی .

هماغه وه چه هغه ئی همداسی ورولیږه او ورسره ئی د عمر فاروق رضی الله تعالی عنه په نوم یو لیک هم رووليږه ، چی‌په هغه کې لیکلی وه، چی په خدای سوگند چی زه عامو مسلمانانو او ذمیانو ته د خپل کور په انگړ کې سزا ورکوم . ستا د څوی سره په هیڅ ډول مراعات نه دی شوی . دا خط د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د بل څوی حضرت عبدالله رضی الله تعالی عنه په لاس جدا رالیږل شوی وه کله چه عبدالرحمن

مدينی ته راورسيد ، نو حضرت عمر رضی الله تعالی عنه هغه ته دوهم ځل د دورو سزا ورکړه [تعزيراً زائداً علی حد][568]

9 - د انس بن مالک رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی چه د مصر يو سړی حضرت عمر رضی الله عنه ته راغی او وئی ويل چه ما او د عمروبن عاص ( د مصر والی ) زوی د منډو مقابله کوله کله چی زه د هغی څخه تر مخه شوم او مقابله می وګټله نو هغه کوتک راواخست او زما په وهلوئی شروع وکړه او وئی ويل چی زه د شريفی مور او شريف پلار زوی يم - عمر فاروق حضرت عمرو بن عاص رضی الله تعالی عنهما ته وليکل چی د زوی سره دلته راحاضرشه، کله چه دواړه را حاضر شول نو حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وفرمايل چی هغه شکايت کونکې مصری چيرته دی کله چی هغه راغی نو ورته ئی وفرمايل کوتک راواخله او بدله واخله ، مصری په وهلو شروع وکړه انس رضی الله عنه فرمايی چي مونږ د هغی په وهلو خوشحاله وه خو هغه دومره زيات ووهلو چی مونږ په زړه کې دا هيله لرله چی اوس نو بايد بس کړی د دی وروسته حضرت عمر فاروق رضی الله عنه مصری ته و ويل چه عمرو بن عاص رضی الله تعالی عنه هم يو کوتک ووهه ليکن هغه ووبل : ای اميرالمؤمنين زه د هغه زوی وهلی وم او ما دهغه څخه خپله بدله واخسته د بدلی دور کولو وروسته حضرت عمر فاروق حضرت عمرو بن عاص رضی الله عنهها ته په ويناکې و ويل چی : مذ کم تعبد تم الناس و قد ولدتهم امهاتهم احراراً قال يا امير المؤ منين لم اعلم ولم يايتنی ( تاسی له کوم وخته راهيسی خلک غلامان کړی دی. حال دا چی د هغوی ميندو هغوی ازاد زيږولی وه ، عمرو بن عاص رضی الله تعالی عنه ورته و فرمايل چی ای اميرالمومنينه : ماته د

568 - کنزالعمال په حواله د ابن سعد بن راهويه - سنن کبری د بيهقی - منصف د عبد الرزاق مختصر 9 ټوک 232 مخ

دی واقعی په هکله نه کوم معلومات وه. او نه دا سړی ما ته د فریاد له پاره راغلی وه .

10 - حضرت عطا رحمه الله علیه فرمائی چه عمر فاروق رضی الله تعالی عنه خپلو ټولو والیانو او مامورینو ته حکم کړی وه چه هغوی دی په هر کال د حج په وخت کې موجودوی. کله به چی ټول حکام او مامورین راټول شوه.نو بیا به حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه ورته په خطاب کې ویل ، ای خلکو ! ما خپل والیان او مامورین د دی له پاره نه دی ټاکلی چه هغوی دی ستاسی په مالونو په ناروا توګه قبضه وکړی او تاسو دی ووهی او وټکوی او ستاسو ابرو دی تویه کړی ، بلکه ما هغوی د دی له پاره ټاکلی دی چی ستاسو ترمنځ امن راوړی او سرکاری خزانه په صحیح لاره کې مصرف کړی . که چیری په کوم فرد باندی دی حکامو ظلم کړی وی پورته دی شی او په ګوته دی ئی کړی ترڅو زه ورته بدله واخلم [569].

11 - یو ځل حضرت عثمان رضی الله عنه په یوی عامی غونډی کې و ویل. چی که چیری د چا پرما حق وی یاد ظلم کولو د عوه وی ، نوزه حاضریم که غواړی زما څخه بدله واخلی او که غواړی چه ما وبخښی[570] .

12 - په تاریخ طبری کې دی چی د حضرت عثمان رضی الله عنه په وخت کې ټول مامورین راغوښتل کیده او د خلکو د شکایت د اوریدو وروسته به ئی د هغه تدارک کاوه .

13 - عامر شعبی رحمه الله علیه فرمایی چی یوځل د حضرت علی رضی الله تعالی عنه زره چیرته لویدلی وه او یوه عیسوی ته په لاس

---

**569** - کنزل العمال 12 ټوک 659 مخ په حواله د ابن سعد ابن راهویه - طبقات ابن سعد ج 3 ټوک 293مخ

**570** - کنز العمال 13 ټوک 83 مخ بحواله ابن ابی داود ابن عساکر

ورغلی وه کله چه حضرت علی رضی الله تعالی عنه د هغه په لاس کې ولیده نووئی پیژندله او د قاضی شریح رحمه الله علیه په عدالت کې ئی پری دعوه دائر کړه ، عیسایی وویل چی زره زما ده او امیر المؤمنین دروغ وایی. قاضی شریح رحمه الله علیه ور څخه پوښتنه وکړه چی ایا له تا سره کوم ډول ثبوت موجود دی ؟ هغه ورته وویل چی نه ، قاضی د عیسائی په حق کې پریکړه وکړه. د دی پریکړی په اساس په هغه دومره اثر وشو چه ایمان ئی راور، او وئی ویل دا خو د انبیاو په څیر انصاف دی . چی امیرالمومنین ما د خپل قاضی محکمی ته راوراندی کوی او هغه د امیرالمومنین په خلاف پریکړه کوی ، وروسته بیا عیسائی اقرار وکړ چی دازره د حضرت علی رضی الله عنه څخه د صفین په لور د تلو په وخت کې لویدلی وه حضرت علی رضی الله عنه د هغه د ایمان په راوړو ډیر خوښ شو هغه زره ئی هم هغه ته ورکړه او یو اس ئی هم د کومک په شکل ورکړه ، دا نوی مسلمان وروسته د خوارجو په خلاف په جنگ کې د حضرت علی رضی الله تعالی عنه په صف کې جنګیده [571]-

د راشدینو خلفاو رضی الله عنهم دا کړنلاره د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د شخصی عمل پرته د هغه د دی وینا په اساس هم وه [المؤمنون تتکافاء دماء هم ] د مسلمانانو وینی د یو بل سره برابر حیثیت لری .

د فقهاو رائی

د سلطان په هکله د قاضی د پریکړی په باب

د امام ابوحنیفه رحمه الله علیه رائی دا ده چې د قاضی حکم په خلیفه نافذ کیدای شی او که قاضی خپله فیصله په هغه او د هغه په مامورینو

571- الکامل د ابن لاثیر 3 ټوک 399مخ 1965عیسوی کالد د بیروت چاپ

نشی نافذ کولای نو د قضاء مسئولیت دی په غاړه نه اخلی د د امویانو او عباسیانو به دور کې د محکمه ازادی ختم شوی وه او د حکومت په مامورینو د پریکړی نافذ کول ممکن نه و نو له دی امله امام ابوحنیفه رحمه الله علیه د قضاء د منصب د قبولو څخه انکار وکړه چې د امویانو په دور کی د عراق والی یزید بن عمر بن هبیره ددی عمل له امله ئې شل یا دیرش دوری وواهه او ځینو روایتونو کې دی چې هر ورځ به لس لس دوری واهه خو هغه به انکار کاوه د عباسیانو په دور کی المنصور په امام ابوحنیفه رحمه الله علیه باندی د قضاء د منصب د منلو کوښښ وکړ تردی پوری چی د قاضی القضاه منصب ئی ورته وړاندی کړ مګر هغه انکار وکړه او د انکار کولو اصلی علت یې داسی بیان کړو:

والله ما انا بمامون الرضی فکیف اکون مامون الغضب ولو اتجه الحکم علیک ثم هددتنی ان تغرقنی فی الفرات او ان تلی الحکم لاخترت ان اغرق ولک حاشیه یحتاجون الی من یکرمهم لک فلا اصلح لک ( په الله جل جلاله سوګند چه که چیری زه په خوښه سره هم دا منصب قبول کړم نوبیا هم ستاسو د امید وړنه ګرځم نو چیرته لا په زور سره ، که چیری په کومه معامله کې پریکړه ستاسی په خلاف وشی او بیا ته ماته اخطار راکړی چی یا دی د فرات په سیند کې غرقوم او یا دی پریکړه بدله کړه نو زه به ډوبیدلو ته غاړه کیږدم خو پریکړه به بدله نه کړم ، بیا خو ستا د دربار خاوندان او دهغه په څنګ کې نور خلک داسی ډیر دی ، هغوی ته داسی قاضی په کاردی چی ستا په خاطر د هغوی هم لحاظ وساتی ، زه د دی کار صلاحیت نه لرم ) [572].

---

572- تاریخ بغداد 3 ټوک 328 مخ بغداد د خطیب لیکنه د بیروت چاپ چی نوموړی په 463 عیسوی کال مړ شوی دی

کله چه د امام ابو حنیفه رحمه الله علیه شاګرد رشید ابویوسف دا احساس وکړ چی حالات یو څه بدل شوی دی. او د عدلیی ازادی بیرته خپل ځای ته راځی نو هغه د قضا منصب قبول کړ ، په 166 هجری قمری کال کې المهدی هغه د شرقی بغداد قاضی وټاکه د الهادی په زمانه کې هم دی هلته قاضی وه خو کله چه د هارون الرشید د حکومت وخت راغی نو په هغه ئی (هارون الرشید ئی) نور هم اثر زیات وکړ او د ټول عباسی حکومت قاضی القضاه ئی وټاکه تر دی د مخه هیڅوک په داسی منصب نه وه ټاکل شوی. هغه ته به قاضی القضاه الدنیا ویل کیده ،هغه ته د قاضیانو د ټاکلو ټول واک ورکړی شوی وه بلکه په ټولو معاملاتو کې قانونی لاربنوونه هم دده په غاړه وه یعنی هغه ته د قانون د وزیر حیثیت ورکړل شوی وه[573].

د هغه په محکمه کې به د علماویوه ډله د پریکړو په وخت کې تل له پاره موجوده وه چی په دی ډله کې امام احمد بن حنبل رحمه الله علیه هم شامل وه هغه په دی وخت کې ځوان وه ، د دعوی د اوریدو په وخت کې به د دی علماو ترمنځ بحث اوګده څیړنه کیدله [574].

ذکر شوی امام رحمه الله علیه هارون الرشید ته یو کتاب د کتاب الخراج په نوم ترتیب کړو، د دی په شروع کې لیکل شوی دی. ټول خلک قانون ته یو څیرو ګرځوی که څه هم هغوی تاسی ته نژدی وی یا لری [575].

573- البدایه و النهایه لابن کثیر 10 ټوک 180 مخ - تاریخ بغداد ج 14 ټوک 242 – 243 مخونه

574 - البدایه و النهایه لابن کثیر 10 ټوک 181 مخ

575 - کتاب الخراج 5 مخ 1352 هجری قمری کال د مصر چاپ

## نیو لیك

هغه د عدلیی د ازادی په هکله لیکې چی د انصاف په معامله کې د هر ډول واسطی او مداخلی دروازی بندول په کار دی او نه د کوم شخص د مرتتی او حیثیت څه لحاظ هم و نه ساتل شی [576] .

د هارون الرشید په وخت کې یو زوړ عیسوی د خلیفه په خلاف د یوه باغ دعوی وکړه قاضی ابو یوسف رحمه الله علیه نه یوازی دا چی د خلیفه ترمخ یی د دی دعوی اوریدنه وکړه بلکه د خلیفه څخه ئی دری ځلی د سوګند یادولو غوښتنه هم وکړه. کله چه هر کرت هغه د سوګند یادولو څخه مخ واړاوه. نو ذکر شوی امام د مدعی یعنی عسیوی په حق کې پریکړه وکړه - خو د مرګ پوری په دی پښیمانه و چی ولی خلیفه یی د عیسوی برابر و نه دراوه [577].

قاسم بن الحکم عراقی فرمائی چی ماپه خپله د قاضی ابو یوسف رحمه الله علیه څخه د وفات په وخت کې اوریدلی وه.

یالیتنی مت علی ما کنت علیه من الفقر و انی لم ادخل فی القضاء علی انی ما تعمدت بحمد الله و نعمته جوراً ولا حابت خصما علی خصم من سلطان ولا سوقه ( کاشکې چه زه د فقر په حالت کې وفات شوی او د قضاء په مسئولیت کې نه وی داخل شوی خو د دی سره د الله جل حلاله شکر او د هغه فضل دی چی ما قصداً په چا ظلم نه دی کړی او نه د دعوه کونکې د یوی ډلی سره می د بلی په نسبت زیاته مینه کړی ده که څه هم هغه حکمران وی یا عام فرد وی ) [578].

د حسن بصری رحمه الله علیه لیك

د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله علیه په نوم

---

**576**- کتاب الخراج 151 مخ 1352 هجری قمری کال د مصر چاپ

**577** - البدایه و النهایه 10 ټوک 181مخ

**578** - تاریخ بغداد للخطیب 13 ټوک 252 مخ

و اعلم يا اميرالمومنين ان الله انزل الحدود ليزجربها عن الخبائث و الفواحش فكيف اذا اتاها من يليها و ان الله انزل القصاص حياه لعباده فكيف اذا قتلهم من يقتص لهم ( ای اميرالمومنين ! ښه پوه شه ، چی الله جل جلاله سزا ګانی د دی له پاره راليږلی دی چه خلک د هغی په اساس د ګنده او بدو کارونو څخه منع شی ، نو عام خلک به څنګه منع شه چی د هغوی حکمران په خپله د بديو او فحش کارونو مرتکب ګرځی ~ الله جل جلاله د قصاص حکم په دی خاطر را نازل کړی دی چه د هغه د بندګانو ارواح محفوظ وساتل شی ، نو د خلکو د ځان ساتنه به څنګه وشی کله چه د هغوی حکمران په خپله قتلول شروع کړی[579].

د سفيان ثوری رحمه الله عليه ليك
د هارون الرشيد په نوم

هارون الرشيد د ځواک دلاسته راوړو وروسته امام سفيان ثوری رحمه الله عليه ته دعباد الطالقانی په لاس يو ليک ورواستاوه چی په هغه کې ئی ليکلی وه چی زه ستا د ليدو ارزو لرم ، او شکايت ئی کړی وه چی نورو علماو و زما سره ليدنی وکړی او مبارکې ئی راکړه ليکن تا نه مبارکې راکړی او نه دی راسره ليدنه وکړه. دا خط امام ته هغه وخت وررسيد چی هغه د کوفی په مسجد کې د شاګردانو ترمنځ ناست وه د خط د اوريدو وروسته هغه وويل د دی ليک په شا زما ځواب وليکې ، د سفيان ثوری رحمه الله عليه دا ليک د حق يوه ښکاره نمونه وه ، د قضاء د لوړوالی او د قضاء (علی السلطان و اعوانه) په هکله دا لاندی اقتباس ملاحظه کړی: يا هارون قعدت علی السرير ولبست الحرير اسبلت سترا

579- العقد الفريد لابن عبد ربه کتاب للؤلوه فی السلطان صفه الامام العادل لومړی ټوک 24مخ

دون بابک و تشبهت بالحجبه برب العالمین ثم اقعدت اجنادک الظلمه دون بابک وسترک یظلمون الناس ولا ینصفون یشربون الخمور و یضربون من یشربها ویزنون ویحدون الزانی ویسرقون و یقطعون یدالسارق افلا کانت هذه الاحکام علیک و علیهم قبل ان تحکم للناس ( ای هارونه ! ته په تخت ناست ئی ، دوربښمو کالی دی اغوستی دی په دروازی دی پردی راځوړندی کړی او د خلکو څخه په پټوالی سره د الله جل جلاله سره مشابهت کوی ، د دی نه پرته تا په دروازه کې هم خلک ټاکلی دی چی په ظلم حکم کوی انصاف نه کوی ، هغوی په خپله شراب څکې خو نورو شرابو څکونکو ته سزا ورکوی ، په خپله زنا کوی خو نورو زنا کونکې ته سزا ورکوی په خپله غلا کوی خو د نورو غلو لاسونه ورپری کوی په خپله وژل کوی خو د نورو وژونکو څخه قصاص اخلی نوایا د خدای دا قوانین په تا او ستا په دی مامورینو د نورو څخه تر مخه د جاری کیدو له پاره نه دی راغلی ؟

د لیک په شروع کې ئی د ملت د خزانی په بی ځایه استعمال سخت تنقید کړی دی او په اخر کې ئی د قیامت دورځی څخه ویرولی دی ) .

او لیکلی ئی دی چی : فایاک ایاک ان تکتب لی کتابا بعد هذا فلا اجیبک والسلام ( خبر اوسه ، خبراوسه ، چی په راتلونکې کې زما په نوم هیڅ لیک ونه لیکې او که نه نو زه به ځواب درنه کړم والسلام ) .

کله چه هارون الرشید دا لیک ولوست نو د سترګو څخه ئی اوښکې روانی شوی ، یو درباری ورنه پوښتنه وکړه چی هغه ستا په مقابل کې ډیر جرئت ښولی دی د هغه نیول په کار دی هارون ورته وویلی ته د دنیا بنده یی او سفیان رحمه الله علیه یوازی د یوه امت حیثیت لری [580].

580 - الادب العربی و تاریخه 2 ټوک 176 مخ 1937 عیسوی کال د مصطفی البابی مصر چاپ

## نیو لیك

.....................

### د کتاب لنأیز

د دی کتاب د دری واړو برخو او ټولو څبرکو لنډیز دا دی چی د اسلامی سیاست د مانۍ بنسټ په دی څلورو شیانو ایښودل شوی دی :

۱ } د الله جل جلاله حاکمیت او د کتاب او سنتو پورته والی.

2 } د عابدینو فقهاو څخه جوړه شوی شوری چی د مسلمانانو معتمده هم وی.

3 } دیانت لرونکې ، دخدایه ویریدونکې او اهل اجرائیه چی مشر ئی مسلمان او باوری وی.

4} ازاده او مستقله عدلیه ( قضاء) چی غړی ئی فقها هم وی ، عادل او متقی هم وی کوم خلک چه په دی وخت کې په مسلمانانو حکومت کوی په هغوی په شرعی ډول فرض دی چی هغوی د همدیاصولو په بنسټ یو نظام جوړکړی او که چیری داسی نه کوی نو بیا په مسلمانانو فرض دی چی د دی حکمرانانو په عزل کولو او د هغوی پر ځای د صالح او عادل حکومت د جوړولو له پاره خپلی هلی ځلی تیزی کړی .

الهم ارنا الحق حقا وارزقنا اتباعه و الباطل باطلاً وارزقنا اجتنابه و صلی الله علی سیدنا و نبینا محمد و علی اله واصحابه اجمعین

....................

کتابونه

د دی کتاب په ليکوکې چه د کومو کتابونو څخه استفاده شوی د هغو فهرست په لاندی ډول دی :

تفاسير

1-} جامع البيان تفسير القرآن د محمد بن طبری رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 310د هجری قمری کال

2-} تفسير حکام القرآن د امام جصاص حنفی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 370 هجری قمری کال

3-} تفسير معالم التنزيل د حسين بن محمد البغوی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 516 هجری قمری کال

4-} تفسير احکام القرآن د قاضی ابوبکر محمد بن عبدالله ابن عربی ليکنه د مړينی نيټه 547 هجری قمری کال

5-} تفسير زاد المسير فی علم التفسير د ابوالفرج ابن جوزی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 597 هجری قمری کال

6-} تفسير مفاتيح الغيب (تفسير کبير) د امام فخر الدين محمد بن عمرو رازی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 606 هجری قمری‌کال

7-} تفسير الجامع لاحکام القرآن د محمد بن احمد القرطبی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 671 هجری قمری کال

8-} تفسير انوار التنزيل (بيضاوی) د قاضی بيضاوی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 685 هجری قمری‌کال

9-} تفسير مدارک التنزيل د عبدالله بن احمد النسفی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 701 هجری قمری‌کال

10- } تفسير لباب التاويل (الخازن) د عبدالله بن محمد الخازن ليکنه د مړينی نيټه 741 هجری قمری‌کال

11- تفسير البحر المحيط د محمد بن يوسف ابن حيان الاندلسی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 754 هجری قمری کال

12- } تفسير القران العظيم د اسمعيل بن محمد بن عمروبن کثير رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 774 هجری قمری‌کال
13- } تفسير جلالين د جلال الدين سيوطی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 911 هجری قمری کال
14- } تفسير مظهری د قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 1225 هجری قمری کال
15- } تفسير موضح القرآن د شاه عبدالقادر محدث دهلوی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 1230 هجری قمری‌کال
16- } تفسير فتح العزيز تفسير عزيزی د شاه عبدالعزيز محدث دهلوی ليکنه د مړينی نيټه1239 هجری قمری کال
17- } تفسير ترجمان القران د مولا نا ابو الکلام ازاد رحمه الله عليه ليکنه
18- } تفسير عثمانی د علامه شبير احمد عثمانی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 1369 هجری قمری کال
19- } تفسير تفهيم القران د مولا نا سيد ابوالاعلی مودودی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 1399 هجری قمری‌کال
20- } تفسير روح المعانی د شهاب الدين سيد محمود الالوسی بغدادی ليکنه د مړينی کال 1270 هجری قمری کال
21- } بائيبل

احاديث او د احاديثو شرحی

1-} صحيح بخاری د محمد بن اسمعيل بخاری رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 256 هجری قمری کال
2-} صحيح مسلم د مسلم بن حجاج قشيری رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 260 هجری قمری کال
3-} سنن ابو داود د ابوداود سليمان بن اشعث سجستانی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 275 هجری قمری کال
4-} جامع ترمذی د ابو عيسی ترمذی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 279 هجری قمری کال
5-} سنن نسائی د ابو عبدالرحمن احمد بن شعيب نسائی ليکنه د مړينی نيټه 303 هجری قمری کال

6-} سنن ابن ماجه د محمد بن یزید قزوینی ابن ماجه لیکنه د مړینی نیټه 275 هجری قمری کال

7-} موطا امام مالک د امام مالک بن انس رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 179 هجری قمریکال

8-} مسند احمد د امام احمد بن حنبل رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 241 هجری قمری کال

9-} المصنف د عبدالرزاق بن همام صنعانی لیکنه د مړینی نیټه 211 هجری قمری کال

10- صحیح ابن خزیمه د محمد بن اسحاق بن خزیمه لیکنه د مړینی نیټه 311 هجری قمری کال

11- } الادب المفرد د محمدبن اسمعیل بخاری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 256 هجری قمری کال

12- } معجم صغیر د امام طبرانی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 360 هجری قمری کال

13- } المستدرک د ابو عبد الله الحاکم النشاپوری لیکنه د مړینی نیټه 405 هجری قمری کال

14- } سنن دارمی د ابو محمد عبدالله بن عبدالرحمن دارمی لیکنه

15- } السنن الکبری د ابو احمد بن حسین بیهقی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 458 هجری قمری کال

16- } سنن دار قطنی علی بن عمر الدار قطنی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 385 هجری قمری کال

17- } کنز العمال د علی المتقی بن حسام الدین الهندی لیکنه د مړینی نیټه 957 هجری قمری کال

18- } شرح معانی الاثار د امام طحاوی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 321 هجری قمری کال

19- } مشکل الاثارد امام طحاوی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 321 هجری قمری کال

20- } جامع الاصول د ابن اثیر جزری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 606 هجری قمری کال

21- } الترغیب والترهیب د حافظ زکي الدین منذری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 656 هجری قمری کال
22- } مجمع الزوائد د علامه نورالدین هیثمی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 807 هجری قمری کال
23- } عمده القاری د بدرالدین عینی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 855 هجری قمری کال
24- } فتح الباری د ابن حجر عسقلانی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 852 هجری قمری کال
25- } شرح مسلم د امام نووی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 676 هجری قمری کال
26- } معالم السنن د امام ابو سلیمان خطابی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 388 هجری قمری کال
27- } ارشاد الساری د بخاری شرح د شهاب الدین قسطلانی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 923 هجری قمری کال
28- } نیل الاوطار د قاضی شوکانی یمنی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 1250 هجری قمری کال
29- مرقات شرح مشکواه د ملا علی قاری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 1014 هجری قمری کال
30- } تحفه الاحوذی د ترمذی شرح د علامه عبدالرحمان مبارک پوری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 1353 هجری قمری کال
31- } فیص الباری امالی بخاری د علامه انورشاه کشمیری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 1352 هجری قمری کال
32- } معارف السنن امام ترمذی د علامه انورشاه کشمیری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 1352 هجری قمری کال
33- } کتاب الخراج د قاضی ابو یوسف رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 182 هجری قمری کال
34- } کتاب الموضوعات د ابن جوری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 597 هجری قمری کال

35- } موضوعات کبیر د ملاعلی قادری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 1104 هجری قمری کال

36- } نصب الرایه علامه جمال الدین زیلنی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 762 هجری قمری کال

فقه

1-} المسبوط د شمس الائمه سرخی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 490 هجری قمری کال

2-} هدایه د شیخ الاسلام مرغینانی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 593 هجری قمری کال

3-} البدائع الصنائع د علامه کاشانی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 587 هجری قمری کال

4-} فتح القدیر د هدایه شرح ابن الهمام حنفی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 861 هجری قمری کال

5-} عنایه الهدایه دعلامه بابرتی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 786 هجری قمری کال

6-} فتاوی قاضیحان (خانیه) د علامه قاضی خان رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 592 هجری قمری کال

7-} بحرالرائق د ابن نجیم مصری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 970 هجری قمری کال

8- } فتاوی بزازیه د ابن البزار الکرء ای لیکنه د مړینی نیټه 827 هجری قمری کال

9-} فتاوی عالمگیریه - درمختارد علامه علاوالدین حصکفی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 1088 هجری قمری کال

10- } مجموعه شامی د ا بن عابدین شامی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 1252 هجری قمری کال

11- } رسائل د ا بن عابدین شامی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 1252 هجری قمری کال

12- } کتاب الام د امام شافعی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی نیټه 204 هجری قمری کال

13- } بدايه المجتهد د ابن رشد مالكي رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 595 هجری قمری کال

14- } المغنی د ابن قدامه حنبلی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 334 هجری قمری کال

15- } فتاوی ابن تيميه د شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله عليه ليکنه د مړينی کال 728 هجری قمری کال

16- } اعلام الموقعين د حافظ ابن قيم رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 751 هجری قمری کال

17- } المحلی د ابن حزم ظاهری رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 456 هجری قمری کال

18- } معين الحکام د علامه علاء الدين طرابلسی رحمه الله عليه ليکنه

اصول فقه

19- } الاصول د فخر الاسلام بزدوی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 482 هجری قمری کال

20- } المستصفی د امام غزالی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 505 هجری قمری کال

21- } توضيح تلويح د سعد الدين تفتازانی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 791 هجری قمری کال

22- } تحرير الاصول د ابن الهمام حنفی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 861 هجری قمری کال

23- } منهاج الاصول د قاضی بيضاوی ليکنه د مړينی نيټه 791 هجری قمری کال

24- } الاعتصام د ابو اسحق شاطبی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 790 هجری قمری کال

25- } ارشاد الفحول د قاضی شوکانی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 1250 هجری قمری کال

26- } الاشباه والنظائر د ابن نجيم مصری رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 970 هجری قمری کال

27- } الاشباه والنظائر د جلال الدين سيوطی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 911 هجری قمری کال

کلام (عقائد) :

1-}التمهيد فی بيان التوحيد د ابو الشکور سالمی حنفی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 465 هجری قمری کال

2- } المنقذ من الضلال د امام غزالی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 505 هجری قمری کال

3- } المعتمد فی المعتقد د قاضی فضل الله نور پشی ليکنه د مړينی نيټه 630 هجری قمری کال

4-} اصول الدين د شيخ عبدالقاهر بغدادی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 429 هجری قمری کال

5-} شرح عقائد سعد الدين تفتازانی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 791 هجری قمری کال

6-} شرح مواقف د سيد شريف جرجانی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 816 هجری قمری کال

7-} المسائره د ابن الهمام حنفی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی نيټه 861 هجری قمری کال

8-} شرح المطالع

سيرت او تاريخ :

1-} .سيرت ابن هشام رحمه الله عليه د ابن هشام رحمه الله عليه ليکنه د مړينی کال 213 هجری قمری

2-} طبقات ابن سعد د محمد بن سعد رحمه الله عليه ليکنه د مړينی کال 235 هجری قمری

3- } فتوح البلدان د احمد بن يحيی بلاذری رحمه الله عليه ليکنه د مړينی کال 277 هجری قمری

4-} تاريخ بغداد د خطيب بغدادی رحمه الله عليه ليکنه د مړينی کال 463 هجری قمری

5-} تاريخ الامم و الملوك د محمد بن جرير طبری رحمه الله عليه ليکنه د مړينی کال 310 هجری قمری

6-} جوامع السير د ابن حزم ظاهری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 456 هجری قمری
7-} الاستعاب د ابن عبدالبر رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 463 هجری قمری
8-} اسد الغابه د ابن الاثیر جزری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 630 هجری قمری
9-} زاد المعاد د حافظ ابن قیم رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 756 هجری قمری
10- } البدایه والنهایه د حافظ ابن کثیر رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 774 هجری قمری
11- } السیره النبویه د حافظ ابن کثیر رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 774 هجری قمری
12- } الکامل فی التاریخ د ابن الاثیر جزری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 630 هجری قمری
13- } مقدمه ابن خلدون د علامه ابن خلدون رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 808 هجری قمری
14- } الاصابه فی تمیزالصحابه د حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 852 هجری قمری
15- } السیره الحلبیه د علی بن برهان الدین حلبی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 900 هجری قمری
16- } وفاء الوفاء علامه سمهودی رحمه الله علیه 911 هجری قمری
17- } مناقب امام اعظم د موفق الدین مکي رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 568 هجری قمری
18- } الملل و النحل د علامه شهرستانی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 548 هجری قمری کال
19- } الفصل بین الملل و النحل د ابن حزم ظاهری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 456 هجری قمری
20- } مناقب امام احمد بن حنبل ابن حوزی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 597 هجری قمری

## نيو ليك

21- } نهج البلاغه  سيد شريف رضی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 404 هجری قمری
22- }الخصائص الکبری د جلال الدین سیوطی رحمه الله علیه لیکنه  د مړینی کال  911 هجری قمری
23- } حسن المحاضره  د جلال الدین سیوطی رحمه الله علیه لیکنه  د مړینی کال  911 هجری قمری
24- } سفر السعاده د شیخ  عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله علیه لیکنه  د مړینی کال  958 هجری قمری
25- } شرح نهج البلاغه د ابن ابی حدید رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 656 هجری قمری
26- } مکتوبات د امام ربانی مجددالف ثانی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال  103 هجری قمری
27- } ازاله الخفاء د  شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال  1176 هجری قمری
28- } قره العنین د  شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال  1176 هجری قمری
29- } قصص الانبیاء د عبدالوهاب بجار مصری مولانا لیکنه
30- } قصص القرآن د مولانا حفظ الرحمان سیو هاروی  رحمه الله علیه لیکنه
31- } رحمه العالمین  قاضی محمد سلیمان منصور پوری رحمه الله علیه لیکنه
32- }الریاض النضره ابو جعفر احمد المحب الطبری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال  164 هجری قمری
33- } ثلاثه من اعلام الحریه د قدری لیکنه
34- } رسول رحمه د مولانا غلام رسول مهر لیکنه
35- } تاریخ عالم د  ولیم ایل لینگر (اردو ژباړه )
36- } تمدن هند د ډاکټرګستاولی بان (اردو ژباړه )
37- } جنگ عظیم دوم  لوئیس سنائیدر (اردو ترجمه)

لغت او ادب

## نيو ليك


1-} جمهره اللغه د ابن درید رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 321 هجری قمری

2-} مفردات القرآن د امام راغب اصفهانی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 502 هجری قمری

3-} النهایه د ابن الاثیر جزری رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 706 هجری قمری

4-} مختار الصحاح محمد بن ابی بکر رازی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 666 هجری قمری

5-} صراح للغات علامه جمال قرشی رحمه الله علیه لیکنه کال 681 هجری قمری

6-} تاج العروس د قاموس شرح د علامه زبیدی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 1205 هجری قمری

7-} لسان العرب د ابن منظور افریقی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 711 هجری قمری

8-} المنجد

9-} الادب العربی و تاریخه

10- } العقد الفرید د ابن عبدربه رحمه الله علیه لیکنه

11- } مجمع البحار د شیخ محمد طاهر رحمه الله علیه لیکنه

12- } کلیات د ابو البقاء حنفی لیکنه د مړینی کال 1095 هجری قمری

سیاسیات :

1-} الاحکام السلطانیه د امام ابو الحسن ماوردی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 450 هجری قمری

2- } الاحکام السلطانیه د قاضی ابویعلی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 458 هجری قمری

3-} السیاسه المدنیه د ابو نصر فارابی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 339یا 343 هجری قمری

4-} احصاء العلوم د ابو نصر فارابی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 339یا 343 هجری قمری

5-} الفحری فی الادب السلطانیه د ابن المطقطقی رحمه الله علیه اردو ژباړه د مړینی کال 709 هجری قمری
6-} السیاسه الشرعیه د ابن تیمیه رحمه الله علیه 728 لیکنه د مړینی کال هجری قمری
7-} منهاج السنه د ابن تیمیه رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 728 هجری قمری
8-} الطرق الحکمیه ابن قیم رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال د 156 هجری قمری
9-} مجموعه رسائل اخوان الصفا رساله سابعه
10- } علم السیاسه د ډاکټر حسن صعف لبنان پوهنتون استاد لیکنه
11- } مدخل الی علم السیاسه ډاکټر جمال الاتاشی لیکنه
12- } اسلام کا نظام حکومت مولانا حامد الانصاری رحمه الله علیه لیکنه
13- } مبادیات سیاسیات د شروانی رحمه الله علیه لیکنه
14- } دی پرنس عربی ژباړه د میکیاولی لیکنه د مړینی کال هجری قمری
15- } نظام الحکم فی الشریعه والتاریخ د ظافر قاسمی رحمه الله علیه لیکنه
16- } اسلامی ریاست د مولا نا سید ابو الاعلی مودودی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 1399 هجری قمری
17- } خلافت و ملوکیت د مولا نا سید ابو الاعلی مودودی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 1399 هجری قمری
18- } سلامی کاسیاسی نظام مولا نا ابو الاعلی رحمه الله علیه مودودی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 1399 هجری قمری
19- } العداله الاجتماعیه د شهید سید قطب رحمه الله علیه لیکنه
20- } الفتنه الکبری د ډاکټر طه حسین رحمه الله علیه لیکنه
21- } احیاء العلوم د امام غزالی رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 505 هجری قمری
22- } التفهیمات الالهیه د شاه ولی الله رحمه الله علیه لیکنه د مړینی کال 1176 هجری قمری
23- } اصول الدعوه د ډاکټر عبدالکریم زیدان لیکنه

24- } اقتضاء الصراط المستقيم د امام ابن تيميه رحمه الله عليه ليکنه د مړينی کال 1399 هجری قمری

25- } الميزان الکبری د امام عبدالوهاپ شعرانی ليکنه

26- } کتاب النبی پروفيسور مصطفی الاعظمی رحمه الله عليه

27- } جامع بيان العلم د ابن البر رحمه الله عليه ليکنه د مړينی کال 1399 هجری قمری

28- } ارض القرآن د سيد سليمان ندوی رحمه الله عليه ليکنه

29- } تلبيس ابليس د ابن جوزی رحمه الله عليه ليکنه

30- } انسانی دنيا پر مسلمانون ک عروج وزوال کا اثر د سيد ابوالحسن علی ندوی ليکنه

31-

پای